


Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېنوا انټرنیټ پاڼي دلیکول داکټرصبورالله سیاه سنګ د افغانستان د لومړني ولسمشر ارواښاد شهید سردارمحمد داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژونکو د پل او یا د هغوی د پښو د پـَلونو د خاپ د راسپړلو او موندلو په اړه یوه ژوره او هر اړخیزه څېړنه را اخیستې او تر اوسه ډیرې پټې او نا ویل شوې خبرې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د یو شمیر مشرانو له خولې را وتلې چې ټولې یې په خپله د پام وړ دي او ښایي د راتلونکو پـَلـټنو او څېړلو لپاره لاره پرانیزي.د ده ترڅنګ دغه څېړنه د هیواد د اوسني تأریخ یوه تیاره برخه روښانه کوي چې پښتو ژباړه یې تاسي ته ښاغلی رحمت اریا وړاندي کوي . سردار محمد داؤود خان که هرڅه وو، خو هېڅ رښتونی افغان نه شي کولای د هغه په ولسپالنې او هېوادپالنې کې شک او شوپیان ولري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

د هیواد د ولسپالو لیکوالانو په ډله کې ډاکټرصبورالله سیاه سنګ چې کله ناکله د حجرالاسود په نامه هم لیکنې کوي هغه لیکوال، شاعر او څېړونکی دی چې لیکنې او څیړنې یې د افغانستان او سیمې په خپرونو کې د ډیرو کسانو پام ځان ته را اړولی اود هغه ترڅنګ یې په فارسي � دري ژبه د پښتنو شاعرانو، لیکوالانو او پښتني ولسي فرهنګ په پېژندنه کې ډیرې لیکنې کړې دي. له هغې ډلې څخه د ارواښاد ملنګ جان په پيژندنه او هیوادپالنه کې د هغه ژوره څیړنه ده .

د ډاکټر صبورالله سیاه سنګ د لیکنو یوه غوره برخه دا ده چې له هرډول ژبني تصعب او لنډپارۍ څخه لیرې ده او د یوه رښتوني افغان لیکوال په توګه یې ملي او ولسي دریز راخپل کړی دی.

داکټرصبورالله سیاه سنګ د افغانستان د لومړني ولسمشر ارواښاد شهید سردارمحمد داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژونکو د پل او یا د هغوی د پښو د پَلونو د خاپ د راسپړلو او موندلو په اړه یوه ژوره او هر اړخیزه څیړنه را اخیستې او تر اوسه ډیرې پټې او نا ویل شوې خبرې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د یو شمیر مشرانو له خولې را وتلې چې ټولې یې په خپله د پام وړ دي او ښایي د راتلونکو پَلټنو او څیړنو لپاره لاره پرانیزي. د ده ترڅنګ دغه څیړنه د هیواد د اوسني تأریخ یوه تیاره برخه را روښانوي. سردار محمد داؤود خان که هرڅه وو، خو هېڅ رښتونی افغان نه شي کولای د هغه په ولسپانې او هېوادپالنې کې شک او شوپیان ولري .

دغه څیړنه د نوموړي ګوند له مشرانو سره د مرکې، په دغه اړوند د یو شمیرلیکل شویو کتابونو او د نورو کسانو د سترګو د لیدلی حال پرنبسټ ولاړه ده چې لوستونکی کرار کرار یوې منطقي پایلې ته ورنیږدې کوي .

دا څیړنه د یوې رواني لړۍ په توګه خپریږي او څرګنده نه ده چې لړۍ به یې څومره اوږده شي خو تر دمګړۍ ۷ برخې یې په پاړسي ژبه چمتو او د کابل ناتهـ په ویب پاڼې کې په پرله پسې توګه خپره شوې ده او تاسو ښاغلي لوستونکي به هم بینوا ویب پاڼه ګام په ګام ددغې څیړنې په پښتو شوې برخې کې خبروساتي .

ما ښاغلي داکټرصبورالله سیاه سنګ ته د ټیلفون او بریښنا لیک له لارې خبر ورکړ چې غواړم دغه څیړنه په پښتو را وژباړم او نوموړي په ډیرې خوښۍ او ورین تندي له ما سره د هرډول همکارۍ ژمنه هم وکړه. ددې ترڅنګ له خپل افغان هیواد وال ښاغلي ایشورداس څخه چې د کابل ناتهـ د ویبپاڼې چلوونکی دی مننډوی یم. زه د بینوا د ویب پاڼې په استازیتوب ښاغلو داکټرصبورالله سیاه سنګ حجرالاسود او ایشورداس ته کور ودانی وایم.

رحمت آریا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لومړی برخه

## له يوه لاسه ټک نه را خيژي



دغه لنډه لیکنه چې په هېڅ ډول نه شي کولای د (افغانستان د لومړني ولسمشر) محمد داؤد د سیاسي ښادنامو په سموالي یا نه سموالي، دهغه پر پروالي یا نه پروالي روښاني واچوي، غواړي یوازې د هغه او د هغه د کورنۍ د وژنې د څرنګوالي په اړه د یوشمیر شته مالوماتو ټولګه راډګر ته کړي .

هڅه به وشي د مخ په ودو ګنګوسو د را سپړلو او څرګندولو لپاره چې کله دلته کله هلته اوربدل یا لوستل کيږي لرتر لره د افغانستان د خلق ډ یموکراتیک ګوند له پخوانیو لوړپوړو غړو (کریم میثاق، دستګیرپنجشیري ،سلیمان لایق ، خیال محمد کټوازي) او جنرال امام الدین سره د پرله پسې او اوږدو ټیلفوني مرکو او پوښتنو لړۍ راپیل کړو .

همدارنګه د دغې لیکنې په لا ښه والي کې د نوروکسانو مرستې ته اړتیا لیدل کيږي

۲۰۰۸ کال، د آپریل ۲۸

پته:

Siasang, 679 Rink Ave., Regina, SK., S4X2P3, CANADA

5020882 (306) 1او 1 (306) 5438950 د ټیلفون شمیره:

## تر وروستی ګولی

نن د داؤد خان او دهغه د کورنۍ له وژنې څخه څه ناڅه دیرش کاله تیریږي. که هغه ژوندی وای نو د جولای په اتلسمه نیټه به نهه نوي کلن وای .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام الدین ( د افغانستان د پرون ورځې د کماندو افسر اود اروپا په کوم ګوټ کې غلی ناهیلی ننی جنرال) هرکله چې د خپل لاس ټپ ته ګوري نو د ۱۹۷۸زکال د اپریل د اته ویشتمې خونړۍ پیښې ته یې پام را وا وړي او د داؤد خان وروستنۍ خبرې یې له ډیرې نیږدې ترغوږونو شي چې :

)پرته له خدایه بل چا ته نه تسلیمېږم او ترخپلې وروستې ګولۍ به وجنګیږم(

دا کومه هېښنده خبره نه ده. که د امام الدین پرځای هرڅوک وای نو د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې به یې د محمد داؤود لاندې وروستۍ خبرې نه وای هیرې کړې :

� 'اوس واک د افغانستان د خلق ډ یموکراتیک ګوند په ولکه کې د ی، نوباید تـسلیم شـئ!

-تا دا امر له چا راوړی؟

-د قادر له پلوه

-پرته له خدایه بل چاته نه تسلېمېږم او ترخپلې وروستۍ ګولۍ به وجنګیږم'

زما نـوم امـام الـــدیــن دی

عبدالکریم میثاق (د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له بنسټ ایښودونکو او د سیاسي بیرو غړی/د مالیې وزیر، کېسه لېکونکی او څېړونکی ) وایي:

"پوښتنه دا وه چې داؤد خان دې ژوندی وساتل شي یا دې ووژل شي؟ د مرکزي کمیټې یو شمیر غړو ویل چې ژوندی دې وساتل شي او وَژنه یې تأریخي پازوالي 'مسوؤلیت' لري، ښه به دا وي چې راډیو ته دې راوستل شي او ودې وایي چې اخیستل شوی ګام سم دی، زه د افغانستان د خلق د ډیموکراتیک ګوند دغه را اوچت شوی ګام منم، بلې ډلې ویل چې دا به په خپله یوه تأریخي تیروتنه وي. کله چې وګړي د داؤد خان غږ واوري ښایي د هغه په ګټه پاڅون و کړي او اوسنی پاڅون به دړې وړې شي. په دغوبنسټیزو وړاندیزونو کې دوه وو تنو تر نورو ډیرې خبرې کولې، یو یې دستګیرپنجشیری او بل یې ببرک کارمل وو .

یو صاحب منصب چې له لاسه یې وینې راڅڅېدلې راغی او د مرکزي کمېټې د غړو مخې ته سلامي شو او ویې ویل " زما نوم امام الدین او د ګوند غړی یم. ارګ ته دننه تللای وم. د ګلخانې [مانۍ] ته ولاړم او داؤود خان ته مې وویل: له دې چې واک د افغانستان د خلق ډیموکراتیګ ګوند ته لیږدول شوی، دا ستا دنده ده چې ځان را تسلیم کړئ. یوه لور یې ورسره وه. عبدالاله [د سروزیرمرستیال او د بهرنیو چاروزیر]هم ورسره وو. داؤود خان پرما ډزې وکړې. کله چې ډزې یې وکړې، زما لاس یې را ټپي کړ. په دغه شیبه کې لوربې مخې ته ور ودریدله او ورته ویې ویل چې ډزې مه کوه، که ته ډزې وکړئ هغه هم ډزې کوي. [امام الدین] وویل چې په دغې شیبې کې داؤود پر خپلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور هم ډزې وکړې. نو په دغه وخت کې ما هم خپل کلاشنيکوف را واخيست او ډزې مې پرې وکړې او ټول مې له يوې مخې له منځه يوووړل. " ۲۲۴ او ۲۲۵ پاڼې، افغانستان په شلمې پيړۍ کې/ افغانستان در قرن بيستم: ۱۹۰۰-۱۹۶۹ د بي بي سي له ټولګو څخه . ظاهرطنين ۲۰۰۵

ستيا......؟

دستګيرپنجشيری (د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند له بنسټ ايښودونکو او د سياسي بيرو غړی/د ښوونې او روزنې وزير،شاعر،ليکوال او څېړونکی) د پورتنيو خبرو په اړه سر تر پايه بل ډول خبره کوي :

د افغانستان د خلق د ډيموکراتيکې ټولنې د مشرانو د نيولو په شپه سليمان لايق، بارق شفيعي، نـُور احمد نـُور او کريم ميثاق د استاد مير اکبرخيبرد خاورو د سپارلو او د مړي د لمانځنې د کست په ثبت او ويشنې بوخت ول. کله چې د راډيو افغانستان له لارې يې د سياسي دفترد غړو د نيول کېدلو خبر واورېده نو سليمان لايق اوبارق شفيعي په خپل سر پوليس ته ولاړل او ځانونه يې پوليس ته ور وسپارل خو کريم ميثاق او نـُوراحمد نـُور ځانونه د يوه ګوندي کارګرپه کور کې پټ کړي ول. له دې امله د کريم ميثاق خبره د هغه په کتاب "افغانستان په شلمه پيړۍ کې / در قرن بيستم" سمه او پرځای نه ده .

سياه سنګ: ستاسو د سترګو ليدلی حال څه دئ؟ امام الدين چيرى راغی اوڅه يې وويل؟

پنجشيری: امام الدين راډيو افغانستان ته راغی او خپل ګزارش يې نورمحمد تره کي ته وړاندې کړ. هغه وويل چې له سردار محمد داؤود څخه څو ځله په درنښت غوښتنه وشوه چې له خپلې کورنۍ سره دې يوه خوندي ځای ته ولاړ شي، خو له پرله پسې غوښتنو سره سره هغه خپل زوی ته بولنده 'قومانده' ورکړه چې پر افسرانو، سرتيرو او ان د خپلې کورنۍ پرغړو دې ډزې وکړي. په پای کې دوه اړخيزه اور بل شو .

همداشان، امام الدين زياته کړه چې : سردار داؤد ته مې وويل چې " واک د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند ته ليږدول شوی او بايد را تسليم شـئ." داؤد وويل چې " کمونيستانو ته نه تسليمېږم" او بيا يې نيغ په نيغه پرما ډزې وکړې. موږ هم ووهل او [ستيا] موکړل" جنرال کټ مټ د [ستيا] اصطلاح په کار يووړه. په ياد مې دي چې ويې ويل "ستيا مو کړل ."

سياه سنګ: " ستيا...؟ " [ستيا] څه مانا لري؟ دا د کوم ځای اصطلاح ده؟

پنجشيری: ستيا يعنی "پوپنا" ګومان کوم دا هندي يا اردو اصطلاح ده .

سياه سنګ: مخکې له دې چې نورې اړينې خبرې راوسپړم بايد ووايم چې د امام الدين له خولې د "ستيا" (۱) د اصطلاح په اوريدلو يوه ډيره ناوړه پوښتنه مې په فکر کې را ژوندۍ کيږي: د همدغې پوښتنې له امله غواړم پوه شم چې امام الدين د افغانستان له کوم ګوټه دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنجشيری: هغه د لوګر دی. د لوګر له پښتنو څخه. ښايي د هماغه ځای د وګړو په منځ کې د"ستيا" د اصطلاح کارَول دود وي. خو زه سم نه پوهيږم.

سياه سنګ: امام الدين د ګوند له کومې څانګې څخه وو؟

پنجشيری: هغه خلقی وو او د خلق د پوځي څانګې له خوا يې له حفيظ الله امين سره اړيکه درلودله .

سياه سنګ: ستاسو دوينا پربنسټ امام الدين نه کلاشنيکوف را پورته کړی او نه يې د داؤد خان او نه يې د هغه د کورنۍ پرمخ ډزې کړې دي؟

پنجشيری: کټ مټ همداسې ده. امام الدين نشوای کولای کلاشنيکوف را پورته کړي او ډزې وکړي. هغه ټپي وو. له هغه سره وسله وال سرتيري ول، کله چې هغوی وليدل چې داؤود او زوی يې ډزې کوي نو هغوی هم په ډزو پيل وکړ. له همدې امله ده چې امام الدين وايي " موږ هم ووهل او ستيا مو کړل"

سياه سنګ: امام الدين او د هغه وسله والو ملګرو د دغسې په پټو سترګو وژنې د اور امر له چا تر لاسه کړی وو؟ د محمد داؤد او د هغه د کورنۍ د برخليک په اړه د ګوند سرمشريزې ډلې څه ويل؟ ستاسو نظر څه دی؟

پنجشيری: د کابل ولايت د زندان د پوښتنو او پلټنو له څانګې څخه راډيو افغانستان ته د نور محمد تره کی، ببرک کارمل، ډاکټرشاه ولي، زما (دستګير پنجشيري)، سليمان لايق، بارق شفيعي، عبدالحکيم شرعي جوزجاني او حفيظ الله امين له لېږدولو وروسته ، د دندو وېشنه په دې ډول وشوه : تره کي، کارمل، لايق او ما د سياسي تبليغ دندو پازوالي په غاړه را واخيستله، حفيظ الله امين، عبدالقادرهراتي او محمد اسلم وطنجار د پوځي لارښوونې دندې په غاړې واخيستلې .

له داؤود او د هغه له کورنۍ سره د چال چلند په اړه نور محمد تره کی او ببرک کارمل همغږي نه درلودله. تره کي د داؤود پر وژلو او کارمل د هغه پر ژوندي ساتلو ټينګار کاوه .

ما نورمحمد تره کي ته په ځواب کې وويل:" د ټولنيزې مبارزې تګلاره بايد سپکه و نه ګڼل شي او نه دې له پاځون سره لوبه و شي." سليمان لايق چې د خپل ډير نيږدې ملګري او زوم د مړينې له امله په ژور ناورين کې ډوب وو، د محمد داؤود په اړه يې وويل " دا فرعون دې ووژل شي "

د تأريخ په دغسې يوې پرېکنده شيبې کې نورمحمد تره کي د انقلاب پوځي سرمشرېزې ډلې (حفيظ الله امين، عبدالقادر او اسلم وطنجار) ته لاندينۍ ځانګړې لارښوونه ور وليږله :

"که سردارمحمد داؤود اواړوند ه کسان يې د انقلاب له فرمان څخه سرغړاونه وکړي، د پاځون والو په وړاندې وسلې ته لاس ور وړي او پرته له آړ يا شرطه د ګوند لارښوونو ته غاړه کښېـنږدي، نو زموږ وسله وال ځواکونه حق لري چې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خپل ځان او خپلواکۍ او انقلابي نظم څخه په میړانه ساتنه وکړي. که هغوی له وسله وال مقاومت څخه لاس پرسر شي او وسله پرځمکه کښېږدي، نو خوندي ځای ته دې ولیږدول شي. په دغه حالت کې به د هیواد د قوانینو پربنسټ له هغوی سره د درنښت وړ او افغاني چلند وشي".

البته ، چې پورتنی متن په پښتو وو او ما(پنجشیري) په پارسي را وژباړه .

سیاه سنګ: مخکې له دې چې ستاسو د کتاب (د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند را پاڅېدنه او پوپنا کېدنه / ظهور وزوال حزب ډیموکراتیک خلق افغانستان) د برخو سپړنې ته راشم ، باید ووایم چې (په لندن /انګلستان کې مېشت) یو تن غلام رسول باوري تاسو د محمد داؤد او د هغه د کورنۍ اصلي وژونکی بللي یاست. د نوموړي د لیکنو ځېنې برخې په یوې یا دوه وو ویبپاڼو کې داسې راغلي دي :

"هغه ورځ ما [غلام رسول باوري] په راډیو ټلویزیون کې تخنیکي دنده درلوده. /.../ د ثبت او خپرونې د سټډیو دروازه د برچې او د توپک په قنداق په زور را خلاصه شوه او د وسله والو سرتیرود یوې ډلې په ملتیا [خیال محمد] کتوازی اود ستګیرپنجشیری چې د هغه په وینا "پلنګي" جامې یې په ځان کې وې او پر سترګو یې د ضعیفو کتلو عینکې وې، راننوتل .

د نېغې خپرونې خونه محاصره شوه. د جګړن په رتبې یو افسر د دستګیرپنجشیري اوانقلابي سرمشریزې ډلې ترمنځ چې مشري یې حفیظ الله امین او [محمد اسلم] وطنجار کوله په ټګ راتګ کې وو. نوموړي یاددښت لیکونه وړل او راوړل. دستګیرپنجشیري د راډیو په لویې خپرونکي خونې کې ګام واهه او داؤود خان، یحیی او محمدزیو ته یې ښکنځل کول او د هغوی د وژنې خبر ته سترګې په لار وو .

نوموړی جګړن په بیړه راغی او ویې ویل چې د پرچمیانو په ځانګړې توګه د ببرک کارمل د مخالفت له امله د سردارمحمد داؤود د وژلو مخنیوی کیږي. هغوی وړاندیزلري چې نوموړی د افغانستان قانوني او ولسټاکلی ولسمشر دی او ژوندی دې ونیول شي. پنجشیري په ډیر قهر وویل: " هغوی غو.... خوري" ببرک د هغوی جاسوس دی او د هغوی پرټغر لوی شوی دی. هغه له داؤود سره یو ځای ووژنـۍ !

بیا ما ته لاربښوونه وشوه چې ګرځنده کمره له ځان سره را واخلم او د انقلاب د بولندې خونې ته ولاړ سم. ما بله لار نه درلوده، او یوه پیاوړې جاپانۍ کمره مې راواخیستله اود ښاغلو پنجشیري او کتوازي په ملتیا حفیظ الله امین ته ورغلو.

پنجشیري په قهرژلې ژبې له امین څخه وپوښتل: دا دې څه ټبرپالنه او توکم پالنه را اخیستې؟ ولې د لیوني سردار، دغه د عبدالرحمان، حبیب الله او درغلن او ټګ نادر د وارث د وژنې امر نه ورکوئ؟ آیا د تاجیکانو وینې سپېنې او د پښتـنو سرې دي؟ حفیظ الله امین چې خوله یې له خندا ډکه اود بریا په نشه کې ډوب وو و ویل: په ارګ کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



روزل شوي ستاسو ملګري سردار ببرک کارمل مخالفت کړی دی. يوازې سلطانعلي کشتمند يې وَژنه غواړي. پنجشيري په قهرژلې ژبې له تره کي مالومات وغوښتل او ټول واک او پريکړه يې د انقلاب دريزيا مقر ته ور وسپارله. له دغې لارښوونې وروسته، پنجشيری د مخابرې تر شا ودريد، لومړی يې يو حماسي شعر ولوست او وروسته يې په پرله پسې توګه د سردار محمد داؤود د پرته له پوښتنې وژنې لارښوونه ورکوله. په دغې شيبې کې جګړن رفيع چې ډير په قهر وو هغه يې د مخابرې په خونه کې ولېد، د تلويزيون له ودانۍ ووت او کارمل ته ورغی .

ښه درنده جګړه ونښتله. له ماسپښين وروسته ټولو مخابرو اوګرځندو انقلابي راډيوګانو خبر ورکړ چې سردار داؤود، سردارنعيم او د هغوی د کورنۍ ديرش تنه ووژل شول او ارګ تسليم شو. " حفيظ الله امين، وطنجار، پنجشيري، کټوازي او څو تنو نورو د وُدکا د شرابو د بوتلونو په را خلاصولو خوښي او خوشاحالي راپيل کړه. دستګيرپنجشيري د ټولو پښتنو پرضد د شعار په ورکولو د حفيظ الله امين نشه ور خراپه کړه. هغه په قهرسو او پنجشيری يې غلې کېدلوته را وباله".

که د غلام رسول پيژندنه يا نه پيژندنه يوې خواته پريږدو، د دغې لېکنې په اړه ستاسو غبرګون څه دی؟

پنجشيری: لومړی بايد ووايم ......

-د لومړۍ برخې پای نوربيا......پاته لري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخځ:

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د پښتو د څلورټوکيز تشريحي قاموس په دريم ټوک کې چې په ۲۰۰۵زکال کې خپور شوی په ۱۷۲۲ پاڼه کې [ستي] د نسبتي ستاين نوم يا صفت په توګه په دريو مانا وو راغلی دی:

ستي: ۱. سوی [سوځېدلی]، کباب شوی. ۲.ساتي، سوتي، په هندوستان کې د جلال الدين اکبر تر زمانې پورې د هندوانو يو رسم وو چې د هغه پربنسټ به هندۍ ميرمنې ځان ته اور اچاوه.

ستۍ : هغه هندوانۍ (ايندوه) چې د ستي له رسم سره سم ځان په هغه اور کې اچوي چې د ميړه د سوځېدلو لپاره يې بل شوی وي. همدارسم اکبر منع کړ.

۲ .بي بي. ، ميرمن.

۳ .هغه ښځه چې خپل سرد پلار په کاله کې سپين کړي .

داستۍ چې په اور سوځي مراد يې دا وي

زه په اور کې سوې ښه يم نه بې پته

رحمان بابا

د يادَونې وړ ده چې د ستي وييکی د اروابناد ملنګ جان په شعرونو کې هم ډيرلېدل شوی دی

]رحمت آريا[

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دویمه څپرکی

سیاه سنګ: مخکې له دې چې ستاسو د کتاب (د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند را پاڅېدنه او پوپنا کېدنه / ظهور وزوال حزب ډیموکراتیک خلق افغانستان) د برخو سپړنې ته راشم ، باید ووایم چې (په لندن /انګلستان کې مېشت) یو تن غلام رسول باوري تاسو د محمد داؤد او د هغه د کورنۍ اصلي وژونکی بللي یاست. د نومورې د لېکنو ځېنې برخې په یوې یا دوه وو ویبپاڼو کې داسې راغلي دي :

"هغه ورځ ما [غلام رسول باوري] په راډیو ټلویزیون کې تخنیکي دنده درلودله. /.../ د ثبت او خپرونې د سټډیو دروازه د برچې او د توپک په قنداق په زور را خلاصه شوه او د وسله والو سرتیرود یوې ډلې په ملتیا [خیال محمد] کټوازی اود ستګیرپنجشیری چې د هغه په وینا "پلنګي" جامې یې په ځان کې وې او پر سترګو یې د ضعیفو کتلو عینکې وې، راننوتل .

د نېغې خپرونې خونه محاصره شوه. د جګړن په رتبې یو افسر د دستګیرپنجشیري اوانقلابي سرمشریزې ډلې ترمنځ چې مشري یې حفیظ الله امین او [محمد اسلم] وطنجار کوله په تګ راتګ کې وو. نوموړي یاددښت لېکونه وړل او راوړل. دستګیرپنجشیري د راډیو په لویې خپروونکي خونې کې ګام واهه او داؤود خان، یحیی او محمدزیو ته یې ښکنځل کول او د هغوی د وژنې خبر ته سترګې په لار وو .

نوموړی جګړن په بیره راغی او ویې ویل چې د پرچمیانو په ځانګړې توګه د ببرک کارمل د مخالفت له امله د سردارمحمد داؤود د وژلو مخنیوی کیږي. هغوی وړاندیزلري چې نوموړی د افغانستان قانوني او ولسټاکلی ولسمشر دی او ژوندی دې ونیول شي. پنجشیري په ډیر قهر وویل: " هغوی غو..... خوري" ببرک د هغوی جاسوس دی او د هغوی پرتېغر لوی شوی دی. هغه له داؤود سره یو ځای ووژنـئ !

بیا ما ته لاربښوونه وشوه چې ګرځنده کمره له ځان سره را واخلم او د انقلاب د بولندې خونې ته ولاړ سم. ما بله لار نه درلودله، او یوه پیاوړې جاپانۍ کمره مې راواخیستله اود ښاغلو پنجشیري او کټوازي په ملتیا حفیظ الله امین ته ورغلو.

پنجشیري په قهرژلي ژبې له امین څخه وپوښتل: دا دې څه تېرپالنه او توکم پالنه را اخیستې؟ ولې د لیوني سردار، دغه د عبدالرحمان، حبیب الله او درغلن او ټګ نادر د وارث د وژنې امر نه ورکوئ؟ آیا د تاجیکانو وینې سپېنې او د پښتنو سرې دي؟ حفیظ الله امین چې خوله یې له خندا ډکه اود بریا په نشه کې ډوب وو و ویل: په ارګ کې روزل شوي ستاسو ملګري سردار ببرک کارمل مخالفت کړی دی. یوازې سلطانعلي کشتمند یې وَژنه غواړي. پنجشیري په قهرژلې ژبې له تره کي مالومات وغوښتل او ټول واک او پریکړه یې د انقلاب دریزیا مقر ته ور وسپارله. له دغې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لارښوونې وروسته، پنجشیری د مخابرې تر شا ودرید، لومړی یې یو حماسي شعر ولوست او وروسته یې په پرله پسې توګه د سردار محمد داؤود د پرته له پوښتنې وژنې لارښوونه ورکوله. په دغې شیبې کې جګړن رفیع چې ډیر په قهر وو هغه یې د مخابرې په خونه کې ولېد، د تلویزیون له ودانۍ ووت او کارمل ته ورغی .

ښه درنده جګړه ونښتله. له ماسپښین وروسته ټولو مخابرو اوګرځندو انقلابي راډیوګانو خبر ورکړ چې سردار داؤود، سردارنعیم او د هغوی د کورنۍ دیرش تنه ووژل شول او ارګ تسلیم شو. " حفیظ الله امین، وطنجار، پنجشیري، کټوازي او څو تنو نورو د وُدکا د شرابو د بوتلونو په را خلاصولو خوښي او خوشالي راپیل کړه. دستګیرپنجشیري د ټولو پـښتـنـو پرضد د شعار په ورکولو د حفیظ الله امین نشه ور خراپه کړه. هغه په قهرسو او پنجشیری یې غلې کېدلوته را وباله".

که د غلام رسول پیژندنه یا نه پیژندنه یوې خواته پرېږدو، د دغې لیکنې په اړه ستاسو غبرګون څه دی؟

پنجشیری: لومړی د تیروتنې له ویرې پرته باید ووایم چې په یوشمیر لانجپالو ویبپاڼو کې یوشمیر سیاسي لوبې هغه مهال رامنځ ته شوېدي دي چې سکیولار سیاسي ګوندونه او ټولنې له تیرو او پخوانیو تیروتنو په زده کړې د هغوی د بیا سماونې لپاره د سیاسي او ډله یز یووالي او د ملي او ډیموکراتیکو مورچلونو د جوړولو په موخه د یوبل ترڅنګ ګام ږدي او غونډې جوړوي. زه په دې ګروهن یم چې د دغسې په زهر لړلو ډنډورو د خپرولوموخه یوازې د پر مختګ لپاره په یوې چمتو ټولنې کې د ډیموکراتیک غورځنګ د لړۍ په وړاندې د خنډ له جوړولو پرته بله موخه نه لري او ګټه یې د طالبانو د غورځنګ، د دیورند د کرښې د دواړو خواوو بنسټپالو، د نیشه یې توکو د مافیا، نړیوالې ترهګرۍ او د ناتو د ځواکونو د اوږد مهاله شتون لپاره د پلمې له را موندلو پرته بله څرګنده موخه نه لري. خو ستاسو لپاره زما څرګند ځواب درښتینو تأریخي واقعیتونو وَيَنَـه ده :

لومړی: د کسانو نومونه او د "پوځي جامو" خبره

د غوایي د مباشتې په اوومه او له زندانه د خلاصېدلو په مهال سلطانعلي کشتمند او خیال محمد کټوازی له موږ سره زندانیان نه ول.زما په ځان کې ملکي دریشي وه او پلنګي جامې مې په تن نه وې .

دویم: د جګړن د تګ او راتګ خبره

زما، د نورمحمد تره کي، ببرک کارمل او سلیمان لایق امنیت د هوایي ځواکونو یوه ډګروال چې محمد کریم خان وردک نومېده، نیولی وو. د مشرتابه د ډلې له دغو غړو څخه هېڅ یوې د راډیو او ټلویزیون له ودانۍ څخه نه وو وتلي. له دې امله د" چا د تګ را تګ خبره په منځ کې نه وه."

که څه هم ببرک کارمل د راډیو له خپرونو وروسته د کبیر رنجبر (د اوسنۍ ولسي جرګې د غړي) د پلار په کور کې د مشرتابه د ډلې د پټېدلو وړاندیزوکړ؛ خو تره کي په پرېکنده ډول وویل: " یا به له پوځي ډلې سره یوځای بریالي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کېږو او یا به په یوه مورچل کې وژل کېږو .په پای د پوځي بولندې یا قوماندې په سلا او مشورې د هوایي ځواکونو پوځي قرارګاه د خواجه رواش ګارنیزیون ته ولېږدول شوو .

هراتی قادر په پیاوړي مورال د بګرام، مزار اوشینډنډ د هوایي ډګرونو له ګارنیزیونونو سره په اړیکه کې وو. هغه د غوایي د اتمې په سهارني سباوون د ریشخورد قطعې د بمبارد فرمان ولېږه او هغوی ته یې وویل چې یوازې سرک په نښه کړي او د ولس کورنو ته دې تاوان ور ونه رسېږي. قادر د پیلوټانو نومونه را اخیستل او له هغوی سره یې ټوکې کولې .

ټول درباریورې تړلي تاریخ لیکونکي او یاددښت لیکونکي چې غواړي په پاڅون کې د شوروي د الوتکو د برخې اخیستلو د ډ نډورو د خپرولو له لارې ولس بې لارې کړي یوازې د پاکستان د پوځي سیاستوالو، ایراني اخوندانو، د عربي امارات د شیخانو او د هغوی د وُبا وَهـَلو تالي څټوپه ژرندو کې د نورو اوبوبـَـَهـَولو له موخې پرته بل څه په خپلې کڅوړې کې نه لري .

دریم: له " حفیظ الله امین سره د شخړې تور "

د پاڅون په شپې مې له امین سره هېڅ ډول شخړه نه درلودله ځکه چې د وسله وال ځواک د پوځي انډول تـلـَه د هغه په ګټه وه. که نورمحمد تره کي ور ته اجازه ورکړې وای ما خو لا پرېږده چې په هماغه شپه به یې کارمل هم سوری سوری کړی وای .

څلورم: د" پشتون او تاجک سکالو "

زه نه پخوا او نه اوس د خپل یو موتي او نه بیلېدونکي هیواد د هېڅ یوه توکم دښمن نه وم. خو د زورواکی ، ټـَبـَرنی برلاسی او د زور له لارې د واک د را خپلولو پرضد مې مبارزه کړې او کوم یې. زه ګروهن یم چې د ټولو ټـَبـَرونو د عدالت غوښتنې هڅې به له سوله یزې لارې ژر یا په ځنډ کې د افغان هېوادالو د څرګند ډیموکراتیک ګډون یا هم له بلې لارې بریالی شي .

پینځم: د "وډکا د بوتلونو" تورلـګـــونه

د پورتـنیو تشو ډنډورو برخلاف ، نورمحمد تره کي ، حفیظ الله امین، محمداسلم وطنجار، خیال محمد کټوازي او ما نه یوازې دا چې د غوایي د اومې د پاڅون بریا مو په ښناک په ځانګړې توګه په وډکا نه ده لمانځلې، بلکه کله چې د غوایي په اومې نېټې د مازیګر په پینځو بجو له زندانه را خلاص شوو نو د غوایي د اتمې نېټې ترماښامه په ټول افغانستان کې د ډاډ وړ د ټیکاو تر راټینګېدلو پورې مورږ د یوه څاڅکي د ښښلو او د یوې مړې ډوډۍ د خوړلو لپاره وخت نه درلود .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاه سنګ: بیا هم مخکې له دې چې ستاسو د کتاب (د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند دراپاڅېدنې او پوپنا کېدنې / ظهور و زوال حزب ډیموکراتیک خلق افغانستان) د برخورا سپړنې ته راوګرځم له تاسو غواړم چې زما دغې تکراري پوښتنې ته ځواب راکړئ: آیا تاسو ډاډه یاست چې سلیمان لایق نورمحمد تره کي ته وویل چې " دغه فرعون دې ووژل شي." ؟

پنجشیری: هو ډاډه یم. بشپړ ډاډ لرم چې سلیمان لایق په څرګند ډول ویلي:" دغه فرعون دې ووژل شي "

پرما تور لګول کیږي

سلیمان لایق ( د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له بنسټ ایښودونکو او د سیاسي بیرو غړی/ شاعر، څېړونکی د راډیو تلویزیون وزیر) د سردار محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژنې په اړه بل ډول نظر لري.

سیاه سنګ: محمد داوؤد او کورنۍ یې د چا یا کوموکسانو په فرمان ووژل شوه؟

لایق: سردارداؤود د چا د فرمان ، لارښوونې اویا ډله ییزې پریکړې پربنسټ نه دی وژل شوی. وګورئ! لومړی کودتا وشوه، تر هغه وروسته ورته فرمان ولیږل شو چې تسلیم شـئ، هغوی تسلېم نه شول. پایله یې هماغه ده چې ټول ولس پرې خبر دی. د څو تنو وَژنـَه .

سیاه سنګ: تاسو غواړئ ووایاست چې محمد داؤود او کورنۍ یې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د ډله ییزې پریکړې پربنسټ نه دی وژل شوی؟

لایق: لومړی خو د دغې سکالو بنسټ باید راڅرګند شي. د افغانستان د خلق ډیموکراتېک ګوند کودتا نه ده کړې. کودتا څو تنو ترسره کړه .

سیاه سنګ: ستاسو په وینا، دغه څو تنه څوک ول یا څوک دي؟

لایق: یو شمیر ځانغـوښتـونکو، ځانمنـنـونکو او د واک څوکیو ته تږیو کسانو چې غوښتل یې د واکمنۍ څوکۍ ، موټرو، ویسکي او لوړو دولتي پوړونو ځانونه ورسوي کودتا یې وکړه او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په داسې یوه دریزکې راګیر شو چې کار له کاره تیر وو. د خلق اوپرچم ډلې اړې شولې چې د ځان د ساتنې لپاره دغه کودتا ومني .

سیاه سنګ: کولای شـئ د دغې کودتا د سمبالوونکو نومونه را واخلـئ؟

لایق: زه ډارن نه یم اونه له راتلونکي څخه کومه ویره لرم. زړه ور یم او په زغرده وایم چې حفیظ الله امین او تره کي د دغې کودتاه پاخه سمبالوونکي ول. موږ په زندان کې وو چې کودتا وشوه .

سیاه سنګ: تاسو څنګه زنداني شواست؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایق: کله چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مشرانو د نیولو خبر د راډیو له لارې خپور شو نو له زندانه بهر یو شمیر ملګري دغې پایلې ته ورسېدل چې :" 'میثاق صاحب اولایق صاحب ته به ښه دا وي چې ولاړ دې شي او ځانونه دې دولت ته ور وسپاري". زه هم د ملګرو له سلا سره سم پولیسو ته ورغلم او ځان مې ور وسپاره .

زما لاسونه یې په هتکړیو را وتړل او په یوې کوشنۍ خونې کې واچولم. یو وړدکی افسر راغی او په ډیرې قهرژلي توګه یې راڅخه وپوښتل " څه شی دې خوړلي چې هضمولای یې نه شي". وروسته له هر لوري د ډزو غږونه را خپاره شول. افسر دباندې ووت. څو شیبې وروسته زه هم له خونې دباندې دالان ته را ووتلم او غوښتل مې پوه سم چې څه خبره ده. د ګوند یو تن غړی مې ولېد. هغه وویل:" څو شیبې نورهم صبر وکړه، راځملوو یې ".

بیا مې ولېدل چې هماغه افسر بیرته راغی او په یوه غاب کې یې راته انګور راوړل زما لاسونه یې راخلاص کړل او په دې ډ ول زه له زندانه را خلاص سوم .

سیاه سنګ: وروسته له هغې چې له زندانه را خلاص شواست او راډیو افغانستان ته راغلاست نو نورمحمد تره کي ته مو د داؤود په اړه وویل " دغه فرعون دې ووژل شي." . آیا دا سمه ده؟

لایق: نه. داسمه نه ده. دا قطعاً زما خبره نه ده. پرما تور لګوي. ما داسې نه دي ویلي. اصلاً دغه پیښه ماته د کرکې وړ وه .

سیاه سنګ: کومه پیښه تاسو ته د " کرکې" وړ وه. د " غوایي کودتا یا د محمد داؤود وژنه ".

لایق: کودتا. دغه پوځي پاڅون چې په ګوند کې نه وو پوخ شوی، ماته د کرکې وړ وو. ښایي په تأریخ کې دغه پاڅون ته وَرته نور پاڅونونه هم شوي وي. آیا دا چې په دغې پیښې کې شورویانو هم لاس درلود یا نه درلود راته څرګنده نه ده. البته حفیظ الله امین او نورمحمد تره کی سل په سلو کې پرې پوهېدل .

سیاه سنګ: که تاسو د نورمحمد تره کي پرځای واست، آیا د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژلو فرمان به مو ورکړې وای؟

لایق: دغه پوښتنه بنسټ نه لري. که زه د هغوی پرځای وای نو کودتا به نه وای شوې. په هیڅ اصل ،بنسټ او معیار کې د کودتا تجویز نه دی شوی. کودتا د سیاسي ستونزو د حل لاره نه وه، نه ده او په راتلونکې کې به هم نه وي. زه له کودتا سره مخالف وم. په ټولیز ډول د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ټول پوه غړي له پوځي کودتا سره مخالف ول .

سیاه سنګ: آیا دا رښتیا نه ده چې د یوه خپلوان او نیږدې ملګري د وَژنې په ناورین کې د ډوبېدلوله امله مو د داؤود لاس د میراکبرخیبر په وژنه کې ورګډ کړای وي او ویلي مو دي چې " دغه فرعون دې ووژل شي"؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایق: د ژوند له پیله تر اوسه له وینې تویـَونې او وَژنې کرکه لرم. ان د سردار داؤود او د هغه د کورنۍ له وژل کېدلو وروسته، د مړیو د لېدلو لپاره ارګ ته وَرنغـلم. تل به زما په اړه ویل کېدل چې " دی قاطع سړی نه دی". تاسو په ټول افغانستان کې ماته یوازې یو تن را پیدا کړئ چې ودې وایي " چې د لایق له لاسه یې تاوان لیدلی وي" له بلې خوا سردار داؤود او د هغه د جمهوري دولت څانګو د میراکبر خیبر په وژنه کې لاس نه درلود. خلک ولې بې ګټې خبرې را جوړوي؟

سیاه سنګ: د میراکبرخیبر وژونکی څوک دی؟

لایق: دا پولیسي تحقیقات کېږي او زه یې ځواب ویل اړین نه بولم. څو اونۍ مخکې یوې نړیوالې راډیو هم دغه پوښتنه راڅخه کړې وه. د نوموړې راډیو پوښتونکي ته مې وویل چې اوس د دغې پوښتنې د ځواب ویلو وخت نه دی. اوس به ډیر وختې وي چې دغې پوښتنې ته ځواب وویل شي .

سیاه سنګ: که څه هم د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژنې له سکالو څخه لږ څه لېرې کیږو خو غواړم ووایم چې وحید مژده د " آریایي" او "سرنوشت" په ویبپاڼو کې یوه لیکنه لري اوسرلېک یې دی " هغه وژنه چې له پایلې څخه یې کودتا را وکتېدله". هغه د ګلبدین حکمتیار له خولې چې وحید مژده هم په هغې غونډې کې ناست وو، داسې لېکي "خیبرزموږ د مجاهدو ورونیو په لاس وژل شوی "

لایق: دغه ادعا هم له بنسټه سمه نه ده. حزب اسلامي د دې لپاره چې د پاکستاني چارواکو په سترګو کې ځانته یو دریز راپیدا کړي، په دغه خام او بې ځایه چل د داسې یوې وژنې پازوالي په غاړه را اخلي چې له اصله یې کړې نه ده .

سیاه سنګ: خو (د وحید مژده د لیکنې پربنسټ) د ګلبدین حکمتیار دغه ادعا د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند یو شمیرپخوانیو لوړپوړ غړیو منلې ده .

لایق: هو منلې یې ده او هغه هم له دې امله چې غواړي د میراکبرخیبر د وژنې تورله خپل تندي څخه را پاک کړي .

سیاه سنګ: ستاسو له خبرو را څرګندیږي چې د میر اکبر خیبر وژنه " د ګوند د کورنیو کړیو" په لاسه یوه وَ ژنه ده. آیا ښه به نه وي تاسو چې وژونکی پیژنـئ او په رښتیا خبریاست، ولې خلک نه خبروئ؟ په رښتـنو خبرو پوهېدل د ولس بنسټیز حق دی.

لایق: د افغانستان د خلق د ډیموکراتیک ګوند ښادنامې په ځانګړې توګې د غوایي له کودتا را وروسته ډیرې کرغیړنې وې. ولس زموږ له لاسه ډیر تاوانونه ولېدل. میر اکبرخیبر هم همدغو حزبیانو وژلی دی. ما اوس له ګوندي او یا سمبال شوي سیاست څخه لاس اخیستای دی، ادبیاتو ته مې مخه کړې، غواړم هرهغه څه چې لرم ویې لیکم، ولې نه؟ په نیږدې راتلونکې کې به هر څه په یوه کتاب کې را ولېکم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاه سنگ: اوس به بیرته خپلې خبرې ته راشو. ستاسو له انده داؤودخان څه ډول یو شخصیت وو؟

لایق :

د دویمې برخې پای


اخځ:

http://www.kabulnath.de/Salae_Charom/Shoumare_74/President%20Daud%202.pdf

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





## دریمه برخه

سیاه سنگ: وروسته له هغې چې له زندانه را خلاص شواست او راډیو افغانستان ته راغلاست نو نورمحمد تره کي ته مو د داؤود په اړه وویل " دغه فرعون دې ووژل شي." . آیا دا سمه ده؟

لایق: نه. داسمه نه ده. دا قطعاً زما خبره نه ده. پرما تور لگوي. ما داسې نه دي ویلي. اصلاً دغه پیښه ماته د کرکې وړ وه .

سیاه سنگ: کومه پیښه تاسو ته د " کرکې" وړ وه. د " غوایي کودتا یا د محمد داؤود وژنه ".

لایق: کودتا. دغه پوځي پاځون چې په گوند کې نه وو پوخ شوی، ماته د کرکې وړ وو. ښایي په تأریخ کې دغه پاځون ته وَرته نور پاڅونونه هم شوي وي. آیا دا چې په دغې پیښې کې شورویانو هم لاس درلود یا نه درلود راته څرگنده نه ده. البته حفیظ الله امین او نورمحمد تره کی سل په سلو کې پرې پوهېدل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاه سنگ: که تاسو د نورمحمد تره کي پرځای واست، آیا د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژلو فرمان به مو ورکړې وای؟

لایق: دغه پوښتنه بنسټ نه لري. که زه د هغوی پرځای وای نو کودتا به نه وای شوې. په هیڅ اصل ،بنسټ او معیار کې د کودتا تجویز نه دی شوی. کودتا د سیاسي ستونزو د حل لاره نه وه، نه ده او په راتلونکې کې به هم نه وي. زه له کودتا سره مخالف وم. په ټولیز ډول د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند ټول پوه غړي له پوځې کودتا سره مخالف ول .

سیاه سنگ: آیا دا رښتیا نه ده چې د یوه خپلوان او نیږدې ملگري د وَژنې په ناورین کې د ډوبېدلوله امله مو د داؤود لاس د میراکبرخیبر په وژنه کې ورگډ کړای وي او ویلي مو دي چې " دغه فرعون دې ووژل شي"؟

لایق: د ژوند له پیله تر اوسه له وینې تویـَونې او وَژنې کرکه لرم. ان د سردار داؤود او د هغه د کورنۍ له وژل کېدلو وروسته، د مړیو د لېدلو لپاره ارگ ته وَرنغـلم. تل به زما په اړه ویل کېدل چې " دی قاطع سړی نه دی". تاسو په ټول افغانستان کې ماته یوازې یو تن را پیدا کړئ چې ودې وایي " چې د لایق له لاسه یې تاوان لیدلی وي" له بلې خوا سردار داؤود او د هغه د جمهوري دولت څانگو د میراکبر خیبر په وژنه کې لاس نه درلود. خلک ولې بې گټې خبرې را جوړوي؟

سیاه سنگ: د میراکبرخیبر وژونکی څوک دی؟

لایق: دا پولیسي تحقیقات کیږي او زه یې ځواب ویل اړین نه بولم. څو اونۍ مخکې یوې نړیوالې راډیو هم دغه پوښتنه راخخه کړې وه. د نوموړې راډیو پوښتونکي ته مې وویل چې اوس د دغې پوښتنې د ځواب ویلو وخت نه دی. اوس به ډیر وختې وي چې دغې پوښتنې ته ځواب وویل شي .

سیاه سنگ: که څه هم د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژنې له سکالو څخه لږ څه لیږې کیږو خو غواړم ووایم چې وحید مژده د " آریایي" او "سرنوشت" په ویبپاڼو کې یوه لیکنه لري اوسرلېک یې دی " هغه وژنه چې له پایلې څخه یې کودتا را وکټېدله". هغه د گلبدین حکمتیار له خولې چې وحید مژده هم په هغې غونډې کې ناست وو، داسې لېکي "خیبرزموږ د مجاهدو ورونو په لاس وژل شوی "

لایق: دغه ادعا هم له بنسټه سمه نه ده. حزب اسلامي د دې لپاره چې د پاکستاني چارواکو په سترگو کې ځانته یو دریز راپیدا کړي، په دغه خام او بې ځایه چل د داسې یوې وژنې پازوالي په غاړه را اخلي چې له اصله یې کړې نه ده .

سیاه سنگ: خو (د وحید مژده د لیکنې پربنسټ) د گلبدین حکمتیار دغه ادعا د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند یو شمیرپخوانیو لوړپوړ غړیو منلې ده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایق: هو منلې یې ده او هغه هم له دې امله چې غواړي د میراکبرخیبر د وژنې تورله خپل تندي څخه را پاک کړي .

سیاه سنګ: ستاسو له خبرو را څرګندیږي چې د میر اکبر خیبر وژنه " د ګوند د کورنیو کړیو" په لاسه یوه وَ ژنه ده. آیا ښه به نه وي تاسو چې وژونکی پیژنـئ او په رښتیا خبریاست، ولې خلک نه خبروئ؟ په رښتـنو خبرو پوهېدل د ولس بنسټیز حق دی.

لایق: د افغانستان د خلق د ډیموکراتیک ګوند ښادنامې په ځانګړې توګې د غوایي له کودتا را وروسته ډیرې کرغیړنې وې. ولس زموږ له لاسه ډیر تاوانونه ولېدل. میر اکبرخیبر هم همدغو حزبیانو وژلی دی. ما اوس له ګوندي او یا سمبال شوي سیاست څخه لاس اخیستای دی، ادبیاتو ته مې مخه کړې، غواړم هرهغه څه چې لرم ویې لیکم، ولې نه؟ په نیږدې راتلونکې کې به هر څه په یوه کتاب کې را ولېکم.

سیاه سنګ: اوس به بیرته خپلې خبرې ته راشو. ستاسو له انده داؤود خان څه ډول یو شخصیت وو؟

لایق: داؤود خان د شخصي تقوی لرونکی یو سړی وو. پرته له شکه چې هغه د افغانستان د سرلوړی او پرمختګ غوښتونکې وو او د شتمنۍ او پیسو له ټولولو سره یې هېڅ مینه نه درلودله. خو د داوؤد خان په ژوند کې تیاره اړخونه هم لېدل کیږي: دکتاتور وو او، هزاره ګان یې نه خوښیدل. که چا د هغه ډاډ ترلاسه کړای وای نو د هغه هرډول کړنه سرداراؤود ته د منلو وړ وه، که پرچا بې ډاډه شوی وای نو څرګنده ده چې د هغه سړي ژوند ټول پو پنا کېده .

## ببرک کارمل، رمزي او کرک

د سردار محمد داؤود وراره محمد عزیزنعیم د خپلې مور خبرې داسې په یاد راولي :

"مورمې پیښې په خپلوسترګو ولیدلې. د هغو پیښو لنډیز داسې دی : په وروستیو شیبو کې د [کمانډو] یو افسر ننوځي او داؤود خان ته وایي : "باید تسلیم سـئ . محمد داؤود خان پوښتنه کوي : " تاسو دغه امر د چا له خوا لرئ ؟ هغه ځواب ورکوي : " د قادر له پلوه." محمد داؤود خان وایي : " زه پرته له خدایه بل چا ته نه تسلیمیږم او تر وروستۍ ګولۍ جنګ ته چمتو یم"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا وو چې د دواړو خوا ترمنځ ګولۍ را و وربدلې چې په پای کې یې ارواښاد داؤود خان او د هغه د کورنۍ اولس تنه غړي د هغه د زامنو او دوه لونيو په ګډون ټولو د شهادت جامونه راپورته کړل .

له دغې پیښې وروسته د بریتانیا د بهرنیو چارو له وزارته د رمزي په نامه یو سړی چې د افغانستان په څانګې کې یې کار کاوه د خواخوږۍ لپاره زما لېدلو ته راغی او د هغه ترڅنګ یې را یاده کړه چې له خپل سفیر ښاغلي کرک څخه یې یو ګزارش تر لاسه کړی او په دغه ګزارش کې له ببرک کارمل سره د هغه د پیژندګلوی د کتنې خبره هم ویل شوې وه. د رمزي په وینا په ګزارش کې لېکل شوي ول: کارمل ویلي چې موږ د یوه سرته رسیدلي عمل په مقابل کې را ګیرپاتې شولو." (۲۲۴، ۲۲۵، ۲۲٦ پاڼې : افغانستان په شلمه پیړۍ کې / افغانستان در قرن بیستم : ۱۹۰۰ � ۱۹٦۹ د بي بي سي د راډیو له ټولګو څخه ، ظاهر طنین ۲۰۰۵ ) "

د زَړوکسانو په کورګي کې د یوې بوډۍ میرمنې خبرې

داؤود جنبش ( لېکوال ، ژباړونکی او د بي بي سي د راډیو کارکوونکی) د : ولسمشر داؤود خان او کورنۍ یې څنګه ووژل شول تر سرلیک لاندې د محمدظاهرشاه د خور/ د محمدنعیم د ماندینې میرمن زُهرې له خولې راوړي چې:

په هغه ورځ [ د اپریل ۲۸، ۱۹۷۸ ز، د غوایي اومه ۱۳۵۷ ل] نعیم خان نه وو. لونې مې په کورکې وې ، لمسیان ښوونځي ته تللي ول. زه د ویښتانو د جوړولو لپاره دباندې تللې وم. یو افسر راغی او په بیړه یې له ما وغوښتل چې ارګ ته ولاړه شم. د داؤود خان له زامنو سره یوځای د ګلخانې ماڼۍ ته ولاړو. داؤود خان په خپل دفتر کې د تیلفون له لارې له چا سره خبرې کولې. هماغلته کښېنستلو. الوتکو بمبارد را پیل کړ. ترماښامه دغه حالت دوام درلود .

کله چې بمباریو زور واخیست، داؤود خان وویل:" لاندیني پوړ ته ولاړسئ!" د را وتلو په مهال د ګلخانې د دروازې له اړخه د ګولیو اور را پیل سو. ګومان کوم ډزې په ارګ کې دننه د خلقیانو او پرچمیانو له پلوه وو .

په دالان کې د داؤود خان لور زرلښته او دهغه اته کلنه لمسۍ غزال ( د عمر لور) ټپیانې شوې وې. هغوی یې بلې خونې ته راوړلې. ګولیو زما د دیارلس کلنۍ لسمۍ صفورا ټټر سوری سوری کړی وو. نظام [ د داؤود خان زوم] وویل صفورا بې هوښه شوې خو حال یې ښه دی، خو کله چې له نیږدې یې ولېدله، هغه وژل شوې وه. صفورا زما د سترګو تر مخ ځان حق ته وسپاره. ماشومان د مور په غیږ کې هم خوندي نه ول. شیما د سردارصاحب داؤود خان ننږور /د میرویس میرمنې خپل دوه ماشومان په غیږ کې نیولي ول او دیوال ته یې ډه ډه لګولې وه. کله چې له خونې راوتلم و مې لېدل چې درېواړه یې شهیدان شوي ول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زرمېنه (زما او د نعيم لور)، عايشه (د داؤود خان معيوبه خور) چې له فزيکي ننگونو سره مخامخ وه او د له لاسه او پښو غورځېدلو کسانو په کراچۍ کې به گرځېدله ، زينب (زما خور/د داؤود خان ميرمن) ، شينکۍ او زرلښته ( د سردارداؤود خان لوڼې) ټولې داؤود خان ته ورغلې او د هغه تر څنگ ودرېدلې .

ما په خپلو سترگو نه دي ليدلي، خو راته يې وويل چې چا له ليرې ځايه داؤود خان ته ويل : تسليم سه ! او هغه ورته ويلي ول : پرته له خدايه بل چا ته نه تسليميږم. په همدغه وخت کې د ډزو غږونه را پورته شول. داؤود خان، نعيم خان، زينب، شينکۍ، خالد، ويس او عمر(د داؤودخان زامن)، نظام ( د شاه محمودخان زوی) ټول هماغلته ووژل شول .

کودتا چيان په موږ پسې راغلل او ويې ويل چې له خونو څخه را ووځۍ او که څوک را ونه وځي نو د خونې چتونه به پرې را ونړيږي . د را وتلو په مهال مې ولېدل چې د داؤود خان، نعيم خان او نورو مړي پرځمکه پراته ول .

زما پښه هم ټپي شوې وه. موږ يې روغتون ته ورسولو. هلته يې د لسو ورځو لپاره وساتلو بيا يې زندان ته بوتلو. خورشيد او توران (د سردارتيمورشاه ماشومان/ د نعيم خان لمسيان) په روغتون کې پاتې شول. گلالۍ (د عمر ميرمن/ د داؤود خان نںږور) سره له دې چې پښه يې ۷ گولېو ور سورۍ سورۍ کړې وه ژوندۍ پاتې شوه .

په هغې باراني ورځې زموږ د کورنۍ او نږدې خپلوانو ۷۰ تنه و وژل شول. آيا وروسته له ۳۰ کالو به داسې يو څوک وموندل شي چې د وژل شويو آرامځای ومومي او د افغانستان د لومړي ولسمشر له قبرڅخه زيارت را جوړ کړي؟ "

## سورسباوون

داکترعاصم د ( د داؤود خان سياستونو، شخصيت او اندونو ته يوه کتنه / نگاهې به شخصيت،نظريات وسياستهای داؤود خان) د (ميزان د خپرندويې ټولنې له خپرونو ۲۰۰۱کال) د کتاب له ۲۹۲ تر۲۹۷ پاڼو کې د هما داؤود (د خالد ميرمن او د سردار محمد داؤود د نږور) د خبرو پربنسټ داسې ليکلي دي :

"د ديارلس سوه اوه پنځوسم لمريزکال د غوايي د مباشتې اوومه پنځنۍ 'پنجشنبې' ، د نورو ورځو په شان يوه عادي ورځ وه. د پسرلي مياشت وه او باران وَريده. په دوديز ډول د کورنۍ غړي هره د پنځنۍ ورځ د ماښام له خوا د داؤود خان په کور کې را ټولېدل. داؤود خان کورنيو ارزښتونو ته په ډېرې درندې سترگې کتل او ډېر به خوښېده چې لږ تر لږه په اونۍ کې يوځل د کورنۍ غړي پريوه ټغرراټول شي او له يو بل سره په گډه ډوډۍ وخوري. د دغسې را ټولېدلو نوښت هغه رامنځ ته کړی وو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هماغه ورځ د نورو پنځنيو ورځو په شان د کورنۍ د غړيو د را ټولېدلو تابيا په پام کې نېول شوې وه. کله چې د شوبلو د ډزو غږ را پورته شو، څه ناڅه د غرمې دولس بجې وې او ميرمن هما داؤود په کورکې وه او ګومان يې کاوه چې د غرمې د ډوډۍ د دوديز توپ غږ دی او کلکه پاملرنه يې ورته ونه کړه. د هغې زړه نه منل چې له همدغې شېبې وروسته به دا د کمونيستو کودتا چيانو د کودتا پيل وي .

اړوپيچ د سترګوپه رپ کې اوښتون موند. څو شيبې نه وې تيرې چې خالد له خپل کار ځای د تلويزيون له ودانۍ څخه کورته را ورسيد او ويې ويل چې ټول دې ارګ ته ولاړ شي. کله چې د ويرې لمنه را څرګنده او پراخه شوه داؤود خان د ولسمشرۍ د دفترد مشراکبرخان په سلا او وړانديز پريکړه وکړه چې د کورنۍ ټول غړي ارګ ته دننه را وغواړي .

ميرمن هما وايي کله چې په موټرکې د داؤود خان له کوره تر ارګه ولاړه نو ډيره په انديښنه کې ډوبه وه او ويې لېدل چې اړوپيچ د سترګو په رپ کې د اوړېدلو په حال کې دی. د مخ په ودې اړوپيچ په لېدلو يې انديښنه لا زياته شوه. کله چې له خپل خاوند او کوشني ماشوم سره د ارګ انګړ ته ننوتله نو ويې لېدل چې سرتيرو د تيارسۍ په حال کې په هرګوټ کې مورچلې نيولې دي. له دغو ټولو سره سره بيا هم دا نه پوهېدله چې خبره څه ده او د دغه بيړنې اړوپيچ د را پارېدنې لامل څه وو .

د کورنۍ پاتې غړي چې له هرې خوا ورو ورو را رسيدل د ارګ د ګلخانې د ماڼۍ په دويمې ودانۍ کې د ولسمشر د کار په دفترکې را ټول شوي ول او ارګ ته په راننوتلو د هغه څه د تيريدلو په لېدلو به هک پک پاتې کېدل چې په ارګ کې تيرېدل. که څه هم اړوپيچ ډير کړکيچن شوی نه وو خو د نيږدې ماسپښين شا او خوا وړانديز وشو چې ميرمنې او ماشومان دې له ارګه په موټرونو کې بهر و ايستل شي. د افغانستان د پخواني ټولواک خور او د ولسمشر داؤود خان ماندينې ميرمن زينب دغه وړانديز وغانده. دهغه د همدغې پريکړې پربنسټ نورو ميرمنو هم خپل هوډ څرګند کړ او ټينګارېې وکړ چې د خپلو ميړونو ترڅنګ به همدلته پاتې شي. په ځانګړې توګه د سردارمحمد داؤود خان زامنو ټينګار کاوه چې د پلار ترڅنګ به پاتې کيږي او نه غواړي چې هغه يوازې پريږدي .

که څه هم د کورنۍ غړو ته څرګند خبرونه نه ورکول کېدل خو د هرې شيبې په تيريدلو خبره راڅرګنديدله او اوربدل کېدل چې دښمن د پرمختګ په حال کې دی او د ولسمشرد ماڼۍ نيول يې د خپلې موخې زړه ټاکلی دی .

په ډيرلنډ وخت کې ټيلفوني اړيکې وشليدلې. له دې چې کودتا چيانو په آسانۍ کولای شوای د ودانۍ پاسنی پوړ په آسانۍ بمبارد کړي، د خونې د لوړوالي او د کړکيو د ډيروالي له امله دغه ځای خوندي نه وو نو پريکړه وشوه چې ټول دې کښتـنې پوړ ته ولاړ شي. همداسې وشوه. د کورنۍ ټول غړي لانديني پوړد ډوډۍ خوړلو لويې خونې ته راکښته کړای شول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرمن هما وايي تر هغې شیبې پورې چې دا د داؤود خان د کار په دفتر کې وه څوک نه وو ټپي شوي. خو کله چې د کورنۍ غړي کښتني پوړ ته راکښته شول نو د کودتاچیانو یرغل لا زور واخیست. د دښمن په وړاندې د ولسمشرۍ د ساتونکي قطعې اتلواله مقاومت ورو ورو درې ورې کېده، د دښمن د مردکیو او توغندیو ړندو چـَرو او ټوټو په ودانۍ کې دننه هرڅوک ټپیانول.

زما په ګومان لومړني چا چې ټپ واخیست او د سترګو په رپ کې مړ سو د سردارمحمد داؤود خان مشرزوی محمد عمر وو. د ارواښادې میرمن ګلالۍ داؤود د عبدالله خان ملکیار د لور پرځان اته ګولۍ لګېدلې وې. لورکۍ يې (غزال) په همدغې پیښې کې په ارګ کې شهېده شوه او بله ټپي لور يې په روغتون کې څو شیبې وروسته مړه شوه. که څه هم د سردار محمد نعیم خان ښنه په ګولېو ټپي شوې وه خوله خپل پالیاله ورور سردارمحمد داؤود خان سره د سهارتر سباوون پورې ژوندی وو. وروسته له دې چې د ولسمشرۍ د ماڼۍ د ساتونکي قطعې پاتې برخه له نا چارۍ کودتاچیانو ته تسلیم شوه، کمونیستانو د شنه سهار په سپیده دم کې د ګلخانې د ماڼۍ دروازه پرانیستله او په لومړیو شیبو کې يې له داؤود خانه وغوښتل چې تسلیم شي خو هغه په ځواب کې وویل چې هېڅکله به د روسانو مریـیـو کمونیستانو ته تسلیم نه شي .

د امام الدین تر مشرۍ لاندې د وسله والو کودتا چیانو د ډلې او سردارمحمد داؤود خان ترمنځ ډزې پیل شوې چې په پای کې يې د هغه د کورنۍ یو شمیر راګیرشوي کسان یا ټپیان یا شهیدان شول .

د دغو شهیدانوپه منځ کې یوازې د سردارمحمد داؤود خان له کورنۍ څخه شل تنه ول. که د غوایي د اوومې د شرمووتکي او کرغیړنې کودتا د شپو اوروځو د شهیدانو شمیره را واخلو نو د ټولو وژل شویو کسانو شمیره د سید عبدالاله، عبدالقدیرنورستاني، صاحبجانخان ګارډ په ګډون چې په ارګ کې ووژل شول ،او نور لکه غلام حیدررسولي ، ښايي درې زره تنو ته ورسیږي .

د کمونیستانو له وروستـنې یرغله وروسته د سردارمحمد داؤود خان د کورنۍ پاتې ژوندي غړي د جمهوریت روغتون ته ولیږدول شول. هغو کسانو لکه میرمن ګلالۍ چې ژور ټپونه يې اخیستي ول، تر اوږدې مودې په روغتون کې پاتې شول او د کورنۍ نورټول غړي زندان ته ولیږدول شول او هلته يې بندیان کړل .

د سردارمحمد داؤود د کورنۍ پاتې غړو د روس د لاسپوڅي رژیم له استازو څخه په څو ځو ځله غوښتنه وکړه چې د غوایي د اوومې کودتا د شهیدانو د ښخېدلو ځایونه ورته وروښیي، خو دغولاسپوڅو هېڅکله دغې غوښتـنې ته ځواب ور نه کړ .

څرګنده نه ده چې د کودتا د تورې او کرغیړنې شپې له امله کودتا چیانو د ارګ دننه د شهیدانومړي د خواجه رواش په سیمه کې په ډله ییزکېندل شوي قبرکې ښخ کړي او یا د کابل- جلال آباد د لویې لارې په اوږدو کې په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ناڅرګند ځای کې له اسلامي دودونو پرته ښخ کړي دي. (له میرمن هما ) Arlington, Virginia ,USAداؤود عثمان سره مرکه ۲۰۰۱زکال د جنوري دويمه

له هغې خونړۍ پیښې را وروسته لا تراوسه د دغې غوټې سر نه دی پرانیستل شوی. په دغې پیښې کې ښکېل کسان او پاخه پازوال مشران لا تراوسه د نړۍ په ګوټ ګوټ کې ژوندي دي او پرته له شکه له قانوني لارو او امکاناتو کولای شو له هغوی پوښتنه وکړو چې دغه خبره روښانه کړي .

## د ګلخانۍ پرمانۍ د ګولیو باران

جنرال نذیر کبیرسراج د خپل کتاب (په افغانستان کې د شلمې پیړۍ د دویمې نیمایۍ مهمې پېښې/ روېداد های مهم نیمه اخیر سده بیست در افغانستان) په ۱۱۳ پاڼې کې لیکلي : " محمد عمر په داسې حال کې چې له خپل پلار سره یو ځای وو د ګلخانې د مانۍ پوړې 'زينې' ته مخامخ، موټرته د پورته کېدلو په وخت کې ټپي شو. " دلته د یادونې وړده چې په هغو شېبو کې د یو شمیر وزیرانو په ګډون د حاضرو همکارانو د پریکړې پربنسټ، وپتـيـل شوه چې محمد داؤود دې له ارګه دباندې ووځي او د مرکزي ځواک (قوای مرکز) د اړوند لښکرکوټونو په مرسته دې د کودتا چیانو یرغل پرشا وتمبوي." نوموړی زیاتوي : " یادې شوې ډزې د ولسمشرۍ د ګارد د یوتن افسر له لوري چې د سردارمحمد داؤود د ډاډ وړ سړی وو، وشوې ".

هما داؤود د سردار محمد داؤود د مشرزوی د ټپي کېدلو په اړه د جنرال کبیر سراج خبره نه مني او ټينګارکوي چې هغه له ودانۍ دباندې نه، بلکه په ودانۍ کې دننه ټپي شو. ۲۹۵ پاڼه، د سردارمحمد داؤود شخصیت، اندونو او تګلارو ته یوه کتنه / نګاهې به شخصیت، نظریات وسیاستهای سردار محمد داؤود، ډاکټر محمدعاصم، د میزان خپرندویه ټولنه، د امریکامتحده ایالات،۲۰۰۱(

وایي چې.....

ویل کیږي چې د دیارلس سوه اووه پینځوسم کال د غوایي د مېاشتې له اوومې نېټې مخکې د محمد داؤود د وژلو تابیا نیول شوې وه. که داسې وي، نو د کومو کسانو پـَل د دغې تابیا په تل کې موندلای شو؟

وایي چې د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند یوه نامتو څیره چې اوس هم په افغانستان کې ژوند کوي، د سردارمحمد داؤود او د هغه د کورنۍ له وژل کېدلو لږ شیبه وروسته ارګ ته راغی، ټول یې له پامه تیرکړل او بیا له خوني ووت .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي هماغه سړي يو چا ته ويلي ول چې :" ... په پام کې نېول شوې وه چې پرارگ به يو پينځه سوه کېلويي بم وروغورځول شي. پوهيږئ چې پينځه سوه کيلويي بمب څومره ورانی کوي؟ ارگ يې له خاورو سره په هوا کاوه؟ "!

..."د عبدالله عمرله جيبه چې زما ترڅنگ ولاړ وو، د بنزموټر کلي يې واخيستله او ويې ويل: اوس زموږ وار دی چې د موټرسپرلۍ وکړو." په همدې حال کې مې وليدل چې د کورنۍ يوشمير غړي څوک روغ رمټ او څوک ټپي له دروازې تيرېږي او ميرمن سلطانه نور/د سردارمحمد عمرنور ماندينه له ټولو مخکې روانه وه. زهرا او داؤود / دغازي محمود ماشومان مې وليدل چې دواړه ټپيان ول. کله چې د ميرمن سلطانې نور سترگې پرما ولگېدلې، غلې شوه، بيا يې د لاس په اشاره او نغوته راته وويل دغه کسان پـړ دي چنواري 'چارماري' يې کړئ." هغې [ د افغانستان د پخواني ټولواک محمدظاهرشاه خوراو د وليهعد سرداراحمدشاه خواښې ] گومان کاوه چې زه هم د پيښې له پخو ( ......

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## خلورمه برخه

دیرش کاله د بېدیا په زړه کې

ډاکټر محمد حلیم تنویرد وروستنیو دریو لسیزو د څېړونکو له ډلې څخه (د ګلبدین حکمتیار تر مشرۍ لاندې) د اسلامي ګوند یوه وتلې څېره ده چې د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د آرامځي ترټولو نیږدې نښه یې را کښلې ده (د افغانستان د ورځپاڼه لیکنې پېښلېک/ تأریخ روزنامه نګاري افغانستان، ۲۲۰ پاڼه، د صبور د خپرندویه ټولنې مرکز/پېښاور- پاکستان جنوري ۲۰۰۰ زکال)

د ۲۰۰۸ زکال د جولای په دویمې نېټې جنرال پادشاه میر په افغانستان کې د "آزادۍ د راډیو" له مرکه کوونکي حمید مُهـمند سره یوه ځانګړې مرکه کړې او نوموړي د سردارمحمد داؤود او د هغه د کورنۍ د قبرونو ځای ځایګی، د کابل په ۱۸ کیلومترۍ کې د څرخي پله زندان ته نیږدې داسې روښانه کړی:

حمید مهمند: جنرال صاحب پادشاه میر! هغه ګزارشونه چې موږ اورېدلي، پکې ویل کیږي چې: تاسو یو تن له هغو کسانو یاست چې د سردارمحمد داؤود او د هغه د کورنۍ د ښخولو په اړه شاهد واست. کله چې مړي رارسیدل او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځای خاورو ته سپارل کېدل تاسو هلته واست. مړي په څه ډول راوړل کېدل او په څه ډول په ډله ييزه توګه خاورو ته سپارل کېدل؟ که مهرباني وکړئ په دې اړه لږ مالومات را کړئ !

جنرال پادشاه مير: د [د يارلس سوه اووه پنځوسم "ل" کال] د غوايي د مباشتې په اوومه د پنجشنبې [پنځنۍ] په ورځ کودتا وشوه. په سبا يې کله چې ورځ پای ته ورسيدله، د شپې دولس بجې وي چې مړي يې راوړل. موټر راغی. په هغه وخت کې زه د څلورم زغره وال ځواک د ساتنې او څارنې [حفظ ومراقبت] مديروم. امر وشو چې ځان له سرتيروسره پوليګون ته ورسوم. له هغوی سره يوځای پوليګون ته ولاړم .

موټران له ښاره راتلل او ځراغونه يې له ليرې ښکارېدل. له ځان سره مې وويل: خدايه! په دې نيمه شپه کې دا موټران له کومې خوا پوليګون ته را روان دي .

لومړنی موټر چې را ورسيد، د دفاع د وزارت يو جيپ وو. له سلام او ستړي مه سي وروسته مې وپوښتل: ورونو! خيريت خو دی؟ څنګه راغلئ ياست؟ ويې ويل چې د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د غړو مړي مو راوړي او غواړو دلته يې يوې په موضع (له مخکې پوځي کېندل شوي ځای) کې ښخ کړو،او ځای ورته پيدا کړو،ورته مې وويل: ډيره ښه ده .

اسلم وطنجار چې په کودتا کې يې پخه ونډه درلودله او په څلورم زغره وال ځواک کې وو، پوهېده چې د ځمکې کوم ځای د (موضع) لپاره کېندل شوی دی. هغه وويل دلته د يوه ټانک پخوانۍ موضع شته .

غوچوړي (چقوري) له مخکې کېندل شوي ول. له جيپانو وروسته يو نوی [زيس موټر] راغی او د شو. ماته يې وويل: سرتيرو ته ووايه چې مړي راکښته کړي� Reverse .موضع مخې ته"

سرتيرو مړي يو په يو راکښته کړل. زه په خپله د قبر لحد ته ور کښته شوم. لومړنی کار مې چې وکړ دا ووچې د مړيو مخونه مې د قبلې خواته را واړول. کله چې اوس مو قبرونه را خلاص کړل نو له نېکه مرغه لېدل کېدل چې د مړيو د هډوکو مخونه هماغسې د قبلې خواته ول. د امنيت د وزارت کارکوونکو او نورو هـيـئـتانو ولېدل چې د مړيو مخونه د قبلې پر لور ول .

د يوه موټر ترپال مې خلاص کړ او دهغه سپن ږيري موټروان ته مې وويل: نه خفه کيږې که دغه ترپال واخلم او د مړيو پرمخونو يې واچوم؟

حميد مهمند: جنرال صاحب! مهرباني وکړي ووایاست چې په همدغه ډله ييزقبرکې مو څو تنه مړي تر خاورو لاندې کړل؟

جنرال پادشاه مير: څه ناڅه ديارلس تنه ول. ديارلس تنه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمید مهمند: آیا ددوی په ډله کې ښځې او ماشومان هم ول؟

جنرال پادشاه میر: د هغوی په منځ کې درې ښځې وې، نور یې ټول نارینه ول.

حمید مهمند: ویل کیږي چې په ډله ییز قبر کې د داؤودخان له کورنۍ څخه اتلس تنه تر خاورو لاندې شول، نور مړي څه شول؟

جنرال پادشاه میر: په هماغه شپه یې دیارلس مړي اونوریې په سبا شپه راوړل. ما درې شپې بې خوبې ایستلې وه او ښارته خپل کورته ولاړم. زما د مرستیال ضابط شاه ولیخان په وینا نور شپاړلس تنه مړي چې ګڼ شمیر یې ښځې وې د ټانک د بلې کېندل شوې [موضع] په پینځه ویشت ګامیز واټن ته راوړل شول.

د هغې ورځ په سهار شاه ولیخان راته وویل: آمرصاحب تاسو پرون شپه نه واست، نور مړي یې هم راوړل. ومې پوښتل: مړي دې وپیژندل؟ ویې ویل: نه. ومې نه پیژندل. خو دومره مې ولیدل چې په مړیو کې ښځې او ماشومان ډیر ول، نارینه لږ ول.

حمید مهـمند:جنرال صاحب تاسو وویل چې لحد ته کښته شواست او ومو ویل چې مړي مو یو په یو ځای پرځای کړل. ستاسو له نظره، ایا هغوی په ګولېو وژل شوي ول یا نور زورزیاتې هم ورسره شوی وو؟

جنرال پادشاه میر: دروغ ویل ګناه لري. شپه وه. د مړیو مخونه سم نه ښکاریدل. ټول په وینو ککړ ول. کلکه مې چې مړي دېخوا آخوا کول، لاسونه مې د هغوی په وینو ککړېدل. پرتولو له یوې مخې د ګولیوباران شوی وو .

حمید مهمند: آیا د سردار داؤود خان مړی مو په خپلو سترګو ولید؟

جنرال پادشاه میر: له یوې خوا د شپې تیاره وه، له بلې خوایې موږ ته ویل چې مړي ژر ژراو په بېړه را کښته کړئ. له مړینې وروسته خیره او د مخ بڼه هم بدلیږي. مړي سم نه پیژندل کېدل. که په تیاره شپه کې څوک خپل ورورهم وګوري، نه یې پیژني. خو د بدن د جوړښت ، د اندام د ځیږوالي او د قد یا ونې د لنډوالي له مخې مې ګومان وکړ چې داؤود خان به وي .

په تیرو ورځوکې کله چې هغه مو له قبره را وایست، د خپلې میرمنې د هډوکو تر څنګ وو. ښځې یې د سرو زرو غاښونه درلودل. سره زر په خاورو کې نه خراپیږي، تر ننه پورې هماغسې پاتې دي .

حمید مهمند: مړي څه ډول کسانو راوړل؟ لوړپوړي افسران ول که عادي سرتیري؟

جنرال پادشاه میر: د هغوی د ډلې مشر نور احمد نور د کورنیوچارو [وزیر] وو. نه پوهیږم چې اوس په کوم هېواد کې اوسیږي. نور وزیران هم ول، چې نه یې پیژنم. د هغوی یوه تن له اسلمه وپوښتل: دغه افسر چې لاندې بوخت دی، ملګری دی که نه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمید مهمند: دا یې ستاسو په اړه ویل؟

جنرال پادشاه میر: هو، هغوی نه غوښتل چې دغه پټ راز افشا سي او غوښتل یې چې مړي هماغلته ورک سي .

حمید مهمند: تاسو وویل چې مړي یې په دوه وو جلا جلا شپو کې راوړل او تر خاورو لاندې شول. له تاسو سره یې چال چلند څنګه وو؟ څه قومانده یې ورکوله او څه یې ویل، د بیلګې په ډول، څه وکړئ؟

جنرال پادشاه میر: کله چې هغوی خپل کار پای ته رساوه نو د څلورم زغره وال څواک له کانتینه به یې چای، کیک او کلچې واخیستلې او [په اصطلاح د پیش نمې په توګه به یې] یو څه خوړل بیا به ښار ته تلل. په همدغه ترځ کې یوه شپه یې ما ته په ګوته نیولو ویلي ول چې " دا سړی ګونډي ملګری نه دی "

وروسته یې نو د وزیر په کچې نور مشران او لوړپوړي چارواکي راوستل او د ګولیو باران به یې پرې جوړاوه. ډیر ښه ښه وزیران ول. کله چې دغه مشران یې د ګولیوپه باران کې ویشتل اوپه شهادت یې رسول نو ویل به یې چې چاته نه وایو. انکار کوو. پټ کار دی. ځکه چې هغوی له محکمې پرته وژل کېدل .

حمید مهمند: آیا هغوی د داؤود خان د کابینې کسان ول؟

جنرال پادشاه میر: هو، هغوی د داؤود خان د کابینې غړي ول.

حمید مهمند: د چا نوم دې په یاد دی؟

جنرال پادشاه میر: هو ! یو یې د عدلیې وزیر وفي الله سمعیي وو، بل یې د بهرنیو چار وزیر، ځکه چې ویې ویل یې د باندنیو چارو وزیر راکښته کړئ. ټول ټال ۸ تنه ول. هغوی یې د شهید سردار صاحب له وژلو ۸ شپې وروسته ژوندي راوستل او ویې ویل چې له وژل کېدلو یې منکره کیږو.

د هغوی له ډلې بل تن موسی شفیق وو. له هغه یې هم پوښتنې کولې. هغه په څواب کې ورته ویل: زه ډیر بې ګناه یم. په کور کې مې سطرنجۍ هواره ده. اولادونه مې څه نه لري. زه په خپل کور کې هېڅ نه لرم. هغوی په څواب کې ورته وویل: تا د هلمند اوبه خرڅې کړې دي. موسی شفیق ورته وویل: ته [نور احمد نور ته یې وویل ته]، اناهیتا راتب زاد، ببرک کارمل او حفیظ الله امین ټول د کابینې وکیلان واست. تاسو ومنله [پاس کړه] او زه د هغه وخت سروزیر [صدراعظم] وم، ما یوازې لاسلیک وکړ .

حمید مهمند: دغه خبرې هماغلته ترسره شوې؟ موسی شفیق هماغلته له نور احمدنور سره شخړه وکړه او بیا یې هماغلته وواژه؟

جنرال پادشاه میر: هو، مخامخ خبرې هماغلته پیل شوې. له هماغو خبرو وروسته موسی شفیق یې وواژه. له هغه وروسته یې د عدلیې وزیرله موټره راکښته کړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمید مهمند: کله چې د کابینې غړي یې وژل، څه ډول احساسات یې له ځانه څرګندول؟ خندل یې؟

جنرال پادشاه میر: دوی به پرې د ګولېو باران جوړاوه او هغوی د" اللهُ اکبر" په ویلو پرځمکه را لوېدل.

حمید مهمند: هغو کسانو چې ډزې کولې څه ډول احساسات یې ښکاره کول؟

جنرال پادشاه میر: رښتیا یې ووایم د هغوی په احساساتو نه پوهېدلم. له یوې خوا د شپې تیاره وه له بلې خوا ډزې کوونکو داسې خولۍ پرسر درلودلې چې دوه سوري یې درلودل چې له هغو سوریو یې یوازې کتلای شوای. یوازې سترګې یې ښکارېدلې او مخونه یې نه ښکارېدل چې سرې یې پر احساساتو پوه شي. هغوی به کلاشنیکوفونه په لاس له جیپ موټرانو راکښته شول له اته متریز واټنه به یې ډزې پرې پیل کړې او بیا به بیرته جیپ ته ننوتل .

حمید مهمند: کله چې د خبرو شخړه کېدله، نورو څه کول او څه یې ویل؟

جنرال پادشاه میر: ددوی د خبرو پرمهال نور ټول غلي درېدل او څه یې نه کول.

حمید مهمند: دغه خبرې چې مو وکړې ټولې یې ستاسو تر مخې تیر شولې؟

جنرال پادشاه میر: هو، هر څه مې چې وویل زما تر مخې تیر شول.

حمید مهمند: هغه خبرې او شخړې [د موسی شفیق او نور احمد نور ترمنځ] هم ستا تر مخې تیرې شوې وې؟

جنرال پادشاه میر: هو، هغه خبرې هم ټولې زما تر مخې تیرې شولې .

حمید مهمند: کله مو چې د سردارصاحب داؤود خان او د هغه کورنۍ خاورو ته وسپارله او ستاسو ترمخه د هغه د کابینې غړي ووژل شول، څه ډول احساس مو درلود؟

جنرال پادشاه میر: موږ ټول مسلمانان یو. پرخدای ایمان [ګروهنه] لرو او پوهیږو چې شپې پسې ورځ او ورځ پسې شپه راځي. تر اوسه د نړۍ په هېڅ یوه ګوټ کې داسې نه دي شوي چې د یوه هیواد د ولسمشر مړی دې تر دیرشو کالوپورې د بیدیا د خاورو په زړه کې پټ پاتې شي.

همدغې دښتې ته روسان راغلل. شوبلو او ټانکونو یې ټول ځایونو کنډ او کــپَــر کړل. په زړه کې مې را تاو شول چې یوه ورځ به خدای افغانستان خپلواک کړي. ما له هغه ځایه چې د خاورو په زړه کې داؤود خان خاورو ته سپارل شوی وو، د یوه متر د خطوې په اندازې ګامونه را واخیستل ټول ټال له سرکه ٦٥ متره لیرې واټن وو .

راغلم او دغه ٦٥ متري واټن مې په یوه ځای کې یادداشت کړ. له ځان سره مې وویل چې ښایي یوه ورځ به افغانستان د کمونیستانو له منګولو خلاص شي. په هغه وخت کې روسان نه ول، همدغه کمونیستان ول. و مې ویل چې دا خو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یوه سترشخصیت آرامځای دی، یوه ورځ به ورک شي. په دغو تیرو دوه وو مپاشتو کې د خلکو د غلطو گزارشونو له کبله گڼ شمیر ځایونه کېندل او پرانیستل کیږي او نښه یې په لاس نه ورځي .

حمید مهمند: جنرال صاحب! تاسو څنگه خبر شواست چې د افغانستان دولت یوه کمیسیون ته دنده سپارلې چې د داؤود خان او د هغه د کورنۍ ډله ییز قبر دې را پیدا کړي؟

جنرال پادشاه میر:په خوست کې مې د راډیو او تلویزیون له لارې واورېدل چې کرزي صاحب یوه ځانگړي کمیسیون ته دنده سپارلې ده. تیلفون مې وکړچې ددغه کمیسیون خبره څنگه ده. راته یې وویل چې : هله ژر سه. را سه. موږ هڅه کوله چې ستا د تیلفون شمیره را پیدا کړو، نه مو شوه موندلای. هرڅه مو چې احوال ورکاوه او نفر مو درلیږل نتیجه یې نه ورکوله. ښه شو چې ټیلفون دې را وکړ. سبا ته ځان را ورسوه چې ډیر ضرور کار دی. هماغه وه چې راغلم .

حمید مهمند: جنرال صاحب! د هغو گوتو په شمار کسانو له ډلې څخه چې د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د ډله ییز قبر خبره یې په زړونو کې درلودله، یو یې هم تاسو یاست. اوس چې د غه ډله ییز قبرونه وموندل شول او مړي یې له هغه ځایه را وایستل، تاسو څه ډول احساس لرئ؟

جنرال پادشاه میر: کله چې د سردار داؤود خان د قبر د خارو سر ته تللم، سردارنادرجان او سردارمحمود جان غازي (د سردار داؤود خان لسمی) به له ما سره ول. هغوی به هلته د خپل نیکه د درناوي له کبله په شنه سهار کې تلل او د لاسونو د گوتو په سر به یې د قبر د سر خاورې ایخوا دیخوا کولې چې هڅوکي مات نه شي او سم لاس ته ورسي. زړونه یې مړیو ته ډیر سوځېدل .

هڅوکي مو د ملي امنیت روغتون ته راوړل چې ولسمشر د پریکړې پربنسټ یا یې حکومت او یا یې ملي امنیت وپیژني. البته چې د مخونو او ځیرو پیژندل ممکن نه دي ځکه ټول یې هډوکي دي .

حمید مهمند: ستاسو خپل احساس څنگه دی؟ آیا خوښ یاست چې له دغسې یوه ستر راز څخه مو پوړنۍ لیرې کړ؟

جنرال پادشاه میر: د یوه مسلمان په توگه خوښ یم. تر نن ورځې، د نړۍ په هرگوټ کې که د کفر هیواد وي یا مسلمان، د ولسمشر مړی یې نه دی ورک. اوهغه هم د سردار داؤود خان په شان ولسمشر چې د افغانستان ټول وگړي یې د خپل ویر پر ټغرکښینول. د هغه د قبر په موندلو اوس احساس کووم چې داؤود خان بیرته را ژوندی شوی دی. ډیر خوښ یم چې گور یې وموندل شو او وگړي به وکولای شي چې د هغه د گورزیارت ته ولاړ شي .

په راتلونکې گڼه کې به تاسو ولولئ:

۱ " .ما سردار داؤود نه دی وژلی" : د جنرال امام الدین تیلفوني پیام / ۲۰۰۸زکال د جولای دویمه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ .د ديارلس سوه او اووه پينځوسم لمريزکال دغوايي د مباشتې له اوومې نيټې مخکې د سردار محمد داؤود د وژلو تابيا نيول شوې وه. د دغې تابيا په زړه کې د کومو کسانو د پښو د پلونو خاپ شته؟

۳ .د افغانستان د خلق ديموکراتيک ګوند يو تن پيژندل شوی او نامتو غړی چې اوس په افغانستان کې او ژوندی دی د سردار محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د غړو له وژل کېدلو وروسته ارګ ته راغی. ټول يې له سترګو لاندې تير کړل او بيا له خونې ووت .


وايي همدغه سړي چاته ويلي ول چې:" .. په پام کې وه چې يو ۵۰۰ کيلويي بمب به د ارګ پرسرور واچول شي . پوهيږی چې ۵۰۰ کيلويې بمب څه کوي؟ ارګ يې له خاورو سره په هوا کاوه"!

... "د عبدالله عمر له جيبه چې څنګ ته مې ولاړ وو، د بنزموټر کيلي يې را واخيستله او ويې ويل:' اوس زموږ وار دی چې په موټرونو کې وګرځو.' په همدغه حال کې مې وليدل چې د کورنۍ غړي څوک ټپي او څوک روغ رمټ يو يو له دروازې تيريږي او په سر کی يې ميرمن سلطانه نور/ د سردار محمد عمر ماندينه روانه وه. د محمود غازي ماشومان زهرا او داؤود مې ولېدل دواړه ټپيان ول. کله چې د ميرمن سلطانې نورسترګې پرما ولګېدلې غلې شوه او د لاس په اشاره يې راته وويل " ټوله ګناه ددوی له لاسه ده، دوی چنواري "چارماري" کړئ. [ هغه د افغانستان د پخواني ټولواک خوراو د وليعهد سردار احمدشاه خواښې وه] او ګومان يې کاوه چې زه هم د پېښې له پخو پازوالو څخه '" .......

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## پنځمه برخه

سردار داؤود ما نه دې وژلی

اکادمیسین دستگیري پنجشیري د ۲۰۰۸زکال د جولای د میاشتې په دریمې د ماښام په اوو بجو له ما [سیاه سنگ] سره د تیرو ټیلفوني خبرو په دوام، دغه لاندیني خبرتیا یې راکړه :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرون د ۲۰۰۸زکال د جولای د مېاشتې دويمه د ماښام په وخت جنرال امام الدين ما [دستگيرپنجشيري] ته ټيلفون وکړ او د نورو خبرو په ترڅ کې يې را وته وويل :

"ما د ' کابل' ناتهـ ' په ويبپاڼې کې د " پسرلني سباوون د گولېو باران/ و آن گلوله باران بامداد بهار/ " پرله پسې برخې لوستلې دي او له يو شمير ټکيو سره يې چې ډاکټر داؤود جنبش د ټولواک د خور ميرمن زهره نعيم له خولې ليکلي او هم له هغو برخو سره چې تاسو جناب پنجشيري صاحب په ټول امانت د سردار داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژل کېدلود پيښې په اړه ليکلي دي او هم له هغو نقل قولونو څخه مو چې زما له خولې راوړي سل په سلو کې موافق يم .

څرنگه چې ميرمن زهره نعيم په لنډيز ويلي، اوتاسو هم د کابل ناتهـ په ويبپاڼه کې او هم " د افغانستان د خلق ډيموکراټيک گوند راپاڅېدنې او راپرځېدنې/ ظهور و زوال حزب ديموکراتيک خلق افغانستان" په کتاب کې مو په تفصيل ويلي، ما له سردار محمد داؤود سره وروستـنې خبرې تر سره کړي دي. په لنډېز وورايم رښتيا دا ده چې :

زه د پوځ د يوه افسرپه توگه په ټول درناوي د "تيارسـئ" په ډول د سردار محمد داؤود مخې ته ودرېدم. لومړی مې ورته پوځي سلام "رسم تعظيم" وکړ. وروسته مې په ډير درناوي د افغانستان د خلق ډيموکراټيک گوند د سرمشريزې ډلې پيغام ور ورساوه او ورڅخه مې وغوښتل چې له خپلې کورنۍ سره دې يو خوندي ځای ته تشريف يوسي. داؤود خان دغه غوښتنه ونه منله. بيا مې ورته وويل:" له دې چې واک د افغانستان د خلق ډيموکراټيک گوند ته ليږديدلی، تاسو بايد تسليم شـئ ".

سردار محمد داؤود وويل: " تاسو دغه پيغام د چا له خوا راوړي!" په ځواب کې مې ورته وويل : " دغه امر مې د قادر لخوا راوړی" هغه د سترگو په رپ کې را ته وويل:" پرته له خدايه کمونيستانو ته نه تسليميږم او ترخپلې وروستۍ گولۍ جنگ ته چمتو يم ".

د همدغې خبرې په وَيلو ، خپله وسله يې را تاو کړه او مخامخ يې پرما ډز وکړ. زما پر مټ او د ځان پر نورو برخو مې گولۍ و لگېدلې او د ځان څو برخې مې ټپي شوې. دقيقاً په همدغې شېبې کې ول چې له ما سره ارگ ته د راغلو وسله والو سرتيرواو سردار داؤود تر منځ دوه اړخيزې ډزې پيل شوې .

په دغسې يوه روحي او ټپي حالت کې ما دومره وسه نه درلودله چې وسلې ته لاس وروړم، توپک پورته کول خو لا پر ځای پريږده چې دقيقه نښه ونيسم، فير وکړم، يو يا څو تنه په قتل ورسوم .

په ډير صداقت وايم چې سردار محمد داؤود ما نه دی وژلی. ځکه چې زه په خپله د مرگ په پوله ناست وم او ډيرکلک ټپي شوی وم. لومړی ما گومان کاوه چې له دغو گوليوڅخه يوه يې زما پر زړه لگېدلې اونورد ژوندي پاتې کېدلو هيله نه لرم، خو کله چې وروسته مې پام شو ومې لېدل چې ټول ټپونه زما د ځان په ښـې خوا کې دي. کله

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سرتيرو زما دغه حالت ولېد او ډېره کلکه وينه بهېدنه مې درلودله په کَشـولو کَشولو يې د پيښې له ځايه ليرې کړم. ما ان په خپلو سترګو ونه لېدل چې سردارمحمد داؤود او کورنۍ يې له کوم توپکه او د کوم ډزې کوونکي له خوا وژل شويدي .

دا وه د پيښې پخه او لنډه خبره. هغه څه مې چې نن تاسو ته وويل له هغه پرته بل څه نه لرم چې په دې اړه يې تاسو ته ووايم ، نور اضافي معلومات نه لرم، او نه غواړم څه شی ورڅخه کم او يا نوراضافي شی پرې ورګډ کړم. له بله پلوه د خپل ناوړه روغتيايي حالت له امله نه شم کولای په مرکو کې برخه واخلم. له دې امله له تاسو هېله من يم چې زما معذرت ومنـئ ".

## له جنرال امام الدينه غوښتنه

ښاغلی امام الدين،

خوښ يم چې " د پسرلني سباوون د ګولېو باران/ و آن ګلوله باران بامداد بهار" مو له سره تر پايه ولوست. او هاغه مهال به نور هم خوښ شم چې د دغې لېکنې پاتې چمتو شوې او راتلونکې برخې ولولـئ او پرهر هغه څه چې ناسم درته ښکاره شي، ګوته کښېږدئ ترڅو درواغ د رښتيا ځای ونه نيسي .

څرنګه چې تاسو وينـئ، ستاسو پيغام پرته له کوم کوشني زيادښت يا کمښته کټ مټ وليکل شو. له تا هېله کوم راځه چې مخامخ خبرې سره وکړو. د خپل د کور د ټيلفونونو شميرې او خپله د بريښنالېک پته مې هم د همدغو ليکنوپه هرې پيليزې برخې کې په څرګنده ليکلې دي .

له تاسو سره ژمنه کوم چې ستاسو تيلفوني راز، ستاسو بريښناليک او ستاسو پوستي پته که ما ته راوليږئ ترڅو چې ژوندی يم له ځان سره به يې وساتم. اوکه وغواړئ هره هغه خبره چې تاسو يې د افشا کولو اړتيا نه وينـئ او يا نه غواړئ چې خپره شي اويا په کوم بل سوري ور ننوځي،ټول به يې له ځان سره وساتم. او اوس وګوره چې نورو ١٣ تنو څه ويلي دي :

١ .امام الدين، د پوځ په څلورسوه بستريزه روغتون کې :

د " افغانستان په پينځه پيړيو کې / افغانستان در پنج قرن اخير" د کتاب په ٨٦٧،٨٦٨ او ٨٦٩ پاڼوکې چې د ايران /تهران د عرفان له خپرونو څخه د مير محمد صديق فرهنګ ليکنه اولومړنی چاپ يې په ديارلس سوه څلوراويا [ارديبهشت] [١٩٩٥ زکال د اپريل په مياشت کې] شوی دی داسې راغلي دي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عبدالصمد غوث په وينا " د سهار له څلورنيمو بجو لږ شيبه مخکې [په سهارني ټکنده سباوون کې] د الوتکو، توپونو او د شوبلو د ډزو غږناځاپه غلی شو اوخپل ځای يې مرګوني درندې چوپتيا ته وسپاره. [دافغانستان راپرځېدنه / سقوط افغانستان] ۲۰۰ پاڼه، عبدالصمد غوث، امريکا، د برګون بريسي خپرونه ۱۹۸۸ "

داسې بريښي په دغې شيبې کې چې په ارګ کې د ولسمشرۍ د ماڼۍ ساتندويه مدافعان درې ورې کېدلو ته نيږدې ول، کودتاچيانو داؤود خان ته وړانديز وکړچې له مقاومته دې لاس واخلي او تسليم دې شي. څرګنده ده دې چې ولسمشر د کودتاچيانو د لارښودو مشرانو د نومونو غوښتنه وکړه او بيا يې وغوښتل چې عبدالقادر او [محمد اسلم وطنجار دې د خبرو لپاره ور ته ور واستوی .

دغه وړانديز د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په مرکزي کمېټې کې را وړاندې شو. ببرک [کارمل] او نورو پرچميانو چې نه يې غوښتل ولسمشر دې ووژل شي، بلکه د هغه تر نامه لاندې يې هيله درلودله واک ترلاسه کړي د دوه نومول شويو کسانو ليږلو ته ليواله ول، خو د مرکزي کميټې خلقي غړو غبرګون وښود او لارښوونه يې وکړه چې ولسمشر دې ونيول شي .

فرهاد لبيب [په شوروي اتحاد کې روزل شوی پيلوټ چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په وړاندې ودرېد او زندان ته ولويد] د پيښې لړۍ د پوځ په څلورسوه بستريز روغتون کې د شوبلې د يوه افسرامام الدين له خولې چې يوه اونۍ وروسته يې په خپلې خولې خپلو دوستانو ته کړې وه په دې ډول ويلې :

"زما زغره واله شوبله د ارګ ختيزې دروازې ته مخامخ د اور لپاره د تيارسۍ په حالت کې ولاړه وه. د [ديارلس سوه اوپينځوسم لمريزکال] د غوايي د اتمې په شنه سهارکله چې د ګارد قطعاتو يو په بل پسې د سپينو بيرغونو په ور ښودلو خپله تسليمي اعلان کړه ماته امر وشوچې داؤود را ونيسم. که څه هم داؤود مخکې له موږ سره اړيکه نيولې وه او غوښتلي يې ول چې د کودتا له مشرانو سره غواړي خبرې وکړي او مرکزي کميټې هم منلي ول او پريکړه يې کړې وه چې همدغسې به وکړي نو ما ته امر وشو چې ارګ ته ور ننوځم .

کله چې ارګ ته ورننوتلم د خورو ورو ډزو يو يو غږ اورېدل کېده. لومړني سړي چې دننه له ما سره ولېدل، ګل آقا وو. زه خبر وم چې هغه زموږ سړی دی. ګل آقا له ځان سره را واخيستلم او هغه خونه يې را وښودله چې داؤود خان پکې وو .

کله چې له ګل آقا او خپلو هملارو ملګرو سره خونې ته ور ننوتلم ومې لېدل چې داؤود د خپلې کورنۍ له غړو او نورو لسو تنو هملارو سره وسله پر لاس سترګې په لاره دي. له ځان سره مې وويل: " دلته مې ژوندي پاتې کېدنه ناشونې ده "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې ګل آقا داؤود ته پوځي سلام وکړ او ویې ویل: " د کوټاچیانو له ډلې څخه یو تن غواړي له تاسو سره وګوري. له ټولو مخکې داؤود ولاړ وو. ما هم په لوړ غږ وویل:" د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د امر پر بنسټ خپله وسله پرځمکه کښېږدئ او ځان را تسلیم کړئ ".

داؤود په ځواب کې راته وویل:" کمونیستانو او دهغوی مرییيو ته نه ور تسلیمېږم او د سترګو په رپ کې یې پرما ډزې وکړې. نور پرې پوه نه سوم. دومره مې په یاد دي چې یو ځنګیزه "جناحي" اور مې تر سره کړ او بیا بې هوښه سوم. کله چې سترګې مې خلاصې کړې، په روغتون کې وم. [ د غو ایي د کودتا تأریخې جرړې/ ریشه های تأریخي کودتای ثور. ۹۹، ۱۰۰ او ۱۰۱ پاڼې. د فرهاد لبیب لیکنه، قلمي بڼه]

که څه هم فرهاد لبیب د [امام الدین] دغه خبره نه مني او ګروهن دی چې د امام الدین ملګري روزل شوي روسان ول خو ددغې ادعا لپاره د منلو وړ لاسوندی په لاس کې نشته. هرګوره په دغه اړه لا تر اوسه پورتنی روایت هغه ځرګنده روایت دی چې په دې تړاو ما [محمد صدیق فرهنګ ] ته را رسیدلی دی .

د تره کي د رژیم لومړنی دفاع وزیر عبدالقادر په دې اړه د یوې مرکې په ترڅ کې داسې وایي : " د لودسپیکر له لارې مو په څو څو ځله د هغه [ محمد داؤود خان] د تسلیمیدلو غوښتنه وکړه. په پای کې یې په دې آړ"شرط" د را تسلیمیدلو خبر ورکړچې قادر او وطنجار دې هغه ته په خپله د خبرو لپاره ورشي. زه او وطنجار د ماڼۍ پر لور ور وخوځېدلو، خو ملګرو زموږ مخه را ونیوله او دوه تنو نورو ته یې دنده ور وسپارله چې داؤود خان ته دې ورشي. داؤود خان پر هغوی ډزې وکړې له هغو دواړو څخه یو تن یې ووژل شو او بل یې د لومړي بریدمن امام الدین په نامه ټپي شوچې اوس ژوندی دی. د داؤود خان په دغه کار پوځیان را وپارېدل له دواړو خواوو ډزې پیل شوې او دډزو په ترڅ کې سردار محمد داؤود خان ووژل شو ".

په دغه ناتارځپلې ناورین کې په ولسمشر او ورور یې محمد نعیم سربیره دغه کسان هم له منځه ولاړل :

عبدالاله د سروزیر مرستیال، د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیرنورستاني، زینب داؤود، عایشه، بلقیس آصفي، شینکۍ غازي، زرلښته داؤود، محمد عمر داؤود، ویس داؤود، شیما داؤود، خالد داؤود، زرمینه غازي، د ولسمشر له کورنۍ څخه یو شمیر ماشومان ټول ټال ۱۷ تنه ووژل شول او د هغه د کورنۍ یو شمیر نور غړي د کوټاچیانو د اور له امله ټپیان شول. [ د " افغانستان" کتاب، ۷۲ پاڼه،د انتوني آرنولد لیکنه، د هوور خپرونه، ۱۹۹۸زکال]

سره له دې چې دولت هڅه وکړه چې په کودتا کې د وژل شویو کسانو د شمیرې کچه ټیټه وښیي خو دغوایي په کودتا کې د وژل شویو کسانو شمیره له زرګونو کسانو پورته وه. دولت د وژل شویو کسانو شمیره د ۷۰ او ۱۰۰ تنو په شا او خوا کې ځرګنده کړه. [ د " دوه ګوندیزه کمونیزم/کمونیزم دوحزبي" کتاب، ٦۲ پاڼه، د آنتوني آرنولډ لیکنه، د هوور خپرونه ۱۹۸۱زکال]

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حال دا چې د ولسمشرۍ د ساتونکې ډلې یا ګارډ د وژل شویوکسانو شمیره چې د ارګ په ساتنه کې ووژل شول څه ناڅه دوه زره تنه ول. او نور ژوندي پاتې شوي کسان د نوي دولت په لارښوونه ووژل شول. . [ د " افغانستان" کتاب، ۷۲ پاڼه،د انتوني آرنولد لیکنه، د هوور خپرونه، ۱۹۹۸زکال]

یو شمیر د بګرام او خواجه رواش په هوایي ډګرونو کې اعدام شول.د کورنیو چارو د وزارت په ساتنه کې د پولیسو یو شمیر کسان، او د ریشخور په اوومه فرقه کې په ناڅرګنده شمیر کې یوه ډله هغه کسان ووژل شول چې غوښتل یې د ولسمشر د ژغورنې لپاره ځانونه کابل ته را ورسوي .

]د " افغانستان" کتاب، ۷۲ پاڼه، د انتوني هایمن لیکنه، د هانکانګ خپرونه، ۱۹۸۴زکال [

۲ .امام الدین اووینې بهېدونکي تېپونه

[ د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند راپاڅېدنه اورا پرځېدنه/ ظهورو زوال حزب دیموکراتیک خلق افغانستان" په کتاب کې د اکاډمیسین دستګیرپنجشیري لیکنه، د صبور کمپوزینګ سنټر له خپرونو څخه چې په ۱۹۹۹زکال کې په پیښاور کې خپور شوی په ۹۶، ۹۷، ۹۸ او ۹۹ پاڼو کې] داسې لیکل شوي:

کله چې د لوګرد خواریکښو وګړو بچې امام الدین د کوماندو د ټولي یو بولندوی د [غوايي] د انقلاب فرمان سردار داؤود او د هغه د رژیم لوړپوړو چارواکو ته اعلان کړ او د [افغانستان د خلق ډیموکراتیک] ګوند لارښوونه یې د هغوی غوږونو ته ور ورسوله چې " د مرکزي کمېټې د فرمان پربنسټ تاسو محکوم یاست او ځانونه را وسپارئ" نو سردار محمد داؤود نه یوازې دا چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند او د تأریخ فرمان ته تسلیم نه شو بلکه د خانواکي او اشرافي غرور په لمبو کې یې په ډیر قهر قدیر نورستاني اوخپل زوی ته امر وکړ چې پر امام الدین او نورو سرتیرو او همدارنګه د خپلې کورنۍ پر بې ګناه ښځو او ماشومانو ډزې وکړي او خپلې وروستۍ ګولۍ پرې ور تشې کړي .

هغوی د سردارمحمد داؤود وروستنی فرمان پرته له ځنډه پرځای کړ، د امام الدین او د کوماندو پرنورو سرتیرو یې ډزې را پیل کړې او په پای کې د سردار محمد داؤود، سردار محمد نعیم، د مالیې وزیرعبدالاله، زامنو او یوشمیر نورو خپلو خپلوانو پرژوند یې د پای ټکی کښیښود. خو د حکومت ګڼ شمیر غړو له مقاومته لاس واخیست او پرته له پوښتنې تسلیم شول چې د هغوی شخصي خوندیتوب د پاڅونوالو ځواکونو له خوا خوندي کړای شو .

د پاڅون د سیاسي مشرتابه ډله هغه مهال د داؤود خان او دهغه د ملاتړو له خونړي مقاومته خبره شوله کله چې په وینو ککړ امام الدین د مشرتابه ډلې ته د راډیو افغانستان ودانۍ ته راغی، له پوځي سلامه وروسته که څه هم دی د سلطنتي کورنۍ د وروستني تېرغمال (مستبد) او خانـتما په زهرلړلو ګولیو ټپي وو،په لوړ مورال یې د سردار محمد داؤود او دهغه د نیرډي انډیوالانو د وسله وال مقاومت ګزارش را وړاندې کړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کريم ميثاق چې نوی د مشرتابه خونې ته راننوتلی وو د لوړوهورا ګانو او " ژوندی دې وي انقلاب" په ويلو په راډيو افغانستان کې دننه د سټډيو کارکوونکي يې له دغې تأريخي پېښې څخه خبر کړل. او په لنډ وخت کې د سردار محمد داؤود او دهغه د انډيوالانو د وژنې زيری د پاڅون د سرمشريزې ډلې له خوا جوړ او په ډېر شور او زوږ خپور شو. ددغه آزادي ښښخونکي زيري خبرخپراوي په رښتيا چې معجزه را وزيږوله .

له نيم ساعت وروسته، په سلګونو ټيليګرامونه، د ګارنيزنونو "لښکرکوټونو"، فرقو، د کندهار، ننګرهار، بلخ، غزني، خوست ، د اسعدآباد او ګرديز د واليانو له پلوه، د شينډنډ او مزارشريف له هوايي ډګرونو، واليانو، لوړپوړو مأمورينو، ګوندي کادرونو، د معارف کسانو، مخورو سيمه ييزو روڼ اندو، ورهڼګرو "اهل کسبه"، يو شمير هېواد پالو روحانيونو، يو شمير مخورو ولسپاله خپلواکه ډيموکراتو کسانو،او همداشان د يو شمير هغو کورنيو له خوا چې د نادر/داؤود د کورنۍ د نيمې پيړۍ د بې پوښتنې واکمنۍ په کړس کې کړېدلې ، حقونه او آزادۍ يې تر پښو لاندې شوې وې او د يو شمير ولسي سوداګرو له پلوه د سيلاب په توګه د انقلاب د سرمشريزې ډلې تر کړۍ راتاو او په دې توګه د د يارلس سوه او اووه پينځوسم لمريزکال د غوايي د اوومې نېټې پاڅون د بريالیتوب پولې ته را ورسيد. سياسي واک په ټوليزه ډول د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په لاس کې را پريوت .

د هيواد د انقلابي لړۍ په ترڅ کې د څرګندې او ځلاندې فکري مبارزې ودې د نوي دولت او د نوي نظم د راټينګېدلولپاره خبره رامنځ ته کړه. زموږ د ولسي ژوند په دغسې يوې پرېکندې شېبې کې يو ځل بيا د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د سرمشريزې ډلې ترمنځ د څوکيو او دولتي دريزونو د راخپلو لپاره څرګندې شخړې رامنځ ته شوې چې را يادول يې زما له انده د معاصر تأريخ په پېښو کې د اوسني انقلابي غورځنګ د څېړلو او د هرې ډلې د سياسي او پوځي مشرانو د موخو او دريزونو د پيژندلو لپاره اړين بريښي .

لنډه دا چې د هغه څه بر خلاف چې صديق فرهنګ په خپلې تأريخي لېکنې (افغانستان په وروستيو پينځو پيړيو کې / افغانستان در پنج قرن اخير) په ۷۷ پاڼې کې ليکلې، ډاکټر حقشناس، رشتيا، صمد غوث، کشککي، ن.ا. هارون، او نورو پيښي ليکونکو او افغانستان پيژندونکو ليکلي دي، لومړی دا چې د غوايي د اوومې د وسلوال پاڅون له پيله تر پايه نه د افغانستان په خاوره کې او نه له تاشکنده، شوروي پيلوټانوهېڅکله الوتنه نه ده کړې. د سياسي بيرو ۷ تنه غړي اود کابل پوهنتون استاد پوهاند ضمير صافی ژوندي او شاهد دي چې ډګروال قادر په څه ډول د بولندې (قوماندې) له ځايه د شينډنډ د هوايي ډګر پيلوټانو ته په پښتو او دري ژبوڅرګندې او په ځيرتاکل شوې بولندې ورکولې .

دوهم دا چې د مرکزي کميټې غونډه له اره "اصله" نه د راډيو افغانستان په ودانۍ کې او نه د خواجه رواش په هوايي ډګر کې جوړه شوې وه. د ۱۹۹۶زکال او د ۱۹۹۸زکال د بي بي سي د راډيو د شفاهي تأريخ په خپرونه کې کريم مېثاق هم په تېروتنې د راډيو افغانستان په ودانۍ او هوايي ډګر کې د مرکزي کمېټې د غونډې د جوړېدلو خبره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې وه چې په بشپړ ډاډ ددغه پروګرام په بیا خپراوي کې به دغه تیروتنه بیرته سمه شي، ځکه چې د میر اکبر خیبر د جنازې د ښخولو پاخه سمبالوونکي کریم مباق او نوراحمد نور په خپل نوښت پټ شوي ول. کله چې د مرکزي د تشکیلاتو د سیاسي بیرو دغه نامتو او مخور غړي پټ شوي ول، د مرکزي کمېټې غونډه څنګه رابلل کېدای شوای او څنګه به جوړېدله .

دریم دا چې په افغانستان کې د شوروي لوی سفیر پوزانوف هېڅکله د غوایي د پاڅون د پیښو په لړ کې نه ګډون، نه اغیزه او نه پټه او نه بربنډه ونډه درلودله. له دې امله د عبدالصمد غوث وینا یو اړخیزه اورښتیا نه ده .

۳ .د امام الدین کلاشنیکوف :

سترجنرال نبي عظیمي په خپل کتاب کې [په دریو لسیزو کې اردو او سیاست / اردو وسیاست در سه دهه اخیر] دریم چاپ، د میوند د خپرونو خپروندویه ټولنه ۱۹۹۹زکال پیښاور- پاکستان په ۱۴۱ او ۱۴۲پاڼو کې لیکلي دي :

شوبلود کابل ولایت راچاپیره د یوالونه را ونړول، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند مشران یې آزاد کړل او په شوبلو کې یې کښینول. د لارې په اوږدو کې یوه شوبله په یوې څلور لارې کې دریږي. حفیظ الله امین په داسې حال کې چې لاسونه یې په هتکړیو ترل شوي ول ککره یې د شوبلې له کړکۍ څخه را وایستله خپل لاسونه او سر یې د کودتا سرتیرو او افسرانو ته و ښورول. په دغسې پرېکندو شیبو کې د امین دغسې خوځښت د هغه دریز د هغه د خلقي پلویانو په منځ کې را لوړاوه .

شوبلې خوځېږي او د راډیو افغانستان پر لور درومي . مشران یو ساعت وروسته د هوایي او مدافعه هوایي ځواک د قرارګاه په لور خوځېږي. په هغه ځای کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند مرکزي کمېټه غونډه جوړوي او حفیظ الله امین ته دنده ور سپاري چې د پوځي شورى خبرتیا دې جوړه او د داؤود خان د راپرځېدنې خبر دې د وګړو غوږونو ته ور ورسوي .

څرګنده ده چې ددغې خبرتیا خپرونه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند پرغړو پیاوړې اغیزه را شیندي او ددې لامل کېږي چې په خپلو لښکرکوټونو او غنډونو کې خپل بولندویان بې وسلې کړي را ویې نیسي او واک په خپلو منګولو کې راخپل کړي. د اعلامیې له خپراوي وروسته د ګوند د پرچم ډلې افسران په بشپړدول را فعاله کیږي او له خپلو خلقي ملګرو سره په همغږي اړوندې چارې په ګډه پرمخ بیایي. د شپې په یوې بجې د ولسمشرۍ ساتندویه لښکر یا ګارډ را پرځیږي. جګړن صاحبجان او هغه ته نور نیږدې ملګري یې رانیول کیږي .

د سردار محمد داؤود د را نیولو امر د کوماندو د قطعې افسر لومړي بریدمن امام الدین ته ورکول کیږي. امام الدین د ګارد د اوپراسیون له آمر ډګرمن ګل آقا سره یو ځای داؤود خان ته ورځي او ورته وایي : " د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې په امرخپله وسله پرځمکه کښیږدئ او را تسلیم سه ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داؤود په ځواب کې ورته وايي: " کمونیستانو ته نه ور تسلمیږم" او د سترګو په رپ کې په امام الدین ډزې کوي. د امام الدین مټ ټپي کيږي، د هغه په لاس کې کلاشنیکوف ووه او له ټپي کېدلو سره سره پرداؤود او یارانو یې ځنګیز یا جناحي اور را پیل کوي. نښته را پیل کيږي او په پای کې سردارمحمد داؤود، سردار محمدنعیم، عبدالاله، د محمد ظاهرشاه خور او د داؤود خان مانیدنه زینب داؤود، د داؤود خان زامن او د کورنۍ غړي یې چې ټول ټال ۱۷ تنه کېدل، ځای پرځای وژل کيږي.

۴ .زما نوم امام الدین دی

ډاکټرظاهرطنین د [افغانستان په شلمه پیړۍ کې / افغانستان در قرن بیستم د کتاب ۱۹۰۰ � ۱۹۶۹] د بي بي سي د خپرونو له ټولګې څخه د عرفان د خپرندويه ټولنې تهران / ایران چاپ، په ۲۲۴ او ۲۲۵ پاڼو کې د عبدالکریم میثاق [ د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له بنسټ ایښودونکو او د سیاسي بیرو غړي/ د مالیې وزیر، څیړونکي او داستان لیکونکي] له خولې داسې وايي:

پوښتنه دا وه چې آیا داؤود خان دې ووژل شي یا دې ژوندې وساتل شي؟ د مرکزي کمیټې یوې ډلې ویل چې داؤود خان دې ژوندی وساتل شي او وژل یې ستره تأریخي پازوالي "مسوؤلیت" لري. ښه به داوي چې راډیو ته دې راوستل شي او ودې وايي چې را اخیستل شوی ګام یو ښه ګام دی او زه د [افغانستان دخلق دیموکراتیک ګوند] را تایـئـدوم. بلې ډلې ویل : دغه په خپله یوه تیروتنه ده. کله چې وګړي له راډیو افغانستانه د داؤود غږ په ژوندۍ توګه واوري، ښایي پاڅون د هغه په ګټه را واوړي او زموږ پاڅون به را ناکامه شي. په دغه وړاندیز کې دوه تنو تر نورو ډیرې خبرې کولې: یو یې دستګیر پنجشیری او بل یې ببرک کارمل وو .

یو صاحبمنصب چې له لاسه یې وینې را بهېدلې راغی. په وینو لړلي لاس د مرکزي کمیټې د غړو مخې ته ودرېد پوځي سلام یې ورکړ او ویې ویل : زما نوم امام الدین دی. د ګوند غړی یم. زه دننه په ارګ کې وم. د ګلخانې ماڼې ته ولاړم او داؤود خان ته مې وویل : له دې چې واک د افغانستان دخلق ډیموکراتیک ګوند ته را لیږدېدلې، ته دنده لرئ چې ځان راتسلیم کړئ. یوه لور یې ورسره وه. عبدالاله [ د سروزیرمرستیال او د بهرنیو چارووزیر] هم ورسره وو. داؤود خان راباندې ډزې وکړې. کله چې ډزې یې را پیل کړې، زما لاس یې را ټپي کړ. په دغې شیبې کې لور یې مخې ته ور ودرېدله ، دهغه مخې ته خنډ شوه او ورته ویې ویل چې ډزې مه کوه. که ته ډزې وکړې، هغه به هم پرموږ ډزې وکړي. [امام الدین] وویل چې هغه په همدغې شیبې کې داؤود خان هم پر خپلې لور او هم یې پرما ډزې وکړې نو په دغه وخت کې ما هم کلاشنیکوف راواخیست، و مې وهل، او ټول مې له یوې مخې له منځه یو ړل ".

۵ .د تأریخ مختورالی باید ونه منو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطانعلي کشتمند په خپل کتاب کې [د تأريخي سياسي پېښو يادد‌ښت لېکونه، د افغانستان د اوسني تأريخ په کرښه کې شخصي خاطرات/ يادداشتهاي سياسي و روېداد هاې تاريخي، خاطرات شخصي با برهه هاى از تاريخ سياسي معاصرافغانستان] " ۲۰۰۲زکال دلندن د ژاکارت له خپرونو څخه" په ۳۴۳ او ۳۴۴ پاڼو کې ليکي :

"د وروستـنـيـو مقاومتونو درې ورېې کول: د [۱۹۷۸زکال] د اپريل د ۲۸ په ټکنده سباوون کې د شوبلو د چلوونکو او د پيلوټانو د ګډې همکارۍ په مټ د ولسمشرۍ د ساتونکي لښکر "ګارد" وروستنی مقاومت درې ورې شو خو محمد داؤود تر هماغې شپې مقاومت کاوه. له هغه وروسته د خبررسوونکو يو ډله ارګ ته ور واستول شوه. د [افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند] سرمشريزې ډلې په هغې شيبې کې چې د [۱۹۷۸زکال] د اپريل ۲۸د سهار د اتو او نهوبجو ترمنځ شپې وې يو ځل بيا يې غونډه راجوړه کړه اوسرمشريزه ډله پوه شوله چې محمد داؤود را تسليمېدلو ته چمتو نه دی .

ددې په اړه چې له هغه او کورنۍ سره يې په څه ډول چال چلند وشي د مرکزي کميټې د غړو په منځ کې تودې خبرې رامنځ ته شوې. امين په اور لړې ژبې پر هغه د وسله وال يرغل خبرې کولې او ټينګار يې کاوه چې که مقاومت وکړي نو د سترګو په رپ کې دې هغه او د هغه د همکارانو ټغر ورټول شي. په غونډې کې يو شمير ناستو غړو د امين په ملاتړ د هغه د وړانديز ملاتړ کاوه، خو ببرک کارمل په پريکړې ژبې د امين له وړانديز سره مخالفت وکړاو ټينګار يې وکړ چې په هېڅ بيه دې دغه کار ته لاس وا نه اچول شي. هغه وويل :" پرېږدئ دغه ستونزه په سړه سينه او پراخ تندي حل شي او سر له همدغې شېبې دې وګړو او نړيوالو ته داسې شی په لاس ورنکړل شي چې ګڼې انقلاب بيرحمه او د قانون له امرونو څخه سرغړواى کوي. پرېږدئ چې ولسي نياوتون "محکمه " د هغه د راتلونکې برخليک په تړاو پريکړه وکړي ".

ما هم د کارمل د دريز ملاتړ په ټينګه وکړ او ومې وويل چې د ملګري کارمل له دريزه په ملاتړ زه په دې ګروهن يم چې سرله اوسه خپلسريو ته نه بايد لار ورکړو او د تاريخ مختوروالی دې ونه منل شي .

زما دغو خبرو امين راوپاراوه. هغه چې د را پاڅېدلو په حال کې وو او ويل يې" موږله ترونکاريو "سازشکاري" سره جوړ نه يو" په پښو ودرېد او د ځېنو لښکرکوټونو له بولندويانو سره د اړيکې د را ټينګولو په پلمه يې غونډه پريښودله او له يوه ساعته وروسته بيرته راغی .

د امين په شتوالي او دهغه په نه شتوالي کې د همدغې او يو شمير نورو سکالو پرسرخبرې را اوږدې شوې او په دې ترڅ کې يو افسر راغی اوويل کېدل چې دغه افسر د پاليالو "وفادارو" خلقيانو له ډلې څخه يو خلقی وو خو په خپله د امين هوا خواه نه وو. هرګوره، نوموړی افسر په خونړي لاس د غونډې خونې ته راننوت او لاندينۍ خبرې يې وکړې :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"زه له یو شمیر افسرانو او سرتیروسره ارگ ته ور ننوتلم. د پوځي شورى له نامه مې داؤود خان ته خبر ورکړ چې وسله دې پر ځمکه کښېږدي اورا تسلیم دې شي، هغه ونه منله او په خپلې وسلې یې پرموږ ډزې وکړې. زموږ له ملگرو څخه یو تن ووژل شو او لکه څنگه چې گورئ زه هم ټپي یم. زما ملگرو هم زغم له لاسه ورکړ، هغه او ور سره نور کسان یې ټول ترځوابیه اور لاندي ونېول "

هغه څه چې څرگند دي دا دي چې امین د هرلامل له امله چې د هغه پرذهن یې واک چلاوه، یابه انقلابي لامل وو او یا شخصي خو له هماغو لومړیو شېبو یې هڅه کوله چې محمد داؤود له منځه یوسي .

٦ .امام الدین نه شوای کولای کلاشنیکوف را پورته کړي

اکادمیسین دستگیرپنجشیري د ۲۰۰۸ زکال د اپریل د مپاشتې په ۲۸ ماښامي له ما (سیاه سنگ/حجرالاسود) سره د یوې تیلفوني مرکې په ترخ کې وویل :

}دافغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د سرمشریزي ډلې د نیول کېدلو په شپه سلیمان لایق، بارق شفیعي، نور احمد نور او کریم میثاق د استاد میر اکبرخیبر د جنازې او خارو ته سپارلود کست د ثبت او ویشنې په چارو بوخت ول. له راډیو افغانستان څخه د سیاسي دفتر د غړو د نیول کېدلو د خبرله په اورېدلو سلیمان لایق او بارق شفیعي خپل ځانونه په ځانخوښې توگه پولیسو ته ورسپاري، خو کریم میثاق او نوراحمد نور دیوه گوندي کارگر په کورکې ځانونه پټ کړل. له دې امله د [افغانستان په شلمه پیړۍ کې / افغانستان در قرن بیستم] په کتاب کې د کریم میثاق خبره سمه او په ځای نه ده .

سیاه سنگ: ستاسو د سترگو لیدلی حال څه دی؟ امام الدین کوم ځای ته راغی او څه یې وویل؟

پنجشیری: امام الدین راډیو افغانستان ته راغی او خپل گزارش یې نورمحمد تره کي ته ور وړاندې کړ. هغه وویل چې له سردار محمد داؤود څخه په څو څو ځله په درنښت هیله وشوه چې له خپلې کورنۍ سره دې یوه خوندي ځای ته ولاړ شي. خو له څوځو ځله غوښتنو سره سره هغه خپل زوی ته فرمان ورکړچې پر سرتیرو، افسرانو او ان په خپلې کورنۍ ډزې دې وکړي. په پای کې یې دوه اړخیزې ځوابیه ډزې را پیل شوې .

همدا شان امام الدین وویل چې : سردار محمد داؤود ته مې وویل : له دې چې سیاسي ځواک د افغانستان خلق ډیموکراتیک گوند ته را لیږدېدلې نو تاسو باید را تسلیم شئ. داؤود راته وویل چې : زه کمونیستانو ته نه ور تسلیمیږم. او بیا یې نیغ په نیغه پرما ډزې وکړې. ما هم وویشتل او ستیا مې کړل.

سیاه سنگ: " ستیا...؟ ستیاڅه مانا را ښندي؟ دا د کوم ځای اصطلاح ده؟

پنجشیری: ستیا یعنی "پوپنا" زما په گومان چې ښایي هندي یا اردو اصطلاح وي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاه سنگ: مخکې له دې چې نورې اړینې خبرې راوسپړو باید ومنم چې د جنرال امام الدین له خولې د "ستیا" د وییکي په اورېدلو یوه ډېره ناوړه پوښتنه مې په ذهن کې راژوندۍ کیږي. له هماغه امله غواړم پوه سم چې امام الدین د افغانستان له کوم گوټه دی؟

پنجشیری: هغه د لوگر له ولایته دی. د لوگر له پښتنو څخه دی. ښایي هماغلته د یو شمیر وگړو په منځ کې د کارونې وړ وي. خو زه سم نه پوهیږم.

سیاه سنگ: امام الدین د گوند له کومې څانگې څخه وو؟

پنجشیری:هغه خلقی وو او د خلق د څانگې د پوځي ډلې له لارې یې له حفیظ الله امین سره اړیکه درلودله .

سیاه سنگ: ستاسو د وینا پر بنسټ، امام الدین نه کلاشنیکوف را پورته کړی او نه یې د هغه او نه یې د هغه د کورنۍ پرلور ډزې کړې دي؟

پنجشیری: کټ مټ همداسې ده. امام الدین نه شوای کولای کلاشنیکوف را پورته کړي او ډزې وکړي. هغه په خپله ټپي وو. له هغه سره مل او ملگرو سرتیرو چې ولېدل داؤود او زوی یې ډزې کوي دوی هم په وَرته ډول اور ته لاس ور واچاوه. له همدې امله ده چې امام الدین وایي " موږ هم راواخیستل او سیتا " ستي - ژ " مو کړل ".

سیاه سنگ: امام الدین او ملگرو یې د دغسې بې خرته او په پټو سترگو وژنې فرمان له چا او له کومه ځایه ترلاسه کړی وو؟ د گوند سرمشریزه ډلې د سردار محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د برخلیک په اړه څه ویل؟ ستاسو اند په دې تړاو څه وو؟

پنجشیری: وروسته له دې چې نورمحمد تره کی ، ببرک کارمل ، ډاکټرشاه ولي او زه (دستگیرپنجشیري) سلیمان لایق ، بارق شفیعي ، عبدالحکیم شرعي جوزجانی او حفیظ الله امین د کابل ولایت له زندانه راډیو افغانستان ته ولیږدول شولو، د دندو ویشنه په دې ډول تر سره شوه: ما، کارمل، لایق او تره کي د سیاسي تبلیغ دنده پرغاړه را واخیستله، حفیظ الله امین، عبدالقادرهراتي او محمد اسلم وطنجار د پوځ لارښوونه په غاړه واخیستله .

له داؤود او د هغه له کورنۍ سره د چال چلند په اړه نورمحمد تره کي او ببرک کارمل بیل بیل نظرونه درلودل. تره کي د هغه په وژلو او کارمل د هغه په ژوندي ساتلو ټینگار کاوه .

ما د نور محمد تره کي په ځواب کې وویل چې :" د ټولنیزې مبارزې اصول نه باید سپک و گڼل شي او له پاڅون سره دې لوبه و نه شي." سلیمان لایق چې د خپل زوم او نیږدي ملگري د وژنې له امله په ژور ناورین او ویرکې سوځېده نو د داؤود په اړه یې وویل: دا فرعون دې ووژل شي ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تاریخ په دغسې یوې حساسې او پریکندې شیبې کې نور محد تره کي د انقلاب پوځي لارښودې ډلې (حفیظ الله امین او اسلم وطنجار) ته لاندینی فرمان ور ولیږه :

"که سردار محمد داؤود او ملګري يې د انقلاب له فرمانه سرغړوای وکړي، د پاڅونوالو پروړاندې لاس وسلې ته ور وړي او د ګوند لارښوونې ته پرته له پوښتنې او آړ"شرط" ځان ونه سپاري نو زموږ وسله وال ځواکونه د خپل ځان اوآزادۍ د ساتنې لپاره خپل حق ګڼي چې له انقلابي نظم څخه په میړانه ساتنه وکړي. که هغوی له وسله وال مقاومت څخه لاس پر سر شي او خپلې وسلې پر ځمکه کښیږدي نو یو خوندي ځای ته دې ولیږدول شي. په داسې یوه اکر 'حال' کې به له هغوی سره د هیواد د قانونو پر بنسټ له درنښته ډک چال چلند وشي" .

ددغه فرمان متن په پښتو وو او ما (دستګیرپنجشیري) په پاړسي را و ژباړه .

۷ .د داؤود خان خونې ته ور ننوتلم :

محمد اکرم اندیشمند د عبدالحق مجددي او داکټر فضل الله مجددي له کتاب [" افغانستان له ستر امیره تر ستر لارښوده / افغانستان از امیر کبیر تا رهبر کبیر" د کابل چاپ، د میوند د خپرندویه ټولنې خپرونې، کابل/افغانستان، ۱۹۹۹زکال، له ۵۹٦پاڼې] څخه په را اخـَځـَولو داسې لیکي :

هغه خلقي پوځي افسر چې د محمد داؤود د وژنې فرمان يې را پلی کړ امام الدین نومیده. نوموړی هم مني چې د سردار داؤود پر استوګنځي د یرغل فرمان حفیظ الله امین ورلیږلی وو .

لومړی بریدمن امام الدین چې د پوځ د کوماندو په قطعه کې د ډیرې ټيټې پوځي رتبې افسروو د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د واکمنۍ پرمهال لوړې پوځي رتبې ان د ډګرجنرالۍ تر کچه را لوړیږي .

"حفیظ الله امین چې د کودتا فرمان يې ورکاوه او د کودتا د فرمان په دریزیا مـَقـَر راډیو افغانستان کې وو په ریشخورو کې د یو شمیر مقاومتونو له امله اود توپچي ، شوبلو اوله ټینګ هوایي بمباران سره سره د داؤود خان له مقاومته په ویره او اندیښنه کې را لوېدلی وو. [نوموړي] د کرکیچ او اړوپیچ د څیړنې په موخه د لویو لښکرکوټونو او کوشنیو پوځي قطعو له کودتاچیانو بولندویانو سره په ګډه په راډیو افغانستان کې د شپې په نهو بجو یوه بیړنۍ غونډه راوبلله او ویې ویل:" په ارګ او ریشخورو کې مقاومت لاتر اوسه پرمخ روان دی. که دغه مقاومت په لنډ وخت کې پای ته ونه رسیږي نو ډیره شوني به وي هغه لښکرکوټونه او قطعې چې لا تر اوسه ناپییلې او بې پرې پاتې او وخت او مهال ته سترګې په لار دي، د داؤود خان په ګټه به پرموږ مخ راواړوي او په خوځښت به پیل وکړي. او یابه له نورو ولایتونو څخه د داؤود خان لښکر د هغه مرستې ته را ودانګي. نو ښه به دا وي چې په بیړه او په لومړي ګام کې دې د ارګ د مقاومت خبره را لنډه کړای شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کودتا لوړپوړو پوځيانو وړانديز وکړچې ددغې موخې د ترلاسه کولو لپاره د هوايي او توپچي ځواک د يرغل ترڅنګ بايد پلی ځواک هم په خوځښت راشي چې ارګ ته ننوځي او د ارګ د مقاومت ملا دې له دننه را ماته کړای شي. وروسته حفيظ الله امين وويل: کومه قطعه چمتو ده چې په ځانخوښې توګه د پلي يرغل پازوالي په غاړه را واخلي .

زه (امام الدين) چې يو خوړمند او په توده وينه لوګری ځوان وم راپاڅېدلم او ومې ويل چې زه چمتو يم پلي يرغل تر سره کړم. د داؤود خان خونې ته ور ننوتلم. په خونه کې د اؤودخان ورور محمد نعيم خان، دوه تنه وزيران، د داؤود خان يوه لور او څو تنه نور ول. کله چې د داؤود خان خونې ته ور ننوتلم پوځي سلام مې وکړ .

داؤود خان چې په لاس کې يې تومانچه وه وويل: " څه خبره ده؟ " ما وويل:" صاحب! خبره له خبرې تيره ده. را تسليم سئ. " داؤود خان په قهرژلي توګه وويل:' چا ته تسليم شم ؟ " ما ورته وويل : " انقلابي شوری او پوځي ځواکونو ته تسليم شئ . پوځي ځواکونو ټول لښکرکوټونو چاپ کړي او ځانونه يې سپارلي دي يوازې تاسو ياست چې مقاومت کوئ. " داؤود خان وويل:" زه به هېڅکله تسليم نه سم ".

ما ټينګار وکړ خو په دغې شېبې کې د داؤود خان په لاس کې تومانچه وه، پرما يې ډزې وکړې، ګولۍ زما پرلاس را ومښتلې او کلک يې ټپي کړم. بيا نو زما د سرتيرو ، د داؤود خان او داؤود خان د ساتونکو ترمنځ اور پيل او په پای کې يې داؤود خان ووژل شو .

٨ .د داؤود خان د تومانچې وروستنۍ ګولۍ

داکټر محمد حليم تنويرپه خپل کتاب کې [ د افغانستان تأريخ او ورځپاڼه لیکنه / تأريخ وروزنامه نګاري افغانستان، د صبور د اسلامي خپرندويه ټولنې د مرکز له خوا، پيښاور/پاکستان جنوري ٢٠٠٠] په ٢١٩ او ٢٢٠ پاڼو کې د محمد داؤود د وژل کېدلو څرنګوالی داسې رانغاړي :

په هماغه ورځ د پينځلسم زغره وال ځواک شوبلو حفيظ الله امين او خيال محمد کټوازی راډيو افغانستان ته راوستل او هغه ځای يې د خپلې بولندی ځای ځايګی وټاکه. په خپلو خبرتياوو کې يې په پرله پسې توګه يې خبرتياوې خپرولې چې د داؤود خان په وژل کېدلو اوس د تيرغمال نادر د کورنۍ د لړۍ واک پای ته را ورسيد او واک د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند اوانقلابي شوری په لاس کې دی. محمد اسلم وطنجار او عبدالقادرپه څو ځله د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند او انقلابي شوری د بريا مبارکي وويله .

محمد خالد داؤود چې د تلويزيون په ماڼي کې وود زينب د سينما ترڅنګ د ښځو د ټولنې ورکتون ته ولاړ او خپل کوشنيان يې په موټر کې له ځان سره راواخيستل اود ارګ په لور يې مخه کړه. هغه ارګ ته د شمالي سرک په لار د شوبلې د مردکي له امله ووژل شو. بيا د داؤود مشر زوی محمد عمر په ارګ کې ووژل شو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویمه شوبله چې پر ارګ ور ننوتله د محمد اسلم وطنجار وه. د ولسمشر ساتندویه ځواک 'ګارډ' په ۲۴ ساعتونو کې زښت تلفات ولیدل.

د [دیارلس سوه او اووه پنځوسم لمریز کال] د غوايي د میاشتې په اتمه نېټه د محمد داؤود ټول وزیران د ارګ په پخلنځي کې پټ شوي ول. محمد داؤود له خپل ورور محمد نعیم او کورنۍ سره یې په مانۍ کې راګیرپاتې شول. د کودتا ځواک ارګ ته ور ننوت. د امام الدین په نامه یو تن کودتاچي له خپلو سرتیرو سره د ګلخانې په مانۍ ور ننوت اوداؤود خان ته یې امر وکړ چې ور تسلیم سي .

محمد داؤود د خپلې تومانچې وروستنۍ ګولۍ په هغه ور تشه کړه او امام الدین ټپي شواو بیا هغه پر محمد داؤود او کورنۍ یې اور را بل کړ. محمد داؤود د ژوند تر وروستۍ سلګۍ مقاومت وکړ. په دغه نښته کې محمد داؤود او ټوله کورنۍ یې په شهادت ورسیدل. د هغوی مړي یې د څرخي پله د غرونو د لمنو په غـَوچوړو کې واچول او د هغه د کورنۍ یو شمیر پاتې ښځینه غړي او د هغوی ماشومان یې په زندان کې واچول. یو څېړنه وایي چې د محمد داؤود مړی یې په ماهیپر کې په یوه ناڅرګند ځای کې اچولی دی .

۹ .پرما تور لګوي

د ۲۰۰۸ زکال د اپریل په ۳۰ نېټه سلیمان لایق، زما (سیاه سنګ) پوښتنو ته د ټیلفون له لارې ځواب راکړ چې لنډیزیې په لاندې ډول دی :

سیاه سنګ: محمد داؤود او کورنۍ یې د چا او یا د کومو کسانو د فرمان پربنسټ ووژل شول؟

لایق: سردار داؤود او کورنۍ یې د چا د فرمان او یا یوې ګډې پریکړې پربنسټ نه دی وژل شوی. وګورئ، لومړی کودتا وشوه ، ورپسې پیغام ور و لیږل شو چې تسلیم دې سي، هغوی تسلیم نه شول. پایله یې هماغه ده چې ټول ورڅخه خبر دي: د څو تنو ووژل کېدل .

سیاه سنګ: آیا ستاسو موخه داده ووایاست چې محمد داؤود او کورنۍ یې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د ډله ییزې پریکړې پر بنسټ نه دی وژل شوی؟

لایق: یو شمیر ځانمنونکو او څوکۍ غوښتونکو کسانو چې غوښتل یې څوکیو، لوړو دریزونواو ویسکیو اوموټرونو ته ځان ورسوي، کودتا وکړه او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند یې د یوه ترسره شوي عمل په وړاندې را ودَراوه. د خلق او پرچم ډلې هم د خپل ځان د ساتنې لپاره دې ته اړلې شولې چې کودتا ومني .

سیاه سنګ: آیا کولای شـئ چې د دغې کودتا د سمبالوونکو نومونه را واخلـئ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لایق: زه ډارن سړی نه یم او نه له راتلونکې څخه کومه اندېښنه لرم. زړه ور یم او په برالا او سپینه وایم چې حفیظ الله امین او نورمحمد تره کي ددغې کودتا پاخه سمبالوونکي ول. موږ په زندان کې وو چې کودتا وشوه .

سیاه سنګ: تاسو څنګه زنداني سواست؟

لابق: کله چې د راډیو افغانستان له لارې د افغانستان د خلق د ډیموکراتیک ګوند د مشرتابه د ډلې د مشرانو د نیول کېدلو خبر خپور شو یو شمیر ملګري دغې پایلې ته را ورسیدل چې "میثاق صاحب او لایق صاحب ته به ښه دا وي چې ولاړ دې سي او ځانونه دې دولت ور وسپاري". زه هم د ملګرو د وړاندیز پربنسټ ولاړم او ځان مې پولیسو وسپاره .

زما لاسونه یې را وتړل او د زندان په یوې کوشنۍ خونه یې واچولم. یو وردکي افسر راغی او په اورلړې ژبه یې له ما پوښتنه وکړه :" څه شی دې خوړلي چې هضمولای یې نه شئ؟" بیا نو له هر لوري د پرله پسې ډزو غږونه را پورته شول. افسر دباندې ووت. څو شېبې وروسته زه هم له خونې څخه دالان ته را ووتم چې پوه سم څه خبره ده. د ګوند یو تن غړی مې ولید. هغه وویل:" څو شیبې سترګه په لاره اوسه، اوس یې راچپه کوو ".

بیا مې هماغه افسر ولید چې په یوه غاب کې یې راته انګور راوړل. زما لاسونه یې راخلاص کړل او په دې توګه زه له زندانه را خلاص شوم .

سیاه سنګ :وروسته له هغې چې راخلاص شوی او راډیو افغانستان ته راغلاست، نور محمد تره کي ته مو د داؤود په اړه وویل چې : " دا فرعون دې ووژل شي" آیا دا رښتیا ده؟

لایق: نه! سمه نه ده. دا خبره قطعاً زما نه ده. پرما تورلګوي. ما داسې نه دي ویلي. اصلاً دغه پیښه په خپله ماته د کرکې وړ وه .

سیاه سنګ: کومه پیښه تاسوته د کرکې وړ وه؟ د داؤود خان وژنه یا دغوایي د اوومې کودتا؟

لایق: کودتا. دغه پوځي پاڅون چې په ګوند کې نه وو پوخ شوی، زمالپاره د کرکې وړ وو. ښایي په تأریخ کې داسې ډیر پاڅونونه شوي وي. آیا دا چې په پیښه کې شورویانو لاس درلود یا نه درلود راته روښانه نه ده. البته چې حفیظ الله امین او نورمحمد تره کی دواړه سل په سلو کې پرې پوهېدل .

سیاه سنګ: که تاسو د نورمحمد تره کي او یا حفیظ الله امین په ځای واست ، تاسو به د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژلو امر وکړی وای؟

لایق: دغه پوښتنه بنسټ نه لري. که زه د هغوی پر ځای وای ، کودتا نه کېدله. په هېڅ ټولنیزه بلیګه ، اصل او معیار کې د کودتایي پاڅون لارښوونه نه ده شوې. کودتا د سیاسي ستونزو د حل لاره نه وه او په راتلونکي کې به هم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي او زه د کودتا مخالف وم. په ټولیزه توګه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ټول پوه غړي له پوځي کودتا سره مخالف ول .

سیاه سنګ: آیا دا خبره سمه نه ده چې تاسو د خپل نیږدې ملګري میراکبرخیبر د ناورین په لمبو کې د هغه وژنه مو د داؤود د وژنې له غچ سره برابره بللې وي او ویلي مو وي چې " دا فرعون دې ووژل شي" ؟

لایق: ما دژوند له هماغو لومړیو شیبو له وژنې او وینې تویونې څخه کرکه درلوده او اوس یې هم لرم. ان دا چې د سردار داؤود او د هغه د کورنۍ له وژنې وروسته د مړیو د لېدنې لپاره ارګ ته وَرَنغلم. تل به یې زما په اړه ویل چې " دی یو پریکنده "قاطع " سړی نه دی" . تاسو په ټول افغانستان کې یو تن راپیدا کړئ چې ودې وایي چې د لایق له لاسه یې تاوان لیدلی وي. له بله اړخه سردار داؤود او د هغه د جمهوري دولت دستګاه د میر اکبر خیبر په وژنه کې لاس نه درلود. دا خلک ولې داسې بې ګټې خبرې او ارتاکې جوړوي؟

## د کوماندو افسر

ډاکټر ظاهرطنین په خپل کتاب کې [ افغانستان په شلمه پیړۍ کې / افغانستان در قرن بیستم، د بي بي سي د خپرونو له ټولګو څخه، د عرفان د خپرندویه ټولنې له خوا، تهران / ایران ، ۲۰۰۵ زکال په ۲۲۴، ۲۲۵، ۲۲٦ پاڼو کې ] د داؤود د وراره محمد عزیزنعیم له خولې داسې لیکي :

مور مې پیـښې د سر په سترګو لېدلې دي. د هغو پیښو لنډیز داسې دی: په وروستیو شیبو کې د [کوماندو] یوافسر خونې ته ورننوځي او محمد داؤود خان ته وایي چې : ور تسلیم شـئ. محمد داؤود خان پوښتي چې : دغه امر دې د چا لخوا راوړی؟ هغه ځواب ورکوي: د قادر له پلوه. محمد داؤود خان وایي : زه پرته له خدایه بل چا ته ور تسلیمیږم او تر وروستنۍ ګولۍ مې جګړې ته چمتو یم. همدا وه چې د دواړو خواوو تر منځ ډزې را پیل او په پای کې یې خدای بخښلی محمد داؤود خان اود هغه د زامنو او دوه لوڼو په ګډون د کورنۍ نورو ۱۷ تنه غړو یې د شهادت جام را په سر کړ .

۱۰ :چا له لیري ویل چې تسلیم شه!

ډاکټر داؤود جنبش (لېکوال،خبریال، ژباړونکی او د بي بي سي کارکوونکی) په خپلې یوې لېکنې کې د " ولسمشر داؤود خان او کورنۍ یې څنګه ووژل شول" تر سر لیک لاندې د محمد ظاهرشاه د خور زهره نعیم له خولې داسې لیکي :

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې بمباریو زور واخیست داؤود خان وویل: " کښتـني پوړ ته ولاړ سـئ!." د را وتلو پرمهال د ګلخانې د ماڼۍ د دروازې له پلوه ډزې را پیل شوې. ګومان کوم چې ډزې په ارګ کې دننه د خلقیانو او پرچمیانو له پلوه وې .

په دالان کې د داؤود خان لور زرلښته ، د هغه اته کلنه لمسۍ غزال ( دعمر لور) ټپیانې شوې وې. هغوی یې بلې خونې ته راوړې. زما د دیارلس کلنې لمسۍ صفورا ټېر ګولۍ ور څیرلی وو. نظام [د محمد داؤود زوم] وویل چې صفورا بې هوښه ده خو حال یې ښه دی خو کله چې هغه یې له نیږدې ولېدله نو هغه مړه وه. صفورا زما د سترګو تر مخه ځان حق ته وسپاره. ماشومان ان د مور په غیږ کې خوندي نه ول. د سردارصاحب داؤود خان ننږور او د میرویس ماندینې شیما خپل دوه ماشومان په غیږ کې نیولي ول او دیوال ته یې ډه ډه لګولې وه. کله چې له خوتې راوتلو، ومې لېدل چې دریواړه شهیدان شوي ول .

زرمینه (زما او د نعیم خان لور)، عایشه ( داؤود خان معیوبه خور)چې په کراچۍ کې به تلله، زینبه (زما خور/ د داؤود خان ماندینه)، شینکۍ او زرلښته (د سردار محمد داؤود خان لونې) ټولې داؤود خان ته ورغلې او تر څنګ یې ودرېدلې .

دا مې په خپلو سترګونه دي لېدلي خو ماته وویل شول چې یو چا له لیرې داؤود خان ته غږ کاوه چې : تسلیم سه!. او هغه په ځواب کې ویلي ول: پرته له خدایه بل چاته نه تسلمیږم. په همدغه وخت کې د ډزو غږونه را پورته شول. داؤود خان، زینبه، شینکۍ، خالد، ویس او عمر (د داؤود خان زامن)، نظام ( دشاه محمود خان زوی) ټول هماغلته ووژل شول .

کودتا چیان په موږ پسې راغلل او ویې ویل چې له خونې را ووځـئ! که را ونه وځـئ نو د خونې چت به در باندې راونړیږي.د راوتلو پرمهال مې ولېدل چې د داؤود خان، محمد نعیم خان او نورو مړي د ځمکې پرمخ پراته ول .

زما پښه ټپي شوې وه. موږ یې روغتون ته را ورسولو، د لسو ورځو لپاره یې هلته وساتلو بیا یې زندان ته بوتلو. خورشید او توران (د سردارتیمورشاه ماشومان/ د نعیم خان لمیسان) په روغتون کې پاتې شول. ګلالۍ ( د عمرماندینه/د داؤود خان ننږور) سره له دې چې پښه یې په ۷ ګولیو سورۍ سورۍ شوې وه، ژوندۍ پاتې شوه .

په هغې باراني ورځ، زموږ د کورنۍ او خپلوانو ټول ټال ۷۰ تنه ووژل شول. آیا وروسته له دیرشو کالونو به داسې یو څوک را پیدا سي چې د نوموړو وژل شویو کسانو آرامځای را پیدا کړي او د افغانستان د لومړني ولسمشر له آرامځي څخه یو زیارت جوړ کړي؟

د پینځمې برخې پای

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږمه برخه

بخښنه اويادونه!

درنو لوستونکو : د [پسرلني سباوون د ګولېو باران/ و آن ګلوله باران بامداد بهار] په څلورمۍ څپرکۍ کې دوه ټایپي تیروتنې شوې وې . "پادشاه میر" د "پاچا میر" او"مهمند" د " مومند" په بڼه لیکل شوي ول .

همدلته ځای پرځای له پادشاه میر او حمید مهمند او له نورو ښاغلو لوستونکو څخه بخښنه غواړم. همداراز د همدغې لیکنې په پینځمه څپرکۍ کې یوه تیر وتنه بله هم شوې وه او یادَونه یې دلته اړینه بولم. په تیرې څپرکۍ کې " شین سهار" د " سهارني ټکنده سباوون" په بڼه راڅخه لیکل شوی وو. له نومیالي پوه ښاغلي معصوم هوتک څخه د کورودانۍ په ویلو مننه‌وی یم چې د بریښنالیک له لارې یې زما پام دغه ټکي ته را واړاوه او په دې تړاو له لوستونکو څخه په نړۍ غاړه بخښنه غواړم. رحمت آریا

## نا اَ نډوَله غبرګونونه

د ۲۰۰۸زکال د جولای په دویمه نېټه جنرال پادشاه میرپه افغانستان کې د "آزادۍ له راډیو سره" د یوې ځانګړې مرکې په ترڅ کې د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د آرامځي د ځای ځایګې په اړه څرګندونې وکړې او ویې ویل چې دغه آرامځی د کابل د ختیز په ۱۸ کیلومتریزه واټن کې د څرخي پله زندان ته نیږدې د حربي پوهنتون تر شا په سوریو او غـَوچوړو پروت دی او هم یې د محمد موسی شفیق د وژل کېدلو له څرنګوالي یادونه وکړه .

په دې اړه ، په افغانستان کې دننه او هم له هیواده دباندې د غبرګونونو د راپاریدلو په ګډون پراخې خبرې اترې را پیل شوې. چا جنرال پادشاه میر یو رښتونی مسلمان وباله چې د تیرو دریو لسیزو په ترڅ کې یې د سیاسي خونړیو پیښو د پټ ترینو رازونو له مخې پوړنی را لیرې کړ.خو نورو کسانو جنرال پادشاه میر" یو درواغجن خلقی او د پرچمیانو یو را پاروونکی دښمن" وباله او ویې ویل : د هغه خبرې یې د پیښو د سنجونې له اړخه بې ځایه ، بې ارزښته او له درغلنې ډکې وبللې .

**س.م.ن.**

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د۲۰۰۸زکال د جولای د مېاشتې په اته ویشتمې نېټې مې له لېکوالې پیغلې س.م.ن څخه مې یو برېښنا لېک تر لاسه کړ او په هغه کې لولو :

د تأریخي لېکنې [د پسرلني سباوون د ګولېو باران/ و آن ګلوله باران بامداد بهار] په یوې برخې کې د ښاغلي پادشاه میر خبرې چې د دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریزکال د غوایي اوومې نېټې ته ورګرځي او [که تیر وتنه مې نه وي کړې د ۱۹۷۸زکال د اپریل د مېاشتې وروستۍ ده]،داسې راغلي دي :

حمید مهمند: مرې څه ډول کسانو راوړل؟ لوړپوړو افسرانو یا عادي سرتیرو؟

پادشاه میر: د هغوی په سر کې مشر سړی د [کورنیو چار وزیر] نور احمد نور وو. نه پوهېږم چې نوموړی اوس په کوم هېواد کې ژوند کوي. نور هغه وزیران ول چې نه مې پیژندل. د هغوی یوه تن له اسلمه وپوښتل : آیا دغه سړی چې لاندې په کار بوخت دې، ملګری دی که نه؟

حال دا چې ښاغلي نوراحمد نور د ۱۹۷۸زکال د مې له مېاشتې وروسته د هماغه کال د جون ترمېاشتې پورې د کورنیو چارو د وزیر په توګه دنده تر سره کړې ده. په دې ډول د ښاغلي پادشاه میرپرګڼ شمیر خبرو ډاډ نه شو کولای .

## ښاغلی پادشاه میر پیژنم

د۲۰۰۸زکال د جولای د مېاشتې په دیرشمې نېټې [په وروستیو دریولسیزو کې پوځ او سیاست/ اردو وسیاست در سه دهه اخیر] د کتاب لېکوال سترجنرال نبي عظیمي، ما (سیاه سنګ) ته یو برېښنا لېک را ولیږه او د هغه په یوې برخې کې راغلي دي :

"څه موده وړاندې مې د تل په شان ستاسو ځیړنیزه لېکنه چې په هر اړخیزه ځیر جوړه شوې ده د کابل ناتـهـ په ښکلې ویبپاڼه کې ولېدله او په ډیرې مینې او لېوالتیا مې ولوستله. زما موخه هماغه د پسرلني سباوون د ګولېو باران/ و آن ګلوله باران بامداد بهار] لېکنه ده. په دغې لېکنې کې مو د تل په شان د رښتونو خبرو د ترلاسه کولو او زموږ د هېواد د سرتېرلو رازونو له مخې د پړونې په را لیرې کولو کې ډیرې هڅې کړې چې هېڅوک نه شي کولای له هغو سترګو پټې کړي. ځکه د کلیدي شخصیتونو د خبرو په ترڅ کې چې د پیښې په ورځ یې پخه ونډه درلودله داسې خبرې رابرسیره شوې چې لا تر اوسه پټې پاتې وې .

زه دغه ښاغلی پادشاه میر پیژنم، خو نه پوهېږم چې کله د جنرالۍ درېز ته را رسیدلی دی؟ د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د واکمنۍ په مهال یا له هغه وروسته یا د طالبانو په وخت کې؟ په دې کې هېڅ شک او شوپیان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته چې نوموړی د حفیظ الله امین د ډلې یو د ډاډ وړ سړی وو، ځکه منطق هم دا وایي چې یو سړی تر هغوپورې د چا لپاره د ډاډ وړ نه ګرځي مګر دا چې د هغه د راز لرنې کچه نه وي ازموېل شوې که نه هېڅکله به له دغسې یوه سړي څخه د یوه اړین یا مهم کار په سر ته رسولو کې کار وا نه خیستل شي .

نه پوهېږم چې تاسو خبریاست که نه ، د برهان الدین رباني د واکمنۍ په مهال ګنګوسې خپرې شوې چې شهنواز تني د طالبانو د ځواکونو د ملاتړلو لپاره یو شمیر خلقي ټانک چلوونکي هغوی ته ور وپیژندل چې طالبانو هم هغوی د ملا، آخوند ، احمد او محمود ..... په نامه په ورین تندي په خپلو لیکو کې ومنل. ښایي پادشاه میر له دغسې کسانو څخه یو تن وي او شونې به وي چې هماغلته د جنرالۍ تر دریزه پورې را رسیدلی وي .

خو هغه څه چې زه یې دلته د ویلو وړ بولم د ښاغلي نور احمد نور په اړه ده. هغه وایي :" د پنځنۍ 'پنجشنبې' په ورځ کودتا وشوه، په سبا کله چې ورځ پای ته ورسیدله د شپې دولس بجې وې چې مړي یې راوړل "....

حمید مهمند پوښتي: مړي څه ډول کسانو راوړل؟ لوړپوړي افسران ول که عادي سرتیري؟

او پادشاه میر ځواب ورکوي : " د هغوی په سر کې مشر سړی د [کورنیو چار وزیر] نور احمد نور وو ".

اوس، که ښاغلی حمید مهمند ښه ځیر شوی وای نو باید پوښتنه یې کړې وای چې: د غوایي د اوومې نېټې د کودتا په دویمې ورځ د کابینې د غړو نومونه نه وو را څرګند شوي، ته څنګه مخکې له مخکې پوهېدلې چې نوراحمد نور د کورنیو چارو وزیر دی؟ او یا داچې نور احمد نور یې څنګه په دې دنده ګومارلی دی؟ نوموړی د پرچم د ډلې له مشرانو څخه وو او طبیعي ده چې د داؤود خان د وژلو په اړه ، یاد دې ژوندی وي، د ببرک کارمل له دریز سره همغږی وو؟

هغو کسانو چې په هماغو شپو ورځو کې د دفاع د وزارت ودانۍ ته چې وروسته د افغانستان د خلق ډیموکراتیک د مرکزي کمېټې ودانۍ ونومول شوه ، تګ راتګ کاوه ښایي له ما سره همغږي وي چې نوراحمد نور شپه او ورځ هلته له ببرک کارمل سره وو او نه یې شوای کولای د یوې شېبې لپاره له هغه ځایه را ووځي، او د ارواښاد محمد داؤود خان او د هغه د کورنۍ د جنازې د خاوروته سپارلو خبرې په هغه پورې هېڅ اړه نه درلودله او دا کار د امین او د هغه د ډاډ وړکودتا چیانو کار وو نو څنګه به یې دا دنده هغه ته ورسپارله؟

دا خبره مې له دې امله وکړه چې د نوراحمد نور په اړه د پادشاه میر خبرې له بنسټه درواغ دي، اوپه رښتوني اړخ کې دا یوه دروهه یا دسیسه ده چې غواړي د پرچمیانو پښه د داؤود خان او د هغه د کورنۍ په وژنه کې راښکیل کړي "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نور احمد نور او د کورنیو چارو وزارت

د ۲۰۰۸ زکال د جولای په یو دیرشمې نېټې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند له مشرانو څخه یو تن چې نه غواړي نوم یې په دغه لیکنه کې واخیستل شي ، وویل:" ' د ملگري نوراحمد نور او موسی شفیق تر منځ د شخړې په تړاو' د جنرال پادشاه میر خبره له دوه وو اړخونو له بنسټه ناسمې دي :

۱ .موسی شفیق اصلاً ماشومان نه درلودل نو ځکه نه یې شي کولای ووایي چې :زه بې گناه یم په کور کې مې سطرنجۍ اواره ده. ماشومان نه لرم ".

۲ .ښاغلی نور احمد نور د غوایي له اوومې اته ورځې وروسته یعنې د د یارلس سوه او اووه پنځسوم لمریز کال د غوایي په پینځلسمې نېټې [ د ۱۹۷۸ز کال د مې د مېاشتې پینځمه] د کورنیو چارو وزیر شو او د ۱۹۷۸زکال د جون تر پینځلسمې نېټې پورې یعنی ترڅلویښتو ورځوپورې یې دغه دنده پرمخ یووړه. نوموړی د ۱۹۷۸زکال د جون له پینځلسمې د جولای تر پینځمې نیټې پورې یعنې د نورو یو ویشت ورځو لپاره د بهرنیو چارو د وزیر په توگه پاتې شواو په سبا ورځ یې [ د ۱۹۷۸زکال د جولای په شپږمې نیټې] په واشنگټن کې د افغانستان د سفیر په توگه وټاکل شو .

## بله ژمنه

که ښاغلی نور احمد نور وغواړي په دې تړاو رڼا واچوي ، خبرې به یې پرته له زیادښت او کمښته د[پسرلني سباوون د گولیو باران/ و آن گلوله باران بامداد بهار] په راتلونکې گڼه کې را خپرې شي .

زما د ټیلفونونو شمیرې، بریښنایي او پُستي پته د هرې څپرکۍ په پیلیزې برخې راغلي دي .

## د محمد موسا شفیق د وارثانو شمیره

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۸زکال د جولای د مباشتې په یو دیرشمې نېټې ډاکټر عبدالجمیل زلمي، د محمد موسی شفیق زوم، د کاناډا د اونتاریو په ولایت کې د کډوالو د اداري کارکوونکي ، ما ، لیکوال ته د ټیلیفون له لارې وویل: له ارواښاد محمد موسی شفیق څخه همدا اوس څلور اولادونه او شل لمسیان پاتې دي چې له خپلو کورنیوسره په پاکستان، آسترلیا، جرمني، آمریکا او کاناډا کې ژوند کوي .

ډاکټر زلمي ما (سیاه سنگ) ته ١٦ انځورونه رالیږلي دي چې تر اوسه نه دي خپاره شوي او همدا شان د موسی شفیق د سیاسي ، ادبي او فرهنگي ښادنامو په اړه یو پنډ لیکنې یې رالیږلې چې د افغانستان د تیاره پاتي شوې تأریخ د روښانولو په تړاو یې را سره بې سارې مرسته وکړه .

ډاکټر زلمي ته د کورودانۍ په ویلو ژمنه کووم چې ډېر ژر به د ارواښاد موسی شفیق د ژوند لېک په اړه ځانگړې لېکنه په پام کې ونیسم .

## او دغسې یې وژل....

د ۲۰۰۸زکال د جولای په دوه ویشتمه نېټه د منځنۍ ' سه شنبې' په ورځ بیا هم جنرال پادشاه میر په افغانستان کې د " آزادۍ د راډیو" مېلمه وو. دا ځل یې د حمید مهمند او اورېدونکو لېکونو ته ځواب ورکاوه. [مرکه په پښتوژبه وه او ژباړونکي دغه مرکه پرته له زیادښت او کمښته له وینا والې پښتو څخه پاړسي ته را اړولې ده]

]یادونه: د همدغې لېکنې په پای کې ښاغلي لوستونکي کولای شي مرکه په غږېزه توگه واوري او لېنک یې د پاڼې په پای کې ایښودل شوی دی او دغې خبرې ته مې هغه وخت زما پام شو چې ما د ښاغلي سیاه سنگ د لېکنې له مخې لا وختي پښتو ته را ژباړلې وه. زما د څېړنیز او ورځني ژوند د وخت د تنگوالي له امله نه شم کولای د هغوی ټولې خبرې کټ مټ له غږیزې بڼې بیرته په لېکې بڼې را ولېکم. لوستونکي دې پر ما د منت په ایښودولو دغه تشه په درنښت ومني. - رحمت آریا [

حمید مهمند: جنرال صاحب پادشاه میر! پخوا مو هم د [۲۰۰۸زکال د جولای په دویمه نېټه] یو شمیر خبرې اترې درلودلې چې د آزادۍ د راډیو له لارې خپرې شوې. تاسو د تیرو خبرو په ترڅ هغو رښتونو خبرو ته نغوته وکړه چې په اړه یې لا تر اوسه ډول ډول خبرې شوې وې. اوس که مهرباني وکړئ د خپلې پوځې زده کړې په تړاو یو څه ووایاست، چیرې اوسیدلي یاست، څومره موده مو کار کړی ی او کومو رُ تبو ته رسیدلي یاست؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال پاد شاه میر: بسم الله الرحمن الرحيم ! پوهیږئ چې زما نوم پادشاه میر دی او جنرال یم. حربي ښوونځی مې چې په مهتاب قلعه کې وو، لوستلی دی. حربي پوهنتون ته ولاړم. کارپوهنیزه زده کړه مې زغره واله او شوبله وه. دا دی زما د زده کړو لړۍ .

وروسته له هغه چې له حربي پوهنتونه د دویم بریدمن په رتبه را خلاص شوم د جګتورنۍ تر رتبې مې په ځلورم زغره وال ځواک کې دنده تر سره کړه. د یوې مودې لپاره خوست ته خدمتي ولاړم. په هغه وخت کې ډګر جنرال محمد عیسی خان نورستاني هم د پکتیا د قول اردو بولندوی او هم د پکتیا والي وو، په هغه وخت دې د دوه وو ټبرونو "سبریو" او " کوچیو" ترمنځ د ځمکې پر سر شخړه را ونښتله. په هغو کلونو کې د پکتیا قول اردو په خپل پوځي جوړښت کې شوبلې نه درلودلې. د جګړې د غلي کولو لپاره یې سرتیري ور استول، خو هغوی وژل کېدل ځکه چې سرتیري د دواړو خواوو د جګړو په اورونو کې راګیرېدل .

[ ډګرجنرال محمد عیسی خان نورستاني] د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه له حضور څخه چې اوس د "ملت بابا" دی یو فوق العاده فرمان تر لاسه کړ. هغه غوښتي ول چې د شوبلو یو خدمتي ټولې دې ورته ورکړل شي. په هغه وخت کې په [ټول -ژ] افغانستان کې شوبلې نه وې، یوازې ځلورم زغره وال ځواک او بل یې پینځلسم زغره وال ځواک وو او بل یې د کندهار اوومه لېوا وه. د خدمتي ټانکونو امر ورکړل شو او زه هم په همدغه ټولي کې د خوست پر لوررا وخوځېدم .

لوی ښتن د سبریو او کوچیو جګړه په خیر سره پای ته ورسوله. زما د خدمت دوره پای ته نه وه رسېدلې چې کودتا وشوه [ د دیارلس سوه دوه پینځوسم کال د چنګاښ د مباشتې شپږ ویشتمه/د ۱۹۷۳زکال د جولای اووه لسمه نېټه راغله] او شهید سردار محمد داؤود خان د هیواد ولسمشر شو او زه بیرته کابل ته را وغښتل شوم .

خبره دا وه چې : هره منځنۍ ' پنجشنبه' به د پوځ په لښکرکوټونوکې وسلې پاکېدلې. یعنی د درندو او سپکو وسلو او شوبلو خولـُـونه پاکېدل. زما تر لارښوونې لاندې به سرتیرو د بانګس په اوږدو لرګیو د شوبلو خولونه را پاکول. زه به ولاړ وم .

په هماغو لومړیو ورځو کې چا راپور ورکړی وو چې د غه سړی [پادشاه میر] د جمهوریت دښمن او د شاهي رژیم پلَـوی دی. په پای کې خوست ته ماته یو لیک راورسید چې لنډیزیې دا وو: په ۲۴ ساعتو کې دې ځان کابل ته را ورسوه .

کابل ته راغلم. له ما یې وپښتل: ته د ولسواکۍ " جهموریت" پر ضد یې؟ و مې ویل چې: نه. زموږ د وګړو په منځ کې یو متل دی چې وایي : که پګړۍ له سره را ولویږي نو پر اوږه را پریوزي او پر ځمکه نه را لویږي." که ظاهر شاه یې، که داؤود خان، دواړه له یوې کورنۍ یاست. ماته او د افغانستان وګړو ته کوم توپیر نه لرئ. که ته اوسـئ، یا هغه! دواړه له یوې کورنۍ او د یوه کور غړي یاست .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دفاع وزارت شاه ته د پاليالۍ " هوا خواهۍ" په تور ماته داسې لاربشوونه وکړه: څلورم زغره وال ځواک ته جزايي خو د مسلک په تغير او په ناجګړه ييز ځانګه "غيرمحاربه" کې د ساتنې او څارنې " حفظ او مراقبت" د مشر په توګه ولاړ شه. هم دې رتبه لوړه ده او هم دې معاش

ما د څلورم زغره وال ځواک د ساتنې او څارنې " حفظ او مراقبت" د مشر په توګه دنده تر سره کوله چې د غوايي د مياشتې " مرداره او کرغيړنه" کودتا راغله. هغوی د شهيد سردار محمد داؤود خان پلاز"تخت" را نسکور کړ او واک ته را ورسيدل .

حميد مهمند: تاسو ووېل چې په څلورم زغره وال ځواک کې د جګتورنۍ تر رتبې رسېدلې واست، له کومې لارې جنرالۍ ته را ورسيدلئ؟

جنرال پادشاه مير: ما په خپلو مخکينو خبرو اترو کې هم ويلي ول کله چې پاکستان ته ولاړم نو د افغانستان له وګړو څخه يوه تن ان د [ جهادي تنظيمونو د مشرانو په ګډون] پاکستان ته چا هجرت نه وو کړی. هماغه لومړۍ مياشت [ د اووه پينځوسم لمريز کال د غوايي مياشت/ د ١٩٧٨زکال د مې مياشت] مې په افغانستان کې تيره کړه. په مخکينۍ مرکه کې مې د خپلو ستونزو په اړه خبرې وکړې. هغوی به د څلورم زغره وال ځواک له يو شمير افسرانو څخه چې زما ټولګيوال ول لکه اسلم وطنجار او رفيع چې وروسته وزيران شول اوهم يې له شير جان مزدرياره داسې پوښتنې کولې : دغه سړی [پادشاه مير] ګوندي ملګری دی که نه؟ هغوی به ځواب ورکاوه : ګوندي ملګری نه دی خو ښه افسر دی. هغوی ويل: ښه والی يې څه کوو؟ هغه کارونه چې موږ يې کوو نه بايد رسوا سي. رازونه بايد پټ وساتل شي. نو په هر ډول چې کيږي دغه افسر له منځه يو سئ .

کله چې ما ته دغه راپور را ورسيد نو مياشت مې تيره نه کړه او پاکستان ته ولاړم. په هغه وخت کې پاکستان ته څوک د مهاجر په توګه نه ول راغلي. حضرت صاحب مجددي په ډنمارک کې وو، پير سيد احمدګيلاني او مولوي محمد نبي محمدي په کابل کې ول. له افغانستانه د مهاجر په توګه څوک نه ول راغلي. البته نور کسان لکه استاد برهان الدين رباني، ګلبدين حکمتيار او مولوي صاحب [محمد يونس] خالص د شهيد داؤود خان د واکمنۍ په مهال پاکستان ته تللي ول. دا هغه مهال دی چې عزيزالله واصفي د جلال آباد(ننګرهار) والي وو او بيا د کرهني وزير شو. دا چې څه پيښه رامنځته شوه نه پوهيږم. خو دومره پوهيږم چې هغوی [ درې تنه جهادي مشران] د داؤود خان د واکمنۍ په مهال تللي ول .

کله چې پاکستان ته ولاړم نو له هغوی سره مې لېدنه کتنه وکړه اوشپې او ورځې به مو سره يو ځای تيرولې. څو چې د کب 'حوت' [ د ١٩٧٩زکال د فبروري] مياشت راغله. يعنی شپږ مياشتېوروسته. ښه نو! د وري، غوايي ، او غبرګولي.... ، د غوايي په مياشت کې کودتا وشوه، زه د غبرګولي په مياشت کې پاکستان ته ولاړم. يوازې يوه مياشت مې په افغانستان کې تېره کړله. له هغه وروسته د تلې په مياشت کې [ديارلس سوه او اووه پنځوسم لمريز

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کال/ ۱۹۷۸زکال] ښاغلي حضرت صاحب مجددي له ډنمارکه راغی. [ دهغه په اړه] ګنګوسې خپرې شوې چې ګڼې زوړ اوسپین ږیری دی ، داسې او هسې خبرې. بیا له حاجي عبدالله جان څدراڼ او نعیم کوچي سره چې د توکم مشران ول د حضرت صاحب لېدلو ته ورغلو او ورڅخه مو وپوښتل: " د څه لپاره راغلي یاست ؟ " هغه وویل: " د في سبیل الله جهاد لپاره راغلی یم "

حمید مهمند: ستاسو جنرالي ؟

جنرال پادشاه میر: په لومړیو کې د ښاغلي حضرت صاحب سیاسي مشر وم. هغه نوی راغلی وو. د " ولسي ژغورنې مورچل / جبهه نجات ملي" نوی را منځ ته شوی وو. زه په شمالي سیمو کې یعنې د وزیرستان په سیمو کې د ولسي ژغورنې د مورچل ' جبهه نجات ملي' سیاسي مشر وم. البته کله به سیاسي مشر کله پوځي مشر خو دواړه دندې زما پر غاړه وې. وروسته هماغلته ما ته د حضرت صاحب له پلوه د جنرالۍ د رتبې فرمان راکړل شو .

کله چې په پاکستان کې د کډوالو د ټاکنو په مهال د کډوالو د استازي په توګه غوره شوم کابل ته د اساسي قانون په کمیسیون کې د ګډون لپاره په پولیتخنیک کې د لویې جرګې غونډې ته راغلم او د لویې جرګې د اساسي قانون په څانګه کې وکیل شوم. دلته مې د خپلې جنرالۍ فرمان کرزي صاحب ته ور وښود. کرزی صاحب له موږ سره د " ولسي ژغورنې مورچل / جبهه نجات ملي" کې وو. هغه د دریو مېاشتو لپاره دولسي ژغورنې د مورچل /جبهه نجات ملي د فرهنګي مشر په توګه کاروکړ. کرزی چې له خپلو زده کړو وروسته نوی له هندوستانه راغلی وو، د شمالي له سیمې څخه د " خَـوَاني " په نامه چې خوارَکی مړ شوی وو، ځای ناستی شو. وروسته حضرت صاحب په اسلام آباد [پاکستان] کې سیاسي دفتر جوړ کړ او له بهرنیو مؤسسو سره یې اړیکه را ټینګه کړه .

کرزي صاحب [ په کابل کې] له ما وپوښتل : جنرال صاحب څه خبره ده؟ ورته و مې ویل: حضرت صاحب د جنرالۍ رتبه راته راکړې. کرزي صاحب هغه فرمان تازه کړ او ددفاع وزارت ته یې دغسې یو فرمان ولېکه: " دا ډېر مجاهد جنرال دی او زه د حضرت صاحب مجددي خپور شوی فرمان منم. " هماغه وه چې تر ننه پورې جنرال پاتې یم .

حمید مهمند: جنرال صاحب! را څه چې اوس بنسټیزو پوښتنو ته راوګرځو. زموږ دوستانو [ د آزادۍ د راډیو اوریدونکو] یوه په زړه پورې پوښتنه راپورته کړېده. د دریو لسیزو په اوږدو کې چې جهاد روان وو او ډېرې پېښې رامنځ ته شوې آیا کله مو فکر ته راغلي چې که خدای مه کړه تاسو په کوم مورچل کې شهید شوي واست، یا په کومې بلې پېښې کې له منځه تللي واست، د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د ډله ییز قبر په اړه پټ راز به هم له تاسو سره یوځای له منځه تللی وای. آیا کله په دې فکر کې لویدلي یاست ؟ آیا ددغه ډله ییز قبر په تړوا مو بل چا ته معلومات ورکړیدي؟

جنرال پادشاه میر: باالکل! له سرې سره تل دا فکر وي. په هغه شپه مې چې هغوی خاورو ته سپارل، یوه ویرلړلې شپه وه، کودتا نوې شوې وه، ټول وګړي په ویره او اندېښنه کې ول. د هغوی له ګورونو مې د خامه سړک تر غاړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې خطوه را پورته کړه چې ماته زما د خطوې اوږد والې او اندازه را څرګند ه وي. له ځان سره مې وویل که لوی ښتن داسې ورځ راورسوي چې افغانستان را خپلواک کړي، ځکه چې له توري شپې وروسته هرو مرو ورځ راتلونکې ده، او دغه خدای بخښلي [ محمد داؤود او کورنۍ یې] د چا له یاده ونه وځي .

ما دوزیرستان او میرانشاه په مورچلونو کې ګډون کړی او حضرت صاحب مجددي به هلته راته. هر ګوره ، کله چې پیښاور ته راغلم، او ددې لپاره چې ددغو شهیدانو د [ګور د ځای ځایګي راز] پټ پاتې نه شي ، ځکه چې سردار محمد داؤود خان یو تأریخي شخصیت وو د ملکلیارانو له خپله ته د پیښاور Dean�s Hotel یو تن د عمر ملکیار په نامه د امریکا راډیو له غړ څخه د

پاکستان صدر ته راغلی وو او ما ورسره یوه مرکه وکړه او ور ته مې وویل: " دغه خبره یو چیرې له ځان سره ثبت کړه، انسانان یو، مرګ له موږ لیرې نه دی. د جهاد کار دی. ورته مې وویل: په څرخي پله کې د پولیګون د دښتې او د څلورم زغره وال ځواک ترمنځ له خامه سړکه دومره خطوې پورته ولاړ شئ، بیا کینې خواته را تاو شئ او دومره ګامونه را پورته کړئ، هلته څو متره وړاندې ځمکه څو متره را وکېندئ بیا [ د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ ډله ییز ګور] در موندل کیږي .

بله دا چې د حضور اعلیحضرت [ محمد ظاهرشاه] اوښی همایون شاه آصفي پیښاور ته راغلی وو. هغه ته مې هم وویل چې ستاسود کورنۍ مړي مې په پلانۍ سیمې کې خاورې ته سپارلي دي. انسان دی مرګ او مړینه لري. د جهاد کار دی ښایي ووژل یا شهید سم. په مرګ [ژوند؟] اعتبار نسته نو همدغه یاددښت دې درسره وي. ته خانداني سړی یې. هغوی مې د څرخي پله په دښته کې خاورو ته سپارلي دي .

حمید مهمند: مننه. او س به بلې موضوع ته راوګرځو. تاسو وویل چې د سردار صاحب د کابینې غړي او سروزیر [ موسې شفیق] د [محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د غړو] له خاورته سپارلو اته ورځې وروسته د ډله ییز ګور سرته راوستل کېدل او له هغو سره شخړه کېدله. تاسوویل چې تاسو په خپله په هغې شخړې کې واست. تاسو څرګنده کړه چې د [افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند] لوړ پوړو غړو او وزیرانو لومړی د پخوانۍ کابینې له غړو شخړه کوله او بیا یې وژل .

تاسو په خپلې پخوانۍ مرکه کې وویل چې نور احمد نور او نور کسان مو هلته لېدلي ول. که اوس نور احمد نور چې په اروپا کې ژوند کوي او منکره شي، د بیلګې په توګه وبه وایي چې په هغې شپې قطعاً هلته نه وو، او د [محمد داؤود] د کابینې د غړو په وژنه کې یې قطعاً برخه نه ده اخیستې او یا ښایي ووایي،جنرال صاحب پادشاه میر تیروتنه کړېده. تاسو د خپلو خبرو د ثبوت لپاره څه دلایل لرئ او څرنګه کولای شئ هغه وپیژنئ؟

جنرال پادشاه میر: رښتیا خبره دا ده چې د کابینې له غړو څخه د کمونیستانو په وینا، له ټولیګوالو مې پرته، ما نور [احمد نور] نه پیژانده. ځکه څوک چې د ګوند غړی نه وي نو نه پوهیږي چې دا څوک دی او هغه څوک دی. له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ځايه چې نورو ويل چې " : نور صاحب! ، نورصاحب!" او هغه يې د" نور صاحب!" په نامه ياداوه، همداسې يې " نورصاحب!" ورته ويل. دا مې لومړي دليل دی. سبا چې ورځ راغله، دوه ،درې ورځې دننه په [عسکري قطعې] کې وم. له خپلو نیږدې دوستانو مې وپوښتل: [هلته] د " نور" په نامه يو سړی وو. دغه سړی څوک وو؟ ويې ويل: هغه د لوګر دی. او اوس د کمونيستانو په کابينه کې لوړ پوړی سړی دی .

حميد مهمند: که نوراحمد نور ووايي چې ما له موسی شفيق سره قطعاً شخړه نه ده کړی. تاسو ددغو دواړو ترمنځ په خبرو کې څه واوريدل؟

جنرال پادشاه مير: ما دومره واورېدل چې موسی شفيق ته يې وويل: .... موسی شفيق يې له موټره راکښته کړ. د هغه په لاس کې هتګړۍ وې او ويې ويل: ما خو کوم کار نه دی کړی، په کور کې مې سطرنجۍ هواره ده،څه خيانت مې کړی؟ "

حميد مهمند: دغه پوښتنه يې له چا وکړه؟

جنرال پادشاه مير: دغه پوښتنه يې له " نور" څخه وکړه، له " نور" څخه يې وپوښتل او ويې ويل: " تاسو زه دلته راوړی يم، زه بې ګناه يم، ما خو خپل هېواد ته خيانت نه دی کړی. همدا اوس مې په کور کې سطرنجۍ هواره ده. تاسو کولای شئ هغه وګورئ." همدغه سړي وويل:" تا ستر خيانت کړی" هو همدغه سړي وويل:" تا سترخيانت کړی" [موسی شفيق ] وپوښتل: " څه خيانت؟" هغه وويل:" تا د هلمند اوبه خرڅې کړېدي "

زه چې پوځي افسر ووم او له سياسته خبر نه وم، نه پوهېدم چې د " هلمند اوبه" څه دي. په دې خاطر چې جګتورني چنداني رتبه نه ده. دغه اصطلاح مې هماغلته زده کړه. او له ځان سره يې وويل : " خه..... د هيلمند اوبه "!

[ نور احمد نور] وويل: " تا د هلمند اوبه پلورلې دي." هغه [موسی شفيق] وويل:" ته په ولسي جرګه کې وې، اناهيتا راتبزاد وکيله وه، ببرک کارمل وکيل وو. حفيظ الله امين وکيل وو. تاسو په ولسي جرګه کې د [هلمند اوبه] ' پاس ' کړې. زه د هغه وخت سر وزير وم او يوازې لاسليک مې وکړ ".

هغه همدومره وويل. له دغې خبرې وروسته د شا له لوري يو سړی چې سر يې په خولۍ پټ وو او يوازې سترګې لېدل کېدلې، د جيپ له شا راغی " ډز ډز" اور يې وکړ او هغه يې په شهادت ورساوه .

له هغه وروسته يې خوارَکی د عدليې وزير وفي الله سمعيي له موټره راکښته کړاو له هغه سره يې شخړه را پيل کړه. هغه ته يې وويل : پرون تاسو موږ د ګور ترخنډې را رسولي وو، نن ته په خپله د ګور پرغاړې ولاړ يې .

آيا ستاسو په خپرونو کې [د آزادی د راډيو له اوريدونکو څخه ] تاسو ته کومې پوښتنې را رسيدلي چې د عدليې وزير وفي الله سمعيي په څه ډول ووژل شو؟ او هغه د غالۍ د فرش موضوع؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حمید مهمند: هو! د عدلیې د وزیرپه تړاو یې هم ویلي. جنرال صاحب ! بیرته به راسو بلې موضوع ته. تاسو چې د " نور احمد نور" نوم واخیست او ومو ویل چې په " صحنه کې موجود وو" او " ملګرود " نورصاحب" په نامه یاداوه" آیا د کابینې غړو په خپله په وژنه کې برخه اخیستله؟ آیا هغوی یې په خپل لاس وژل او یایې د [وژلو] بولنده ' قومانده' ورکوله؟

جنرال پادشاه میر: نه! نه! نه!، هغه نه قومانده ورکوله او نه یې په لاس وژل. هغه په دې خاطر نه دي وژلي چې کله چې خبرې یې خلاصیدلې هماغه سړی چې کلاشنیکوف یې په لاس کې درلود او د جیپ تر شا ولاړ وو، راته، د جیپ تر مخ دربېده، او پرته له دې چې څوک ورته قومانده ورکړي په خپل سر یې ډزې کولې ، او دوی یې په شهادت رسول. [نوراحمدنور] هغه ته نه قومانده ورکوله او نه ښه یا بد .

حمید مهمند: یعنې همداچې شخړه پای ته رسیدله ....

جنرال پادشاه میر: هو! همدا چې شخړه پای ته رسیدله، هاغه سړی د جیب له شا راته او ډزې به یې را پیل کړې .

حمید مهمند: یوه بله مسله دا چې سروري هم د کمونیستانو یوه نامتو څیره وه. آیا په صحنه کې ددغه سړي د شته والي په تړاو څه مالوت لرئ؟ آیا اسدالله سروري هم هلته وو که څنګه؟

جنرال پادشاه میر: نه! درواغ نه سم ویلای، ځکه چې د درواغو ویل د سړي ایمان خراپوي. اسدالله سروري د غزني وو، او په حربي پوهنتون کې زما ټولګیوال وو. له ما سره په یوه ټولګي کې نه وو خو په یوه پوځي " قسم/واحد" کې وو. که نومړی په هاغه شپه هلته وای نو هرو مرو مې پیژانده. اسدالله سروري هلته نه وو .

حمید مهمند: آیا د کابینې نور غړي لکه سلطانعلي کشتمند، کریم میثاق، دستګیر پنجشیری، سلیمان لایق، اسلم وطنجار، قادر، امام الدین او دغو ته وَرته کسان هلته ول؟

جنرال پادشاه میر: نه! د دغو کسانو نومونه مو چې را واخیستل نه یې پیژنم او نه یې په [هاغه شپه] ددغو کسانو نومونه اخیستل. خو ډیر کسان راتلل، په دیارلسو روسي جیپانو کې راتلل. اسلم وطنجار چې زما ټولګیوال وو او په څلورم زغره وال څواک کې هم له ما سره وو، هلته وو، اسلم وطنجار وو .

حمید مهمند: آیا اسلم وطنجار هم په همدغو وژنو کې موجود وو؟

جنرال پادشاه میر: اسلم وطنجار په وژنه کې موجود وو .

حمید مهمند: جنرال صاحب ډیره مننه ....

جنرال پادشاه میر: اسلم وطنجار حاضروو. دا چې واک یې درلود یا نه درلود، خو هلته حاضر وو. هغه هلته حاضروو. له دې چې په څلورم زغره وال څواک کې وو نو مجبور وو چې وظیفتاً له هغوی سره پولیګون ته راسي. ځکه چې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابینې غړي نا بلده ول، هغوی د څرخي پله پولیگون نه وو لیدلی. اسلم [له سیمې ] سره آشنا وو. او هم له دې امله چې دنده یې په څلورم زغره وال ځواک کې وه هلته وو .

حمید مهمند: جنرال صاحب! له تاسو یوه نړۍ مننه!

جنرال پادشاه میر: له تاسو هم یوه نړۍ مننه



ددغې مرکې د اورېدلو لپاره لاندیني ځایونه کښېکاږئ

۱ .جنرال پادشاه میر او حمید مهمند (لومړی برخه)

http://www.kabulnath.de/Salae_Charom/Shoumare_78/1%20Padsha%20Mir.MP3

۲ .جنرال پادشاه میر او حمید مهمند ( دویمه برخه)

http://www.kabulnath.de/Salae_Charom/Shoumare_78/2%20Padshah%20Mir.MP3

اَخـَـځ:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



http://www.kabulnath.de/Salae_Charom/Shoumare_78/Dr.Siasang-Praesident%20Daoud-6.html

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوومه برخه

۱۲ (امام الدین او د مورچل هملاري يې

الف. هارون په خپل کتاب [داؤود خان د کي جي بي په لوموکې] چې حامد ژباړلې، يادَونې او سَمَوَنې يې ورزياتې کړې او په پيښاور/ پاکستان کې د ميوند خپرندويه ټولنې مرکزله خوا يې د ۱۹۹۷زکال په ديسامبر کې خپور کړې، په ۱۵۲،۱۵۳ او ۱۵۴ پاڼوکې راکاږي چې :

د[ ديارلس سوه او اووه پنځوسم ل کال] د غوايي د مياشتې په اوومې د پنځنۍ 'پنجشنبې' په ورځ داؤود د لاريون په هکله د وزيرانوپه غونډه کې په خبرواترو بوخت وو. دغې غونډې پرته له وخت تيرَونې بله موخه نه درلودله. حال دا چې پوځي تياری بايد نيول شوی وای يا حکومت دې پوځي را اعلان شوی وای .

د پردېو په پارَونې او قوماندې د څلورم زغره وال ځواک د شوبلو کنډک د وطنجار ترمشرۍ لاندې د ارگ د ختيزې دروازې مخې ته مورچل ونيو. لومړی يې د ملي دفاع وزارت ودانۍ تر اور لاندې را ونيوله. ودانۍ يې ښه ور ولړزوله. د دفاع وزير او ستر درستيز لا مخکې له ودانۍ څخه را وتلي ول. بيا يې د ارگ د برج ساعت تر اور لاندې را ونيو. بيا يې د خپلې شوبلې خول د ارگ لور ته ورتاو کړ او ارگ يې تر اور لاندې را ونيوه .

وروسته همدغه شوبله د غوايي د انقلاب د نښې په توگه د يوې ډېرينې پاڼې پرمخ د ارگ مخې ته ودرول شوه .

داؤود خان د پوځ د سراعلی قوماندان په توگه غوښتل د چارو لارښوونه او څار په لاس کې را واخلي. نو د مخابرې دستگاه ته چې د همدغسې شپېو لپاره د ميز پرسرېې وراېښودل شوې وه او له لښکرکوټونو سره به يې نيغ په نيغه اړيکه را نيوله وَرَغی خو ويې لېدل د مخابرې دستگاه له کاره ور لويدلې او چينل يې ور بدل شوی وو. په هماغه شېبه کې يې وويل: روسانو خپل کار وکړ." او وزيرانو ته يې اجازه ورکړه چې خپلو کورونو ته ولاړ شي .

د کورنيو چارو او دفاع وزيران لا مخکې له ارگه وتلي ول. د خپلې کورنۍ غړي يې ترڅنگ راوغوښتل. داؤود نه تسلېمېده او نه يې له پيښې څخه د تيښتې هڅه وکړه. د فرانسې سفارت د ارگ له ديوال سره نښتای وو او کولای يې شواې له سياسي ډگره لاس په سرشي خو په خپلې خاورې کې يې وياړلی مرگ غوره وباله نو ځکه يې د خپلو پښو راټينگولو ته کلکه ملا را وتړله. ويې ويل چې نه غواړي د روسانو په لاس په ژوبڼ کې را بند کړای شي.

کودتاچيانوپه يوه ټانک د بنديانود ساتنې له ختو جوړ ديوالونه را ونړول او دننه ور ننوتل. کودچيانو خپل مشران له داؤودي زندانه د خوشيو په شور او زوږ کې را خوشې کړل. هغوی يې پرشوبلوباندې کښنيول او د کودتا زږه، د راډيو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تالارته يې بوتلل.نويو مشرانو خپل لاسونه د شوبلو له منځه را ايستل او د کابل ښاريانو د ښارونکو سترګو مخ ته يې ورښورول. د ارګ د پوځيانو روحيه ضعيفه وه، ستړي ستومانه او ناهيلي ښکارېدل. نورلښکرکوټونه يې ملاتړ ته را ونه رسيدل نوځکه د هغوی مقاومت هم له پښو را وغورځيد. وروسته له هغې چې د هوايي ځواکونو عملياتو زور واخيست او ارګ د هوايي او ځمکنيو ځواکونو تر اور لاندې را ونيول شو نو په ارګ کې د ولسمشريزې ماڼۍ د ساتندويه ځواک ګارډ مقاومت هم کرار کرار را سوړشو .

د داؤود د کورنۍ غړي يوپه بل پسې ټپيانېدل سردار داؤود ټپي شو او د خپلو دواړو زامنو عمر او خالد مرګ يې په خپلوغبرګو سترګو وليد. د ژوند ډيرې سختې شېبې وې ، داؤود په ډګر کې يوازې راګير پاتې وو. کمونيستان پرارګ ورننوتل هغوی له داؤود سره د لېدلو کتنو غوښتنه وکړه خو داؤود ورسره ونه منله .

درې تنه ټيټ پوړي کودتاچيان د تورن امام الدين ترمشرۍ لاندې د ولسمشر داؤود خان حضور ته ورغلل او له هغه يې وغوښتل چې ور تسليم شي. داؤود خان پرته له دې چې له هغوی څخه د ځان او يا د خپلې کورنۍ د غړود ژغورنې غوښتنه وکړي، د خپلې تومانچې وروستـنۍ ګولۍ يې پرامام الدين نيغ په نيغه ورتشه کړه. اما الدين ټپي شو خو مړ نه سو. د هغه نورو ملګرو ولسمشر تر اورلاندې را ونيو. داؤود چې د افغانستان تر ملي بيرغ لاندې ولاړ وو په شهادت ورسيد. بيا يې نعيم خان او د داؤود خان د کورنۍ ټول نارينه غړي يو په بل پسې ووژل. د کورنۍ ښځينه غړي يې د څرخي پله په محبس کې واچولې. د څرخي پله زندان هغه زاندن وو چې داؤود خان د خپل رژيم د مخالفينو لپاره د قديرنورستاني په وړانديز جوړکړی وو. او په دې توګه يې د دُرانيو د ټبر د پاچاهي ټغر را ټول کړ .

د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د غړو مړي چا ونه لېدل. يوازې د چمن او کويټې اڅکزيو د هغوی د فاتحې دعاګانې په خپلو جوماتونو کې واخيستلې او د هغوی د ارواګانو خوښۍ ته يې

دعا وې وکړې. ويل کيږي چې مړي يې د مرنجان دغونډۍ په لمنه کې خاوروته سپارل شوي دي.

[حفيظ الله] امين د راډيو افغانستان د څپو له لارې جګړن اسلم وطنجار چې د " تورپيکی" په نامه پيژاندل کېده او ډګروال قادر چې د " سپي قادر" په نامه پيژندل کېده، د ويالدو په توګه وګړو ته ور وپيژندل. وطنجار په پښتو او قادرپه دري ژبو د نوي پوځي حکومت را ټينګېدل يې اعلان کړل.

په داسې يوه اړوپيچ کې ولس نه پوهېده چې څه ور پيښ شويدي او څه به ور پيښ شي، د سليمان لايق لانديني شعر د داکټرصادق فطرت ناشناس په غږ او کمپوز په سنديزه توګه را خپور شو .

ســـتره تباره تبره شـــوه ســـتا پر ســـردرو باندې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښــه شـوله چه تیره شـوه سـتا خـوارو بچـو باندې

هـــره تباره پای لـــري خلكـــو، ولســـو باندې

لمـر د عـد الت وخوت سـتا پر جګـو غـرو باندې

خو په هېوادکې له هماغې ورځې را په دېخوا د وینو او اوښکو را بهېدا په را پیلېدلو شوه./.../ څرګنده وه چې یوه خوړلنه ، ناورین وهلې او یوه ویرلړلې راتلونکې د افغانستان د ولس د برخلیک په درشل کې په تېندکو او سترګې په لاره ده . د [سلیمان[ لایق شعر یوه ملي او ولسي شاعر داسې ور ځواب کړ .

لـمــر د آزادۍ پریوت ســـتا پر ســردرو باندې

توره تباره راغــلله ســـتا خــوارو بچــو باندې

له [پاړسي څخه پښتو ته] د ژباړونکي لمنلیک

]ښاغلو لوستونکو!

لاندیني کرښې زما (رحمت آریا) نه دي. دا دهغه له پښتو څخه پاړسي ته د ژباړونکې لیکل شوې کرښې دي چې د دغې لېکنې له لېکوال سره يې مرسته کړې ده او د همدغې لېکنې په پای کې کولای شـئ د پاړسي لېنک هم وګورئ. دغه کرښې مې د لوستونکو د پوهاوي او د بل لېکوال د حق د خوندي ساتلو لپاره په ځای کې را غبرګې کړې[

د۱۹۹۷ زکال د پنځنۍ 'پېنجشنبې' په ورځ " [له پاړسي څخه پښتو ته] د داؤود خان د کې جي بي په لومو کې" د کتاب ژباړونکي حامد د همدغه کتاب په دریمه را ژباړل شوې پاڼه کې داسې را کښلي دي :" دا کتاب لېکوال ، د " الف هارون" په را پورول شوي "مستعار" نوم د پښتو په خوږې ژبې لیکلی چې د هېواد پالنې او مسلمانۍ د څپو په احساساتو کې يې د راتېلونې د لړۍ له بشپړولو وروسته په دیارلس سوه او دریِ اویایم ل کال کې (۱۱۹۴۴زکال) په آسترلیا کې خپور کړی دی ".

نوموړی د کتاب په دیارلسمه پاڼه کې زیاتوي: " ګران لوستونکی دی د ژباړونکي پراوړود خپلې ښېګڼې په اینبودنې، د هغه پاملرنه دې د هغه تیروتنو ته راوګرځوي ، یا دې خپل اند اویا دې د [حامد] د ژباړنې په تړاو خپل څرګند وړاندیزونه او یادَونې راپه ګوته کړي چې کولای شـئ د [کتاب] د ژباړونکي په پته يې راواستوئ: حامد، ډاګي پُست ۱۱٦۴، مرکزي پُسته خانه، صدر، پېښاور، پاکستان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



حامد د " داؤود خان د کي جي بي په لومو کې" یا د ده په ژباړې " داؤود خان در چنگال ک.ج.ب" کتاب د ۱۵۳ او ۱۵۴ پاڼو په لمنلیک کې داسې راکاږي :

"وطنجار ته به له دې امله "توریپکۍ " ویل کېدل چې د هر چا ملګری او وزیر کېده. وطنجار د روسانو له پلوه د یوې بلې کودتا لپاره په پام کې نیول شوی وو. ( د څارکښې د څالې لاسوندي / اسناد لانه جاسوسي، ۱۰۹ پاڼه)، قادر نه خلقی وو او نه پرچمي او د پیسو لپاره یې هر کار ته ملا تړله. د ښوونځي له وخته راهیسې خلکو د "سپي" په نامه پیژانده. ان کله چې په پولند کې سفیر وو، د یو شمیر لوېدیځو هېوادونو له څارکښیزو کانالانو سره یې اړیکه ټینګه کړې وه. پ.۹۳(

د [څارکښیزې څالګۍ د لاسوندونو/ اسناد لانه جاسوسي] لیکوال حامد او الف هارون ته په ډېر درنښت غواړم ووایم چې د محمد اسلم وطنجار او عبدالقادر د [شخصي � ژ] ژوند په اړه لیکل شوي خبرې سمې نه دي. کاشکي هغوی پوهېدل چې اوس هغه ورځې تیرې شوی چې یو وخت به ځېنې کسان د سپي، غوایي، خره، ګیدړ، کاږبل "کفتار" ، زمري، پړانګ اویا نارینه د نجونواوښځمنو په نومونو سپک بلل کېدل .

برسیره پر هغې، داسې بریښي چې د حامد اورېدل شوي خبرې له خپلې سرچینې څخه ور لوخړنې شوي وي، ځکه .....

تاسو به په راتلونکو څپرکېو کې لاندینې سکالو ولولئ

۱ (محمد اسلم وطنجار او عبدالقادر

۲ (له جنرال امام الدین سره ځانګړې مرکه

۳ (د دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریزکال د غوایي د مېاشتې له اوومې مخکې د محمد داؤود د وژنې لپاره تابیاوې په پام کې نېول شوې وې. ددغې تابیا په تـَل کې د کومو کسانو د پښو خاپ لیدل کیږي؟

۴ (د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوندیو تن نامتو غړی چې ژوندی او اوس په افغانستان کې دی، د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ له وژل کېدلو لږ شیبه وروسته ارګ ته راغی، ټول یې له سترګو را تیر کړل او بیا له خونې ووت .

وایي چې همدغه سړی وو چې ویلي یې ول " ..... په پام کې نیول شوې وه چې پرارګ پینځه سوه کیلویي بمب را وچول شي. پوهیږئ چې پینځوسه کیلویي بمب به څه ورکړي ول؟ د ارګ دوړې به یې را په هوا کړې وې "!

..."د عمر له جیبه یې چې څنګ ته مې ولاړ وو، د بنز موټر کیلي یې راوایستله او ویې ویل:' اوس زموږ وار دی چې په موټر کې وګرځو." په همدغه حال کې مې ولیدل چې د کورنۍ یو شمیر غړی څوک تپي څوک روغ رمټ له دروازې تیریږي او میرمن سلطانه نور/ د محمد عمر ماندینه تر ټولو مخکې روانه ده. د محمود غازي کوشنیان زهرا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داؤود مې ولېدل چې دواړه ټپيان شوي ول. کله چې د ميرمن سلطانې نور سترګې پرما ولګېدلې، غلې شوله او دلاس په اشاره يې راته وويل :" ټوله ګناه ددوی ده، دوی چنواري ' چارماري' کړي" هغه د افغانستان د پخواني ټولواک محمد ظاهر شاه خور او د وليعهد سردار احمدشاه خواښې وه، هغې ګومان کاوه چې زه هم د .... له پازوالو څخه يم .

د اَخـَځ سرچېنه:

[http://www.kabulnath.de/Salae_Charom/Shoumare_79/Praesidet%20Daoud-%20Siasang-7.html](http://www.kabulnath.de/Salae_Charom/Shoumare_79/Praesidet%20Daoud-%20Siasang-7.html)

## اتمه برخه

## "پينځمه څپرکی :کمونيستي رژيم"

د محمد کبيرسراج د کتاب [په افغانستان کې د شلمې پيرۍ د دوېمې نيمايۍ پيښې / رويداد های نيمه اخير سده بيست در افغانستان/ لومړی چاپ، فرانکفورت ۱۹۹۷ز کال، له ۱۰٦ تر۱۱۷ پاڼې پورې] داسې راغلي دي :

د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د ۲۷ په سهار د جګړن محمد اسلم وطنجار تر بولندې لاندې زغره وال ځواک له لښکرکوټې را ووت او د کابل په لور را وخوځېد. د څلورم زغره وال ځواک لوی بولندوی ډګروال محمد سرور نورستاني چې د جمهوري دولت يو ملګری وو او په ۱۹۷۷ زکال کې د جنرالۍ رتبې ته يې سترګې څارلې خو بريالی نه شو او يوې په پلمې يې ځان په ناروغۍ اچولای او ماسکو ته تللی وو، چې په دې توګه د تيريو اويرغلونو د اندوخر ډګر يې کمونيستانو ته تش ور پرې اېښی وو .

ويل شوي چې " د ځانغوښتونکو ديکتاتورو رژيمونو رنګونه د پوځ له مرستې پرته يوازې د ولس د ولسي پاڅون له لارې ناشونې ده نو ښايي داسې شېبه به راسي چې پوځ د ديکتاتور له ملاتړه لاس په سرشي، ځکه چې پوځ نه يوازې د خپل ځان د ساتلو تر څنګ نه غواړي هېواد يې د ويشنې او کورنۍ جګړې له ګواښ سره مخامخ شي او د ديکتاتور له لاسه په تنګ شوی ولس هغه مهال پاڅون کوي چې د پوځ له ملاتړه ډاډ تر لاسه کړي. " کورنيو کمونيستانو ځانونه له پوځيانو سره غاړه غړۍ او همغږي کړي ول .

په هغې شيبې کې څلورم زغره وال ځواک له څرخي پله څخه د کابل پرلور په ګړندۍ راروان وو، د دفاع وزير ډګر جنرال غلام حيدر رسولي له لوی درستيز ډګرجنرال عبدالعزيز او تورنجنرال روکۍ درېواړه ددفاع د وزير په دفتر کې ناست او په خبرو بوخت ول چې ناڅاپه د تلفون زنګ راغی. ولسمشر وو او ويې پوښتل : " د دفاع وزير صاحب

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



! ځلورم زغره وال ځواک دې د چا په امر مرکز ته رابللی دی؟ " د دفاع وزیر د دغسې امر له ورکړې بې خبري څرګنده کړه او ویې ویل : " ځلورم زغره وال ځواک ته په دې اړه کوم امر نه دی ورکړل شوی "

له دغو پوښتنو او ځوابونو وروسته د دفاع د وزرات په انګړ کې اندیښنې او خواشینۍ را خپرې شوې. د دفاع وزیر پرته له ځنډه د خوځښت یا حرکاتو رئـیس یحیی نوروز او د ښاري رَمبـَکۍ " انظباط " بولندوی جګړن خان محمد د ټیلیفون له لارې ځانته را وبلل .

ددغو دوه تنو له را غوښتلو وروسته، ددفاع وزیر له جنرال نو روز څخه وپوښتل : " ښار پلو ته د ځلورم زغره وال ځواک د خوځښت بولنده تا سو ورکړې ده؟ " له دې چې جنرال نوروز هم له دغې بولندې څخه بې خبري څرګنده کړه نو د سترګو په رپ کې یې پینځلسم زغروه وال ځواک چې د څرخي پله په سیمې کې د ځلورم زغره وال ځواک تر څنګ پروت وو، تلفون وکړ او ددغه ځواک بولندوی ډګرمن محمد یوسف ته یې امر ورکړ چې د ځلورم زغره وال ځواک مخه دې ونیسي او دده له پلوه دې ورته ووایي چې ښار پلو ته یې د راتګ ته اړتیا نسته .

د تلفون له بلې غاړې د پینځلسم زغره وال ځواک بولندوی ځواب ورکړ: " زموږ ځواک د ځلورم زغره وال ځواک له پلوه را چاپیره او محاصره شوی دی او زموږ له لاسه هېڅ څه نه کېږي چې ویې کړو." کله چې ددفاع وزیرله دغې خوا نا هیلی شو نو حربي پوهنتون ته یې زنګ وواهه او د حربي پوهنتون بولندوی تورنجنرال شاهپور ته یې وویل چې د ځلورم زغره وال مخ ته دې را ووځي او د دفاع د وزیر امر دې د هغوی تر غوږونو ور ورسوي .

د حربي پوهنتون بولندوی داسې بخښنه وغوښتله : " ځلورم زغره وال ځواک په بیړه له دغه ځایه تیر سو او زموږ له ګوتو وتلای دی "

د دفاع وزیر د دغو ګډو وډو اوبې سر اوپایه خبرو له لاسه منګ پاتې وو، او د وروستني چارې لپاره یې د ښاري رمبکۍ " انظباط " بولندوی خان محمد ته چې دده په دفتر کې وو امر ورکړ چې په خپله دې د څرخي پله پر لور وخوځیږي او ځلورم زغروال ځواک ته دې چې هر چیرې رسیدلی وي، لارښوونه وکړي چې بیرته خپل لښکر کوټ ته ولاړ سي .

جګړن خان محمد له دغه ځواک سره د یکه توت په سیمه کې مخامخ شو. او د دفاع د وزیر امر یې ورته ورساوه. هغوی نوموړی د جیپ له موټره را کښته کړ لاس او پښې یې پرې وتړلې او له هغې ورځې تر ننه پورې ورک دی .

لږه شیبه نه وه تیره چې د ولسمشرۍ د ماڼۍ د ساتندویه ځواک " ارګ " بولندوی ډګرمن صاحبجان په بیړه د دفاع د وزیر دفتر ته راغی او ویې غوښتل چې له روان اړوپیچه ځان خبر کړي. د دفاع وزیر نوموړي ته امر وکړ چې په خپلې دندې دې ودریږي او د ولسمشرۍ د ماڼۍ د ساتنې او دفاع سمبالتیا دې تر لاس لاندې ونیسي. هغه ډاډ ورکړ چې د دغه کار لپاره بشپړچمتوالی لري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کابل ته له را رسیدلو ورسته څلورم زغره وال ځواک درې خواوو ته د یرغل مخه را تاو کړه: یو کتار د پوځي هوایي ډګر پر لور ورغې او هلته د هوایي ځواکونو د درستیزوال ډګروال عبدالقادر په مرسته په دې بریالي شو چې د هوایي ځواکونو بولندوی ډګر جنرال محمد موسی او د هغه مرستیال تورنجنرال عبدالستار ونیسي او ویې وژني. د هوایي ځواکونو بولنده ډګروال محمد قادر په خپله په لاس کې واخیستله. دویم کتار د بالا حصار پر خوا ورتاو شو او هلته یې د کوماندو ۴۴۴ قطعه را چاپیره او بې وسلې کړه. دریم کتار د جګړن محمد اسلم وطنجار تر بولندې لاندې د ښار د منځ په لور ور وخوځېد او ددفاع د وزارت مرکز یې تر برید لاندې ونیو .

د غرمې پوره ۱۲ بجې وې چې د دفاع د وزارت په ودانۍ لومړۍ مردکه ور ومښتله. د دفاع وزیر او لوی درستیز چې سپینې یې تښتېدلې وې "وارخطا" د بولندې له ځایه را ووتل او د ودانۍ د شا پلو دروازې له لارې یې غوښتل ځانونه د پوځ یوه لښکر کوټ ته ورسوي. په همدغې شیبې کې د دفاع د وزارت ټول کار کوونکي په بیړه له ودانۍ را ووتل او د ودانۍ تر شا را ټول شول. هرچا له یو بل څخه پوښتل چې : " څه خبره ده ؟ " هېڅ څوک نه پوهېدل چې څه ور پیښ شوي دي .

ددغه اخ او ډب په ترڅ کې د اردو د تشکیلاتو رئیس برید جنرال محمد ذکریا ابوي د دفاع وزیر ته ورنېږدې شو او ویې ویل: " وزیر صاحب ! تاسو باید ژر ځان قوای مرکز ته ورسوئ." د دفاع وزیر او لوی درستیزځانونه جیپ موټر ته ورسول ، په جیپ کې سپاره شول او د دفاع د وزارت د ودانۍ د شا له لارې د اتمې فرقې په لور وخوځېدل. د لارې په اوږدو کې یې یو کوشنی ټکر هم وکړ خو په دې بریالي شول چې ځانونه اتمې فرقې ته ورسوي .

د ولسمشر د ماڼۍ ساتندویه ځواک په ټینګه مقاومت کاوه او د ارګ د ماڼۍ پر واټ یې د غځېدلي سړک په اوږدو کې یې د شوبلې ضد په توغندیو یو شمیر شوبلې له منځه یووړې او د پلی ځواک یرغل یې په میرانې په شا و تمباوه .

د سرغړوای یرغل ګر ځواک په خوب کې هم نه راتلل چې ګڼې هغوی به له دغسې یوې پیاوړې مدافعې سره مخامخ سي نو له دې امله یې له هوایي ځواک څخه د مرستې غوښتنه وکړه. ډګروال عبدالقادر چې د هوایي ځواک سر تر پایه بولنده یې په لاس کې اخیستې وه په بیړه په یوې چورلکې کې د بګرام د پوځي هوایي ډګر په لور ولاړ او هلته یې د هغه هوایي ډګر بولندوی ډګروال محمد رحیم بندي کړ او د هوایي ځواک د الوتنو بولنده یې په غاړه را واخیستله. هغه د هوایي ځواک کار کوونکو ته یوه لنډه وینا هم وکړه او څرګنده یې کړه چې د کودتا ځواک یې په لاره اچولی خو په دوه وو ځایونو کې مقاومت روان دی او دغه مقاومت دې د هوایي ځواکونو له لورې دړې وړې شي. ارګ او اتمه فرقه .

د ورځې پینځلس بجې (د ماسپښین درې بجې) د " میګ" الوتکې را والوتلې او د ارګ او اتمې فرقې سیمې یې تر ټینګو بمباریو او د توغندیو تر اور لاندې راوستلې چې د اتمې فرقې مقاومت یې په لنډ وخت کې ور دړې وړې کړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د ولسمشر د ماڼۍ ساتندویه ځواک چې تر شپږو بجو پورې یې مقاومت کاوه، ونه شو کولای تر هغه پورته نور مقاومت وکړي او غلي شول .

د ملي دفاع وزارت د قوای مرکز او مشرقي ځواکونو ته امر ورکړی وو چې د کابل په لور را وخوځیږي. د قوای مرکز له لوري اتمه فرقه د تورنجنرال نظیم گل خان تر بولندې لاندې له دوه وو خوا وو د کابل شا او خواته را رسیدلې وه چې د هوايي ځواکونو تر اور لاندې ونیول شوه او دړې وړې یې کړه .

د مشرقي یولسمه فرقه د تورنجنرال محمد یونس تر مشرۍ لاندې د جلال آباد له لښکرکوټه را ووتله او د کابل په لور را روانه وه او د دورنټې د اوبوبند ته لا نه وه رسیدلې چې ددغې فرقې کمونیستو افسرانو سرغړاونه او بغاوت وکړ او تورنجنرال محمد یونس او د ننگرهار د فرقې درستیزوال یې ووژل، د فرقې بولنده یې په لاس کې راونیوله او ځواک یې بیرته لښکرکوټ ته را وباله .

په دې توگه تر اتلسو بجو (د مازیگر شپږو) پورې نورداسې مقاومت پاتې نه شوچې د جمهوري دولت په گټه دې جگړه وکړي. خو د ارگ دروازې لا تر دغه دمه نه وې پرانسیتل شوې .

دا ځل د الوتکو پرځای ، چورلکو ارگ تر بمبارد لاندې ونیو او په توغندیو او ماشینگڼو یې پرارگ هوايي یرغل وکړ. د هوايي ځواک فعالیت او نښه ویشتنې ډیرې په ځیر او بریالې وې. له همدې امله یو شمیر لویدیځو کتونکو چې دغه پیښه یې له نیږدې په سترگو لیدله ویل چې چورلکې شوروي پیلوټانو چلولې. د هغوی دغه شک او شوپیان حقیقت نه لري. ټولې الوتکې او چورلکې افغانو پیلوټانو چلولې .

د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې د ۲۷ نېټې د پېښې په اړه د جټ د الوتکو د پیلوټ " محمد عثمان وَلید" په وینا چې د بگرام په هوايي ډگر کې یې دنده تر سره کوله، د روانو پیښو له لړې څخه په لاندې ډول کیسه کوي:

"د هوايي ځواکونو درستیزوال ډگروال عبدالقادر سره له دې چې د هوايي ځواکونو لوی بولندوی جنرال موسی خان نوموړی له هوايي ډگر څخه له هر ډول الوتنو څخه منع کړی وو، د ورځې په لس نیمو بجو په یوې چورلکې کې د بگرام هوايي ډگر ته ولاړ، د بگرام د هوايي ډگر بولندوی ډگرمن غلام سخي یې بندي کړ او بولنده یې په خپل لاس کې را واخیستله. نوموړي د هوايي ډگر کارکوونکو ته د کودتا له کېدلو خبر ورکړ او په قرغې کې میشتې پر اتمې فرقې ، اوومې فرقې او ارگ یې د یرغل نوي بولندې ورکړې چې نوموړې سیمې د کودتا په گټه وټکوي .

په همدغې ورځ د مېگ ۲۱ الوتکود الوتلو دوه تنه روسي ښوونکي او د سو ۷ الوتکو د الوتنو دوه تنه ښوونکي د بگرام په هوايي ډگر کې ول او روسي پیلوټ په هېڅ ډول د بگرام په هوايي ډگرکې نه ول. لاندینیو افغان پیلوټانو په الوتنو کې برخه اخیستلې وه :

د سو ۷ جټ الوتکې : حکیم، شیر محمد، گلیار او رحیم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د میګ ۲۱ له الوتکې : میر غوث الدین، سنت الله ، تیمور، عبدالرؤوف، شرف الدین، کافي خان ، مختارګل، دوران خان او وهاب

شوروي کارپوهانو او سلا کارانو چې د افغانستان په ځواکونو کې یې دنده تر سره کوله ددغه هیواد د نورو سلاکارانو په ډول اجازه نه درلودله چې په جګړه ییزو الوتکو یا عملیاتو کې دې برخه واخلي. دغه بندیزونه د شوروي د حکومت له پلوه د تر سره شویو تړونونو پربنسټ لګول شوي ول .

د دفاع وزیر او لوی درستیز چې په جیپ کې ناست ول او په ګرندیتوب یې موټر چلاوه ، له یوې ترافیکي پیښې سره مخامخ شول خو له هغې سره سره یې ځانونه اتمې فرقې ته ورسول. هغوی د کابل په لور د خوځېدلو ځو ځو امرونه ورکړي ول خو ځوک دې ته چمتو نه شول چې د هغوی بولنده ومني. یوازې د ډګرمن محمد علي تر مشرۍ لاندې توپچي غنډ د ښار په لور را وخوځېد او له دې چې د پلي او هوايي ځواک له مرستې پرته یې نه شوای کولای نو خواره واره شول .

بولندوي ډګرمن محمد علي د توپچي غنډ برخلیک د غنډ په غاړه ور پرېښود، او په خپله د چمتلې د دښتې له لارې و تښتېد او کابل ته راغی او په خپل کور کې پټ شو. وروسته کمونیستانو هغه را وموند او سر یې په لاس ورته ورکړ .

په هغې ورځ د اتمې فرقې بولندوي جنرال محمد صدیق ( چې د تور صدیق په نامه پیژندل کېده) په مزارشریف د قطعې په تفتیش بوخت وو، د هغه په استازیتوب یو تن ډګروال د فرقې پازوالي په غاړه درلودله چې لا له مخکې له کمونیستانو سره غاړه غړې شوی وو. نوموړي ډګروال ددفاع وزیر او ستر درستیز ته خبر ورکړ چې د سترګو په رپ کې دې له دغې سیمې ځان ورک کړي که نه دواړه به ونیسي او وبه یې وژني .

د دفاع وزیر او لوی درستیز په نومیدۍ له اتمې فرقې را ووتل او له پټولارو یې د قوای مرکز په لور د تاج بیګ د ماڼۍ خواته مخه کړه. په دغه ځای کې د قوای مرکزدرستیزوال تورنجنرال عبدالعلي وردک د هغوی ښه راغلاست وکړ. [هغوی] غونډه وکړه او د ځواکونو د راتلونکي خوځښت او د اوومې فرقې د ملاتړ یا نه ملاتړ په اړه یې خبرې کولې. په همدغې شېبه کې ول چې ناڅاپه د تاج بیګ ماڼۍ هم د الوتکو تر هوايي بمبارد لاندې راغله .

له مهتاب قلعې څخه[ د جمهوري انقلاب د ملګري] ډګرمن خلیل الله بابکرخیل تر بولندې لاندې د توپچي ځواکونو اور پیل شو چې له امله یې د ماڼۍ پورتنۍ برخه را ونړېدله او په ماڼۍ کې اور بل شو. د دفاع وزیر، ستر درستیز او جنرال عبدالعلي له لښکرکوټه را ووتل او د چهار دهي په لور وخوځېدل. په ماڼۍ کې نورو پاتې افسرانو او سرتیرو هم پښې دوه کړې او د ماڼۍ تر شا رغیاڼې کې د توپچي د اور له ویرې یې ځانونه پټ کړل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دفاع وزیر له خپلو دوه تنو ملګرو سره د د لکشا د ماڼۍ د باغبانباشي عبدالمجید کورته چې د خپلوانو له ډلې څخه يې وو وَرَغی او ويې غوښتل يې شپه به همدلته تیره کړي او سبا سهار وختي به يوې خواته په تېښته وتښتي. خو له بده مرغه د باغبانباشي زوی دغه خبره کودتاچي ځواکونو ته ور ورسوله ، هغوی راغلل او درې واړه يې ونيول او د څرخي پله په پولیګون کې يې پرته له محکمې ووژل .

ارګ لا تر اوسه په خپل بې وسې مقاومت ته دوام ورکاوه. په ارګ د څلورم زغره وال له يرغل څخه وروسته محمد داؤود خان د خپلې کورنۍ ټول غړي ارګ ته را وغوښتل. هغوی د ارګ د بڼ له لارې د ګلخانې په ماڼۍ کې راټول شوي ول .

هغه وزيران چې د ګلخانې د ماڼۍ په غونډه کې را ټول شوي ول محمد داؤود خان ته سلا ورکړه چې له ارګه دې ووځي او د قوای مرکز يو لښکر کوټ ته دې ولاړ شي او ټوله بولنده دې په لاس کې ونیسي. محمد داؤود خان دغه سلا ومنله .

يو تور والګا موټر د ارګ د ګلخانې ماڼۍ ته را نیږدې شو. ولسمشرله دروازې را ووت او غوښتل يې چې په موټر کې کښيني. زوی يې محمد عمر جان ورپسې ورغی. په دغې شېبې کې د ګارد د قطعې له خوا د دوی پر لور ډزې وشوې او د هغوی پام يې ځانته را واړاوه. عمر جان ټپي شو او ولسمشر بيرته د ګلخانې ماڼۍ ته ننوت. او ويې ويل : " نه! هر څه پای ته رسيدلي دي. ددغو ټولو بد مرغيو پازوالي زما په غاړه ده. هرڅوک چې نه غواړي و وژل شي نو د ماڼۍ شاتيني تالار ته دې ولاړ شي "

وروسته وويل شول چې پر داؤود خان او عمر جان د کلاشنيکوف ډزې د داؤود خان د ډيرو د ډاډ وړصاحبمنصبانو له ډلې څخه د يوه تن صاحب منصب له پلوه وشوې .

د هوا په را تیاره کېدلو د ارګ د مقاومت ستنه هم ورو ورو را نړېدله او د تسلیمېدلو نښې را ځرګندېدلې. له يرغلګر ځواک سره له پوهاوي او جوړ جاړي وروسته د ارګ دروازه هم پرانيستل شوه او د کودتا شوبلې پر ارګ ور ننوتلې. لودسپيکرونو له سردار محمد داؤود خان او محمد نعیم خان څخه غوښتل چې پرته له آړ يا شرطه دې ځانونه دوی ته ور وسپاري. دا هغه شېبه ده چې پرته له سردار محمد داؤود خان، د هغه ميرمنې او دوه درې تنه نور، د کورنۍ پاتې غړي د سردار محمد نعیم خان په ګډون د ځمکنيو او هوايي ډزو له امله ټول ټپيان شوي او په وينو کې لمبېدل. دوه درې تنه ماشومان هم وژل شوي ول .

شوبلې د ګلخانې د ماڼې پوړيو ته نيږدې شولې او د شوبلو له منځه يو تن تورن او در تنه بريدګي را ووتل او د ګلخانې د ماڼۍ په لوريې يرغل وکړ. [هغوی] د داوود خان په لېدلو هک پک شول چې لا تر اوسه هم ژوندی او په دوه وو پښو ولاړ دی او ټپيان پر ځمکه پراته ول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تورن امام الدین پر داؤود خان خوله را خلاصه کړه او چیغه یې وکړه: " مقاومت ګټه نه لري، تسلیم سه. سردار محمد داؤود خان ورته وویل : " ستاسو سر لاربښود را ته را ولیږه چې له ما سره خبرې وکړي. " تورن بیا وویل:" موږ ټول سرلار ښوونکي یو. هر څه چې لرې ما ته یې ووایه او یا تسلیم سه "!

محمد داؤود خان نور زغم له لاسه ورکړه او په لاس کې یې تومانچه وه او پر همدغې تومانچې یې پر تورن امام الدین ډزې وکړې. تورن له دغسې یوه سړي څخه چې هر څه یې له لاسه ورکړي ول د ډزو هېله یې نه درلودله نوپه خپل کلاشنیکوف یې په پټو سترګو راتاو او داسې یو ړوند اور پردوی ور بل کړ چې نیم ژوندي کسان یې هم ټول له یوې مخې ور ووژل .

په دغې ټولیزې ړندې وژنې کې دغو کسانو خپل ځانونه له لاسه ورکړل: ولسمشر سردار محمد داؤود خان ، د کورنیو چارو د وزارت کالخوای ' سر پرست' او د ولسمشر ځانګړی استازی سردار محمد نعیم خان ، شهزادګۍ زینب د محمد داؤود خان ماندینه او د محمد ظاهرشاه خور،شهزادګۍ بلقیس د تیمورشاه آصفي ماندینه او د محمد ظاهر شاه خور، محمد عمر د محمد داؤود خان مشر زوی، ویس د محمد داؤود خان زوی، خالد د محمد داؤود خان زوی، شینکۍ د محمد داؤود خان لور، زرلښته د محمد داؤود خان لور، شیما د ویس میرمن د محمد داؤود ننږور، هېله د عمر جان لور د محمد داؤود خان لمسۍ، غزال د عمر جان لور د محمد داؤود خان لمسۍ، حارث د ویس زوی، ایګل د ویس زوی، د محمد نعیم خان لور زرمینه اود عبدالعظیم غازي ماندینه، د داؤود خان خور عایشه، د شاه محمود خان غازي مشر زوی نظام الدین، د عبدالعظیم غازي لور صفورا، عبدالاله د ولسمشر مرستیال او د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیرنورستاني

هغه کسان چې ټپیان خو وروسته له درملنې ښه شول؛ دوی ول: د عمر جان میرمن ګلالۍ د عبدالله خان ملکیار لور، د عبدالعظیم غازي لور خورشید، د نظام الدین غازي لور زهرا د نظام الدین غازي زوی داؤود، د تیمورشاه آصفي لور زهره، د تیمورشاه آصفي زوی توران او د عایشې پرستاره شیرین ګل .

په هغې ورځ د ګلخانې په ماڼۍ کې د وژل شویو او ټپیانو ورکړل شوې شمیره ټول ټال اووه ویشت تنه ښودل شویده. د سردار محمد نعیم خان میرمن زهره جانه ، تیمورشاه آصفي او یو شمیر وزیران د ارګ د ناتار په هغې ورځ وکولای شول ځانونه ژوندي وساتي .

د داؤود خان د کورنۍ دوه تنه نور غړي عبدالله روکی او صلاح الدین غازي له دغې پېښې وروسته د کمونیستانو له پلوه اعدام شول. احمد علي خان سلیمان د څرخي پله په زندان کې مړ سو. څو وخته وروسته سید وحید عبدالله چې ددفاع د وزارت تر ځمک لاندې خونو کې زنداني وو د څرخې پله پولیګون ته ولیږدول شو او هلته یې اعدام کړ. د یوه خبریال د یوې پوښتنې په ځواب کې نورمحمد تره کي داسې وویل: " سید وحید عبدالله چې مقاومت کړی وو، په مقاومت کې وژل شوی دی. " دا هغه ښکرور درواغ ول چې هېڅ چا ونه منل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شوبلو هغه کتار چې د هوايي ډګر پر لورې خوځېدلی وو سیمه یې را چاپ کړه او بولنده یې ټوله ډګروال عبدالقادر ته ور و سپارله. بیا د کورنیو چارو د وزارت په لور کتار را تاو شو د ژاندارم او پولیس لوی مشر جنرال محمد طاهر خان یې وواژه او د کورنیو چارو وزارت یې چې وزیر یې ورک او پټ وو ، په خپله ولکه کې راووست. بیا یې د کابل ولایت د توقیف زندان را خلاص کړ او د خلق او پرچم مشران یې را آزاد کړل .

د کابل له توقیف ځخه په را آزادیدلو ، حفیظ الله نیغ په نیغه راډیو افغانستان راغی اوله هغه ځایه یې د کودتا د څار او لارښوونې بولنده په لاس کې واخیستله. نور پاتې کمونیست مشران د کابل په هوایي ډګر کې د لنډ مهال لپاره میشت شول او سترګې په لاره ول چې د کار پایلې به چیرې ورسیږي (ځکه) لا تر اوسه زړونه یې ډاډه نه ول چې کودتا به بریالۍ شي که نه .

حفیظ الله امین د کابل راډیو په ودانۍ کې لنډمهاله پوځي سلاکاره ډله را جوړه کړې وه او له هغه ځایه یې د پلازمېنې او نورو ولایتونو د پوځ ټولو لښکر کوټونو، زغره والو او هوایي ځواکونو ته بولنده ورکوله. ډګروال عبدالقادر، جګړن محمد اسلم وطنجار او جنرال محمد رفیع له هغه سره له نیږدې همکاري کوله .

د ۱۹۷۸ د اپریل د مېاشتې د ۲۷ نېټې د ماښام پوره ۷ بجې وې چې د حفیظ الله امین غږ له راډیو را پورته شو. هغه محمد اسلم وطنجار او عبدالقادر د راډیو له لارې معرفي کړل او له هغوی یې وغوښتل چې د پوځي سلاکارې ډلې خبرتیا ولولي .

اسلم وطنجار نوموړې خبرتیا په پښتو او عبدالقادر په دري ژبې ولوستله. هغو د ټولو وګړو تر غوږونو ورسوله چې د تېرني جمهوري رژیم ټغر ور ټول شوی او له ولسه یې وغوښتل چې په سړه سینه دې کښیني او په خپلو کارونو او ورځنیو چارو دې بوخت وي .

په سبا ورځ یې د ۱۹۷۸ زکال د اپریل د مېاشتې په ۲۸ نېټې د راډیو له لارې یوه بله خبرتیا خپره شوله او ولس ته یې خبر ورکړ چې داؤود خان ، محمد نعیم خان او عبدالاله د مقاومت له امله ووژل شول ، (هغوی) په همدې ترڅ کې د جمهوري رژیم ټولو جنرالانو او وزیرانو ته امر وکړ چې د دفاع د وزارت ودانۍ ته دې راشي اوګواښ یې وکړ چې که څوک را نه شي نوله سرغړاوي سره به انقلابي چال چلند وشي .

د همدغې بولندې پربنسټ ول چې وزیران او جنرالان د دفاع د وزارت ودانۍ ته راغلل او د دفاع د وزارت ترځمکې لاندې خونو کې تر یوې مودې پورې د " مېلمنو زندانیانو په توګه" تر څار او پلټنې لاندې ونیول شول. له هغې ډلې څخه اووه تنه خوشې او په خپلو کورونو کې تر څار لاندې ونیول شول. د ۱۹۷۸ز کال د مې د مېاشتې په دریمې شپېرتنه یې پولیګون ته ولیږل شول او ځای پر ځای اعدام شول نور پاتې کسان د دفاع په وزارت کې تر څار لاندې ونیول شول او وروسته د څرخې پله زندان ته د زندانیانو په توګه واستول شول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په راتلونکو څپرکېو کې به تاسو لاندې سکالو ولولئ :

١ .محمد اسلم وطنجار او عبدالقادر

٢ .له جنرال امام الدين سره ځانګړې مرکه

٣ .د ديارلس سوه او اووه پينځوسم کال د غوايي د مياشتې له اوومې نېټې څخه مخکې د محمد داؤود د وژلو تابيا هم نېول شوې وه. د کومو کسانو د ګوتو خاپ ددغې تابيا په انځور کې ښکارې؟ نوربيا

د اَخـَځ سرچينه:

http://www.kabulnath.de/Salae_Charom/Shoumare_79/Praesidet%20Daoud-%20Siasang-7.html

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## نهمه برخه

نسیم خوشګوار...

د " شهید ولسمشر څېره او چال چلند /سیما و کردار رئـیس جمهور شهید" د کتاب په ۱۱۵ ، ۱۱٦ او ۱۱۷ پاڼو کې چې د (خان آقا سعید له پلوه راټول او سمبال شوې او د سعید په خپرندویه مرکز پېښاور /پاکستان کې په ۲۰۰۳زکال کې خپور شوی) داسې راغلي دي:

"مخکې مې د همدغې سکالو [ د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژنې ځرنګوالي په اړه د افغانستان د اسلامي دولت د هنرپالانو د ټولنې د لوی مشر ښاغلي محمد نسیم خوشګوار یادونه د " هغه راز چې فایق افشأ نه کړ/رازې که فایق افشأ نه کرد" په کتاب کې راوړي ول. پ. ۱٦۲ /.../ او دا دی هغه دلته ګرانو لوستونکو ته ډالۍ کوم .

د دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریز کال د غوایي د مېاشتې د اوومې له کودتا وروسته د حمید روغ د وړاندیز پربنسټ د هېواد د ورځپاڼې د پروپاګند ضد په څانګه کې په دریم بست کې په کار بوخت وم. یوه ورځ چې هوا ښه توده وه او ډاډ لرم چې د غبرګولي مېاشت وه د شهرنو په پارک کې مې ګام واهه چې والګا ګړندي ناڅاپه برک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وواهه. له دې چې په هغو ورځو کې نیول نیول زیات ول، و بیریدلم او د سړک گوښې ته ودرېدم. د موټر له منځه لومړي برېدمن انجنیر حفیظ الله میرکي را ته غږ وکړ، له دې چې نوموړی زما اشنای وو نو له ویرې خلاص شوم .

میرکي راځخه وپوښتل: " څه کوئ؟" ورته مې وویل:" هېڅ همداسې چکر وهلو ته راغلی یم" هغه خپل موټرته دننه ور وبللم چې کښېنم. د وزیراکبرخان د روغتون په لور وخوځېدلو. له هغه ځایه تیر شوو او د پوځ د څلورسوه بستریز روغتون په لور مو و دروړل. په دې ترڅ کې یې وویل : " تاسو خو خبریال یاست. راځئ چې د یوه اتـل لېدلو ته ورسو. ښایي تاسو ته به په زړه پورې شیان ولري".

په روغتون کې یوې خونې ته ور ننوتلو. د چپرکټ پرسر د منځنۍ ونې لرونکی په گچ کې را تاو شوی لاس یې په غاړه یوځوان پروت وو. میرکي هغه ته ور وپیژندلم او هغه یې د داؤود خان د وژونکي په نوم راته را یاد کړ، که څه هم د هغه د کرغیړن مخ په لېدلو پښېمانه وم، خو بیا هم په سرې سېنې مې له هغه [امام الدین] د مالوماتو غوښتنه وکړه. نوموړي وویل :

د غوایي د اوومې په شپې موږ د بالاحصار د نیولو او د محمد داؤود د ولسمشرۍ له ماڼۍ سره د مخامخ جگړې لپاره په دنده و گومارل شولو. کله چې ارگ ته ورسیدلو، د الوتکو او د هغوی د پرله پسې بمباریو اود شوبلو د اور د مردکو د گرزا غږ هرې خوا ته خپور وو او اخ او ډب په ښه کرس روان وو. د شپې په نیماییو کې بریا زموږ په خوا شوه او د ولسمشرۍ پرماڼۍ ورننوتلو .

په هغه وخت کې زموږ د قطعې بولندوی زما ټولي ته د داؤود خان د نیولو دنده ور وسپارله. زه او زما سرتیري د گلخانې د ماڼې په لوري پرمخ ولاړو، د هغه ځای کړکۍ او پنجرې مو ترپرله پسې ټینگ اور لاندې ونیولې او ماڼۍ ته ور ننوتلو .

چوپه چوپتیا خپره وه. خپلو بدرگه سرتیرو ته مې وویل چې مورچل ونیسي او په پرله پسې ډول دې اور ته دوام ورکړي. ما له ځان سره یو لوډسپیکر راوړی وو او د هغه له لارې مې خپلو سرتیرو ته دنده ورکوله .

په خونې کې د لودسپیکر له لارې مې سرداؤود ته وینا ور وارَوله او ومې ویل چې سردار داؤوده ! ځان د پوځي سلاکارې ډلې په امر راوسپارئ. په همدغې شېبې کې د خونې د یوې ستنې "فیلپایې" له شا یې په خپل ویروونکي غږ کې راته وویل: " زما په قاموس کې د تسلیمېدلو توری ځای نه لري. پرته له خدایه بل چا ته نه تسلیمیږم." او د اور امر یې ورکړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په موږ له هر لوری ډزې وشوې. د ښځو په لاسونو کې هم توپک ول، هغوی هم ډزې کولې. زموږ شمیر زیات وو، زموږ د ډزو له امله یوه ښځه چې د نیږدې کړکۍ له اړخه یې ډزې کولې ، په ځمکه را پریوتله خو په داؤود خان یې هیڅ اغیزه نه کوله .

یو وخت زما پام شو چې د هغه په لاس کې یوه سپینه تومانچه ده او په هماغې تومانچۍ د ستنې له شا په ما ډزې کوي، زما اوږه یې لږ را ټپي کړه. توند اخ او ډب روان وو .

کله چې د ځار په حالت کې وم ناڅاپه زما پام شو، ومې لېدل چې ککره یې د ستنې له شا راته ښکاره شوه. هغه ډزې وکړې، ما هم ډزې وکړې. زما د کلاشنیکوف ټول مردکي د هغه پر ککرې ومښتل، د ککرې کوپړۍ یې پورته په هوا والوتله او پر ځمکه را پریوت .

ما د بې مزې (بې سیم) له لارې ددغې بریا زیری خپل بولندوی ته ورکړ او بیا بې هوښه شوم. کله چې په هوښ راغلم، ومې لېدل چې دلته یم ".

تر بیرغ لاندې وژل کېدل؟

الف: هارون د " داؤود خان د کې جي بي په لومو کې" ، د پاکستان په پېښاور کې د ۱۹۹۷زکال د دسامبر په مېاشت کې د میوند د خپرندویه ټولنې د چاپ د کتاب په ۱۵۲، ۱۵۳ او ۱۵۴ پاڼو کې د حامد په ژباړې، سمونې او یادَونې داسې لیکي :

داؤود خان د [دیارلس سوه اووه پنځوسم لمریز کال] د غوایي د مېاشتې په اوومې د پنځنۍ "پنجشنبې" په ورځ د وزیرانو په غونډه کې د لاریون په تړاو په خبرو اترو بوخت وو. دغې غونډې د وخت له تیراوي پرته بله هیڅ گټه نه درلودله، باید پوځي چمتوالی نیول شوای وای او یا دې حکومت پوځي شوی وای .

د غرمې په مهال د پردیو په پارَونې او بولندې د وطنجار شوبلې او د هغه تر سر مشرۍ لاندې د ځلورم زغره وال ځواک نورو بدرگه شوبلو د ولسمشرۍ د ماڼۍ لویدیزې دروازې ته مخامخ مورچل ونیو. په لومړي سر کې یې د ملي دفاع د وزارت ودانۍ تر اور لاندې را ونیوله. ماڼۍ و لړزېدله. وزیر او لوی درستیز یې لا مخکې له ماڼۍ وتلي ول. بیا یې د ولسمشرۍ د ماڼۍ د ساعت کلا تر اور لاندې ونیوله. بیا یې د خپلې شوبلې خـُول د ارگ لورې را تاو او ارگ یې تر اور لاندې ونیو .

وروسته همدغه شوبله د غوایي د انقلاب د نښې په توگه د یوې ډېرینې پاڼې پرمخ د ارگ مخې ته ودرول شوه.

داؤود خان د پوځ د سراعلی قوماندان په توگه غوښتل د چارو لارښوونه او ځار په لاس کې را واخلي. نو د مخابرې دستگاه ته چې د همدغسې شېبو لپاره د میز پرسرېې وراېښودل شوې وه او له لښکرکوټونو سره به یې نیغ په نیغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اړیکه نیوله وَرَغی خو ویې لېدل چې (کاتل) د مخابرې دستګاه له کاره لویدلې او کوډ اوچینل یې ور بدل شوی وو. په هماغه شېبه کې یې وویل: روسانو خپل کار وکړ." او وزیرانو ته یې اجازه ورکړه چې خپلو کورونو ته ولاړ شي.

د کورنیو چارو او دفاع وزیران لا مخکې له ارګه وتلي ول. د خپلې کورنۍ غړي یې ترځنګ راوغوښتل. داؤود نه تسلیمېده او نه یې له پیښې څخه د تیښتې هڅه وکړه. د فرانسې سفارت د ارګ له دیوال سره نښتای وو او کولای یې شواې له سیاسي ډګره لاس په سرشي خو په خپلې خاورې کې یې ویاړلی مرګ غوره وباله نو ځکه یې د خپلو پښو راټینګولو ته کلکه ملا وتړله. ویې ویل چې نه غواړي د روسانو په لاس په ژوبڼ کې را بند کړای شي.

کودتاچیانوپه یوه ټانک د بندیانود ساتنې له ختو جوړ دیوالونه را ونړول او دننه ور ننوتل. کودچیانو خپل مشران له داؤودي زندانه د خوښیو په شور او زوږ کې را خوشې کړل. هغوی یې پرشوبلوباندې کښنیول او د کودتا زړه، د راډیو تالارته یې بوتلل.نویو مشرانو خپل لاسونه د شوبلو له منځه را ایستل او د کابل ښاریانو د ځارونکو سترګو مخ ته یې ښورول.

د ارګ د پوځیانو روحیه ضعیفه وه، ستړي ستومانه او ناهیلي ښکارېدل. نورلښکرکوټونه یې ملاتړ ته را ونه رسیدل نوځکه د هغوی مقاومت هم له پښو را وغورځید. وروسته له هغې چې د هوایي ځواکونو عملیاتو زور واخیست او ارګ د هوایي او ځمکنیو ځواکونو تر اور لاندې ونیول شو نو په ارګ کې د ولسمشریزی ماڼۍ د ساتندویه ځواک ګارډ مقاومت هم کرار کرار را سوړشو.

د داؤود د کورنۍ غړې یوپه بل پسې ټپیانېدل سردار داؤود ټپي شو او د خپلو دواړو زامنو عمر او خالد مرګ یې په خپلوغبرګو سترګو ولید. د ژوند ډیرې سختې شېبې وې ، داؤود په ډګر کې یوازې راګیر پاتې وو. کمونیستان پرارګ ورننوتل هغوی له داؤود سره د لېدلو کتنو غوښتنه وکړه خو داؤود ورسره ونه منله.

درې تنه ټیټ پوړي کودتاچیان د تورن امام الدین ترمشرۍ لاندې د ولسمشر داؤود خان حضور ته ورغلل او له هغه یې وغوښتل چې ور تسلیم شي. داؤود خان پرته له دې چې له هغوی څخه د ځان او یا د خپلې کورنۍ د غړود ژغورنې غوښتنه وکړي، د خپلې تومانچې وروستـنۍ ګولۍ یې پرامام الدین نیغ په نیغه ورتشه کړه. اما الدین ټپي شو خو مړ نه سو. د هغه نورو ملګرو ولسمشر تر اورلاندې را ونیو. داؤود چې د افغانستان تر ملي بیرغ لاندې ولاړ وو په شهادت ورسید.

بیا یې نعیم خان او د داؤود خان د کورنۍ ټول نارینه غړي یو په بل پسې ووژل. د کورنۍ ښځینه غړې یې د څرخي پله په محبس کې واچولې. د څرخي پله زاندان هغه زاندن وو چې داؤود خان د خپل رژیم د مخالفینو لپاره د قدیرنورستاني په وړاندیز جوړکړی وو. او په دې توګه یې د دُرانیو د ټبر د پاچاهي ټغر را ټول کړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د غړو مړي چا ونه لېدل. یوازې د چمن او کویټې اڅکزیو د هغوی د فاتحې دعاګانې په خپلو جوماتونو کې واخیستلې او د هغوی د ارواګانو خوښۍ ته یې

دعا وې وکړې. ویل کیږي چې مړي د مرنجان دغونډۍ په لمنه کې خاوروته سپارل شوي دي.

[حفیظ الله] امین د راډیو افغانستان د څپو له لارې جګړن اسلم وطنجار چې د " تورپیکۍ" په نامه پیژاندل کېده او ډګروال قادر چې د " سپي قادر" په نامه پیژندل کېده، د ویاندو په توګه وګړو ته ور وپیژندل. وطنجار په پښتو او قادرپه دري ژبو د نوي پوځي حکومت را ټینګېدل اعلان کړل.

په داسې یوه اړوپیچ کې ولس نه پوهېده چې څه ور پیښ شویدي او څه به ور پیښ شي، د سلیمان لایق لاندینی شعر د داکټرصادق فطرت ناشناس په غږ او کمپوزکې په سندیزه توګه را خپور شو.

ســـتره تېاره تېره شـــوه ســتا پر ســـردرو باندې

ښــه شـوله چه تیره شوه ستا خـوارو بچـو باندې

هـــره تېاره پای لـــري خلکـــو، ولســـو باندې

لمـر د عـد الت وخوت ستا پر جګـو غـرو باندې

خو په هېوادکې له هماغې ورځې را په دېخوا د وینو او اوښکو بهېدا په را پیلېدلو شوه./.../ څرګنده وه چې یوه خوږلنه ، ناورین وهلې او یوه ویرلړلې راتلونکې د افغانستان د ولس د برخلیک په درشل کې په تېندکو او سترګې په لاره ده . د [سلیمان] لایق شعر یوه ملي او ولسي شاعر داسې ور ځواب کړ .

لمـــر د آزادۍ پریوت ســـتا پر ســـردرو باندې

توره تېاره راغـــلله ســـــتا خـــوارو بچـــو باندې

له [پاړسي څخه پښتو ته] د ژباړونکي لمنلیک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



]ښاغلو لوستونکو!

لاندېنۍ کرښې زما (رحمت آريا) نه دي. دا هغه له پښتو څخه پاړسي ته د ژباړونکې ليکل شوې کرښې دي چې د دغې لېکنې له لېکوال سره يې مرسته کړې دغه کرښې مې د لوستونکو د پوهاوي او د بل لېکوال د حق د خوندي ساتلو لپاره ځای په ځای را غبرګې کړې[

د۱۹۹۷ زکال د پنځنۍ 'پينجشنبې' په ورځ " [له پاړسي څخه پښتو ته] د داؤود خان د کې جي بي په لومو کې" د کتاب ژباړونکي حامد د همدغه کتاب په دريمه را ژباړل شوې پاڼه کې داسې را کښلي دي :" دا کتاب، لېکوال " الف هارون" په را پورول شوي "مستعار" نوم د پښتو په خوږې ژبې ليکلی چې د هېواد پالنې او مسلمانۍ د څپو په احساساتو کې يې د راڅپولونې د لړۍ له بشپړولو وروسته په ديارلس سوه او درې اويايم ل کال کې (۱۱۹۴۴زکال) په آسترليا کې خپور کړی دی ".

نومړی د کتاب په ديارلسمه پاڼه کې زياتوي: " ګران لوستونکي دې د ژباړونکي پراوړود خپلې ښېګڼې په اېښودنې خپله پاملرنه دې تيروتنو ته راوګرځوي ، يا دې خپل اند اويا دې د [حامد] د ژباړې په تړاو خپل څرګند وړانديزونه او يادَونې په ګوته کړي او کولای شـئ د [کتاب] د ژباړونکي په پته يې راواستوئ: حامد، ډاګي پُست ۱۱٦۴، مرکزي پُسته خانه، صدر، پېښاور، پاکستان .

حامد د " داؤود خان د کي جي بي په لومو کې" يا د ده په ژباړې " داؤود خان در چنگال ک.ج.ب" کتاب د ۱۵۳ او ۱۵۴ پاڼو په لمنلېک کې داسې راکاړي :

۱ " .زور متې ناتارګر مې وواږه" : ښاغلي لېکوال [الف هارون] د داؤود خان د وژنې پيښې ته يې د هغو کسانو په لاس چې په پيسمنۍ " مغروريت" يې " زما د ملګرو د نوم تعبير پرې ور تپلي، فلمي او افسانوي رنګ ورکړی چې ګڼې [ محمد داؤود] د افغانستان تر بيرغ لاندې ووژل شو. که هغه د افغانستان تر بيرغ لاندې وژل شوای وی، نود ملګرو په لارښوونه به يې هغه ته بدلون نه ورکاوه .

ښاغلي الف هارون غوښتي دي چې له کاوبائـي فيلمونو څخه په پيښـې يا تقليد کولو د داؤود خان د مړينې انځور ته هماغه بڼه ورکړي چې يو سپين پوټکی يعنی يو خونړی سور لاسی اروپايي د امريکا د سور پوټکو يعنې ددغې سيمې د کره اوسېدونکو له ټول وژنو او د هغوی د خاورې له نېولو وروسته دې د امريکا تر بيرغ لاندې مړ شي .

د تورن امام الدين په نامه د محمد داؤود خان يو ملګری، د ولسمشرۍ د ماڼۍ له يوه صاحبمنصب ګل آقا او د شوروي د سفارت دوه تنه غړي له داؤود خان سره د مرکې په موخه خونې ته ورننوتل او له هغه يې وغوښتل چې ځان وروسپاري .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته له هغې چې داؤود خان ته يې سپکې سپورې او ښکنځل وکړل، داؤود پر هغوی برید وکړ. د امام الدین مټ ټپي شو. د هغه په ځواب کې کودتاچيانو پر داؤود خان يرغل ور ووړ. په همدغې شېبې کې امام الدین له خونې را ووت او په چيغو چيغو يې وويل " زور متې ناتارگر مې وواژه "

۲ .محمد اسلم وطنجار او عبدالقادر: د يحيى د کورنۍ د ټـَبـَر د راټولېدلو خبر " تورپيکۍ جانې" يعنی محمد اسلم وطنجار په پښتو او " دَيــدو" قادر په فارسي ژبه د راډيو افغانستان له لارې خپور کړ. دغه دوه تنه نن د طالبانو د پاچاهۍ په سرمشريزه ډلې کې دي. البته دا د دې لپاره نه دي چې لوی سردار بيرته د واک پر گدۍ را کښېنوي، بلکه ددې لپاره دي چې د هغه پر اوږو کښېني او مبارک ارگ بيرته د " خلکو پر کور" را واړوي .

"وطنجار ته يې له دې امله تورپيکۍ ويل چې د هرچا ملگرى او وزير به وو. وطنجار د روسانو له پلوه د بلې کودتا لپاره په پام کې نېول شوی وو. (د څارکښۍ د ځالې لاسوندي/ اسناد لانه جاسوسي، پ. ۱۰۹) .

قادر نه خلقی وو او نه پرچمی خو د پيسو په بدل کې يې هر کار ته ملا را تړله. د ښوونځي له پيله به خلکو د " سپي" په نامه پيژانده. ان دا چې د پولند د لوی سفارت په پـَير کې د لويدېزې نړۍ له يو شمير څارکښيزو دالانونو سره يې اړيکه را ټينگه کړې وه. پ. ۹۳( .

له ښاغلي حامد او گران هارون او ..... سره څو خبرې

د [څارکښيزې ځالگۍ د لاسوندونو/ اسناد لانه جاسوسي] ليکوال حامد او الف هارون ته په ډېر درنښت غواړم ووايم چې د محمد اسلم وطنجار او عبدالقادر د [شخصي � ژ] ژوند په اړه ليکل شوي خبرې سمې نه دي.

کاشکي هغوی پوهېدل چې اوس هغه وخت تير شوی چې خلک به د سپي، غوايي، خره، گيدړ، کاږبل "کفتار"، زمري، پړانگ اويادا چې نارينه به د نجونواوښځمنو په نومونوسپک بلل کېدل.

برسيره پر هغې، داسې ښکاري چې د حامد اورېدل شوي خبرې له خپلې سرچينې څخه لوخړنې وي، ځکه :

محمد اسلم وطنجار ته يې د هغه د تنکۍ ځوانۍ په وخت کې د هغه پرتندي د راپريوتلو ښويو ويښتانو او نري ږغ له امله " تورپيکۍ" ويل. دغه له ټوکو ډکو نوم د هغه د " سياسي ملگري له نوم او د هر چا له وزيرکېدلو" سره له اره کوشنی تړاو نه لري. که "تورپيکۍ" د وزارت لپاره معيار بلل کېدای نو (له پيغلوټو او ښځمنو څخه په زرهاوو ځله د بخښنې په غوښتنې) د افغانستان په مشرتابه کې يو شيمر د پرديو په لاس کښېنول شوي لوړپوړي چارواکي به هم چې نن او پرون وزيران او ملگري ول " تورپيکۍ " بلل کېدای .

وطنجار په ۱۹۴۴زکال کې د پکتيا د اندړو په زرملې کې سترگې په نړۍ را وغړولې او د ۲۰۰۰زکال د نوامبر په مياشت کې د روسيې په اوکرائين کې د سرطان د ناروغۍ له امله مړ سو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبدالقادر چې د " ډګروال قادر" په نامه پیژاندل کیږي د افغانستان یو له هغودریو تنو مشرانو څخه دی چې یوازې د دري ورځو لپاره یې واک په لاس کې وو (د دیارلس سوه اووه پینځوسم لمریز کال د غوایي اوومه، اتمه او نهمه / د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د میاشتې ۲۸، ۲۹ ، ۳۰). نوموړی په هرات کې زیږېدلی او اوس د روسیې /په مسکو کې ژوند کوي .

د قادر لنډکې نوم د دوه وو لاملونو له امله په یادونو کې را پاتې دی :

۱ .د دیارلس سوه اووه پینځوسم لمریزکال د غوایي د میاشتې په اوومې/ د ۱۹۷۸زکال د اپریل دمیاشتې په ۲۸ او د سبا ورځې تر نیمایۍ پورې لاندینۍ لیکنې په څو څو ځله دده له پلوه ولوستل شوې .

"د افغانستان په تأریخ کې د لومړي ځل لپاره د نادر د کورنۍ د ځواک او پاچاهۍ، ناتار او سورلاسۍ ته د پای ټکې کښېښودل شو او ټول دولتي ځواک ولس ته لیږدېدلی دی. همدا اوس دولتي ځواک د انقلابي پوځي ډلې په لاس کې دی ".

"د افغاستان د وسله والو ځواکونو د پوځي شورا خبرتیا: د ناتارګر نادر د کورنۍ وروستنی غړی سردار محمد داؤود دغه بې ساری ولس - تأریخ غولوونکی او خاین د افغانستان د ولس په پَـتــېـنــۍ د تـل لپاره له منځه ولاړ. لدې وروسته ولسي ځواک تاسو د افغانستان پتمن ولس پورې اړه لري. د انقلاب له لاس ته راوړنو، ددغه ناتارګر او سورلاسي سردار د پلویانو له منځه وړل د افغانستان د هر روڼ اندي وګړي دنده ده ".

۲ .د راډیویې ګزارشونو د پرله پسې لوستلو او خپرولو په کړس کې د " قادر، شاهپور، میر علي اکبر او ....." نیول د نورمحمد تره کي او حفیظ الله امین د دولت په وړاندې د کودتا تور .

GRUاوKGB

د عبدالقادر د لا پیژندلو لپاره د لاندینۍ لیکنې لوستنه به بې ګټې نه وي :

۱ .د افغانستان په وسله وال ځواک کې د خلق او پرچم د ډلو په افسرانو سربیره په شوروي کې یو شمیر روزل شوي افسران هم ول چې د محمد داؤود په وړاندې یې په کودتا کې په خپلواکه توګه ګډون وکړ او له هغه وروسته کرار کرار له یو له دغو ډلو خلق یا پرچم سره یو ځای شول .

[له سیاسي اړخه �ژ] د یوې خپلواکې ډلې مشر جنرال عبدالقادر د هوایي ځواکونو د بولندي ډلې مشر وو چې وروسته د خلق د ډلې له پوځي څانګې سره یو ځای شو او د ۱۹۷۸زکال په کودتا کې یې بنسټیزه ونډه ولوبوله. )

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



افغانستان په شلمه پيړۍ کې / افغانستان در قرن بيستم"، د بي بي سي د خپرونو ټولګه، ډاکټر ظاهر طنين، ۲۰۰۵ زکال)

۲ .امريکايي افغانستان پيژندونکې سلېګ هريسن، ګروهن دی چې د ۱۹۷۳زکال او د ۱۹۷۸ز کلونو په کودتا ګانو کې ددغو ډلو شتون او ونډې د شوروي د دوه څارکښيزو څانګو يعنی د " جي آر يو" [ د پوځ اطلاعاتي څانګه] او د " کي جي بي" [ د شوروي د دولتي ټپکاو' امنيت' سازمان] له کړنو او سياليو سره نيغ په نيغه اړيکه در لودله .

د ۱۹۷۸زکال په کودتا کې تر ټولو مهمه رامنځ ته شوې خبره چې ډير لږ کسان ورڅخه خبر دي په افغانستان کې د کي جي بي د شوروي د جاسوسۍ د مرکزي سازمان او د جي آريو د شوروي د پوځ د استخباراتو د سازمان ترمنځ کورنۍ سيالۍ دي .

دا ډيره اړينه او مهمه سکالو وه، په ځانګړې توګه کله چې د شوروي د پوځ د استخباراتو د څانګې اړيکه د افغانستان له پوځ سره رابربنده شوه، حال دا چې کي جي بي نه له پوځيانو سره بلکه د افغانستان په حکومت کې دننه او له غير پوځي ګونديانو سره اړيکه درلودله. دغه اړوپيچ دداسې يوې سيالۍ لامل شو چې په پورتنيو ويل شويو مهمو پيښو کې يې بنسټيزه ونډه تر سره کړه :

يو يې د کودتا لامل شو او بل هغه شرايط ول چې په پای کې د افغانستان پر نيواک او په افغانستان کې د شوروي د پوځ په لاسوهنې را وا وښتل. په هغو شپو ورځو کې د شوروي د پوځ استخباراتي سازمان ، د افغانستان په پوځ کې يوازې د يوې ډلې ملا ورو تړله ، يعنی په پوځ کې د خلقي ډلې ملاتړ چې مشري يې حفيظ الله امين کوله او د کي جي بي له څار او خبر پرته يې غوتۍ په پټه مخ په غوړيدا وي .

په حقيقت کې په پوځ کې د کمونيستو افسرانو درې ډلې را منځته شولې. تر ټولو لويه ډله يې د حفيظ الله امين تر مشرۍ لاندې خلقي ډله وه او تر هغه وروسته د مير اکبر خيبر تر مشرۍ لاندې د پرچميانو ډله وه چې د شوروي د پوځ له استخباراتي سازمان سره يې اړيکې درلودلې او جي آر يو په ځانګړې او بيلې توګې د پوځ له نورو افسرانو سره هم اړيکه ټينګه درلودله .

د هوايي ځواکونو د بولندې ډلې مشر جنرال عبدالقادر چې په کودتا کې يې بنسټيزه ونډه درلودله، له همدغو کسانو څخه يو افسر وو. ( افغانستان په شلمه پيړۍ کې / افغانستان در قرن بيستم" د بي بي سي د خپرونو ټولګه ، ډاکټر ظاهر طنين، ۲۰۰۵)

۳ .خو له هماغو لومړيو څخه پوښتنه دا وه چې کودتا چا وکړه؟ روسانو يا افغانانو؟ له دې خبرې په تيرېدنې چې آيا روسانو په کودتا کې نيغ په نيغه ونډه درلودله يا نه، خو هغه څه چې څرګند دي دا دي چې هغوی د کودتا له تابيا او نقشې څخه خبر ول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلق د پوځي څانگې يو غړی محمد عزيز اکبري په دې اړه داسې وايي: " سيد محمد گلابزوی د غوايي په کودتا کې د چا خبره يو له مهمو څېرو (فيگور) څخه وو او هغه څوک وو چې د چا خبره له امين څخه يې د غوايي د انقلاب امر او لارښوونه تر لاسه کړه او ټولو پوځي سازمانونو ته يې ورسوله، د [ديارلس سوه او اووه پينځوسم لمريز کال] د غوايي د مياشتې د اوومې پر سهار يې له شورويانو سره اړيکه ونېوله. يعنې د چا خبره هغه بولنده او لارښوونه يې چې له حفيظ الله امين يا د مرکزي کميټې له مشر څخه تر لاسه کړې وه، د شورويانو له غوږونو ور تيره کړه .

خو د کودتا مشر جنرال قادر وايي چې د اپريل په پاڅون کې شورويانو هېڅ لاس نه درلود: " زه په زغرده اعلانوم او په زغرده وايم چې په دې کې شورويانو عملاً هېڅ ونډه نه درلوده. خو له دې څخه نه انکارېږو چې د زده کړو په مهال مو له شورويانو څخه يو څه زده کړي ول او ليدلي مو ول، خو موږ خپله پـَتـېـنه او واک درلود، د هېواد لپاره، د هغې هېلې لپاره چې زموږ په زړونو کې وه، زموږ هڅې د ښيرازۍ لپاره وې او له يو بل سره يو ځای شوي وو. دغې سکالو له شورويانو سره هېڅ ډول اړه نه درلوده. ( " افغانستان په شلمه پيړۍ کې/ افغانستان در قرن بيستم" د بي بي سي د خپرونو ټولگه ، ډاکټر ظاهر طنين، ۲۰۰۵)

۴ .د شوروي د پوځي استخباراتو ډلې په داسې حال کې چې سترگې يې راتلونکې ته غړولې، د ۱۹٦۴زکال د سپتامبر په مياشت کې روزل شوي افسران را وهڅول او د وسله والو ځواکونو پټ انقلابي سازمان يې را جوړ کړي." (پر افغانستان د شوروي د يرغل د پردې تر شا حقايق" سليک هريسون، د عبدالجبار ثابت ژباړه/ د لاسوندي اخځ د " افغانستان د وسله والو ځواکونو تأريخ ۱۹۷۷-۱۹۴۷ روسي ليکنه له ۱۵۹ تر ۱٦۹ پاڼو پورې ،مسکو لويديزې خپرونې ۱۹۸۵ز کال)

۵ .د افغانستان د خلق د ډيموکراتيک گوند تر څنگ د (ډگروال عبدالقادر) تر مشرۍ لاندې د افغانستان د کمونيستانو د مورچل تر نامه لاندې يو پټ تر ځمکې لاندې سازمان رامنځ ته شو. دغه سازمان د پوځ له افسرانو سره په کار کولو کې بنسټيزه ونډه درلوده. د افغانستان د کمونيستانو د مورچل غړو د افغانستان د پاچا د واک په را نسکورولو کې هم پخه ونډه لوبولې وه." په افغانستان کې توپان / طوفان در افغانستان" الکساندر لياخوفسکي ، د عزيز آريانفر ژباړه(

٦.د غوايي له پيښې وروسته مې يوه ورځ له عبدالقادر چې د قادرخان په نامه پيژندل کېده وپوښتل، ولې دې له موږڅخه مخ واړاوه؟ را ته يې وويل که رښتيا را باندې وايې د کودتا د مشر د ناپامۍ له امله. و مې ويل ، ته څه وايې؟ ويې ويل، رښتيا درته وايم. بيا يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ او ويې ويل: څنگه چې خبر يې زه د ملگرو په دويمه کړۍ کې وم او وروسته له دې چې د هوايي ځواک د بولندوی په توگه وگومارل شوم نو د مشر[داؤود خان � ژ] لېدلو ته ورتلم او د هغه په اجازې مې په اونۍ کې يوځل د قوماندانۍ د چارو د پرمختلنگ اجازه ورڅخه اخيستله. پرته له دې چې پوه سم او يا دې څه را ته ووايي ، دورځې په تيريدا د هغه خبرې راسره په سرښت کمېدلې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هغو چې يوه ورځ د امرضابط راغی او ويې ویل: ډګر جنرال موسی خان راغلی او غواړي له تاسو سره په يوازېتوب کې غونډه ولري. له دروازې د باندې د هغه هر کلي ته ورغلم او کله چې له هغه سره مخامخ او په يوازيتوب کې شوم د لاربشود فرمان يې راته راکړ. په هغه فرمان کې پرته له دې چې څه ويل شوي وي ليکل شوي ول، " ډګر جنرال موسی خان مې د هوايي ځواکونو د بولندوی په توګه وټاکه." هغه ته مې د نوې دندې مبارکې وويله او د کار له خونې را ووتلم. زما دهیلې برخلاف ګورم چې څو تنه نا پيژنده ضابطان د خونې د دروازې تر شا پهره کوي. آيا د پاچا پلويانو کودتا کړې او د موسې د ګومارلو فرمان جعلي دی؟ ځکه چې موسی خان د پاچا پـلَـوی وو. (" د لومړني جمهوريت بنسټ اېښوونه او نړونه / تأسيس و تخريب جمهوريت" ، ډاکټر محمد حسن شرق) .

۷ .له لويديز سره د داؤود خان د لوبو برخلاف، د شوروي کمونيست ګوند د هندوستان د کمونيست ګوند او د پاکستان د نشنل پارټۍ له لارې هڅه کوله چې د داؤود خان د را نسکورولو لپاره د لومړني ګام په توګه د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند ډلې له يو بل سره يو ځای کړي. ( " په افغانستان کې توپان"/ طوفان در افغانستان"الکساندر لیاخوفسکي، د عزيز آريانفر ژباړه)

۸ " .ډګروال مدهوسميران چې په هاغه وخت کې په کابل کې د هند د سفارت پوځي اشته وو او د پوځ له افسرانو سره يې پراخه اړيکې درلودلې ، ماته وويل چې قادر د شوروي د

استخباراتو سازمان د امين له پلانه خبر کړی وو، خو په کودتا کې د ګډون لاربشوونه يې نه وه تر لاسه کړې .

سميران وايي : قادر اړ وو چې د شوروي سلاکارانو د موافقې ترلاسه کولو پورې په کودتا

کې خپل ګډون يې شاته غورځولای وای. شوروي سلاکارانو بايد له کودتا څخه مخکې په لنډ وخت کې پريکړه کړې وای. خو له ماسکوه يې په موقع لاربشوونه تر لاسه کړه چې په کودتا کې مرسته وکړي." (پ.۵۱ " پرافغانستان دشوروي د يرغل د پردې تر شا حقايق،" سليګ هرسيون، د عبدالجبار ثابت ژباړه)

۹ .جګړن محمد رفيع د ځلورم زغره وال ځواک رئـيس ارکان ( وروسته ستر جنرال، ددفاع وزير او د ولسمشر مرستيال) چې د کودتا په لړ کې يې د ګډونوالو ځواکونو مرکزي بولنده په غاړه درلودله په خپلو خپرو شويو يادښتونو کې يې د ځلورم زغره وال ځواک د يوه شوروي ډګروال په اړه ليکلي چې نوموړي ډګروال وروسته له تلفوني اړيکې ما ته وويل: ما بولنده او لاربشوونه تر لاسه کړې چې که پاځون ماتې وخوړله نو يوځای به ووژل شو " .

کور ودانی

پورته په ۴، ۵ ، ٦ ، ۷ ، ۸ او ۹ شميرو کې په ننبه يوي پاراګرفونه د " فقير محمد ودان" له لیکنې را اخيستل شوې د لیکنې نوم " په تأريخ کې رسوا شوي اوښ تښتوونکي د بې ګټو هڅو په ترڅ کې غلچکی تيريږي/ شتردزد رسوای تأريخ با تلاش بيهوده خم خم رفتن" دی .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د " تاريخ کې رسوا شوي اوښ تښتوونکي...." بشپړه لیکنه په لاندې پته لوستلای شی .

www.payamewatan.com/Article-4/f.wadan030708.htm

په راتلونکو څپرکيو به تاسو لاندني ټکي ولولـئ :

۱ .له امام الدين سره ځانګړې مرکه

۲ .د ديارلس سوه او اووه پينځوسم لمريز کال د غوايي د مياشتې له اوومې مخکې هم د محمد داؤود د وژنې تابياوې نېول شوې وې. د کومو کسانو د پښو د پلو خاپ په دغې تابيا کې ښکاري.

ددغې ليکنې پارسي بڼه د کابل ناتهـ له چلوونکي ښاغلي ايشورداس څخه په مننې لوستلای شـئ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






**لسمه برخه**

دا څه ډول امر دی چې ماته یې راکوئ؟

فرهاد لبیب د " پرافغانستان د روس د تیري په اړه څو ماتې کرښې/ چـند سطـــر شکسـته در باره تجــاوز روس در افـغـانســـتان" د کتاب (دلیتو چاپ نوی ډیلی/هند، ۱۹۸۱زکال) په ٦۹، ۷۰ او ۷۱ پاڼوکې لیکلي دي :

"د افغانستان د خلق د ډیموکراټیک ګوند د سرمشرۍ ډله (له حفیظ الله امین پرته) ټوله په زندان کې او نیاو " محکمې" ته سترګې لاره وه او د دیارلس سوه اووه پینځوسم لمریز کال د غوایي د مپاشتې په اوومې [د ۱۹۷۸زکال د اپریل ۲۸] داؤود خان د وزیرانو غونډه را وبلله چې د روانو سکالو په تړاو اړینې پرېکړې وکړي .

د روانې غونډې په ترځ کې د غرمې د یو لسو بجو په شا و خوا کې د شوبلې لومړني مردکي د ولسمشرۍ ماڼۍ را و لړځوله. داؤود خان په لومړۍ شېبه کې پوه شو؛ ځکه چې د غوایي د مپاشتې د سهار له پیله یې د څارګري یا استخباراتي اداري له لاري [د افغانستان د خلق دیموکرایتک ] ګوند دغړو له پلوه د قوای مرکزدعملي خوځښتونوپه اړه ګزارشونه اورېدلي ول. له همدې امله امر یې ورکړ چې دوه موټره دې ورته په بېړه برابر کړي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې موټرونه راورسیدل یو یې د کورنۍ د غړو د راوړلولپاره چې له ارګه دباندې په ښوونځیو کې ول ولیږه او په پام کې یې ول چې په دویم موټر کې قوای مرکز ته ولاړ شي او د هغه ځای نیغ په نېغه بولنده په لاس کې را واخلي .

د دوه اړخیزه اورپه را تـَودېدا او د ولسمشرله پریکړې سره جوخت چې له ارګه درا وتلو په وخت کې وو د هغه ناوې او لمسیان ترې راتاو اوپه چیغو او بوغارو یې وویل: " بابا مورې یوازې مه پرېږده." کله چې ولسمشر د خپلې کورنۍ د غړو بوغارې او زارۍ ولېدلې نو له خپلې پریکړې څخه لاس پر سر شو .

د دوه اړخیزه اور لړۍ شېبه پر شېبه را ډېرېدله. د مخابراتو او راډیو دستګاوې د روس پلوو پوځې ګوندي غړو لاس ته ورغلې او له ارګ سره د ټول چاپیریال اړیکه پریک شوه او یا یې ځار د ګوند د غړو لاس ته ورپریوت .

پرارګ له یرغل څخه یو یا دوساعته نه ول تیرشوي چې د ولسمشر د کورنۍ غړي تر هغه را تاو شول او وړاندېز یې وکړ چې خپل ځانونه دې (ارګ ته نیږدې) د فرانسې سفارت ته وسپاري. هغوی ګومان کاوه چې ښایي په دې توګه به ځانونه له پیښې څخه روغ رمټ راوباسي .

دغه وړاندېز پر داؤود خان چې ټول ژوند یې په سرلوړۍ او پرتم تیر کړی وو د یوه ډېر درووند ګوزار په توګه را پریوت او خورا زیات پرغزناک او په قهر شو او په داسې حال کې چې غاښونه یې یو پر بل ټینګ نیولي ول هغوی ته یې په چیچلي غږ ځواب ورکړ: " نه تسلمیږم ".

د ورځې رڼا خپل ځای کرار کرار د تور ماښام خړې تیارې ته ورسپاره. د الوتکوبمبار یو سور قیامت جوړ کړی وو ځکه د روس لارویانو هڅه کوله چې د شپې د تیارې له رسېدنې مخکې د داؤود خان او د هغه ددولت د کار لمنه ور ټوله کړي .

د شوروي د ځارګرې ادارې پټ پولیس په دې بریالي شوي ول چې په افغانستان کې په ټولو پوځې لښکرکوټونو، ددولت په ځارګرو ځانګو او ددولت په بنسټیزو برخو کې خپل غړي ځای پرځای کړي. د ولسمشرې ماڼۍ په ځانګړې توګه د ولسمشرۍ د ماڼۍ د ساتونکې ځواک لېکې هم له دغې دروهې " دسیسې" څخه خوندي پاتې نه شوې. د زباد لپاره کولای شو د لاندینیو کسانو نومونه راواخلو :

1) عـبـدالحـق علـومي د ګارد کشف او استخباراتو آمر

2) عـــزیز حســاس د ګارد د تشــــریفاتو د ټولي بولندوی

3) ســید جانخان جګـــړن د ګارد د اوپراســـیون مرستیال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



(4لـمړی بریدمــن جـمـعه خــان هــراتی د ګارد مخابرې مرستیال

(5آقا مـحـمـد خان قـندهــاری د ګارد د مخابرې آمر

(6اســـدالله پیمان (امـام الــدین دغه نوم د " ارتباطي غړي" په توګه یاداوه(.

د کودتا په ترځ کې نوموړو کسانو د ارګ د مخابرو د ځالګیو په فلج کولو او له بهر سره د اړیکو د پریکولو او بل لوري ته د ولسمشرۍ د مانۍ په اړه د حساسو ځایونو او ټیکود ګزارش په ورکولوسر بیره په خپلو وسلو او له را پورته شوې ګډوډې څخه په ګټې اخیستنې د داؤود خان تر ټولو زړور بولندویانو او افسران د شپې په تیاره کې د شا له پلوه تر اور لاندې ونیول او هغوی یې په شهادت ورسول .

دلته کولای شو د داؤود خان د زامنو له وژل کېدلو څخه د خالد نوم را واخلو. کله چې هغه د نیمې شپې په ترځ کې غوښتل د ګلخانې له مانۍ څخه را ووځي، له یوه ناڅرګنده ځایه پرې ډزې کېږي او نوموړی په شهادت رسیږي. په همدې توګه د داؤود پاتې ټول جنګیالي د روس د همدغوځای پرځای کړل شویو چوپړمارو او مزدورانو په لاس یو په بل پسې یو په یو په ارګ کې دننه ووژل شول .

کله چې پرناورین ځېلي کابل خونړی سورکی شفق را وغوړېد او پرارګ د الوتکو ډله ییزو یرغلونو زور واخیست ، د ګارد سرتیرو او بولندویانو د داؤود خان د ځانګړي لارښوونې پر بنسټ چې کار یې له کاره تیرشوی بللی وو د سپینو بیرغونو په را پورته کولو خپله تسلیمي اعلان کړه .

د داؤود د ولسمشرۍ د مانۍ د ګارد د آپراسیون آمر جګتورن فضل الرحمن تاجیارپه ناروې کې خپرېدونکې د " مجاهدولس" په جریدې [ګڼه؟/ورځ؟/مپاشت؟/ کال؟]کې د ګارد تسلیمۍ سکالو داسې راغبرګه کړې ده :

"کله چې د وروستي ځل لپاره د ګلخانې مانۍ ته ورغلم او غوښتل مې د ګارد له بولندوی صاحب جان څخه لارښوونه تر لاسه کړم، ناڅاپه مې ولسمشرصاحب ولېد. په همدغه ترځ کې د مالیې وزیر زما څنګ ته راغی او مالومات یې وغوښتل. هغه ته مې وویل:" اکربکر د تیر وخت په شان دی ".

ولسمشرصاحب (سردار محمدداؤود) ماته را نیږدې شو او دا سې یې وویل: " زویه! ځوان یې، ولاړ سه، ځان دې وسپاره. ما خپله پریکړه کړې ده. په همدغې شیبې کې صاحب جان (د ګارد بولندوی) هم راته وویل: " ولسمشر صاحب خپله پریکړه کړې ده. ولاړ سی لښکرکوټ له وسلو تش کړئ او خپل ځانونه وسپارئ ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ومې ويل دا څه ډول امر دی چې ماته يې راکوئ." د گارد بولندوی صاحب جان وويل: " په خپله د ښاغلي ولسمشر ځانگړې لارښوونه ده. ولاړ سی او تر سره يې کړئ ".

د پوځي درناوی له ترسره کولو وروسته د گلخانې له مانۍ راووتلم. د غوايي د مياشتې د اتمې نېټې د شنه سهار په شاو خواکې [ د ۱۹۷۸زکال د اپريل د مياشتې ۲۹] د گارد قطعه مې د [ټول سی] ډگر ته راوبلله او سرتيرو ته مې د ولسمشر لارښوونه اعلان کړه ".

په هغو شېبو کې چې الوتکو د ولسمشرۍ مانۍ په ټينگه بمباردوله او د خواجه رواش د پوځي هوايي ډگر چورلکو داؤود خان ته د تسليمېدلو اخطارونه ورکول د گارد د تسليمۍ د پريکړې په ترڅ کې داؤود خان د روس د لارروي گوند د ارتباطي غړي له لارې د گوند له غړو سره اړيکه ټينگه کړله او له قادر او اسلم وطنجار سره يې د لېدلو غوښتنه وکړه. ښايي نومو‌ړي غوښتل هغوی ته کوم راز ووايي، ښايي بله پريکړه يې درلودله؛ خو د شوروي د سفارت د پټو پوليسو غړيو هغه ته دا شېبه په لاس ور نه کړه ".

وژلی مې دی، خو نه مې دی وژلی....

(پرافغانستان د روس د تيري په اړه د څو ماتو کرښو/ چـنـد سـطـر شـکـســتـه در باره تجــاوز روس در افـغـانســتان)
د کتاب لېکوال فرهاد لبېب د ۲۰۰۸ زکال د اگست پر اتلسمې ومنله او لاندينيو پوښتنو ته يې ځواب ورکړ :

سياه سنگ: مير محمد صديق فرهنگ په ( افغانستان په وروستيو پينځو پيړيو کې/ افغانستان در پنج قرن اخير) کې په ۸٦۷ پاڼه کې ليکلي دي : ف . لبېب د شوبلې د بولندوی امام الدين له خولې د پيښې لړۍ داسې وايي چې نوموړي د پوځ د څلورسوه بستريز روغتون په خونه کې خپلو دوستانو ته ويلې وه ".....

له پورتني پاراگرافه سمه خبره نه راڅرگنديږي چې امام الدين د محمد داؤود او د هغوی د کورنۍ د وژلو څرنگوالی ستاسو تر مخه خپلو دوستانو ته په څه ډول ويلی او يا د هغه له دوستانو څخه کوم يو تاسو ته په څه ډول ويلي دي. آيا کولای شی له همدغه ځايه يې راپيل کړئ؟

لبېب: د ديارلس سوه اووه پنځوسم لمريزکال د غوايي د مياشتې په ديارلسمه د چارشنبې يا پنجشبې په ورځ [ د ۱۹۷۸زکال د مې د مياشتې په څلورمې] د يوه کار د ترسره کولو لپاره د پوځ د څلور سوه بستريز روغتون په لور وخوځېدم. د روغتون په دالان کې له خپل يوه دوست سره چې د طب ډاکټر دی مخامخ شوم. هغه له سترې مه سي او روغبړ وروسته د خپلو نورو خبرو په ترڅ کې يې راته وويل: " راځه چې درته دوه " مهم" کسان در وښييم. ښايي ددغو دواړو لېدنه ستا په درد ولگيږي. هغوی همدلته بسترشوي دي .

سياه سنگ: په هغو شپوورځو کې تا سو چيرې او څه کار کاوه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لبیب: په هوايي ځواکونو کې د " هوايي" مجلې د چاپ پازوال او د تخنیکي اکمالاتو ښوونه او تدریس مې کاوه. د پیلوټې رشته مې په پخواني شوروي اتحاد کې زده کړې ده .

سیاه سنګ: هغه " دوه مهمه کسان" څوک ول؟

لبیب: لومړی یې خان عبدالغفار خان او دویم یې امام الدین وو .

سیاه سنګ: کولای شی له امام الدین سره د کتنې په اړه خپل د سترګو لیدلی حال ووایاست؟

لبیب: امام الدین مې له پخوا وختونو پیژانده. که څه هم هغه له ما دوه دورې مخکې وو خویو وخت مو په یوه کورس کې درس لوست او ټولګیوال وو. کله چې خونې ته ورننوتلم ومې لیدل چې دواړه اوږې او د ښي لاس مټ یې په پلاستر کې را تا شوې وې .

امام الدین د بستر پرمخ اوږد غځیدلی وو. ډیر کسان د هغه پوښتنې ته راتلل. له هغې ډلې څخه څو تنو کسانو د داؤود د وژنې د څرنګوالي په اړه پوښتنې کولې. هغه داسې وویل :

زما زغروه واله شوبله د ولسمشرۍ د ماڼۍ د دروازې مخته د تیارسی په حال کې ولاړه وه. د غوایي د مباشتې د اتمې نېټې په سهار [د ۱۹۷۸زکال د اپریل د ۲۹] د ګارد قطعاتو د سپین بیرغ په پورته کولو خپله تسلیمي اعلان کړه. په همدغې شیبې کې ماته امر وشو چې داؤود ونیسم .

داؤود خان لا مخکې له موږ سره اړیکه ټینګه کړې وه او غوښتې یې ول چې د کودتا له مشرانو سره خبرې وکړي. [د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند] مرکزي کمېټې د هغه غوښتنه منلې وه. هغوی غوښتل قادر او اسلم وطنجار داؤود ته د لېدلو لپاره ورولیږي .

له همدې سره جوخت یو ځل بیا راته امر وشو چې داؤود خان ونیسم. د زغره والې شوبلې له چلوونکو او صاحبمنصبانو څخه مې ولېدل چې څوک ارګ ته د ننوتلو زړه نه ښه کوي. لنډه دا چې ما یو چلوونکی پیژانده او هغه چمتو شو چې زما زغروه واله شوبله ارګ ته دننه بوزي. نور څلورتنه پوځیانه هم را سره هملاري شول .

کله چې ارګ ته ننوتلو، تر دغې شیبې پورې هم د مردکیو د اور خال خال ډزې اورېدل کېدلې. په ارګ کې لومړنۍ سړي چې له موږ سره ولېدل ګل اقا وو. نوموړي موږ هغې خونې ته بوتللو چې داؤود خان پکې وو .

سیاه سنګ: د " په درو ورستیو لسیزو کې پوځ او سیاست/ اردو و سیاست در سه دهه اخیر" کتاب په ۱۴۲ مه پاڼه کې چې (سترجنرال محمد نبي عظیمي) لیکلی دي هم د ګارد د اپراسیون د آمر ګل آقا نوم اخیستل شوی. آیا دی هماغه " ګل آقا" دي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لبیب: د " گل آقا" اصلي نوم آقا محمد دی. امام الدین په برلاس د هغه نوم " گل آقا" واخیست او ویې ویل: زه پوهېدم چې نوموړی [آقا محمد] زموږ له کسانو څخه دی. کله چې د گل آقا [آقا محمد] په ملتیا له خپلو بدرگه کسانو سره د گلخانې ماڼۍ ته ننوتم ومې لېدل چې داؤود خان له لسو تنو کسانو د خپلې کورنۍ له غړو او ملگرو سره (له ښځمنو پرته) وسله په لاس موږ ته سترگې په لاروړ دی. له ځان سره مې وویل چې ژوندي پاتې کېدل مې نا شوني دي .

په دغې شېبې کې گل آقا [آقا محمد] داؤود خان ته پوځي سلام وکړ او ویې ویل: د کودتا کسان غواړي له تاسو سره وگوري. داؤود خان د ټولو مخ ته ولاړ وو. ما هم له هغه وروسته پوځي سلام وکړ او په لوړ غږ مې وویل: " د ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمیټې په امر خپله وسله پرځمکه کښېږدئ او تسلیم سـی " .

زما له خولې زما وروستنۍ کلمه نه وه راوتلې چې د داؤود له زامنو څخه یو تن په بیړه د شاتینۍ دروازې په لور وخوځېد. څو چې هغه ته گواښنه وکړم چې له خپله ځایه دې ونه خوځیږي، داؤود خان په داسې حال کې چې دا غونډله " جمله" یې ویله : روس او د روس مزدوارنو ته نه تسلیمسږم" زما پر لور یې اور بل کړ. په پای کې درې مردکي یویې زما زړه ته تیرږدي او دوه نور یې زما پر مټ او اوږه ولگېدل .

ما د یوه جناحي اور په کولو ټول تر ضربې لاندې ونېول او ورسته له هغه له هوښه ووتم. کله چې سترگې مې خلاصې کړې، په روغتون کې وم .

سیاه سنگ: جناحي اور څه دئ؟

لبیب: د ضربې په ډول پرله پسې او پرته له ځنډه اور چې له یوه گوټه د یوې نیم دایرې په ریوندوالي تر سره کیږي .

سیاه سنگ: هغو خبرو ته په کتنې چې تاسو د امام الدین له خولې اورېدلې کولای شی ووایاست چې نوموړي د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ په وژنې کې څه ونډه لوبولې ده؟

لبیب: امام الدین نه یوازې ماته بلکه په څو څو ځله یې په څوځاینو کې د ډیرو کسانو تر مخې د محمد داؤود او د هغه د کورنې د وژلو پره هم نیغ په نیغه او هم په غیر مستقیم ډول په ځان پورې تړلې ده. خو که په ورین او ساړه تندي او په بې پرې ډول خپله اند توگه او نظر ووایم گومان کوم امام الدین چې پرون د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژلو پره او تور یې په غاړه را اخیست نن له دغه په بر لاس جوړ شوي تور او پړې څخه په ټینگه پښېمانه دی .

سیاه سنگ: ستاسو له انده، محمد داؤود او کورنۍ یې د امام الدین په لاس وژل شوې؟ آیا همدا جاج اخیستنه سمه ده؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لبېب: د غوايي د کودتا مخکښو مشرانو ته د داؤود خان وژنه د افغانستان په سياسي تأريخ کې تر ټولوپياوړی برياليى ګام بلل کېده. دغه نه بخښونکی جنايت په بېړه او د سترګو په رپ کې تر سره شو او د چا په وينا د دغسې" د سرو زرو" د بخت پچه د کماندو د بولندوی امام الدين په نامه چې د داؤود خان د برخلېک د ټاکلو لپاره د ولسمشرۍ ماڼۍ ته ننوتلي وو، را وختله .

امام الدين د ټپي کماندو د بولندوي په ونډه کې چې نابېره د مرګ له لومې ژوندی راوتلی وو او د خپلې ورسپارل شوې خونړۍ دندې په وروستيو شېبو کې يې د دواؤود مرګ په خپلو سترګو ولېد، ګومان کوم نوموړی د يوې له هوښيارې ډکې محاسبې په شميرنې دې پايلې ته ورسيد چې: که په خپل ټېر او مټ د ولسمشر د مړدکو نښو ته نغوته وکړم او ووايم چې ګنې ما سردار داؤود په خپلو لاسونو وژلی دی نو څو چې ژوندی يم د ګوند اتل او د دولت د سترګو تور به اوسم .

ټول پوهيږي او ټول په ياد لري چې د کودتا په لومړيو شپو ورځو کې د چا وينا د امام الدين د بخت غوټۍ وغوړېدلې، څکه هغه پر خپل ځان ددغسې يوه ستر او له خطره ډک تور په منلو په رښتيا وکولای شول هغه دريځ او څوکۍ چې ده په خپلې ککرې کې په پام کې نيولې ول ورسيږي. اوس چې پخوانی " انقلابي" شور ، زوږ او خروښ له خوټېدلو پاتې دی او د بشري حقونو د نقض کوونکو په ځانګړې توګه دهغو کسانو نيونه چې وژنې يې کړې دي او د قانوني څار خبره راپورته شوې او د نړيوالو پوليسو او د نړيوالو حقونو د بنسټونو له پلوه د هغوی د محاکمې خبره رامنځ ته شوې امام الدين په ډېرې پښېمانۍ وايي: ما داؤود خان او د هغه کورنۍ نه ده وژلې .

زما په اند امام الدين اوس رښتيا وايي : څنګه به شوني وي چې يو څوک دې په اوږو او مټ او هغه هم له نيږدې واټنه ټپي شي بيا دې کلاشنيکوف ماشيندارړا واخلي ، په ځير نښه دې ونيسي او جناحي اور دې تر سره کړي؟

البته يو بل ټکی د پام او سپړلو وړ دی: د امام الدين د وينا پر بنسټ، په لومړيو کې څوک نه حاضرېدل چې له ده سره دې ارګ ته ننوځي. له هغه وروسته د پينځو تنو په ګډون ارګ ته ننوځي، د زغروه والې شوبلې چلوونکي څوک ول، له کوم ځايه راغلل چې دده په لارښوونې ارګ ته ور ننوتل او ان د داؤود خان د څو مېاشتني لسمي له وژلو څخه يې هم ډه ډه ونه کړه؟

[][]

په راتلونکو ګڼو کې به لاندينې سکالو ولولی :

١ .د فرهاد لبېب د يادښت لېکونو د لړۍ راسپړل

٢ .د نجيب الله داوري څو خبرې

٣.آيا د غوايي د اوومې په کودتا کې شوروي اتحاد لاس درلود؟ (محمد نبي عظېمي)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ .یش، د دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریز کال د غوایي د مېاشتې له اوومې مخکې د محمد داؤود د وژلو لپاره نقشې کښلې وې. د کومو کسانو د پښو او لاسونو د خاپ نښې په دغې نقشې کې لېدل کېږي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






**یولسمه برخه**

"څو ماتو کرښو ته ..." بیا کـتـنه

"په افغانستان کې د روس د تیریو په اړه د څوماتو کرښو/ چند سطر شکسته دربارهِ تجاوز روس در افغانستان" د کتاب لیکوال فرهاد لبیب ( د لیتو چاپ، نوی ډیلی/ هند ۱۹۸۱زکال) پر خپلوپخوانیو په لاس لیکل شویو یادښتونو د نویو یادښتونو د زیاتونې لارې غواړي له سره کتنه وکړي او نوموړی د خپلو مخکنیو خبرو په لړ کې زیاتوي چې :

دغوایي د کودتا پیلامې

کله چې روسان ډاډه شول چې نور له داؤود خانه په خپله ګټه، نه شي کولای ګټه پورته کړي، او پوه شول چې نوموړی د هغوی د ګټو په وړاندې خنډ ګرځېدلی نو د هغه او د هغه د دولت د را پرځولولپاره لاس په کار کیږي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ټولو لومړی، روسانو د خلق او پرچم ډلو ته چې په چلیزه او تاکتیکي ډول یې په جلا توګه فعالیت درلود د " یو والي" فرمان ورکړ. دغه دستور د دیارلس سوه او شپږ پینځوسم کال د چنګاښ (۱۹۷۷زکال جولای) په مېاشت کې پلی شو او په پای کې دولتي ضد خوځوښتونه را و کتېدل .

په لومړي سر کې د کې جي بي د دوه وو کارَنده "فعالو" څارګرو، حفیظ الله امین او اسدالله سروري تر مشرۍ لاندې ، په روس پورې تړلو کسانو غوښتل په پوځې او ملکي څانګو کې د خپلو له ګواښه ډکو او ویروونکو کړو وړو له لارې د داؤود له غوړونو ور تیره کړي چې له راخپلې شوې کړنلارې څخه لاس په سر شي. د بیلګې په توګه کولای شو د پلان د وزیر علي احمد خـُرم له وژنې نوم واخلو چې په خپل کاري دفتر کې د جاپان له یوه سوداګریز پلاوي سره د یوه تړون د لاسلیک کولو پر مهال ووژل شو .

د خرم وژونکی مرجان د [افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند] د پرچم د ډلې غړی وو او نوموړی له نیول کېدلو او منلو وروسته په ټولنیزو رسنیو کې د " اخواني" په نوم پیژندل کیږي .

مرجان له اخوان [المُسلمین] سره د اړیکو نه درلودل د څرخي پله د زندان د دویم بلاک د لومړي پوړ د " کوټه قفلیو" په برخه کې داسې رابربنډ کړل: " له اخوان سره زما له اړیکو پرته ، نور هر هغه څه مو چې د راډیوګانو له لارې اوریدلی او په ورځپاڼو کې مو لوستلي، سم دي ."

غني خان مشرقیوال د کابل د دهمزنګ د زندان بولندوی او د پلټـنو د پلاوي غړي چې د څرخي پله په زندان کې زما (فرهاد لبیب) د خوني ترڅنګ بندي وو، د مرجان د پرچمي توب خبره ومنله. د هغه تر څنګ د دیارلس سوه او اته پینځوسم کال د مرغومي د مېاشتې د شپاړلسمې ( ۱۹۸۰ز د جنوري ٦) نېټې له " عمومي بخښنې" یوه اونۍ مخکې د مرجان ژوندی پاتې کېدل او د ببرک له پلوه له نورو پرچمیانو سره یو ځای د هغه خوشې کېدل په خپله د مرجان د سیاسي اړیکو درلودل په پرېکنده ډول روښانه کوي .

برسیره پرهغې، د زرګونو هڅاندو ، پوهو او هېواد پالو انسانانو وژنه چې نه یې کوم جرم کړی وو او نه ورڅخه ان یوه پاڼه پلټنه شوې وه ، یوازې د پلانۍ او پلانۍ سیاسي اړیکې په پلمې ووژل شول، او له ټولو بد تره د دیارلس سوه او اته پینځوسم کال د غبرګولي د مېاشتې پراتمې او یولسمې [۱۹۸۰ د مې دمېاشتې ۲۸ او ۳۱] د څرخي پله د زندان په انګړ کې دویم بلاک ته مخامخ د سیاسي بندیانو ډله ییزه وژنه چې یو شمیر یې د خپل ټاکلي بند موده تیره کړې وه لکه ښاغلی " فصیح" د بامیان له یکاولنګ څخه، نورې بیلګې دي .

باید ووایو چې د داؤود د پرځېدنې په لومړیو شپو ورځوکې روسانو د خپلو بومي چوپړمارو تالي څټو له لارې د اکر وکر" حالت" د بې ثباته کولو لپاره د ولس په منځ کې په ترهګرۍ ، سرې تښتونو او ویرې اچونې لاس پورې کړ او په دغه کار کې څه ناڅه بریالي ول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پوځ کې د پام وړ بدلونونه

د غوايي له کودتا [۱۹۷۸زکال اپریل] مخکې د پوځ په لوړو پوړیو کې بدلونونه رامنځته شول. دغه سکالو له یوې خوا د کودتا په ځیر ټاکل شوې تابیا او د طرحې څرګندونه کوي او له بلې خوا د پوځ په زړه کې د روسانو لاس لرلو ته بربنډه نغوته کوي .

د غواي له کودتا [۱۹۷۸ ز کال اپریل] پوره یوه میاشت مخکې ډګروال عبدالقادر پیلوټ [وروسته د کودتا د رژیم د دفاع وزیر] چې د اوږدې مودې لپاره کورناستی وو، د پوځي مسلخ له آمریت څخه د هوایي او مدافعه هوایي ځواک د رئیس ارکان په توګه وټاکل شو. له هغه وروسته د بګرام د ګارنیزیون بولندوی ، خدای پاله او د داؤود پـلـَـوی ډګروال محمد رحیم نورستانی پیلوټ له کاره ګوښه او پر ځای یې په روسانو پوری تړلی د مشرقي یو ډګروال غلام سخي وټاکل شو .

همدارنګه له کودتا لس ورځې مخکې ، د څلورم زغره وال ځواک بولندوی سرور نورستانی د هغه د ماندینې د درملنې لپاره روسیې ته ولیږل شو. (د ظاهر/ داؤود د دَور د مصوؤنیت ملي رئـیس جنرال اسماعیل خان) ، د دغو کرښو لیکوال (فرهاد لبیب) ته داسې وویل : "له دې چې د روس له څارګرې څانګې سره پر سرور نورستاني د اړیکو د لرلو شک راپارېدلی وو، نو ځکه نومړی د دولت له پلوه د هغه د ماندینې د درملنې لپاره شوروي اتحاد ته ولیږل شو ".

د پوځي ځواک له لوړ درېځ څخه د سرور نورستاني لیرې کول او د هغه په کالخوايي " کفالت" د پرچمي محمد رفیع ټاکنه هغه هم له کودتا څو ورځې مخکې، او مزار شریف ته د معمولي کارونو د تر سره کولو لپاره د اتمې فرقې د بولندوی جنرال شیر محمد خان لیږل ، په څرګنده د داؤود د رژیم د راپرځولو لپاره له مخکې ټاکل شویو تابیاوو او تیاریو ته نغوته کوي .

البته د کودتا د بریالي کېدلو لپاره د پوځ په اډانه کې نور خوځښتونه په پام کې نېول شوي ول. د بیلګې په توګه، د څرخي پله د تخنیکي خدماتو په څانګه کې د اردو د بیارغَولو یا ترمیمخانې مشر، یو ګڼ شمیر شوبلې او نقلیه وسایط په دې پلمې تر " رغښت / ترمیم" لاندې ونیولي چې ګڼې هغوی بیا رغښت ته اړتیا لري او له کودتا څخه لږ موده مخکې یې ترمیمخانه د جنګي توکو په پیاوړي لښکرکوټ اړولې وه. دغه مرکز په کودتا کې د یوې کارَندې او فعالې قطعې په توګه خپله ونډه ولوبوله .

د غوايي له کودتا مخکې د بګرام په هوايي ډګر کې دوولس تنو روسي پیلوټانو د " الوتنو د ښوونکو په توګه " کار کاوه. داؤود په پام کې درلودل چې هغوی کرار کرار له پوځي قطعو څخه لیرې کړي. خو له کودتا څو ورځې مخکې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دوولس تنه روسي پیلوټان " د نویو ښوونکو" تر نامه لاندې چې د پخوانیو " ښوونکو" پرځای ، ځای پرځای کېدل، له روسیې څخه د بګرام هوایي ډګر ته را ورسېدل. په دې توګه د کودتا په ورځ څلورویشت تنه روسي پیلوټان د چارو د تر سره کولو لپاره چمتو ول .

د هغو ناسمو ګنګوسو برخلاف چې ګڼې له تاشکنده روسي الوتکې را والوتلې او کودتا یې بریالۍ کړه، د [۱۹۷۸ د اپریل د ۲۸] د شپې له دوو بجوڅخه ترسهارني سباوون پورې چې کودتاچیان له ماتې سره مخامخ ول، په بګرام کې همدغو میشتو پیلوټانو ارګ او د قوای مرکز پوځي قطعې بمبارد کړې. په بله وینا، روسي پیلوټانو له افغانستانه دننه د محمد داؤود د حکومت اړونده الوتکې په کار واچولې او خپل تالي څټي یې د واکمنۍ پرګدۍ کښېنول .

## د غوایي د کودتا پیل

داؤود خان د مالي وړتیا د ترلاسه کولو او د خپلو تابیاوو او نقشو د سرته رسولو لپاره له لویدیځو هېوادونو څخه په کتنې بوخت او د ولسي ملي شخصیتونو او د چارو د مشرانو له پلوه ورته تود هرکلی وویل شو. څو اونۍ وروسته د ناپییلو هېوادونو غونډه په کابل کې جوړېدله. دغې سکالو روسان خورا زیات لا لهانده کړل، ځکه که دغه غونډه په کابل کې جوړه شوې وای نو داؤود د ناپییلتوب د غورځنګ د مشر په توګه ټاکل کېده او له منځه وړل یې ناشوني کېدل .

څرنګه چې وویل شول ، روسانو د دولت پر هرې څانګې د خپلو اغیزو سیوري غوړولي ول او د هغوی تالي څټي هم د داؤود په سفرونو کې د اقتصادي سلاکاراو پوځي مرستیال ترنامه لاندې د داؤود بدرګه کېدل .

په دغو سفرونو کې د داؤود اقتصادي مستشار محمد خان جلالر [ د خلق او پرچم په حکومت کې د سوداګرۍ وزیر]، اود هغه پوځي مرستیال عبدالحق صمدي [ د کودتا د رژیم د پټو څارګریزو څانګو مشر] د داؤود بدرګه ول. دغو دواړو د داؤود څرګند او پټ ترړونونه او ان د هېوادونو له مشرانو سره د هغه خبرې اترې څارلې .

کله چې داؤود بیرته هېواد ته راستنېږي، په هېواد کې دننه کورني سفرونو پیلوي او خپل سفر له ختیځو ولایتونو څخه راپیلوي. دوه وو پورتـنیو څارګرو د داؤود د سفرونو ټول ګزارشونه په کابل کې د روس سفارت ته رسول .

روسانو چې مخکې له مخکې متې را بډ وهلې وې ،د نوموړو راپوړونو له رسیدا وروسته لاس په کار کیږي. د [افغانستان] د خلق له ډیموکراتیک ګوند سره د شوروي د سفارت د اړیکو د ټینګولو مأمور، نور محمد تره کی ، حفیظ الله امین او ببرک کار مل ځانته رابولي او هغوی ته ډاډ ورکوي چې په ډېر لنډ وخت کې به د داؤود د کابینې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځای دوی ته ورکړل شي او زياتوي : سر له اوسه دې ژر تر ژره د داؤود پر وړاندې هڅو او مبارزې ته پونده ورکړل شي .

د بلې ورځ په سهار د نوموړي ګوند مرکزي کميټې په وزير اکبر خان مېنې کې په يوه کور کې غونډه جوړوي. په همدې ترخ کې حفيظ الله امين ته د شوروي د سفارت له پلوه داسې لارښوونه ورکول کيږي :" د غونډې له پايه وروسته دې مير اکبر خيبر له منځه ولاړ شي " ( د ګنګوسو له مخې ، مير اکبر خيبر له کودتا او د افغانستان د خلق ډيموکرايتک ګوند لاس ته د ځواک له پريوتلو سره مخالف وو.)

په هغو شپو ورځو کې مير اکبر خيبر د پرچم د ډلې د پوځي برخې او حفيظ الله امين (له ډاکټر کريم زرغون وروسته) د خلق د ډلې د پوځې څانګې مشري کوله .

د کودتا د پلي کولولو لپاره د امين په لاس د خيبر د ټغرورټولول کارنده او بنسټيزه ونډه درلودله . امين ، عارف عالميار او اسدالله سروري ته د خيبـر د ترور امر ورکوي. دغه کار د ديارلس سوه او اووه پينځوسم کال د وُري د مياشتې په اته ويشتمې د شپې د نهو بجو په شا او خوا کې تر سره کيږي. په ګوند کې له دغو درو تنو پرته د پېښې په کره څرنګوالي نه پوهيږي .

د راډيو له لارې د فاتحې د اخيستلو د مراسمو خبر خپريږي او په کابل کې د شوروي د سفارت په لارښوونه د فاتحې اخيستونکې ، نور محمد تره کی ، ببرک کارمل او د ګوند نور څو تنه لوړ پوړي ګونديان دي چې نومونه يې په خبرتيا کې اخيستل کيږي او له هغه وروسته د داؤود پر وړاندې څرګندې مبارزې ته لا اوږه ورکول کيږي .

يوه ورځ وروسته د ګوند غړي او له هر څه بې خبره يوه ټولنيزه بدرګه ډله د مير اکبر خيبر مړی د هغه له کور مکروريانو څخه پر اوږه کوي او شهدای صاحلين ته يې رسوي. خاورو ته د مړي له سپارلو وروسته د ګوند د مشرانو له پلوه د داؤود پر ضد ډيرې توندې او ترخې ويناوې ورکول کيږي او د خيبـر د ترور پړه پر داؤود اچوي. ( ولسمشر هر خوځښت په بشپړه توګه څاري او پوهيږي چې يو پيښه رامنځته کېدونکې ده)

د خيبر ماندينه پوهيږي چې خاوند يې د کومو کسانو له پلوه وژل شوې نو ځکه د هيواد عدلي چارواکو ته يو غوښتنليک ورسپاري او په هغه کې نورمحمد تره کی او ببرک کارمل د مير اکبر خيبر وژونکي ور په ګوته کوي .

د کودتا پر وړاندې د داؤود تياری

داؤود خان د کودتا له پيښېدلو مخکې خبر وو نو له دې امله يې لارښوونه ورکړه چې په پوځي لښکر کوټونو کې دې اړين او بې ساری تياری ونيول شي خو د (د احتياط په ويلو بايد ووايم چې) د لښکرکوټونو بيوړه توب او بې کفايتي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځانګړې توګه د دفاع د وزير حيدر رسولي بيوره توب او د هغه شكمنو خوځښتونو ، نه يوازې د كودتا لړۍ ته لا اوږه وركړه بلكه هغه يې د بريا تر پولو ورسوله .

داؤود مخكې د لښكركوټونو د مشرۍ له ځانګو څخه يو شمير پوه او رمبک " انظباط لرونكي" بولندويان ليرې كړي ول او د هغو پر ځاى يې پر داسې كسانو ډه ډه ولګوله چې فطرتاً بيواكه خلک ول .

د كابل د ګارنيزيون په لښكركوټونو كې د لمبر يو تيارسۍ چمتو والى نيول شوى وو. ان لوېديځو هېوادونو ته د داؤود د سفرونو په لړ كې پاليال اوهوډمن بولندويان شپه او ورځ د دندو پر سر ولاړ او خپلو كورونو ته نه تلل.د لښكركوټونو څارګرو څانګو او پوستو هر سرى تر سترګولاندې نيولى وو. په همدې ډول د هر پوځي افسر كور د ښار په هر ګوټ كې د اړوند لښكركوټ له پلوه په نخښه شوى وو .

()()

په راتلونكو ګڼو كې به تاسو لاندني ټكي ولولۍ :

۱ (له جنرال امام الدين سره د كابل ناتـهـ ځانګړې مركه

۲ (د فرهاد لبيب د يادښتونو لړۍ

۳ (د انجنير نجيب الله داوري څو خبرې

۴ (آيا د غوايي په كودتا كې شوروي اتحاد لاس درلود؟ (محمد نبي عظيمي (

۵ (ددیارلس سوه او اووه پينځوسم كال د غوايي د مباشتې له اوومې مخكې د محمد داؤود د وژنې لپاره تابياوي او نقشې نيول شوې وې. ددغې نقشې په خاورو كې د كومو كسانو د لاس او پښو خاپ ښكاري؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## دولسمه برخه

"تیرې توې شوې وینې په اوبو پرې وینځـئ "

صـبورالله سـیاه سـنګ [د اکتوبر شپاړلسم ، 2008 ز]: له تاسو مننه‌ دوی یم چې د دیارلس سوه او اووه پینځوسم کال د غوایي د مپاشتې د اوومې او اتمې نیټو [۲۷ او ۲۸ د اپریل ۱۹۷۸ز کال] د پیښو د روښانولو لپاره چمتویاست ځوپوښتنو ته ځواب وایاست .

جــنرال امــام الـدین: له تاسو مننه. هېله لرم زما خبرې هغسې چې ژمنه مو کړې ده پرته له کمښت او زیادښته درندو لوستونکو ته ورسوئ. زه د هرډول پوښتنې ځواب ته چمتو یم.

سـیاه سـنګ: آیا کېدای شي په پیل کې د ځان په اړه لږ څه ووایاست؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امــام الـدین: زما نوم امام الدین دئ ، کورنی نوم نه لرم او د لوګر په ولایت کې زیږېدلی یم. په دیارلس سوه و پینځوسم کال کې [۱۹۷۱ ز] له حربي پوهنتون څخه د مخابرې له څانګې فارغ شوم. د نجیب الله د واکمنۍ په پیل کې جنرال شوم او د هغه د حکومت تر پرځېدلو پورې مې د افغانستان په پوځي ځواک کې پوځي دنده تر سره کوله. پرکال ۱۹۹۸ز له هیواده دباندې ووتلم او له خپلې کورنۍ سره په اروپا کې د یوه سیاسي پناه اخیستونکي په توګه ژوند کوم. اوس په یوه لومړني ښوونځي کې د ماشومانو د ښوونکي په توګه دنده تر سره کوم .

سـیاه سـنګ: د دیارلس سوه او اوه پینځوسم لمریز کال د غوایي د اومې بدلون په کوم نامه یادوئ : انقلاب ، کودتا ، پاڅون ، پیښه یا څه؟

امــام الـدین: زه هغه ستره تأریخي پیښه " تدافعي پاڅون" بولم ، خو د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په پـَیر کې هر چیرې د " غوایي د انقلاب" په نامه یاد شوی دئ .

سـیاه سـنګ: هغه څه چې تاسو " تدافعي پاڅون" بولـئ ، په څه ډول ، چیرې او کله خبر شوئ؟

امــام الـدین: پر کال دیارلس سوه او اوپینځوسم [۱۹۷۸ز] ما د تورن په رتبې په کابل کې د کوماندو د ۴۵۵ مخابرې قطعې د بلوک د بولندوی په توګه دنده تر سره کوله. د غوایي د میاشتې د اومې ورځې په لومړۍ نیمایۍ [۲۷ اپریل ۱۹۷۸] ، د خپلې دندې په ځای کې زما پام د کابل په ښار کې وسله والې نښتې ته را واوښت. په هماغه مهال ما خبر تر لاسه کړ چې وسله وال ځواک د سردار داؤود د جمهوري حکومت پر وړاندې پاڅون کړئ دئ. په هغه ورځ د پیښې پایله روښانه او څرګنده نه وه. یو شمیرځواکونه د حکومت په پلوی او یو شمیر یې د حکومت پرضد دریځونه راخپل کړي ول. په پای کې د پیښې پایله هغې خوا ته وخوځېدله چې د واکمن جمهوري حکومت د پرځېدنې لامل شوه .

سـیاه سـنګ: آیا له هغې ورځې مخکې ، تاسو د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړی واست؟

امــام الـدین: هو. زه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک غړی وم.

سـیاه سـنګ: په کومې ډلې پورې تړلي واست؟ خلق یاپرچم؟

امــام الـدین: زه د افغانستان د خلق په ډیموکراتیک ګوند کې د ډلو ویشنه په خلق او پرچم سمه نه ګڼم.

سـیاه سـنګ: د ګوند د جوړښتیز /له سازماني اړخه په کومه خوا کې واست: په هغه خوا کې که لارښوونه یې نور محمد تره کي ته رسیدله یا هغه خوا چې لار ښوونه یې د ببرک کارمل په غاړه وه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امــام الـدین: که څه هم ما مخکې وویل چې زه د افغانستان د خلق د ډیموکراتیک ګوند د ډله ییزې ویشنې پلوی نه وم خو د خبرې د لا څرګندېدلو لپاره باید ووایم چې زه د خلق په ډلې پورې تړلې وم .

سـیاه سـنګ: آیا دا رښتیا ده چې تاسو له حفیظ الله امین سره ډېرې نیږدې واست؟

امــام الـدین: نه، دا سمه نه ده. ما له حفیظ الله امین سره هېڅ ډول مخکینۍ پیژندګلوي نه درلودله. ددې له لپاره چې زما له خبرې د بلې مانا ښندنه ونه شي باید زیاته کړم چې ما د هغه نوم دداسې یو چا په توګه اوریدلای وو چې د ګوند د مشرتابه په ډله کې دئ. خو که له " نیږدې والي " څخه ستاسو موخه له نیږدې پیژندګلوي او یا تشکلاتي اړیکو څخه وي نو دا رښتیا نه ده. یو ځل بیا ټینګار کوم چې ما له حفیظ الله امین سره نیږدې اړیکي نه درلودل.

سـیاه سـنګ: د یوه پوځي افسر او همدا شان د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د یوه غړي په توګه ددیارلس سوه او اوه پینځوسم کال [۲۷ اپریل ۱۹۷۸ز] د غوایي د مباشتې په اوومې تاسو ته ګوند څه ډول پیغام په لاس کې درکړ؟

امــام الـدین: څنګه چې ما مخکې وویل ، زه د کوماندو د قطعې د مخابرې یو افسر وم. د مخابرې دنده د بولندوی د اړیکو ټینګول د هغه ترلاس لاندې او له هغه پورته پوړیو سره وي. په هماغه لومړۍ ورځ ، یعنې د غوایي په اوومې [۲۷ اپریل ۱۹۷۸] ماته د ګوند له پلوه هېڅ ډول ځانګړی پیغام نه وو راکړل شوی. زه په خپلو ورځنیو چارو بوخت وم او د کوماندو د قطعې د ډلګیو اړیکې مې له اړوند بولندوی یعنی جګړن محمد هاشم سره ټینګې کړې وې.

سـیاه سـنګ: د غوایي په اتمې [۲۸ اپریل ۱۹۷۸ز] ستاسو لوب ونډه له کوم ځایه او څنګه پیل شوه؟

امــام الـدین: د غوایي د مباشتې د اوومې ورځې په لومړۍ نیمایۍ د جګړن محمد هاشم د بولندې پر بنسټ ماته د پاڅون په ضد د کابل په ښار کې دنده راکړل شوه. د هماغې ورځ په پای کې نوموړي جګړن د قطعې د مشرتابه [سوق او اداري] دنده د لومړي ټولي بولندوی [شهنواز تني ته چې په هغو ورځ کې یې د " تني" کورنی نوم نه کاراوه] په داوطلبه توګه وسپارله او ماته یې دنده راکړه چې هغه ته ورشم او د ټولو ټولـیــو اړیکې له هغه سره ټینګ کړم او امرونه ته یې غاړه کښېږدم. د غوایي د میاشتې د اتمې ورځې د سهار په شپږو او اووه بجو د لومړي ټولي بولندوی چې اوس د ټولې قطعې بولندوی ګـڼل کېده، ماته داسې امر راکړ :

"له دې چې د مخابرې دنده د اړیکو پر ټینګولو بر سیره د پوځي پیغامونو وړنه او راوړنه هم ده نو له دې امله تاسو دنده لرئ چې د پاڅون د پوځي شورى پیغام ولسمشر ته ورسوئ او ورته ووایاست".

د پیام د متن لنډه بڼه داسې وه : " له دې چې واک د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته لیږدېدلی دئ نو تاسو د پاڅون د پوځي شورى په امر، ځان وسپارئ ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهنواز تڼي ټينګار وکړ: " کله چې ولسمشر ته نيږدې ورځې بايد وسله له ځان سره ونه لرئ".

سـياه سـنګ: شهنواز تڼي دغه امر له چا تر لاسه کړی وو؟

امـام الـدين: دقيقاً نه پوهيږم. خو دومره پوهيږم چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مشرتابه ډلې نوموړی تيره شپه د راډيو دفتر ته بللی وو.

سـياه سـنګ: له دې څرګنديږي چې تاسو د هغې لارښوونې پربنسټ چې له شهنواز تڼي مو تر لاسه کړې وه ، محمد داؤود ته ورغللئ؟

امـام الـدين: هو. زه بايد د هغې لارښوونې پر بنسټ چې د قوماندانۍ له مقام يا په بله وينا له خپل آمر څخه مې تر لاسه کړې وه بايد ارګ ته ننوتی وای او د پاڅون د پوځي شورى پيغام مې سردار داؤود ته ويلای وای. ماته همداسې امر شوی وو.

سـياه سـنګ: کله، په څه ډول او له چاسره محمد داؤود ته ورغللئ؟

امـام الـدين: د غوايي د مياشتې د سهار شپږ او اووه بجې [۲۸ اپريل ۱۹۷۸ز ] وې ؛ له درې تنو سر تيرو سره هغه ځای ته ولاړم چې داؤود خان پکې وو. له ما سره وسله نه وه.

سـياه سـنګ: کولای شئ ددغو دريو تنو سرتيرو نومونه واخلـئ؟

امـام الـدين: له دې چې له هغې پيښې څخه له ديرشو کالو زياته موده تيريږي ، د ويل شويو سرتيرو نومونه مې په ياد نه دي .

سـياه سـنګ: هغه کسان چې تاسو واياست چې له تاسو سره يوځای محمد داؤود ته ورغلل، افغانان ول؟

امـام الـدين: هو. دغه درې تنه سرتيري چې له ما سره يو ځای ولاړل، افغانانو ول.

سـياه سـنګ: ... او هم يې وسله درلودله؟

امـام الـدين: هو. هغوی وسله درلودله.

سـياه سـنګ: آيا دغه خبرې چې نور يې ستاسو له خولې کوي رښتيا دي : " زما زغره واله د ولسمشرۍ د ماڼۍ د ختيځې دروازې مخې ته د تيار سئ په حالت کې ځای پرځای دريدلې وه. د غوايي د مياشتې د اتمې نېټې [۲۸ اپريل ۱۹۷۸ز] په سهار د ګارد قطعاتو د سپينو بيرغونو په پورته کولو خپله سلامي کېدنه (تسليمي) اعلان کړه. په همدغه وخت کې ماته امر راکړل شو چې داؤود خان ونيسم. له هغه مخکې داؤود له موږ سره اړيکه نيولې وه او د کودتا له مشرانو سره يې د خبرو اترو غوښتنه کړې وه. د [افغانستان د خلق ډيموکراتيک] ګوند مرکزي کميټې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه غوښتنه منلې وه. هغوی پریکړه کړې وه چې قادر او اسلم وطنجار داؤود ته د لیدنې لپاره ولیږي. په همدې وخت کې یوځل بیا ما ته امر وشو چې د ولسمشرۍ ماڼۍ ته ننوځم او داؤود ونیسم. و مې لیدل چې د زغره والې هېڅ چلوونکی او افسر دې ته چمتو نه دئ چې ارگ ته را سره ننوځي. لنډه دا چې ما یو چلوونکي پیژانده اوهغه چمتو شو چې زما زغره واله د ارگ په لور وچلوي. څلورتنه نور پوځیان له ما سره یوځای شول ".

امــام الـدین: دا زماخبرې نه دي. هر چا چې د هر لامل له امله لیکلي وي یوازې د خیالي خبرو د په زړه پورې کولولپاره یې کړي دي او په بر لاس یې خلکو ته درواغ ویلي دي. لومړی زه د مخابرې افسر وم، ما زغره واله نه درلودله او نه په زغره والې کې د ولسمشرۍ ماڼۍ ته تللی یم ، چلوونکې خو لاپرېږده چې ما به له پخوا پیژانده او گڼې هغه به ارگ ته دننه بیولی وم. دریم دا چې گڼې له ماسره څلور تنه پوځیان ول، دا له اره رښتیا نه ده. ماته امر شوی وو چې د پاڅون د پوځي شورۍ پیغام داؤود ته ووایم. هلته نه د قادر او نه د اسلم وطنجار پښه گډه وه. دا هسې باد راوړې او منځتشې خبرې دي .

سـیاه سـنگ: د هغو بدرگه کسانو د ډلې په منځ یا د هغوی ترخوا چې تاسو یې د ولسمشرۍ ماڼۍ ته بدرگه کولـئ ، روسي سرتیري، افسران، پوځي کارکوونکي یا غیر پوځي روسان هم ول؟

امــام الـدین: نه. په هماغه ورځ هېڅ روسي تبعه له موږ سره نه وو.

سـیاه سـنگ: په څو ځایونو کې داسې لیکل شوي دي : تاسو د گارد د آپراسیون آمر ډگرمن گل آقا هغې خونې ته بوتلـئ چې داؤود خان پکې وو، آیا دا سمه ده؟

امــام الـدین: نه ، دغه ادعا سمه نه ده. په هغه ورځ د گل آقا په نامه له موږ سره څوک نه ول.

سـیاه سـنگ: که وویل شي چې د گل آقا رښتونی نوم " آقا محمد" دئ ، تاسو به څه ووایاست؟

امــام الـدین : ما د آقا محمد په نامه په گارد کې څوک نه پیژندل. او په دغه نامه له موږ سره څوک نه ول.

سـیاه سـنگ: که داسې وویل شي چې ارگ ته ستاسو له ننوتلو مخکې گل آقا یا آقا محمد په ارگ کې وو او وروسته له دې چې تاسو ورسیدلی ، نوموړي محمد داؤود ته د پوځي سلام په کولو ویلي وي چې : کودتاچیان غواړي له تاسو سره ووینې. آیا دا رښتیا ده؟

امــام الـدین: نه. دا ادعا هم نه شي کیدلای رښتیا وي. په هغه ورځ له اره د گل آقا یا آقا محمد په نامه څوک نه ول. تر هغه ځایه چې زما په یاد دي ، چا سردار داؤود ته ونه ویل چې د کودتا کسان غواړي له تاسو سره وگوري .

سـیاه سـنگ: کله چې تاسو محمد داؤود ولید، باید د غوایي د مباشتې د اتمې نېټې [۲۸ اپریل ۱۹۷۸ز] د سهارد ۶:۴۵ او ۷:۰۰ شېبې وي. آیا دغه انگیرنه سمه ده؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امـام الـدین: دقیقاً نه شم کولای ووایم، خو ګومان کوم د سهار شپږ ، اووه بجې وې .

سـیاه سـنګ: آیا د محمد داؤود د نیولو لپاره تاسو په تش لاس تللي واست؟

امــام الـدین: زما دنده سردار داؤود ته د پاڅون د پوځي شورى د پیغام لیږل او هغې شورى ته د تسلیمیدلوخبر ورکول ول، د هغه د نیولو امر ماته نه وو راکړل شواى .

سـیاه سـنګ: که محمد داؤود ستا خبره منلاى واى ، تاسو څه کول؟

امــام الـدین: که داسې شوي واى، زما دنده پاى ته رسیدله. د هغه د تسلیمۍ خبر مې د سترګو په رپ کې خپل بولندوى ته رساوه. د پوځي شورى لوړ پوړو کسانو د سردار محمد داؤود او د هغه د کورنۍ په تړاو یې پریکړه کوله .

سـیاه سـنګ: آیا مخکې له دغې پیښې ، تاسو محمد داؤود لیدلى وو؟

امــام الـدین: هو. سردار محمد داؤود مې په پوځي پریډونو کې لیدلى وو. بر سیره پر هغې، تلویزیون او ځینو سینمایي فلمونو د هغه سفرونه هم ښوول او هم د هغه له څیرې سره بلد وم .

سـیاه سـنګ: ستاسو له انده ، سردار محمد داؤود څه ډول شخصیت وو؟

امــام الـدین: سردار محمد داؤود د شاهي کورنۍ یو لوړ پوړى جنرال وو چې په لوړو پوځي او سیاسي پوړیو کې یې دنده ترسره کړې وه. هغه په خپل وخت کې یو مخور سر لښکر وو. ما له پوځیانو اوریدلي دي چې داؤود خان یو زړور، تینګ هوډى، پریکنده او د دسپلین لرونکى یو شخصیت وو. د هغه په چال چلند کې دسپلین او پریکندوالى تر هر څه څرګند ول. ویل کیدل چې له خپلو همکارانو او تر لاس لاندې کسانو څخه یې کلکې غوښتنې درلودلې. دا مې هم اوریدلي ول چې د امرونو او د دندو په تر سره کولو کې یې پرغزلتیا (عصبانیت) او شاهي ښاڅمنتیا (غرور) پرته وه او پرغزلتیا د هغه د سیاسي او پوځي ژوند یوه څرګنده بیلګه جوړوله چې د ژوند په وروستیو شپېو کې ور څخه څرګنده شوله. زما په اند د چال چلند یو شمیر بیلګو له پریکندتوب ، زړوروالي او دسپلین د سردار محمد داؤود پر پوځي کرکتر ناوړه اغیزې شیندلې وې .

سـیاه سـنګ: تاسو په خپل اند، ځان په کومه هینداره کې وینـئ؟

امــام الـدین: نه پوهیږم د ځان په ستاینه کې څه ووایم. زه یوعادي او نورماله انسان یم او پوځي افسر وم، خپله دنده او کاري ورځنۍ راباندې ګرانه وه له خپلې دندې او کارې ورځنۍ سره مې مینه درلودله. خپله دنده مې تل په سپیڅلتیا او رښتونګلوۍ تر سره کوله او تل مې هڅه درلودله چې له ځان سره د خپلو مشرانو او د ترلاس لاندې کسانو خوښمني او ډاډیینه او د خپلو همليکوکسانو زړه په لاس کې ولرم. زما د دندې د تر سره کولو د کلونو په اوږدو کې زما د بریالیتوب راز همدا وو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـیاه سـنګ: یو شمیر تأریخ لیکونکي ، ګزارش ورکوونکي ، پیښلیک لیکونکي او یادښت لیکونکي د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ وژنه ستاسو کار بولي. مخکې له دې چې دهمدغې خبرې د اړوندو ټکیو سپړنې ته راشـئ ، تاسو خپل ځان له همدغه اړخه د هینداري په کوم ګوټ کې وینـئ؟

امــام الـدین: د یادښت لیکونکو دغه تورونه رښتیا نه دي. ما د یوه پوځي خبر رسوونکي په توګه یوازې خپله دنده تر سره کړې ده او د پوځي شورى پیغام مې ولسمشر ته ورساوه او هغه ته مې ووایه. زما په اند د دندې ترسره کول کومه ګناه نه ده. زه له وجداني اړخه ډیر آرام یم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دیارلسمه برخه

"تیرې توې شوې وینې په اوبو پرې وینځـئ"

سـیاه سـنګ: کله چې له سردار محمد داؤود سره مخامخ شوئ ، څه مو وکړل او څه مو وویل؟

امـام الـدین: همدا چې له سردار محمد داؤود سره مخامخ شوم ، لومړی مې په ډیر درنښت پوځي دودیزسلام وکړ. وروسته مې وویل چې واک د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته لیږدېدلی دئ او تاسو باید د پاڅون د پوځي شورى د پریکړې پربنسټ تسلیم شـئ.

سـیاه سـنګ: محمد داؤود ستاسو د پیغام له اوریدلو وروسته څه وویل؟

امـام الـدین: داؤود خان د پوځي شورى د لیږل شوي پیغام له اوریدلو وروسته چې ما رسولای وو او ورته مې ووایه ، د یوې کلمې په اندازه بل څه ونه ویل.

سـیاه سـنګ: آیاکیدای شي داسې وانګیرو چې محمد داؤود څه ویلي وي خو تاسو نه وي اوریدلي؟

امـام الـدین: نه. سردار محمد داؤود یو ټکی هم په ژبه را نه ووړ. هغه څه ونه ویل، او که ویلي یې وای ما به حتماً اوریدلي وای او هغه به مې په ډیرامانت نن ویلي وای.

سـیاه سـنګ: محمد داؤود مو چیرى ولید؟ له هغه څخه د څو مترو په واټن لیرې واست؟

امـام الـدین: ما سردار داؤود د ګلخانې د لومړي پوړ په دا لان کې ولید. د نوموړي دالان پسور او اوږدوالی ښایي شپږ په اتو مترو کې وي. په دې توګه ویلای شم چې زما او د داؤود خان ترمنځ واټن ښایي په شوني توګه شپږ متره وو.

سـیاه سـنګ: د ګلخانې د ماڼۍ دروازه مو څنګه خلاصه کړه؟

امـام الـدین: د ګلخانې د ماڼۍ دروازه نه وه تاله شوې، هغه خلاصه وه.

ســـیاه سنګ: د " افغانستان په شلمه پیړۍ کې / افغانستان درقرن بیستم : ۱۹٦۹ � ۱۹۰۰" (د بي بي سي د خپرونو په ټولګه کې ، ظاهر طنین، ۲۰۰۵) د سردار محمد داؤود د وراره ، محمد عزیز نعیم له خولې په ۲۲۴ او ۲۲٦ پاڼو کې داسې راغلي دي:

"مور مې د [دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریز کال د غوایي د مباشتې د اتمې / ۲۸ اپریل ۱۹۷۸] سهارنۍ پیښې په خپلو سترګو ولیدلې. دهغې پیښې لنډیز داسې دئ : په وروستیو شېبو کې [د کوماندو] یو افسرننوځي او سردار

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد داؤود ته وايي : بايد تسليم شئ. محمد داؤود خان پوښتي : تاسو ته دغه امر چا درکړی دئ؟ هغه په ځواب کې وايي : د قادر له پلوه. محمد داؤود خان وايي : زه پرته له خدايه بل چا ته نه تسليميږم او د ژوند تر وروستۍ ګولۍ پورې جګړې ته چمتو يم ".

آيا محمد داؤود تاسو ته داسې نه ول ويلي؟

امـام الـدين: نه. د پوځي شورى له پلوه د ليږل شوي پيغام له اوريدلو وروسته چې ما هغه راوړی وو او ومې وايه ، سردار محمد يوه کلمه هم ونه ويله. دغه پوښتنې او ځوابونه چې پورته راوړل شوي ، له بيخ او بنسټه ربښتيا نه دي .

سياه سـنګ: دغو لاندينوی ۷ يادښتونو ته پام وکړئ:

۱ .۹۷ پاڼه : " د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند پاڅيدا او ډوبيدا / ظهـور و زوال حـزب دمـوکـراتيک خـلـق افـغـانسـتان د اکاډيميسن دستګير پنجشيري ليکنه:

"کله چې امام الدين دغه د لوګر د زيارګالو وګړو بچي او د کوماندو د يوه ټولي بولندوی د انقلاب فرمان سردار داؤود او د رژيم لوړ پوړو کسانو ته اعلان او هغوی ته يې د ګوند امر ورساوه چې " تاسو د مرکزي کميټې د فرمان پربنسټ محکوم ياست او ځان تسليم کړئ " ، سردار محمد داؤود نه يوازې دا چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند او د تأريخ فرمان ته تسليم نه شو ، بلکه په اشرافي بوږنوږي تاوتريخوالي يې قدير نورستاني او خپل زوی ته امر وکړ چې د امام الدين او نورو سرتيرو او هم د خپلې کورنۍ پربې ګناهو ښځمنو او ماشومانو ډزې وکړي او خپلې وروستې ګولۍ ور تشي کړي. هغوی پرته له ځنډه د سردار محمد داؤود وروستنی فرمان تر سره کړ او د امام الدين او د کوماندو د سرتيرو پر مخ يې د اور خوله پرانيستله".

۲ " - پر افغانستان د روس د تيري په اړه څو ماتې کرښې / چـند سـطـر شـکـسـته در باره تجــاوز روس در افــغـانســتان" [چاپ ليتو ، نوی ډيلی / هند ، ۱۹۸۱ز] د فرهاد لبيب

ليکنه پاڼې: ٦۹ - ۷۰:

"ما [ امام الدين] په لوړ غږ وويل : د [افغانستان] د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې د امر پربنسټ خپله وسله پر ځمکه کښيږدئ او تسليم شـئ. داؤود په ځواب کې وويل : کمونيستانو او د هغو چوپړيانو ته نه تسليميږم".

۳ " -افغانستان په ورستيو پينځو پيړيو کې / افغانســتان در پنج قــرن اخير" ، د مير محمد صديق فرهنګ ليکنه . لومړی چاپ ، د عرفان له خپرونو څخه ، تهران / ايران ، د ديارلس سوه او څلور اويايم لمريز کال د غبرګولي مياشت [ اپريل ۱۹۹۵ز ]د کتاب ۸٦۸ پاڼه:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د هغې مرکې پربنسټ چې د تره کي د رژيم له لومړني دفاع وزير عبدالقادر سره شوې او مخکې مو ورڅخه يادونه وکړه نوموړی په دې تړاو داسې وايي : " د لود سپيکر له لارې مو له هغه (محمد داؤود) څخه د تسليمۍ غوښتنه وکړه. په پای کې يې وويل چې په دې آړ (شرط) تسليميږم چې قادر او وطنجار په خپله د خبرو لپاره ماته راشي. زه او وطنجار د ماڼۍ پر لور وخوځېدلو ، خو ملګرو زموږ مخه ونيوله او دوه تنو نورو ته يې دنده وسپارله چې داؤود ته ورشي" .

۴ " � د افغانستان په ورستيو دريو لسيزو کې پوځ او سياست / اردو و سياست در سه دهه اخير افغانستان " د ستر جنرال محمد نبي عظيمي ليکنه : پاڼې : ۱۴۱ او ۱۴۲:

"د سردار محمد د نيولو امر د کوماندو د قطعې افسر لومړي بريدمن امام الدين ته ور کول کيږي. امام الدين د ګارد د اپراسيون له آمر ګل آقا سره يو ځای داؤود خان ته ورځي او هغه ته وايي : " د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې د امر پربنسټ خپله وسله پر ځمکه کښيږدئ او تسليم شئ." داؤود ځواب ورکوي : " کمونيستانو ته نه تسليميږم":

۵ " � له ستره اميره تر ستره لاربنوده / از امير کبير تا رهبر کبير" د عبدالحق مجددي او ډاکټر فضل الله مجددي ليکنه ، د کابل چاپ ، د ميوند خپرندويه ټولنه ، کابل / افغانستان ، ۱۹۹۹ ، د کتاب پاڼه ۵۹۶:

"امام الدين د کوماند په قطعې کې د لومړي بريدمن په رتبې په پوځ کې يو ټيټ پوړی افسروو چې وروسته د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د واکمنۍ په وخت کې د پوځ ګڼ شميرلوړو رتبو ان د ډګر جنرالۍ رتبې ته لوړ شو.

جنرال امام الدين چې د خلق د ډيموکراتيک ګوند له نړيدا وروسته د جنرال عبدالرشيد دوستم په ځواکونو کې په مزار شريف کې د پوځي ښوونې او روزنې د رئـيس په توګه يې دنده تر سره کوله پرمحمد داؤود د بريد او د هغه د وژنې په اړه داسې وايي:

"حفيظ الله امين چې د کودتا د بولندې پازوالې يې په غاړه درلودله ، د بولندې په مرکز د راډيو افغانستان په ودانۍ کې وو او د هوايي بمباران او د شوبلو د پياوړي اور له شته والي او هم په ريشخورو کې د يو څه مقاومت له شتون سره سره ، د داؤود خان د مقاومت او د ارګ د نه تسليميدلو په اړه په ټينګې انديښنې کې ډوب وو. [نوموړي] اکر وکر ته د ژورې کتنې او د وضعيت د محکمې (ځيرلو) لپاره د شپې په نهو بجو د راډيو افغانستان په ودانۍ کې د کودتا د لويو پوځي قطعو د بولندويانو او مشرانو په ګډون يوه بيړنۍ غونډه جوړه کړه او ويې ويل : په ارګ او ريشخورو کې مقاومت دوام لري. که دغه مقاومت ژر پای ته ونه رسيږي ، ښايي يو شمير قطعات چې لا تر اوسه د پيښې څارونکې او کتونکي دي او تر اوسه بې پرې پاتې دي د داؤود خان په ګټه راپورته او را وبه خوځيږي. او يا

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم د داؤود مرستې لپاره به له نورو ولايتونو څخه نور قطعات را ورسيږي. له دې امله په لومړي ګام کې دې ، د ارګ پر شخړې د پای ټکی کښېښودل شي.

په کودتا کې ښکېلو لوړ پوړو افسرانو وړانديز وکړ چې دغې موخې ته د رسيدلو لپاره د هوايي بمبارد او د شوبلو د پياوړي اور تر څنګ اړينه ده چې د ولسمشرۍ ماڼۍ ته د ننوتلو لپاره، پليو سرتيرو دې ته لاره پرانيستل شي او د ارګ مقاومت به له منځه يووړل شي. له هغه وروسته حفيظ الله امين وويل : کومه قطعه چمتو ده چې په داوطلبه توګه د پلي بريد دنده په غاړه واخلي.

زه [ امام الدين] چې په توده وينه کې يو لوګرى ځوان ووم په پښو ودريدم او ومې ويل چې زه چمتو يم پلی بريد تر سره کړم. موږ د داؤود خان خونې ته ننوتلو. په خونه کې داؤود خان ، ورور يې نعيم خان ، يو يا دوه تنه وزيران ، د داؤود خان يوه لور او څو تنه نور ول. همدا چې د داؤود خونې ته ننوتم د پوځي درنښت او دوديز سلام مې تر سره کړه.

داؤود خان چې په لاس کې يې تومانچه درلودله ، وويل: څه خبره ده؟ و مې ويل: صاحب! خبره له خبرې تيره ده، تسليم سئ. داؤود خان په بوړنوړې ژبه وويل : چاته تسليم شم؟ ما ورته وويل : انقلابي شورى او وسله وال ځواک ته تسليم شـئ چې وسله وال ځواک ټول قطعات تصفيه کړي او يوازې تاسو ياست چې مقاومت کوئ. داؤود خان وويل: هېڅکله به تسليم نه شم".

٦ " � په افغانستان کې د شلمې پيړۍ د وروستۍ نيمايي پيښې " د محمد کبير نذير سراج ليکنه ( لومړی چاپ ، فرانکفورت ، ۱۹۹۷) د کتاب ۱۱۳ او ۱۱۴ پاڼې:

"زغره والې د ګلخانې د ماڼۍ پوړيو ته نيږدې شوې او له هغو يو تن تورن او درى تنه بريدګي را ووتل او د ګلخانې پر ماڼۍ يې بريد ور ووړ. [ هغوی] په هک پک والي وليدل چې داؤود خان لا تر اوسه ژوندی او په دوه وو پښو ولاړ دئ ، خو ټپيان د ځمکې پرمخ پراته ول.

تورن امام الدين پر محمد داؤود خان چيغه کړه : " مقاومت ګټه نه لري. تسليم شـئ." سردار محمد داؤود خان په ځواب کې وويل :" خپل سر مشر راوليږه چې له ما سره خبرې وکړي." تورن بيا وويل : موږ ټول سر مشران يو. هرڅه چې لرئ له موږ سره يې وواياست".

۷ " - هغه راز چې فايق بربنډ نه کړ/ رازي که فايق افشاء نکرد" [ ليکوال : خان آقا سعيد ، د عصر خپرندويه ټولنه، پيښاور / پاکستان ، منی ۲۰۰۰] : د کتاب پاڼې : ۱٦۲ او ۱٦۳:

"د غوايي د اوومې نيټې په شپه موږته له بالاحصاره ، له داؤود خان سره د جګړې او د ارګ د نيولو لپاره دنده راکړل شوه. کله چې ارګ ته ورسيدلو ، د الوتکو د غړونو پرله پسې ګرزهار او د هغوی يو په بل پسې بمبارۍ او د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوبلو نه دریدونکې ډزې هر لورته خوَرې وَرې وې او اخ او ډب په ټینګه روان وو. نیمه شپه وه چې بریا زموږ په خوا شوه او موږ د ارګ پر انګړ ور ننوتلو.

په هغه وخت کې د قطعې بولندوی زما ټولې ته د داؤود خان د نیولو دنده وسپارله. زه او زما سرتیري د ګلخانې د ماڼۍ پر لور وړاندې ولاړو او د ماڼۍ ټولې کړکۍ مو د ماشینګڼو او وسلو تر اور لاندې ونیولې او پر ودانۍ ور ننوتلو.

چوپه چوپتیا خپره وه. خپلو بدرګه کسانو ته مې وویل چې مورچل ونیسي او همداسې ډزې کوئ. ما له ځان سره لود سپیکر راوړی وو او د هغه له لارې مې خپلو کسانو ته دنده ورکوله.

په کوټه کې مې د هماغه لوډ سپیکر له لارې خبرې وکړې او ومې ویل سردار داؤوده ! تاسو د پوځي شورى په امر خپل ځان راتسلیم کړئ. په همدغه وخت کې د یوې فیلپایې له شا یې په خپل ویرونکې غږ وویل : " زما په قاموس کې تسلیمي نشته. پرته له خدایه بل چا ته نه تسلیمیږم".

کله چې تاسو وایاست چې " محمد داؤود د پوځي شورى د لیږل شوي پیغام له اوریدلو وروسته دیوې کلمې په اندازه څه ونه ویل " ، ستاسو له انده له پورتنیو ۷ یادښتونو څخه یو یې هم رښتیا نه دئ . آیا همداسې ده؟

امــام الـدین: زه یو ځل بیا هماغه ویل شوی ځواب په ټینګار تکراروم چې سردار محمد داؤود د پوځي شورى د پیغام له اوریدلو وروسته یو ټکی هم نه دئ ویلی.

لومړی - که تاسو پورتنیو لیکنو ته په ځیر پام وکړئ ، په رڼو درته ښکاري چې څومره له یو بل څخه توپیر لري او ان اړوپیچ (ضد ونقیض) دي. ددغو لیکنو ګڼ شمیر هغو هنري داستانونو ته ورته والی لري چې نه رښتوني ګزارش ته ورته دي او نه یوه تأریخي واقعیت ته.

دویم- کوم روغ رمټ عقل به دا ومني په یوې کوټه کې چې پینځه یا شپږ متره واټن ولري ما به ګنې له لودسپیکره کار اخیستای وي؟ او یا دا چې د بولندویانو په غونډه کې د حفیظ الله امین مخې ته دې اوسم او د ولسمشر پر ماڼۍ برید وکړم؟ حال دا چې ما په غونډه کې ګډون نه درلود. د لیکونکي د لیکنې پربنسټ په هغې غونډه کې باید د قطعو انقلابي بولندویانو ګډون درلودای نه د مخابرې یوه عادي افسر.

دریـَم - که زه له ګل اقا سره یو ځای وای ، نوموړی له یوې خوا د لوړ سیاسي او پوځي دریځ څښتن وو او له بلې خوا زما استاد وو د هغه په شتون کې ما نه شوای کولای د پوځي شورى پیغام ووایم ځکه پیغام باید د هغه له پلوه ویل شوای وای.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم - زه له حقیقته سترګې نه پټوم. سره له دې چې داؤود خان په عملي ډول څرګنده کړه چې نه تسلیمیږي خو کاشکې هغه یوه کلمه هم ویلې وای چې هغه مې لوړ پوړو چارواکو ته رسولې وای او هغه به مې نن په ټولې ګروهنې ، امانت او وجدان د تأریخ پر پاڼو لیکلې وای.

سیاه سنګ: ستاسو د وینا پربنسټ چې د غوایي د مپاشتې د اوومې او اتمې د سهار شپږ او اوو بجې وې ، له داؤود خان سره ستاسو وروستنۍ کتنه د څومره وخت لپاره وه؟

امام الدین: له داؤود خان سره زما وروستۍ کتنه ښایي لږ تر لږه یوه یا دوې دقیقې وه. په ډاډ ویلای شم چې له دوه وو دقیقو قطعاً ډیره نه وه .

سیاه سنګ: په هغو دوه وو دقیقو کې څه پیښ شول؟

امام الدین: کله چې د ګلخانې ماڼۍ ته ننوتلو ، ومې لیدل چې داؤود خان له څو تنو وسله والو سره وسله په لاس ولاړ دئ. د کوټې تر ستنې لاندې یو شمیر نورې وسلې هم لیدل کېدلې. ما د پوځي درنښت او دودیزسلام له کولو وروسته د پوځي شورى پیغام ووایه. کله چې داؤود خان پیغام واورید ډیر سخت په قهر شو خپله وسله یې چې یوه تومانچه وه را پورته کړه او غوښتل یې موږ پر لور ډزې وکړي. په همدغې شېبې کې یوې ځوانې نجلې د هغه لاس ونیو چې د مخه یې ونیسي خو ډز وشو. د هغې نجلۍ لاس ټپي شو او نجلۍ پر ځمکه پریوتله. په همدې ترڅ کې د داؤود خان پاتې بدرګه وسله والو زموږ په لور ډزې وکړې چې دوه ګولۍ زما د ښۍ اوږې پر مفصل ومښتلې او لاس مې له واکه ووت. له هغه وروسته دوی د یوه سرتیري پر لور چې ما سره یو ځای د ګلخانې ماڼۍ ته ننوتلای وو ډزې وکړې. زما له لاسه وینو دارې وهلې او ډیر کلک درد یې کاوه د بې هوښې په حالت کې مې هلې ځلې کولې چې ځان د مرګ له لومو و ژغورم او په بیړه له دروازې ووتم.

سیاه سنګ: آیا مخکې له دې چې له دروازې ووځئ ، د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ پر خوا مو ډزې وکړې؟

امام الدین: څنګه چې ما مخکې وویل ، بیا هم په صداقت وایم چې زه ارګ ته په تش لاس تللای وم. یو بې وسلې سړی چې ټینګ ټپي شوی هم وي او ښی لاس یې له کارَه لویدلی وي، څنګه کولای شي چې د چا پر خوا ډزې وکړي؟ ما نه وسله درلودله او نه مې د چا پر خوا ډزې کړې دي.

سیاه سنګ: آیا له ټپي کیدلو وروسته وسله والو سرتیرو ته مو امر ورکړ چې د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ پر خوا ډزې وکړي؟

امام الدین: نه . زما دنده د پوځي شورى د پیغام وړل او رسول ول نه د چا د وژلو فرمان. نه یوازې دا چې ما داسې امر نه دئ ورکړئ بلکه د هغه واک مې هم نه درلود. زه په هغه شېبه کې یوازې د ځان په سوچ کې وم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سـیاه سـنگ: هغه نجلۍ چې تاسو وایاست چې خپل لاس یې  وغځاوه او ګڼې نه یې غوښتل چې محمد داؤود دې خپله تومانچه و کارَوي، څوک او څو کلنه وه؟

امـام الـدین: ما هغه نه پیژندله. ښایي د داؤود خان لور یا لمسۍ وه او ګومان کوم اتلس کلنه وه .

سـیاه سـنګ: محمد داؤود او کورنۍ یې څنګه و وژل شول؟

امـام الـدین: یو ځل بیا خپلې ویل شوې خبرې تکراروم : زه د لنډې مودې لپاره د داؤود خان مخې ته وم او هغه هم د پیغام له ویلو سره سم ټینګ ټپي او بیا بې هوښه شوم. په هغې شپبه کې ما د پریکړې وسه نه درلودله او په دې سوچ کې لویدلی وم چې څنګه ځان د مرګ له لومو وژغورم. له دې امله د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژنې د جزئـیاتو په اړه دقیقاً نه پوهیږم. زما او زما د یوه سرتیري له ټپي کیدلو او د داؤود خان د وسله وال اقدام له پورته کولو ، وروسته ښایي دوه اړخیزې ډزې شوې وي.

سـیاه سـنګ: آیا محمد داؤود د ګولیو د باران په هماغه لړۍ کې ووژل شو؟

امـام الـدین: په دې اړه ډیر نه پوهیږم. ما د ټپ له امله ډیر درد درلود او وینې مې بهیدلې ، د شوک په حالت کې د مرګ له لومو د ځان د ژغورنې په لټه کې وم. په هغه شېبه کې زه یوازې او یوازې د ځان په غم کې وم او نه مې شوای کولای د بل لوري د حالت په اړه فکر وکړم.

سـیاه سـنګ: په بله وینا، تاسو وایاست چې تاسو د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ وژنه مو نه ده لیدلې. آیا همدا انګیرنه رښتیا ده؟

امـام الـدین: هو. چورلټ سمه ده. ما د داؤود خان او د هغه د کورنۍ وژنه په سترګو نه ده لیدلې.

سـیاه سـنګ: تاسو وویل چې د ګلخانې د ماڼۍ له دروازې ووتلی ، له هغه وروسته څه پیښ شول؟

امـام الـدین: کله چې د ګلخانې د ماڼۍ له دروازې ووتلم ، شا ته مې وکتل، ومې لیدل چې زما بدرګه سرتیري له ما سره نسته او هماغلته پاتې شوي دي. د ګلخانې له ماڼۍ د باندې د کوماندو دقطعې نور پرسونل چې د پیښو پایلو ته یې سترګې څارلې ، زه یې په ټپي او په وینو ککړ ولیدلم. ښایي ددغې پیښې کتنې د کوماندو د قطعې د پرسونل د ډله ییز برید د پارونې لپاره لاره پرانیستې وي چې د دواړو خواوو د ټپي کیدلو او په شهادت رسیدلو لامل شو. د ګارد په ختیځې دروازې کې د څلورمې زغره والې لیوا د کنډک بولندوی جګړن فتح محمد ( چې اوس په اروپا کې ژوند کوي) زه یې د جیپ د موټر په مرسته د ګارد له انګړه دباندې وایستلم.

سـیاه سـنګ: آیا د ګلخانې له ماڼۍ د باندې د کوماندو د قطعې د پرسونل شمیره مو په یاد ده؟

امـام الـدین: ګومان کوم د هغوی شمیر له دوه سوو تنو څخه زیات وو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library




سیاه سنگ: له جګړن فتح محمد سره چیری ولاړئ؟

امــام الـدین: مخکې له دې چې د پوځ د څلور سوه بستریز روغتون پر لور ولاړ شو، د راډیو افغانستان ودانۍ ته ولاړو او هلته......

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## څوارلسمه او پینځلسمه برخه

"تیرې توې شوې وینې په اوبو پرې وینځـئ "

سـیاه سـنګ: له جګړن فتح محمد سره چیرې ولاړئ؟

امـام الـدین: مخکې له دې چې ما د پوځ څلور سوه بستریزروغتون ته ورسوي ، سره له دې چې ډیره وینه مې له لاسه ورکړې وه ، سر مې ګرځېده او په پښو کې مې دمه نه وه پاتې زه یې د راډیو افغانستان په ودانۍ کې هغې خونې ته بوتلم چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مشرتابه غړي پکې ناست ول. په دغه کوټه کې څلور

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـنه ناست ول. ما دغه په ملکي جامو کې ځلور تنه مخکې نه ول ليدلي او نه د هغوی له مخونو سره مې کومه پخوانۍ آشنايي درلوده ، خو وروسته پوه شوم چې هغوی نور محمد تره کي ، ببرک کارمل ، دستگير پنجشيری او حفيظ الله امين يا سليمان لايق ول.

سـياه ســنگ هغو ځلور واړو ته مو څه وويل؟ ستاسو د خبرو له اوريدا وروسته ، هغوی څه وويل؟

امـام الـدين: لومړی مې سلام وکړ ، بيا مې ځان ور وپيژانده او ومې ويل : " زما نوم امام الدين دئ. ما ته دنده راکړل شوې وه چې د انقلابي شورى پيغام سردار محمد داؤود ته ووايم. د پيغام له اوريدلو سره سم داؤود خان قهرژلی شو ، په لاس کې يې وسله وه ، زما پر لور يې ډز وکړ او زه يې ټپي کړم ".

په همدغې شېبې کې له هغو ځلور تنو څخه په پاخه گومان چې پنجشيري صاحب وو ، وويل :" هغه ژر روغتون ته ورسوئ." له هغه وروسته ، په نور څه نه پوهيږم .

سـياه سـنگ: آيا د خپلو خبرو په ترڅ کې مو له هغې ځواني پيغلوټې څخه هم يادونه وکړه چې ستاسو په وينا " خپل لاس يې را وړاندې کړ چې د محمد داؤود مخه ونيسي؟"

امـام الـدين: نه. زه ټپي وم او هماغه دوه � دري پورتـنـۍ جملې مې وويلې. نور مې دومره وسه نه درلودله چې د پـېـښې ټول جزئـيات هم ووايم. د افغانستان د خلق ډيمواکراتيک گوند د مشرتابه غړو ته مې د هغې نجلې د ټپي کېدلو خبره ياده نه کړه .

سـياه ســنگ: عبدالکريم ميثاق د افغانستان د خلق ډيموکراتيک گوند بنسټ ايښودونکي او د سياسي بيرو غړي/ د ماليې وزير/ داستان ليکونکي او څيړونکي د " افغانستان په شلمه پيړۍ کې / افغانستان در قرن بيستم ۱۹۰۰ � ۱۹۶۹ " د کتاب په ۲۲۴ او ۲۲۵ پاڼو کې د ظاهر طنين ليکنه چې د بي بي سي د خپرونو يوه ټوگه او په ۲۰۰۵ ز کال کې خپور شوی ، وايي :" يو صاحب منصب چې له لاسه يې وينې څڅېدلې راغی او د مرکزي کميټې د غړو مخ ته يې پوځي سلام وکړ او ويې ويل چې زما نوم امام الدين دئ ، د گوند غړی يم. زه دننه په ارگ کې وم. د گلخانې [مانۍ] ته ولاړم او داؤود خان ته مې وويل : له دې چې واک د افغانستان د خلق ډيموکراتيک گوند ته ليږدېدلې ، تاسو دنده لرئ چې تسليم سئ. يوه لور يې هم ورسره وه. عبدالاله [د سر وزير مرستيال او د بهرنيو چارو وزير] هم ور سره وو. داؤود خان زما پر خوا ډز وکړ ، زما لاس يې را ټپي کړ. لور يې په دغه وخت کې غوښتل د هغه مخه ونيسي چې ډز ونه کړي ځکه هغه هم ډزې کوي. که ته ډزې وکړئ ، هغه هم ډزې کوي. [امام الدين] وويل چې په همدغه وخت کې يې خپله لور هم وويشتـله او زه يې هم وويشتم. نو ما هم په همدغه وخت کې خپل کلاشنيکوف را وايست ، ډزې مې وکړې او ټول مې له منځه يوړل ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



امـام الـدين: لومړی دا چې ، کله زه د راډيو افغانستان دفتر ته ولاړم ، د انقلابي شورى د پيغام د رسوولو او د داؤود خان په لاس زما د ټېپي کيدلو ګزارش مې ورکړ ، هلته مې يوازې څلور تنه وليدل چې مخکې مې د هغوی نومونه واخيستل. دويم دا چې ما کلاشنيکوف نه درلود. ټول پوهيږي چې د افغانستان په پوځي جوړښت کې کلاشنيکوف د يوه افسر وسله نه ده ، بلکه په جوړښت کې نغښتې د يوه سرتيري وسله ده. دا هېڅ دود نه وو چې يو افسر دې له ځان سره کلاشنيکوف وګرځوي. دريم دا چې کلاشنيکوف کومه توره يا چاړه نه ده چې له جيب يا تيکي را وايستل شي. پورتنۍ خبرې قطعاً او له بنسټه رښتيا نه دي.

سـياه سـنګ: عبدالکريم ميثاق خو د هغې نجلۍ له ونډې خبره کوي چې غوښتل يې د محمد داؤود [مخه] د تومانچې د ډزو له کولو [ونيسي]. آيا د ميثاق د خبرو همدغه برخه د ګلخانې په ماڼۍ کې ستاسو د سترګو له ليدلي حال سره بشپـړ ورته والی نه لري؟

امـام الـدين: ښايي نوموړي [ميثاق] د پـيښې لړۍ يا زما له خولې يا د نورو کسانو له لارې ، وروسته اوريدلي وي، مګر د بي بي سي راډيو ته يې يا په بر لاس او يا په نا پوهۍ کې له غير واقعي بدلونونو سره ويلي دي. د هغې نجلۍ له خولې دا خبرې چې " ډزې مه کوه چې هغه هم ډزې کوي. که ته ډزې وکړې ، هغه هم ډزې کوي" قطعاً حقيقت نه لري .

سـياه سنګ: وايي چې د " غوايي د انقلاب" د مستند فلم په لړ کې چې په هغه کې حفيظ الله امين خپله ونډه لوبوله تاسو د ګلخانې د ماڼۍ په لومړي پوړ کې مخکې له دې چې د فلم اخيستلو د کمرې مخ ته و دريږئ د څو تـنو فلمي هنرمندانو ، د تخنيکي کارکوونکو او د فلم د کارګردان مخ مو ته وويل : " چې ما سردار محمد داؤود په خپل لاس داسې وواژه ...." آيا دغه خبرې رښتيا دي؟

امـام الدين: نه. دا زما خبرې نه دي. که زما له خولې داسې خبره شوې وي ، يا مې هغه ونډه لوبولې وي، بايد په فلم يا ويډيو کې ريکارډ شوي وي او د هغه لاسوند به هرو مرو وي. په ډاډ وايم چې دغه تور سم نه دئ او بې بنسټه دئ. هو د هماغه فلم د جوړلو له لړۍ خبر يم. د ديارلس سوه اته پينځوسم کال د مرغوي له شپږمې [ د ۱۹۷۹ زکال ددسامبر ۲۸] وروسته نويو چارواکو غوښتل چې حفيظ الله امين رسنيو ته د ځانغوښتونکي او واک ته د يوه تږي سړي په توګه وروپيژني نو د هماغه فلم ځينې برخې يې ننداريې ته وړاندې کړې خو هغه څه چې په ناروا ډول په ما تپل شوي په بشپړ ډول درواغ دي .

(1د "بينوا"، ويب پاڼه 18 جولاي 2008

http://www.benawa.com/details.php?id=19703

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"د ۲۰۰۸ ز کال د جولای د مباشتې په لومړیو کې نړیوالې محکمې چې مرکز یې په دنهاخ /هاګ (هالند) کې دئ ، جنرال امام الدین [ د افغانستان د لومړي ولسمشر وژونکی] یې د لومړي ځل لپاره د پلټنو لپاره غوښتی وو ".

(2د "آرمـان ملي" ویب پاڼه ، 24 سپتمبر 2008:

http://armanemili.af/spip.php?article828

"نامتو کمونیست جنرال امام الدین د هالند د هیواد د پولیسو له پلوه د سردار محمد داؤود خان د وژلو په تور نیول شوی دئ. دهیواد یو تن ژورنالیست رزاق مأمون ملي آرمان ته د یوې اړیکې له لارې دغه سکالو وویله او زیاته یې کړه :په هالند کې ددغه جنرال نیول کېدل د افغانستان د مدني او حقوقي اداري د رئـیس ډاکټرنادرشاه احمدزي د اوپراتیفي هلوځلو له کبله تر سره شوي دي.

داکټر نادر ویلي چې د سرداراداؤود خان اود هغه د کورنۍ وژونکی جنرال امام الدین له افغانستانه دننه هالند ته د یوې ټیلفوني اړیکې د موندنې له لارې لاس ته راغلی دئ. ډاکټر نادر څرګنده کړه چې یو خلقي افسر چې د یوناما کارمند وو ، د 0799303280 شمیرې ټیلفون له لارې کله چې جنرال امام الدین په وزبکستان او هالند کې تم شوی وو خبرې کړي او د سردار داؤود خان د وژنې لړۍ د همدغو خبرو په ترڅ کې افشأ کیږي .

د افغانستان د مدني او حقوقي ټولنې دفتر ددغې پیښې له موندنې وروسته ، خپلې موندنې د ICC پولیسو ته ورلیږي او د بشري او جنګي جنایاتو د ځانګړو پولیسو د تعقیب او څار په پای کې د جنرال امام الدین د پټېدلو ځای موندل کیږي او د پولیسو منګولو ته ورځي.

ډاکټر نادر روښانه کړه چې امام الدین له شپږو مباشتو را په دیخوا بندي دئ او تر اوسه له هغه څخه د پلټنو جزئـیات نه دي اعلان شوي خو د افغانستان محکمې ته د نوموړي د سپارلو په اړه، د افغانستان ددولت له پلوه کومه ځانګړې غوښتنه لا تر اوسه نه ده شوې ".

(3د "کـابل پرس" ویب پاڼه، 28 سپتمبر 2008:

www.kabulpress.org/my/spip.php?article2303

"یوې سرچینې چې نه یې غوښتل نوم یې واخیستل شي د طالبانو ضد د یوه څارګر نادرشاه احمدزي له خولې کابل پرس ته وویل چې د محمدظاهر د اکا د زوی سردار محمد داؤود او د افغانستان د لومړي ولسمشر وژونکی ، جنرال امام الدین ونیول شو .

دغې سرچینې کابل پرس ته وویل چې د سردارمحمد داؤود وژونکی ، جنرال امام الدین د آی ، سي ، سي [د جنګي او انساني جنایاتو ضد د څارنې پولیس] د پولیسو له خوا له افغانستانه دننه د یو شمیر هلو ځلو او هڅو په ترڅ کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږ مباشتې مخکې د هالند په هیواد کې ونیول شو. سرچینه زیاتوي : هغه شپږ مباشتې مخکې ونیول شو چې نړیوالو پولیسو د 0799303280 ټلفوني شمیرې پربنسټ چې له افغانستانه دننه ، په هالند کې د جنرال امام الدین له پټنځي سره په اړیکه کې وو د امام الدین د پښو خاپ وموند. هیښنده خو دا ده چې له افغانستانه دننه تلفوني اړیکه د ډګرجنرال عبدالاحد په نامه د یوه نامتو خلقي وه چې څو موده مخکې یې د یوناما په دفتر کې هم کار کاوه او اوس څرګنده شوې چې نومورې د یوناما په دفتر کې کار نه کوي. د ټلفون دغه شمیره چې د افغانستان د مدني او حقوقي ټولنې په همکارۍ نړیوالو پولیسو ته سپارل شوې وه وموندل شوه او د نړیوالو پولیسوپه لاس کې ده .

سرچینه وایي ډګرجنرال عبدالاحد او امام الدین تر یوه کال مخکې په وزبکستان کې ژوند کاوه او عبدالاحد له امام الدین سره اړیکه درلودله او نومورې ډګر جنرال داسې لارې چارې برابرې کړې چې جنرال امام الدین د ملګرو ملتونو له امکاناتو څخه په ناوړه ګټه اخیستنې له وزبکستانه هالند ته ولیږل شو. تر اوسه د افغانستان دولت د ډګرجنرال عبدالاحد د نیولو او له هغه څخه د پلټنو په تړاو کوم اړین ګام نه دئ اوچت کړئ".

امـام الدین: په دریواړو ګزارشونو کې د رانغاړل شویودرواغو یو په یو سپړنه ګټه نه لري. همدومره به بس وي چې ووایم زه هېڅکله په پټنځي کې نه وم او په هالند کې هم نه یم. د یوه پوځي افسر په توګه د خپل ژوند ټول کلونه مې د ډاکټر نجیب الله له پرځېدنې وروسته د شپږو کلونو په ګډون په افغانستان کې دننه اود ولس او پرګنو په منځ کې په سپیڅلتیا، ویاړ او ګروهنې تیر کړي دي. هم تاسو چې دغه تلفوني خبرې اترې له ما سره تر سره کوئ پوهیږئ او هم هغه کسان چې ما له نیږدې پیژني پوهیږي چې له خپلې کورنۍ سره یوځای د اروپا په دغه ګوټ کې بشپړه آزاد او څرګند ژوند لرم او دښوونکیتوب سپڅلې او ویاړلې دنده پرمخ بیایم .

په خواشینۍ چې یو شمیر لیکوالان او خبریالان په درواغجنو ډنډورو خپل زړونه خوشوي. زما په اند هغه کسان چې دغسې ناپازواله (بې مسوؤلیته) خبرو ته لاس اچوي په حقیقت کې غواړي د خپلو خیالي خبرو لپاره لوستونکي او اوریدونکي ومومي.

سـیاه سـنګ: ددغو لاندنیو ۷ لیکنو په اړه څه وایاست؟ :

۱ � ستر جنرل محمد نبي عظیمي " د افغانستان په دریو لسیزو کې پوځ او سیاست / اردو و سیاست در سه دهه اخیر" د کتاب په ۱۴۲ پاڼه کې دریم چاپ ، د میوند خپرندویه ټولنه ، پیښاور/پاکستان ، ۱۹۹۹ داسې وایي :

د سردار محمد داؤود د نیولو امر د کوماندو د قطعې لومړي بریدمن امام الدین ته ورکول کیږي. امام الدین د ګارد د آپراسیون له آمر ډګرمن ګل آقا سره یوځای داؤود خان ته ورځي او هغه ته وایي : " تاسو د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې د امر پر بنسټ خپله وسله پرځمکه کښیږدئ او تسلیم سئ." داؤود خان په ځواب کې وایي : " کمونیستانو ته نه تسلمیږم." او ناڅاپه د امام الدین پر خوا ډزې کوي. امام الدین په خپل مټ کې ټپ اخلي خو له ټپي کېدلو سره سره د هغه کلاشنیکوف له خولې چې په لاس کې یې وو یو جناحي اور د محمد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داؤود او د هغه د هملارو پر خوا تر سره کوي. اخ او ډب پیل کیږي او په پای کې سردار محمد داؤود ، سردار محمد نعیم ، عبدالاله، د داؤود مادینه او د ظاهر شاه خور زینب داؤود، د هغه زامن او د کورنۍ غړي یې چې ټول ټال شمیره یې ۱۷ تنه کیدل ، ځای پر ځای وژل کیږي .

امـام الـدین: ماته د پوځي شورى د پیغام د ویلو امر راکړل شوی وو. د " نیولو" خبره له اره په منځ کې نه وه. د ډګرمن ګل آقا په اړه مې مخکې هم ویلي چې د نوموړي د لوړسیاسي او پوځي دریځ په پام کې نیولو ، که هغه را سره وای نو ما هېڅکله دا واک نه درلود او نه مې شوای کولای د پوځي شورى پیغام ولولم. که د نیولو خبره په منځ کې وه ، نو دغه امر باید ګل آقا ته ورکړل شوی وای نه ماته. زما په لاس کې د کلاشنیکوف له خولې " د جناحي اور د پرانیستلو" په اړه غواړم روښانه کړم چې لومړی د پوځ په جوړښت کې کره بین توپک او کلاشنیکوف د یوه افسر وسله نه ده او ښايي تر اوسه هم نه وي ، بلکه د سرتیري وسله ده.

تاسو کولای شـئ د پوځ له ټولو افسرانوپه ځانګړې توګه له هغو افسرانو چې د دوهم بریدمن له رتبې نیولې بیا تر لوړو پوځي رتبو رسیدلي وپوښتـئ چې آیا د زده کړو له مودې پرته ، په هغه موده کې چې دوی د افسر په توګه دنده تر سره کړې کله یې کره بین یا کلاشنیکوف په خپلو اوږو له ځان سره وړی دئ؟ یا هم په داسې یوې کوټې کې چې یو تن ستاسو مخ ته د شپږو یا اوو مترو په واټن کې ولاړ وي ،تاسو کولای شـئ جناحي اور تر سره کړئ؟ نه. که د وسلې میل یو اړخ ته تاو شي ، په هېڅ ډول مرمۍ په نخښه نه لګیږي .

۲ � د ۲۰۰۸ ز کال د اپریل د میاشتې په ۲۸ نېټه د ماښام په ۷ بجو اکاډیمیسین دستګیر پنجشیري د یوې ټلفوني مرکې په ترڅ کې ما لیکوال (سیاه سنګ) ته وویل:

امام الدین راډیو افغانستان ته راغی او نور محمد تره کي ته یې ګزارش ورکړ. هغه وویل چې له سردار محمد داؤود څخه څو څو ځله په درنښت غوښتنه وشوه چې له خپلې کورنۍ سره یوه خوندي ځای ته ولاړ شي، خو له پرله پسې غوښتنو سره سره ، هغه خپل زوی ته امر وکړ چې پر افسرانو ، سرتیرو او ان د خپلې کورنۍ پر غړو ډزې وکړي. په پای کې دوه اړخیزه اور پیل شو .

همدا رنګه ، امام الدین وویل چې سردار داؤود ته مې وویل : سیاسي واکمني د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته لیږدېدلې او تاسو باید تسلیم سـئ. داؤود خان وویل چې کمونیستانو ته نه تسلیمیږم. له هغه وروسته یې زما پر خوا ډزې وکړئ. ما هم ووهل، او ټول مو ستیای کړل".

امـام الدین: د ښاغلي پنجشیري صاحب دغه خبره ما ته د حیرانتیا وړ ده. هغه د " ظهور و زوال حزب ډیموکراتیک خلق افغانستان" په کتاب کې داسې نه دي ویلي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ � محمد اکرم اندیشمند د عبدالحق مجددي او ډاکټر فضل الله مجددي د کتاب [افغانستان از امير کبير تا رهبر کبير] د ۵۹٦ پاڼې پربنسټ ، د ۱۹۹۹ز کال د ميوند دخپرندويې د کابل چاپ /افغانستان ، داسې وايي :

"د هغه خلقي صاحب منصب نوم چې د محمد داؤود د وژنې فرمان يې پلی کړ امام الدين وو. نوموړی داهم مني چې د سردار محمد داؤود پر استوګنځي د بريد فرمان حفيظ الله امين ورکړی وو".

امـام الدين: ما د پوځي شورى امر له خپل بولندوى څخه تر لاسه کړى وو نه د نيولو يا وژلو فرمان ، او هغه مې په ډير درنښت تر سره کړى دئ. له حفيظ الله امين سره مې اړيکه نه درلودله، ځکه زه يو عادي افسر وم. د امين له پلوه د ليږل شوي فرمان په اړه هيڅ ډول خبرتيا نه لرم. دا د ليکوال خيال او انځورګري ده .

۴ � محمد نذير کبير سراج د "رويدادهـاي نيمه اخـير سـده بيسـت در افغانسـتان" د کتاب په ۱۱۴ پاڼه کې د [ فرانکفورت لومړی چاپ ، ۱۹۹۷ز کال] داسې وايي .

زغره والې د ګلخانې پوړيو ته نيږدې شوې او له هغو يو تن تورن ، درې ته تـنه بريدګي را ووتل او پرګلخانې يې دننه بريد ور ووړ.[هغوی] په هک پک والي وليدل چې محمد داؤود خان لا تر اوسه په پښو ولاړ دئ خو تـپـيان د ځمکې پرمخ پريوتلي ول .

تورن امام الدين پر محمد داؤود خان چيغه ووهله: " مقاومت ګټه نه لري. تسليم سه." سردار محمد داؤود خان په ځواب کې وويل : " خپل سر مشر را وليږه چې له ما سره خبرې وکړي." تورن بيا وويل : " موږ ټول سرمشران يو. هر څه چې لرئ ، موږ ته يې ووايه يا تسليم سه ".

محمد داؤود له دې پورته نور زغم نه درلود ، په لاس کې يې تومانچه وه او په هغې يې د تورن پر خوا اور پيل کړ. تورن له داسې يوه سرې څخه چې خپل هر شي يې له لاسه ورکړي ول دداسې يوه بريد هيله نه درلودله ، د سترګو په رپ کې د کلاشنيکوف د داسې يوه اور خوله پرانيستله چې ژوندي او نيم ژوندي کسان يې له يوې مخې له منځه يووړل .

امـام الدين: زه د کوماندو د قطعې يو افسر وم او په خپل تشکيل کې مې ګاز � ٦٦ موټر ، بې مزې مخابره درلودله نه زغره واله. ان په هماغه ورځ د ګارد ګرد چاپيره هيڅ ډول زغره واله نه ده ليدل شوې.له بلې خوا د ګارد د توغندي ويشتونکي ليوا توغنديو د ولسمشرۍ ماڼۍ ، ګارد مخې ته شوبلې او محاربوي ماشينونه سوځولي ول. زغره واله له اره خوندي نه وه چې ګڼې موږ دې په يوې زغره والې کې له يوه لنډ واټـنه هغه هم د ګارډ د ختيځې دروازې له لوري د ګلخانې د ماڼۍ پوړيو ته ورغلي اوسو. دغې ليکنې د ليکوال له خيال او انځورګرۍ څخه سر چينه اخيستې نه زما له خبرو څخه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



٥ � د افغانستان د هنریالانو د ټولنې لوی مشر محمد نیسم خوشګوار د "رازي که فایق افشـــاء نکـرد" کتاب په ۱٦۲ او ۱٦۳ پاڼو کې وایي ( لیکوال :خان آقا سعید ، د عصر خپرندویه ټولنه ، پیښاور/پاکستان ، منی ، ۲۰۰۰)

د [پوځ څلور سوه بستریز] روغتون یوې خونې ته ننوتلو. د چپرکټ پرمخ د منځنۍ ونې لرونکی یو ځوان چې په ګچ کې پیچل شوی لاس یې په غاړه کې ځوړند وو، بیده وو. نوموړي ته لومړي بریدمن میرکي ور وپیژندلم او هغه یې دداسې سړي په نامه راته ونوماوه چې داؤود خان یې وژلی دئ. که څه هم د هغه د کړغېړن مخ په لیدنې پښیمانه وم خو بیا هم په سړې سینې مې له هغه [امام الدین] څخه د مالوماتو غوښتنه وکړه. نوموړي وویل :

د غوایي د میاشتې د اوومې په ماښام مو له بالاحصاره د ارګ د نیولو او د محمد داؤود پر وړاندې د جګړې دنده تر لاسه کړه. کله چې ارګ ته ورسیدلو ، پر ارګ د الوتکو پرله پسې ګرزهار اود شوبلو اور له هرې خوا خپور او ټینګ اخ و ډب روان وو. نیمه شپه وه چې بریا زموږ په برخه شوه او د ارګ انګړ ته ننوتلو.

په هاغه وخت کې زما د قطعې بولندوی زما ټولي ته د داؤود د نیولو دنده و سپارله. زه له خپلو سر تیرو سره د ګلخانې د ماڼۍ پر لور وړاندې ولاړم او د هغه ځای ټولې کړکۍ مو د خپلو وسلو په پرله پسې او ټینګ اور لاندې ونیولې او وداڼۍ ته ننوتلو. هره خوا چوپه چوپتیا خپره وه. خپلو بدرګه کسانو ته مې وویل چې مورچل ونیسي او همداسې دې خپل اورته دوام ورکړي. ما له ځان سره لوډ سپیکر راوړی وو او د هغه له لارې مې خپلو سرتیرو ته خبرې کولې او هغوی ته مې دندې سپارلې .

د هماغه لوډ سپیکر له لارې مې په کوټه کې خبرې وکړې او ومې ویل چې سردار داؤوده! تاسو د پوځي شورى د امر پربنسټ ځان تسلیم کړئ." په همدغه وخت کې هغه د خونې د فیلپایې د یوې ستنې له شا په خپل ویروونکي غږ وول : " زما په قاموس کې تسلیمیدل نشته. پرته له خدایه بل چاته نه تسلیمیږم." او د اور امر یې ورکړ. له هرې خوا زموږ پر لور ډزې پیل شوې. د ښځمنو په لاسونو کې توپک ول هغوی هم ډزې پیل کړې. زموږ شمیره زیاته وه ، یوه ښځه چې کړکۍ ته نیږدې ولاړه وه او له هغه ځایه یې ډزې کولې پرځمکه پریوتله خو پر داؤود یې هېڅ ډول اغیزه نه کوله .

یو وخت زما پام شو چې د داؤود په لاس کې سپینه تومانچه ده او د ستنې له شا په تومانچې یې زما پر خوا ډز وکړ، زما اوږه یې را ټپي کړه. ټینګ اخ و ډب روان وو.زما سترګو هغه څاره، د داؤود ککره ناڅاپه د ستنې له شا راښکاره شوه. هغه ډز وکړ او ما هم ډزې پیل کړې. زما په لاس کې کلاشنیکوف وو او د کلاشنیکوف ټولې مرمۍ د هغه پر ککرې ومښتلې او د سر کوپړۍ یې په هوا شوه او پرځمکه را پریوت. ما دغه بریا د بیسیم له لارې خپل بولندوی ته وویله او بیا بې هوښه شوم. کله چې په هوش راغلم ، ومې لیدل چې دلته یم ".

امـام الدین: د هغه څه په اړه چې ښاغلي خوشګوار ویلي لومړی غوام روښانه کړم چې زه د ټولي بولندوی نه بلکه د مخابرې د بلوک بولندوی وم او زما سرتیري له خپلو مخابرو سره په نورو جزوتامونو کې ویشل شوي ول او دنده

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسپارل شوي وه. د نیولو امر باید پلیو ځواکونو ته ورکړ شوی وای نه مخابرې ته. دویم دا چې د مخابرې له لارې د جزوتامونو سوق او اداره په ټولو پوړونو کې د محرمیت پربنسټ د شفري لښتـنلیک له لارې تر سره کېدل نه د لوډ سپیکر له لارې. که تاسو د پوځ له افسرانو پوښتنه وکړئ تاسو ته به درڅرګنده شي چې د سرتیرو او جزوتامونو په اداره کې هېڅکله له لوډسپیکر څخه کار نه دي اخیستل شوئ. د نن ورځې جګړې " غیږ نیونه" یا د " د کچ غیږي" نه دي. له لوډ سپیکرڅخه یوازې ترافیک کار اخلي نه د پوځ افسران ؛ او نه په یوې کوشنې کوټې کې چې شپږ یا اته متره اوږد والی ولري څوک دي لوډسپیکر را واخلي او خبرې دي وکړي .

د ژبې د سپڅیلتیا د اړخ په پام کې نیولوسره غواړم ووایم چې نوموړې لیکنه د یوې تأریخې پیښې د انځور ازانګه نه بلکه د یوه خیالي داستان یوه طرح ګڼل کېدای شي چې د یوه هنري فلم د جوړلو لپاره په پام کې نیول شوي وي، ځکه په دې اړه نوموړي ښاغلي لیکوال یوازې خپله هنریاله انځورګري را انځورلې ده. وایي چې وچه خټه پر دیوال نه منښلي .

٦ � حامد د " داؤود خان د کي جي بي په لومو کې " د کتاب د ۳۰۵ پاڼې په لمنیک کې چې د هارون لیکنه ده ، ژباړه د حامد ، سَمَـونه او یادښت د حامد ، د میوند خپرندویه ټولنه ، پیښاور/پاکستان ، دسامبر ۱۹۹۷ز کال داسې لیکي :

د تورن امام الدین په نامه د داؤود یو تن ملګری د ارګ له صاحب منصب ګل آقا او د شوروي د سفارت له دوه تنو غړو سره د خبرو اترو لپاره د داؤود خان کوټې ته ورغلل او له هغه یې وغوښتل چې ور تسلیم سي. هغوی داؤود خان ته له ډېر و سپکو سپورو ویلو وروسته ، پر داؤود خان برید وکړ. د امام الدین مټ ټپي شو. په ځواب کې کودتاچیانو داؤود ترځوابې اور لاندې ونیو او پر هغه یې مرمۍ و وَرَولې. په همدغه شېبه کې امام الدین له کوټې دباندې راووت او په چیغو چیغو یې وویل :" ناتارګر تیرغمال مې وواژه".

امـام الدین: د یادولو وړ بولم چې زه د داؤود د ملګرو له ډلې څخه نه ووم ، بلکه د سردار داؤود په پوځ کې یو ټیټ پوړي افسر وم. د " ګل آقا او د شوروي د سفارت د دوه تنو غړو" په اړه چې ګڼې د ښاغلي حامد په وینا له ما سره یوځای د داؤود خان کوټې ته ورغلي وي، مخکې مې پراخه سپړنه وکړه او مالومات مې وړاندې کړل او بیا ویلو ته یې اړتیا نه وینم. ما دغه خبره په څو څو ځله کړې له هغې شېبې چې د ګلخانې ماڼۍ ته ننوتلی یم او یا مې سرداؤود ته د پوځې شورى پیغام رسولی دئ زما چال چلند له محمد داؤود سره له ډېر درنښت ډک وو او هغه ته په هېڅ ډول سپکاوی نه دئ شوئ. خو زه نه پوهیږم چې ښاغلی حامد زما له خولې په جعلي توګه راوړل شوې خبره د کوم لاسوند پر بنسټ کړې او دغه بې بنسټه خبره یې څنګه رامنځته کړې؟ آیا نوموړی په هماغه ورځ د ګلخانې د ماڼۍ ددروازې مخ ته ماته سترګې په لار وو؟ هغه څوک چې په خپله د پـیښې په ځای کې نه وي څنګه کولای شي په پیښه کې د شته کسانو له خولې خبره په پازوالۍ راوړي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷ - د "چـنـد سـطـر شـکسـته در باره تجـاوز روس در افـغـانسـتان" د کتاب ليکوال فرهاد لبيب د ۲۰۰۸ ز کال د اګست د مياشتې په اتلسمه له سياه سنګ له د يوې ټلفوني مرکې په ترڅ کې وويل :

د د ديارلس سوه او اووه پينځوسم لمريز کال دغوايي د مياشتې په ديارلسمه د څلنۍ "چهارشنبې" په ورځ يا د غوايي د مياشتې په څوارلسمه د پنځنۍ " پنجشنبې" په ورځ [ د ۱۹۷۸ز کال د مې د مياشتې په دريمه يا څلورمه] د يوه اړين کار د تر سره کولو لپاره د پوځ څلور سوه بستريز روغتون ته ورغلم. د روغتون په دالان کې له يو ملګرى سره مې چې د طب ډاکټر دئ مخامخ شوم. له روغبړ وروسته نوموړي د خپلو نورو خبرو په ترڅ کې راته وويل : راځه چې دوه تنه مهم کسان (چې يو يې خان عبدالغفار خان او بل يې امام الدين وو) در وښييم. ښايي د دواړو ليدنه دې کوم وخت په درد ولګيږي. هغوی دلته بستر دي .

امام الدين مې له پخوا وختونو راهيسې پيژانده. که څه هم امام الدين د زده کړو په وخت کې له ما دوې دورې مخکې وو خو کله چې موږ په يوه کورس کې زده کړې کولې ، ټولګيوال وو. کله چې د هغه کوټې ته ننوتلم و مې لېدل چې ښی مټ او دواړه اوږې يې پلاستر شوي وې. هغه د بستر پر مخ غځېدلی وو. ډير کسان د هغه ليدلو ته راتلل. په هغې ډلې کې داسې کسان هم راغلي ول چې له هغه څخه يې د داؤود خان د وژنې د څرنګوالي پوښتنه کوله. امام الدين داسې وويل :

زما زغره واله د ولسمشر د ماڼۍ ، د ارګ ختيځې دروازې ته مخامخ د تيارسئ په حال کې ولاړه وه. د غوايي د مياشتې د اتمې [۲۹ اپريل ۱۹۷۸ز کال] د ګارد ځواکونو د سپين بيرغ په پورته کولو خپله تسليمي اعلان کړه. په همدغه شېبه کې ما ته امر وشو چې داؤود خان ونيسم. له دې مخکې ، داؤود خان موږ سره اړيکه ټينګه کړې وه او غوښتې يې ول چې د کودتا له مشرانو سره خبره وکړي. د [افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند] مرکزي کميټې د هغه غوښتنه منلې وه. هغوی پريکړه کړې وه چې قادر او اسلم وطنجار داؤود ته د لېدنې لپاره وليږي. په همدې ترڅ کې بيا راته امر وشو چې داؤود و نيسم. ما وليدل چې د زغره والو د چلوونکو او صاحبمنصبانو له ډلې څخه څوک چمتو نه دي چې ارګ ته را سره ننوځي. لنډه دا چې ما يو چلوونکي پيژانده او هغه خپله ملا وتړله چې زما زغره واله دننه ارګ ته را سره بوزي. له ما سره څلور نور څلور تنه پوځيان ول. کله چې ارګ ته ننوتلو، بيا هم د مرميو يو يو ډز اوريدل کېده. په ارګ کې لومړني سړي چې له موږ سره وليدل ګل آقا وو. هغه موږ هغې خونې ته بوتلو چې داؤود پکې وو .

د " ګل آقا" اصلي نوم آقا محمد دئ. امام الدين په بر لاس د هغه نوم د " ګل آقا" په نامه ياد کړ او بيا يې خبرو ته ادامه ورکړه: زه پوهيدم چې نوموړی [آقا محمد] زموږ له کسانو څخه دئ. کله چې د ګل آقا [آقا محمد] په لارښوونې د ګلخانې ماڼې ته ننوتلو ، و مې لېدل چې داؤود خان [ له ښځمنو پرته] له خپلو لسو تنو ملګرواو د کورنۍ له غړو سره وسله په لاس سترګې په لاره ولاړ دئ. له ځان سره مې وويل : له دغه ځايه زما ژوندي وتل نا شوني دي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دغه شېبه کې ګل آغا [ آغا محمد] داؤود خان ته دوديز پوځي سلام وکړ او ويې ويل : د کودتا کسان غواړي له تاسو سره وګوري. داؤود خان له ټولو مخکې ولاړ وو. ما هم پوځي دوديز سلام وکړ اوپه لوړ غږ مې وويل : " د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې په امر خپله وسله پر ځمکه کښېږدئ او تسليم سئ ".

زما له خولې وروستنۍ خبره نه وه راوتلې چې د داؤود له زامنو څخه يو تن په بيړه د شا دروازې په لور و خوځېد. ترڅو چې هغه ته مې ګواښ کاوه چې له ځايه دې ونه خوځيږئ ، داؤود خان ددغو خبرو په ويلو چې " روسانو او د هغو چوپړيانو ته نه تسليميږم" زما پر خوا ډزې پيل کړې. په پاې کې درې مرمۍ ، يوه يې زما زړه ته نيږدې او دوه نورې يې زما پر مټ او اوږې ومښتلې. ما هم د يوه جناحي اور په کولو ټول تر اور لاندې ونيول او له هغه وروسته بې هوښه شوم. کله مې چې سترګې پرانيستلې ، ومې لېدل چې په روغتون کې يم .

امـام الدين: ښاغلی فرهاد لبيب وايي چې زما " ټولګيوال" وو. زه پوه نه شوم چې موږ چيرې ټولګوال وو؟ زما له سپړنو او څرګندونو وروسته تاسو په خپله قضاوت وکړئ چې زما ددغه ښاغلي ټولګيوال خبرې تر کومې کچې رښتيا دي :

هغه وايي چې " دواړه اوږې او ښی مټ يې پلاستر وو" ، د ګل آغا په تړاو حکم کوي چې " اصلي نوم يې آغا محمد دئ" ، بيا ادعا کوي چې " درې مرمۍ ، يوه يې زما زړه ته نيږدې او دوې نورې يې زما پرمټ او اوږې منښتلې وې" او په بل ځای کې وايي چې ما " جناحي اور" تر سره کړی دئ .

زه غواړم په ځواب کې يې ووايم چې دواړه اوږې مې نه بلکه زما يوه اوږه پلاستر وه او څنګه چې مخکې مې وويل، موږ زغره واله نه در لودله. دغې جملې ته هم تاسو پام وکړئ چې وايي " د ګل آغا اصلي نوم آغا محمد دئ." زه نه پوهيږم چې له دغې ادعا څخه د هغه موخه څه ده او د موخې په ختّه کې يې څه پراته دي؟

ګل آغا هاغه څوک وو چې له پاڅونه وروسته په لومړيو ورځو کې د هرات د والي په توګه و ټاکل شو اود مرغومي له شپږمې وروسته د پوځ د سياسي چارو د عمومي رئـيس په توګه يې دنده ترلاسه کړه. آيا زه کولای شم د خپلې بدرګې په ډله کې د ګل آغا پر ځای ، آغا محمد يا د آغامحمد پرځای ګل آغا چا ته ور وپيژنم؟ ايا هغوی په خپله ددغې ادعا د غندلو لپاره څه نه ويل؟

هغه زما له خولې په داسې بڼه خبرې راوړي چې ګنې پـيښه يې په خپلو سترګو ليدلې وي او وايي چې " درې مرمۍ يوه يې زما زړه ته نيږدې او دوې نورې يې زما پر مټ او اوږې لګيدلې وې او د هغه ترڅنګ مې ګنې يو جناحي اور هم تر سره کړی وي. دغه ادعا ګانې له سره تر پايه رښتيا نه دي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رښتیا خبره دا ده چې دوې مرمۍ ځنګ په ځنګ زما پر ښي اوږې منښتلې وې او دوې نورې یې سر سرې په کیڼ اړخ او کېڼې پښې منښتلې وې. زما په مټ یا زړه ته نیږدې هېڅکله مرمۍ نه ده منښتلې او د هغه هېڅ ډول نښه زما په ځان کې نشته. په پښتو کې یو متل دئ چې وایي : " درواغ وایه خو په شرع یې روغ وایه ".

هغه سپړنه چې ښاغلي فرهاد لبیب د جناحي اور په اړه راوړې هم سمه نه ده. په یوې خونې کې دننه له پینځه یا شپږ متریز واټن څخه پر یوې نخښې جناحي اور نه ترسره کیږي. که څوک داسې اور تر سره کړي نو مرمۍ په نښه نه بلکه پر کیڼ یا ښي دیوال منښلي. داسې ښکاري چې ښاغلی لبیب له پوځي اصطلاحاتو سره آشنایي نه لري. ښاغلي لبیب ته به ښه دا وه چې د حربي پوهنتون روزنیزو یادښتونو ته یې مخه کړې وای او یا له داسې یوه افسر ته ورغلی وای چې په تکتیک پوهیده او له هغه یې پوښتي وای چې جناحي اور څه دئ، چیرې او په کومې موخې تر سره کیږي او له هغه وروسته به یې په خپلو یادښت لیکنو کې ځای پر ځای کړې ول .

ددغې سکالو د ژورې سپړنې لپاره د ښاغلو لوستونکو پام یو ځل بیا د نومړو ۷ یادښت لیکونو غټو ټکیو ته را اړوم چې په پاخه ګومان یو بل غندي او نه یوبل ته ورته والی لري :

۱) ښاغلو لیکوالانو د پیغام په اړه زما له خولې په تور لګونې داسې راوړي دي :

-مقاومت ګټه نه لري. تسلیم سه .

-تاسو د پوځي شورى په امر ځان تسلیم کړئ .

-د مرکزي کمیټې د فرمان پر بنسټ تاسو محکوم یاست او ځان تسلیم کړئ.

-له دې چې واکمني د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته لیږدېدلې ، تاسو تسلیم شـئ .

-له دې چې واکمني د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته لیږدېدلې ته دنده لرې چې تسلیم شـئ.

-د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې په امر، خپله وسله پر ځمکه کښیږدئ او تسلیم شـئ.

-یا دا چې سردار محمد خان له ما پوښتي چې :" څه خبره ده؟" او ما په ځواب کې ورته ویلي وي : " صاحبه! خبره له خبرې تیره ده ، تسلیم سـئ. ... انقلابي شورى او وسله وال ځواک ته تسلیم شي. وسله وال ځواک ټول قطعات تصفیه کړي او یوازې تاسو یاست چې مقاومت کوئ ".

۲) ما ویلي چې ولسمشر د ویل شوي پیغام په ځواب کې هېڅ ونه ویل ، مګر ښاغلي لېکوالان پرما تور لګوي او زما له خولې د ولسمشرد ځواب په اړه ګډې وډې جملې راوړي :

-زه به هېڅکله تسلیم نه سم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



-کمونیستانو ته نه تسلیمړم.

-خپل سر مشر راولیږئ چې له ما سره خبرې وکړي.

-کمونیستانو او د هغوی چوپړیانو ته نه تسلیمیږم.

-زما په قاموس کې تسلیمي نسته. پرته له خدایه بل چاته نه تسلیمیږم.

-پرته له خدایه بل چاته نه تسلیمیږم او تر وروستنۍ مرمۍ جګړې ته چمتو یم

له دې ځرګندیږي چې د پیغام تر نامه لاندې یو له بل سره توپیر لرونکي متنونه او د ولسمشر د ځواب تر نامه لاندې توپیر لرونکي متنونه په تور لګونې زما له خولې تر سره شوي دي. اوس دې ښاغلي لوستونکي دې ته پاملرنه وکړي چې یوه ځانګړې خبره په څه ډول په بیلا بیلو او په ګنو ډولونو راوړل شوې ده .

ځرګنده ده چې ما په خپله دا خبرې نه دې کړي خو یو شمیر لیکوالان په ناپازواله توګه یوازې ددې لپاره چې د چا خبره خپلې لیکنې یې په زړه پورې کړې وي ، هنریاله خیالي انځورګریو ته یې مخه کړې او د اټکلونو، انګیرنو او ګومان وهلو پربنسټ لیکنې کوي او خلکو ته یې وړاندې کوي .

زه ددوی ټولو د خبرو په نه غندلو غواړم ځرګنده کړم چې د یو شمیر ښاغلو لیکوالانو په کتابو کې ، لکه ښاغلي دستګیر پنجشیري په خپل کتاب "ظهــور و زوال حـزب دمـوکـراتیک خلــق افغانسـتان" ، ښاغلي سلطانعلي کشتمند په خپل کتاب "یادداشـتهـاي سـیاسـي ورویدادهـاي تاریخــي" ، هارون په خپل کتاب "داؤود خان د کي جي بي په لومـو کې" او محمد اقبال وزیري په خپل کتاب " د ثور پاځون، د کـا جي بي دسـیسـي او شـوروي یرغل" ، راوړل شوې خبرې په څه نا څه ډول رښتیا ته نیږدې دي .

ټول لیکوالان لیکي چې د پوځي شورى د پیغام وړونکی زه وم، ټول وایي چې ولسمشر د همدغه پیغام په اوریدلو خپلې ټولې مرمۍ پر امام الدین ور تشې کړې، ځینې یې لا زیاتوي چې " امام الدین ټپي شو ، خو ونه وژل شو ".

هو. د پیغام له ویلو سره سم په ما ډزې وشوې او زما اوږه او مفصل له منځه ولاړل. د روغتون د ډاکټرانو په وینا زما د اوږې مفصل شپاړلس ټوټې شوی وو. همدا اوس هم وروسته له دیرشو کالو زما لاس یوازې کولای شي دیرش په سلو کې کار وکړي .

له بلې خوا زه په هغه وخت کې د مخابرې یو افسر او دنده مې د اړیکو ټینګول ول. ما هیڅ اړتیا نه درلودله چې د یوه سر تیري په توګه له ځان سره کلاشنیکوف وګرځوم. لکه څنګه چې مخکې مې وویل له دې چې ما پیغام رساوه ما ته امر شوی وو چې په تش لاس له وسلې پرته ولاړ شم او بیا په تکرار ټینګار کوم چې کلاشنیکوف د یوه افسر وسله نه وه چې هغه دې ما له ځان سره اخیستي وي. ان که هماغسې هم وه ما نه شوای کولای په ټپي حالت کې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه پورته کړم او ورڅخه کار واخلم. بشپړ ډاډلرم چې که ښاغلي ليکوالان زما پر ځای وای نه يې شوای کولای دغسې يوه کړنه تر سره کړي .

سياه سـنگ: فرهاد لبيب د ۲۰۰۸ زکال د اگست د مباشتې د اتلسمې نېټې د تلفوني خبرو په پای کې زياتوي: امام الدين نه يوازې زما تر مخ بلکه په څو څو ځله په څوځايونوکې د ډېرو کسانو ترمخ د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژنې تور هم په نيغ په نيغه اوهم په غير مستقيم ډول په ځان ترلی دئ. امام الدين په لومړيو شپو ورځو کې دغه پيښه د خپل د ژوند او اتلوالۍ ستره نخښه بلله. خو که زه په سړه سينه او په ناپـيـلي توگه خپل شخصي نظر ووايم ، زه گومان کوم چې تر پرونه پورې امام الدين د داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژنې تور په ځان لگاوه خو نن له هماغه په خپل لاس جوړ شوي او په ځان لگول شوي تور پښيمانه دئ او له هغه ويره لري .

امام الدين د يوه ټپي کوماندو په ټوگه نابره د مرگ له لومو ژوندی راووت او د خپل خونړي مأموريت د پای په وروستيو شپېو کې يې داؤود خان هم په رڼو سترگو وليد. زه گومان کوم

چې هغه د يوې ډېرې ساده خو له هوښيارۍ ډکې انگيرنې په ترڅ کې دې پايلې ته رسيدلې وو چې : که په ټـېر، مټ او اوږه کې ټپونو ته په نغوتې چې د ولسمشر د ويشتل شويو گوليود لگيدلو له امله رامنځته شوي او ووايم چې سردار داؤود مې په خپلو لاسونو وواژه ، نو د ژوند ترپايه به اتل او د گوند او دولت د سترگو تور واوسم .

لکه څنگه چې د کودتا په لومړيو شپو ورځو کې ټول په ياد لري د چا خبره د امام الدين د نيکمرغۍ غوټۍ وغوړېدلې ، ځکه امام الدين پر ځان د يوه ډېر لوی او خطرناک تور په منلو په رښتيا وکولای شول هماغه برياليتوب او دريځ ته چې په خپل ذهن او خيال کې را سپړلې وو ، ورسيږي. اوس چې د هماغه پخواني " انقلابي" ځوښ اوهلهلو تودوالی سوړ شوی او د بشري حقونو د پښو لاندې کوونکو په ځانگړې توگه د وژونکو په ډله کې د هغه د قانوني نيولو او د حقوقي بنسټونو او د نړيوالو پوليسو له پلوه د هغه د محکمه کېدلو خبره په ټوله نړې کې رامنځته شوې ، امام الدين په ډېر پيښمانۍ اوس وايي چې:

ما داؤود خان نه دئ وژلی .

زما په اند امام الدين اوس په رښتيا ويلو پيل کړی دئ. يو څوک چې له اوږو او مټ هغه هم له يوه نيږدې واټن څخه په مرمۍ ټپي شوی وي ، څنگه به وکولای شي يو کلاشنيکوف ماشين گنه را پورته ، په ځير نخښه ونيسي او جناحي اور دې تر سره کړي؟

امـام الدين: د هغه کار په وړاندې چې ښاغلی ليکوال يې د خپلو انگيرنو په انځور کې را وړاندې کوي ما کوم گوندي يا دولتي دريځ نه دئ تر لاسه کړئ. د پاڅون له برياليتوب وروسته نه مې د کوم وزارت مرستيالۍ ، نه مې د کوم

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزارت د وزیرتابه ، نه د انقلابي شورى او نه مې د مرکزي کميټې د غړيتوب دريځ تر لاسه کړی چې د خپلو همليکو ملګرو په منځ کې مې ورڅخه ځانته يو ځانګړې دريځ راکاږلی وي.

د پاځون له بریالیتوبه اووه مياشتې وروسته د کنډک د بولندوى په توګه وټاکل شوم وروسته له یوې لنډې مودې د روغتيايي ستونزو له کبله يوې غیر محاربې قطعې ته و ليږل شوم او په دغو پُستونو کې مې دنده تر سره کړه : د چهارآسیاب د روزنیز مرکز، د احتياط او پيژنتون د آمر په توګه ، د اتمې فرقې د ښوونې او روزنې د آمر په توګه ، د اپراسیون د رياست د دويم مرستيال ،د اپراسيون د رئـيس او د پوځ د ښوونې او روزنې د رئـيس په توګه .

د څوارلسو کالو په اوږدو کې په سر ښندنې ، هلو ځلو او د درندو دندو د پيټو په پورته کولو سره سره زما پرمختګ سوکه سوکه وو. د اړتيا او وخت د غوښتنو پربنسټ د پوځ د قطعو او جزوتامونو د مرستې لپاره ګڼ شمير ولايتونو ته تللی يم. د پوځ د افسرانو او بريدګيو د ښوونې او روزنې ، د سرتيرو د ښوونې او روزنې او د قطعو د محاربوي احضاراتو د پیاوړتيا په چارو کې، له تکتيکي نورمونو سره سم د مدافعې د سيستم په را منځته کولو کې، د ترهګريزو کړو وړو او پر استوګنو سيمو باندې د درندو وسلو د اور د مخنيوي په لاره کې د پوځ د نورو هيواد پالو بولندويانو ترڅنګ ګام په ګام پرمخ تللی يم .

سره له دې چې د پوځي پوهو پوهاند او ارکان حرب وم، زما لسګونو همليکو ملګرو زما په پرتله په ګوند او دولت کې لوړ دريځونه درلودل. هغه څه مې چې تر لاسه کړيځ زما د کارپوهنې او ورهنې له پايلو څخه وې نه دا چې د ګوندي او دولتي لوړ پوړو چار واکو له پلوه راته کوم ځانګړی امتياز راکړل شوی وي .

غواړم زياته کړم چې هیڅکله زه په دې نه يم تورن شوی يم چې ګڼې ما دې ويارڅ کړی وي. که وياړمې هم کړی وي يوازې دومره ول چې د مخابرې د يوه خبر رسوونکي په توګه مې د پوځي شورى پيغام ولسمشر ته رسولی دئ. ولسمشرته مې له درنښت ډک دوديز پوځي سلام وروسته ويلي : " منليه ولسمشره! واکمني د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند ته لیږدېدلې ، تاسو تسليم سئ." هغه خپل ځواب ماته په مرمۍ راکړ چې سخت ټپي شوم .

زما د وياړ او نوميالیتوب لامل زما ټپي کېدل ول او هغه هم د پاڅون په لومړۍ ورځ په هغو مرميو چې د هاغه وخت د ولسمشر له پلوه ويشتل شوي وې ، نه دا چې ما دې پرهغوی ډزې کړې وي .

سـياه سنګ: آيا ددغو خبرو اترو په پای کې نورې کومې خبرې لرئ؟

امـام الدين: يو ټکی غواړم رایاد کړم چې خلکو ويل داؤود خان په خپل چال چاچلند کې د نورو ځانګړتياوو د لرلو ترڅنګ احساساتي سړی وو اوډير ژر په کوشنۍ خبره خپه کيده. ښايي د پوځي شورى د سولې د پيغام په وړاندې چې ماته ورته په ډير درنښت وړاندی کړ د دداؤد خان د بوږنوړي غبرګون لامل ، د هغه د احساساتو غلبه وي ، که

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه په ټولیز ډول سیاستوال او ستر واکمنان هېڅکله وسلې ته لاس نه ور وړي او د سولې غږ ته د وسلې په سره اور ځواب نه ورکوي.

ان د سردار داؤود د کورنۍ غړي او ور سره بدرګه ملګري یې د هغه پیام په وړاندې چې ما ور ووړ، د سردار داؤود د بوږنوړي غبرګون پلویان نه ول. هغه د پوځي شورى د پیغام په وړاندې په قهر کیږي او وسله را پورته کوي او غواړي زموږ خوا ته ډزې وکړي. په هماغه شېبه کې د هغه له کورنۍ څخه یو نجلې را پورته کیږي د هغه لاس نیسي چې د تاوتریخوالي مخه ونیسي ؛ خو نجلۍ د داؤود خان د تومانچې د مرۍ له امله ټپي کیږي او پرځمکه لویږي. دا په خپله دهغې ربښتیا څرګندونه کوي چې له هغه سره زموږ چال چلند له تاوتریخوالي ډک نه وو ، موږ یوازې د هغه پیغام وړونکي وو چې د پوځي شورى د پریکړې پر بنسټ یې د هغه د سوله ییزې تسلیمېدنې غوښتنه کوله .

کاشکې داؤود خان د مرمۍ د ویشتلو پرځای یوه خبره کړې وای چې هغه مې اړوندو چارواکو ته رسولې وای او د انسانې انګیرنې له اړانې وتلې دداسې یوې خونړې پېښې د رامنځته کیدلو مخه نیول شوې وای.

لکه څنګه چې ما مخکې وویل، کله چې د ګلخانې له مانۍ وتلم د کوماندو د قطعې پاتې پرسونل زما راتلو ته سترګې په لاره ول زه یې ټپي او په وینو کې لیت پیت ولېدلم. ښایي دغسې یوه حالت ددې لامل شوی وي چې پاتې پرسونل په ډله ییزه توګه او په خپل سر ناڅاپي برید کړی وي .

زه ورځپاڼه لیکونکی نه یم ، خو ماته په زباد رسیدلې چې یو شمیر لیکوالان د خپلو لوستونکو د شمیرې د زیاتوالي لپاره د مطالبو په وړاندې کولو کې له ډوزو (مبالغو) اوپر حقیقت د سیوري د غوړولو له لارې ډنډوري د واقعیت په توګه خپروي .

هر هغه څه چې ما په سترګو لیدلې ول پرته له زیادښت او کمښته د کابل ناتهـ ددرندې ویب پاڼې ښاغلو لوستونکو ته مې وړاندې کړل او ورمنډ (قضاوت) ولس ته سپارم .

له تاسو د هیواد د یوې مهمې پیښې په اړه د واقعیتونو د چاڼ کولو په اړه ستاسو له ټولګې څخه مننډوی یم چې زما خبرې په ورین تندي پرته له زیادښت او کمښته خپروئ. تاسو ته د ډېر صبر او حوصلې غوښتنه کوم او هیله مند یم چې د بې بنسټو ډنډورو پر ځای ربښتوني واقعیتونه د هیواد تأریخ ته وړاندې کړئ .

همدغه واقعیتونه به وي چې زموږ د ربړېدلي او جګړو ځپلې پرګنو په منځ کې د پوهاوي لاره پرانیزي ، د ولس د ټپونو درملنه به وکړي او توی شوې وینې به پرې وینځي. دا ټول به ددې لامل شي چې زموږ د ټاټوبي پرګنې به د بشري ټولنو د پرمختګ په لاره کې په سر لوړۍ او ویاړ و درومي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## شپاړسمه برخه

"د دیارلس سوه او اووه پینځوسم کال د غوایي د مپاشتې اوومه توره ورځ "

د دیارلس سوه او اووه پینځوسم کال د وري د مپاشتې په دوه ویشتمه نېټه [د ۱۹۷۸ز کال د اپریل یولسمه] د منځنۍ "سه شنبې" په ورځ مخکې له دې چې د وزیرانو غونډه پیل شي د کابینې له څو تنو ملګرو سره د دفتر د رئـیس په کوټه کې ناست وم. د فوائـد عامې وزیر " غوث الدین فایق" ناڅاپه راغی او ویې ویل : " خبریاست چې له دغو لعنتیانو څخه یو یې مردار شوی دئ؟" او بیا یې کیسه را پیل کړه چې د میر اکبر خیبر مړی مطبعې ته نیږدې د سړک د غاړې د یوې ویالې ترڅنګ موندل شوی دئ. لږ وروسته غونډه پیل شوه ، که مې له یاده نه وي وتلي ، ګومان کوم د کورنیو چارو وزیر هم په غونډه کې له نوموړې پیښې څخه یادَونه وکړه.

پرچمیانو د ډیر شورماشور په را پورته کولو د خیبر له وژنې څخه ګټه پورته کړه او حکومت یې د نوموړي په وژنه ګرَم و باله. د خیبر د ښخولو او د فاتحې د لمانځلو په ورځ ، په فوتي اعلانونو کې په خیبر پورې د اړوندو خپلوانو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاتحه اخیستونکو د نومونو ترځنګ د ببرک او اناهیتا راتبزاد نومونه هم د خلکو تر غوږونو ورسول شول. (په رسنیو او فوتي اعلانونو کې په دودیز ډول یوازې د مړي د ډیرو نیږدې خپلوانو د نومونو یادَونه د منلو وړ وه. په دې ټړاو ښايي پرچمیانو په راډیو کې خپل کسان درلودل او پرته له دې چې د اطلاعاتو وزیر ورڅخه خبر شي په غلا یې اعلان د راډیو د څپو له لارې خپور کړی وو. )

جنازه د یوه عجیب لاریون په ترځ کې له مکروریانو څخه پورته شوه او هغه یې د " مړه دې وي امریکا" د شعارونو په ورکولو د امریکا د سفارت ترمخ ، ارګ ته د راغځیدلې سړک ، د پښتونستان واټ ، پل خشتي او د میوند د جادې له لارې شهدای صالحین ته د یوې لویې بدرګې په ملتیا ورسوله .

د قبر پرسر مخکې له مخکې لودسپیکرونه ایښودل شوي ول. د پرچم او خلق د رَمو مشرانو په ترخه ډال او ډیل ویناوې واورولې او په غړیتاو او بریدونو یې حکومت د خیبر په وژنې تورَناوه .

د هماغې ورځې په سبا په صدارت کې د ولسمشر د مرستیال سید عبدالالله تر مشرۍ لاندې یوه غونډه وشوه چې د همدغې سکالو په تړاو هم خبرې اترې وشوې. د سوداګرۍ وزیر محمد خان جلالر چې په پښتونستان واټ کې د پلان د وزیر د دفتر له کړکۍ څخه یې د لاریون ننداره کړې وه ، د لاریون کوونکو د زیاتې شمیرې د یادَولو په ترڅ کې یې پیښه داندیښنې وړ وبلله. د کورنیو چارو وزیر ټینګار کاوه او ویل یې : " هېڅ د اندیښنې ځای نه دئ ، ځکه د لاریون کوونکو غټه شمیره زموږ خپل لیبرل شوي کسان ول." (د فاتحې په لمانځلو کې ګڼه ګوڼه ډیره وه ، ان د اندرابي له پله څخه د شاه دوشمشیرې تر جومات پورې خلکو لیکې جوړې کړې وې) .

د وزیرانو په غونډه کې ټول په یوه غږ ول چې د لاریون کوونکو پر وړاندې دې قانوني ګامونه اوچت شي. له هغه وروسته د همدغې خبرې په اړه د ولسمشر مرستیال او د مالیې وزیر سید عبدالالله او د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیر له ولسمشر سره خبرې اترې وکړې .

د دیارلس سوه او اووه پینځوسم کال د وري د مېاشتې په نهه ویشتمه نېټه [د ۱۹۷۸ز کال د اپریل اتلسمه] د وزیرانو د شورئ په غونډه کې په دې اړه اوږدې خبرې اترې وشوې او پریکړه وشوه چې ددولت دستګاه دې د پرچم او خلق په ډلو پورې د اړوندو کسانو له شتون څخه پاکه او د لاریون کوونکو پر وړاندې دې د قانون په اډانه کې ګامونه اوچت شي. د لوړو اومسلکې زده کړو وزیر صدیق محبي د خنډونو په را وړاندې کولو ویل : "د پوهنتون د یو شمیر استادانو بدلول ساده کار نه دئ ".

د دیارلس سوه او اووه پینځوسم کال د غوايي د مېاشتې په پینځمه نېټه [د ۱۹۷۸ز کال د اپریل شپږویشتمه] د وزیرانو د شورئ په غونډه کې د عدلیې وزیر او لوی څارنوال وفي الله سمعیي د میر اکبر خیبرد ښخولو په ورځ د کمونیستانو د لاریون او پردولت د هغوی د بې شرمو بریدونو په تړاو د جزأ د قانون په اډانه کې سپړنه او روښنايي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



واچوله او ویې ویل چې د قانون د ... مادې پربنسټ محکمه کولای شي دغسې مجرم کسان تر اوو کالو پورې بندي کړي .

د ماسپښین شا او خوا کله چې د ډوډۍ د خوني پر لور روان وو ، د زینو په لاره کې د مالیې وزیر راته وویل : " زما په ګومان هېڅ ډول ګام اوچتولو اړتیا ته نسته. ما ورځخه وپوښل : " نو څه وکړو." هغه په ځواب کې وویل : " هېڅ"

د ماسپښین په غونډه کې د خلقي او پرچمي د رَمو د مشرانو د نیولو په اړه خبرې اترې راپورته شوې او د کورنیو چارو وزیر خپلې لارښوونې تر لاسه کړې. له دې چې د مجلس اجنداوې پای ته نه وې رسیدلې د غونډې په پای کې پریکړه وشوه چې د پنځنۍ " پنجشنبې" په ورځ د دیارلس سوه او اووه پنځوسم کال د غوایي د مباشتې په اوومه نېټه [۱۹۷۸ز کال د اپریل ۲۸] دې راتلونکې غونډه و نیول شي .

کور ته له رسیدلو سم له صدارت څخه تلفون راغی [او راته وویل شول] " راځې چې غونډه ده ".

په صدارت کې د مالیې وزیر راته وویل : " ښه به دا وي چې ټول دلته پاتې شو چې د نیونو خبره پټه پاتې شي". د شپې تر ناوخته پورې په صدارت کې پاتې شوو. د کورنیو چارو وزیر شیبه په شیبه د پولیسو له کړو وړو څخه مجلس ته ګزارش ورکاوه. ترهغه ځایه چې زما په یاد راځي ، له حفیظ الله امین پرته چې د نیولو څرنګوالی یې روښانه نه وو نورې ټولې نیونې ترسره شوې وې. د شپې ناوخته غونډه پای ته ورسیدله او ټول خپلو کورونو ته ستانه شوو .

د څلَنۍ "چهارشنبې" په ماښام [۱۹۷۸ز د اپریل شپږویشتمه] د ویل شویو نیونو په اړه له راډیو څخه یوه خبرتیاخپره شوه. د نوموړې خبرتیا په مسوده کې ولسمشر د " نورمحمد تره کي" نوم په " مشهور په تره کي" سم کړی وو .

د پنځنۍ "پنجشنبې" په ورځ د غوایي په اوومه [۱۹۷۸ز د اپریل ۲۷] له غونډې مخکې وزارت ته ولاړم. د لیکونو د لاسلیک کولو په ترڅ کې ، اداري رئـیس ، محمد رحیم رفیق راته وویل چې د هغه یو ګاونډی د پرچم د ډلې غړی دئ او نن سهار یې ورته ویلي ول چې "موږ غرونو ته خیږو او د دولت پر وړاندې وسله وال مقاومت را پیلوو ".

د ګلخانې په ماڼۍ کې د غونډې له پیلیدا مخکې د کورنیو چارو له وزیر سره د مخه ښې په وخت مې د ولسمشر وینا را یاده کړه. هغه وویل : " وروره! موږ باید خپلو غوږونه او سترګې کابو او پرانیستي وساتو." له دغو خبرو وروسته دواړه د غونډې خونې ته ننوتلو. په دودیز ډول محمد داؤود یوه شیبه وروسته د غونډې خونې ته راغی او له هر وزیر سره له روغبړ او پوښتنو وروسته د غونډې د مشرۍ په ځای کې کښیناست.

په پیل کې د کورنیو چارو وزیر امنیتي ګزارش وړاندې کړ او څرګنده یې کړه چې د خلق او پرچم د رَمو مشران څنګه او چیرې بندیان دي. د عدلیې وزیرهم چې د لوی څارنوال دنده یې هم ترسره کوله د قانون په اډانه کې د هغوی پروړاندې د دعوی په اړه مالومات ورکړل. له هغه وروسته غونډې د اټکل شویو سکالو په تړاو خبرې اترې پیل کړې.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غونډې د اجندا یوه سکالو هم د کار او کارګر د قانون خبره وه او موږ باید د کاربندۍ د څپرکي په اړه خبرې او شننې کړې وای .

یوه لنډه شیبه وروسته د ولسمشرۍ د ریاست یو مرستندوی (یاور) د غونډې خونې ته ننوت ، او نیغ د ولسمشر خواته ورغی او هغه ته یې د لیکل شوې پاڼې یوه ټوټه ورکړه. ارواښاد مرستندې ته څه وویل او د سرپه ښورولو یې هغه ته د تللو اجازه ورکړه. له څو لنډو شېبو وروسته د ګارد بولندوی صاحبجان او یوبل تن (چې نوم یې زما په یاد نه دئ) خونې ته را ننوتل. هغوی هم نیغ په نیغه د ولسمشر پر لور ورغلل او هغه ته یې یوه لیکل شوې پاڼه وسپارله. هغوی [ محمد داؤود] د پاڼې له لوستلو وروسته ناڅاپه له ځایه پورته شو او په ډېرو ستوغواوتوندو ګامونو د غونډې له خونې دباندې د خپل کار د خونې په لور وخوځېد.

څو دقیقې نه وې تیرې شوې چې د شوبلو یوه ویروونکې ډز ودانۍ وښوروله. وحید عبدالله راته وویل : " څلورم زغره وال ځواک له څرخې پله څخه را خوځېدلی دئ" دغه خبره د ټولو غوږونو ته ورسیدله او د غونډې لړۍ په ټپه و دَریدله. د غونډې ټول غړي د غونډې په خونه ، دالان او د دفتر د رئـیس په خونه کې په تګ راتګ کې ول. د مالیې وزیر عبدالالله او د کورنیو چارو وزیر د ولسمشر په خونه کې ول. ددفاع وزیر حیدر رسولي او د فوائـد عامې وزیران غونډې ته نه ول راغلي .

زه ډیرې وختونه د دفتر د رئـیس په خونه کې وم او کله ناکله به دالان یا د ګلخانې د ماڼۍ د مخ چمن ته راووتلم او غوښتل مې پوه شم چې څه تیریږي. په دغو شېبو کې مې څو ځله د ګارډ بولندوی ولید چې د لارښوونو د اخیستلو لپاره د ولسمشر دفتر ته په تګ راتګ کې وو. د ارګ ټولې دروازې تړل شوې وې. د ودانیو ګرد چاپیره ډېر سرتیري د ځار لپاره ځای پرځای شوي ول. له ارګ دباندې د شوبلو د ګړزهار او د ماشینګنو او درندو وسلو نه دریدونکې ډزې اوریدل کېدلې .

د یاور خونه چې د ولسمشر د دفتر په خوله کې وه ورغلم او غوښتل مې پوه شم چې څه خبره ده. له هغه ځایه مې د مخابراتو وزارت ته ټلفون وکړ چې خبر واخلم. د ټلفون هاغه بل لوري د ټلفون رئـیس سید فقیر علوي په ډیرې ترخې ژبې او بوږنوړي غږ وویل: " د خدای په پار! دا څه حال دئ؟" له هغه سره خبرو ګټه نه درلودله ځکه د هغه واښې او واڼې تښتېدلې وې. د ټلفون له مرکز سره مې اړیکه ټینګه کړه. یو تن مؤظف چې له غږ سره یې ټول لوړ پوړې چارواکي بلد ول ، ماته وویل : " وزیر صاحب! حالت ډیر کړکیچن دئ او همدا اوس وسله وال کسان د وزارت ودانۍ ته را ننوتلي دي." ما د ټلفون له لارې ډزې واوریدلې او په ډیرې نهیلۍ مې ټلفون بیرته کښېښود .

د ولسمشر له خونې څخه د کورنیو چار د وزیر له را وتلو سره سم د ولسمشر دفتر ته ولاړم او د مخابراتو و دوزارت خبر مې ورکړ.ولسمشر چې ترهیدلی ښکاریده وویل : " هو. د راډیو مرکز یې هم نیولی دئ." د یاور په خونه کې نورکسان هم لیدل کیدل چې اوس د هغوی څیرې زما په یاد نه دي. کله چې له زینو را کښته کیدم د دفتر رئـیس

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



اروابناد اکبرجان مې مخې ته راغی او ويې ويل: " بايد د دلکشا د دروازې له لارې د کورنۍ غړي د ګلخانې ماڼۍ ته راوستل شي. عمر جان وايي چې نه غواړي له خپلې کورنۍ سره له کوره ووځي. که وکولای شی هغوی راولی، ښه به وي." له دغې خبرې سره یوځای د نومورې خونې ته ننوتلو. د کابينې يو شمير غړي هم هلته ليدل کيدل .

د ټلفون زنګ يو په بل پسې راته او هېڅ نه دريده. له هر لورې د تلفونونو زنګونه راتلل ، چا مالومات ورکول او چا مالومات غوښتل. په دغه شېبه کې د نامتو حضرت " شيرآغاجان" ټلفون راغی. هغه ويل : " ښاغلي ولسمشر ته ووایاست چې که کوم امر وي زه د مرستې لپاره چمتو يم." ځواب: " مننه! هرکله که اړتيا پيښ شوه ، تاسو ته وايو. " همدارنګه د ملي مصؤنيت د رئيس جنرال محمد اسماعيل ټلفون راغی. هغه ويل : " همدا اوس د دولت په پـلـوي جيټ الوتکو په الوتـنې پيل وکړ. هيله لرم چې په څو شېبو کې دغې ماجراته پای ورکړل شي." کله چې دغه خبر مو واوريد ، د الوتکو د درندو غړونو ازانګې له ورايه را خپرې شوې.

ساعت ته مې پام شو ، د ماسپښين دوې يا درې بجې وې. غوښتل مې دويم پوړ ته وخيږم ، د زينو په ورستۍ برخه کې له عمرداؤود سره مخامخ شوم. له روغبړ وروسته مې ورڅخه وپوښتل چې ولې ګلخانې ته نه راځی. هغه وويل : " زه په کور کې وم توپک را سره وو. که هر چا تيری کړی وای ، نو ډزې مې کولې." د ملي مصؤونيت د رئـيس له خبرڅخه مې خبر کړ او لږ شېبه مو سره خبرې وکړې. هغه وويل." کله چې دغه ستونزه له منځه ولاړه شي، په دولت کې له يوې پاک کارۍ وروسته بايد هرڅه په کلکه او ځير په پام کې ونيول شي ".

اوس هغه شېبه وه چې د کورنۍ ټول غړي ګلخانې ته راوړل شوي ول او د ولسمشر ددفتر ترشا په نورو دفترونو کې ځای پر ځای شوي ول. اروابناد محمد نعيم ، د ماليې وزير ، د کورنيو چارو وزير او يو يا دوه تنه نور(چې د کابينې غړي نه ول) د ولسمشر په خونه کې له اروښاد سره يو ځای ول. سردار محمد داؤود د ټلفون له لارې د دفاع له وزارت سره اړيکه ونيوله خو اوضاع ډيره خړه پړه وه .

زه ، ودانې ته د ننوتلو د دالان په دروازه کې ولاړ او په سوچونو کې ډوب وم. د ماليې په وزير مې سترګې واوښتلې چې يو کلاشنيکوف يې په لاس کې وو او له زينو راکښته کيده. موږ دواړه له هغه ځايه را ووتلو او د ګلخانې ترمخ په چمن کې ودريدلو. کلاشنيکوف ته مې په نغوتې وويل " په دې څه کوئ؟" هغه وويل:" وروره ! لږ لږه د ځان ساتنه خو وکړو ".

په دغه شېبه کې د ګارد يو افسر (عبدالحق علومي چې وروسته غټ پرچمی را وخوت) موږ ته رانيږدې شو او ويې ويل:" تر څو چې زموږ له ټټرونو او سينو څخه څوک نه وي تير شوي ، هېڅوک نه شي کولای تاسو ته نيږدې شي ".

موږ دواړه بيا ودانۍ ته ننوتلو. هغه پورته په زينو وخوت او زه لاندې پاتې شوم. په دغه شېبه کې ومې ليدل چې مجيد ياور (د بازمحمد خان زوی) په بيړه له زينو راکښته شو او له يوې نيمه ترلې کړکۍ څخه چې مخه يې د دلکشا د بڼ پر لور پرانيستل کيدله ، په کلاشنيکوف د جيټ الوتکو پر لور ډزې کوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ور نیږدې شوم او ومې پوښتل :" څه خبره ده؟" مجیدپرته له دې چې ماته وګوري ، وویل:" هغوی زموږ پرضد عملیات کوي." د مجید دغې خبرې د ملي مسؤونیت د رئیس پر ورکړل شوې خبر د نهیلۍ سرې اوبه وشیندلې. په همدغه شیبه کې ما له کړکۍ ولېدل چې د دلکشا د برج ساعت د الوتکې په توغندي ویشتل شوی وو .

خړمازیګر خپله لمن کرار کرار غوړوله او لمرپه لویدو وو. د توپکو یو یو ډز اوریدل کیده او د الوتکو د ویرونکې ګړزا ږغ له لیرې لیرې تر غوږو کېده. د ولسمشر د خونې ترڅنګ د کابینې غړې په یوې کوشنۍ خونې کې راټول شوي ول او د زبیښونکي چوپتیا په ناورین کې یې یو بل ته په پټه خوله کتل .

ولسمشر خونې ته را ننوت. موږ ټول له خپلو ځایونوڅخه د هغه د درنښت لپاره را پورته او په پښو ودریدلو. هغه په یوې آرام څوکۍ کې کښیناست. معنویات یې پیاوړي او ان څرګنده موسکا یې په څیره کې ځلیدله. ولسمشر سوکه سوکه خبرې پیل کړې او د خبرو په ترڅ کې یې ټوله پازوالي (مسؤولیت) په غاړه اخیستله او دداسې پیښې ګومان یې نه کاوه .

موږ ټول چوپه خوله پاتې وو. په پای کې ما وویل : " موږ ټول ستاسو همکاران یو. هغه څه چې ستاسو پازوالي ده زموږ هم ده." نور د چا غږ پورته نه شو. څو شېبې وروسته ، ولسمشر وویل : " د ګارد ځواک ډیر کوشنی دئ. ولیدل شي چې څه کیږي. " په همدغې شېبې کې د کوټې دروازه پرانیستل شوه او......

د هغه لیکوال نوم او د کتاب پیژندنه چې پربنسټ یې د " پسرلني سباوون د ګولیو باران" شپاړلسمه او اوولسمه برخه لیکل شوې ، په راتلونکو برخو کې وشي .

د ژباړونکي یادَونه: لیکوال درې ځایه د [ ګله] وییکی یاد کړی دئ. د فارسي ژبې تر ټولو د ډاډ وړ قاموس [فرهنګ دهخدا] کې د ګله وییکی داسې مانا کړی دئ :

]ګله . [ گ َ ل َ / ل ِ / گ َل ْ ل َ / ل ِ ] (اِ) گله و رمهٔ گوسفند و شتر و خر و گاو و آهو و امثال آن باشد. (برهان ). گلهٔ اسپ و شتر و گاو و گوسفند ودر قوشخانهٔ پادشاهان هندوستان گله گلنگ و گله قرقره نیز گویند. (آنندراج ): اعرم ؛ گلهٔ (بز. (منتهی الارب ).جول ؛ گلهٔ شتران و شترمرغان و گوسپندان . جمه ؛ گلهٔ شتران . جلمد؛ گلهٔ بزرگ شتران . جزمه ؛ یک گله از شتر.جماله ؛ گلهٔ شتران نر. خرقه ؛ گلهٔ ملخ . خذروف ؛ گلهٔشتران . خطر؛ گلهٔ شتران . خیط؛ گلهٔ شترمرغ . خیطی ؛ گلهٔ شترمرغ . خنطوله ؛ گلهٔ گاو و شتر و ستور. دیکساء؛گله ای بزرگ از گوسپندان و چهارپایان . رأب ؛ گلهٔ هفتاد شتر. صِوار؛ گلهٔ ماده گاوان . صیار؛ گلهٔ گاوان . عَجاجَة؛ گلهٔ بزرگ از شتران . عانة؛ گلهٔ خرگور. علابط، عُلبط، عُلبطة؛... گلهٔ گوسفند از پنجاه تا هر قدر که باشد. مِنسر یا مَنسِر؛ گلهٔ اسب از 30 تا 40 و یا از 40 تا 50 یا تا 60 یا از صد تا دو صد. ورد؛ گلهٔ مرغان . وَقِر؛ گلهٔ پانصد گوسپند. همهامه ؛ گلهٔبزرگ از شتران . هادیات ؛ گلهٔ گاوان دشتی و جز آن که پیش پیش روند. هور؛ گلهٔ گوسپندان بدان

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهت که از کثرت بعض بر بعض می افتد. هند؛ گلهٔ صد شتر یا اندکی زائد از صد یا اندکی از آن یا دو صد. (منتهی الارب.(

ترکیب ها:

-گلهٔ آهو . گلهٔ اسب . گلهٔ خر. گلهٔ خروس . گلهٔ زنبور. گلهٔ شتر. گلهٔ شترمرغ . گلهٔ کبوتر. گلهٔ گاو. گلهٔ گوسفند. گلهٔ مرغان . گلهٔ ملخ :

نماند ایچ در دشت اسبان گله

بیاورد چوپان به میدان گله.

همدې ته وَرته مانا د فرهنګ عمید په قاموس کې شته :

[گله] [ گَ لِ] رمه ، گروه ، دسته ، رمه ء گاو و گوسفند و سایر چهارپایان

زه د يوه ژباړونكي په توګه دا حق نه لرم چې د ليكوال يو ليكل شوى تورى يا ليرې يا په بل ډول مانا كړم او د پښتو په څلور ټوكيز تشريحي قاموس او د پښتو ټولنې په دوه ټوكيز پښتو په پښتو قاموس كې [ګله] په رمې مانا شوى دئ.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه لسمه برخه

"د دیارلس سوه او اووه پینځوسم کال د غوایي د مباشتې اوومه توره ورځ -۲ "

ولسمشر خونې ته را ننوت. موږ ټول له خپلو ځایونوڅخه د هغه د درنښت لپاره را پورته او په پښو ودریدلو. هغه په یوې آرام څوکۍ کې کښیناست. معنویات یې پیاوړي او ان څرګنده موسکا یې په څیره کې ځلیدله. ولسمشر سوکه سوکه خبرې پیل کړې او د خبرو په ترڅ کې یې ټوله پازوالي (مسؤولیت) په غاړه اخیستله او دداسې پیښې ګومان یې نه کاوه .

موږ ټول چوپه خوله پاتې وو. په پای کې ما وویل : " موږ ټول ستاسو همکاران یو. هغه څه چې ستاسو پازوالي ده زموږ هم ده." نور د چا غږ پورته نه شو. څو شیبې وروسته ، ولسمشر وویل : " د ګارد ځواک ډیر کوشنی دئ. ولیدل شي چې څه کیږي. " په همدغې شیبې کې د کوټې دروازه پرانیستل شوه او پیشخدمت پتـنوس په لاس چې ساندوویچ پکې ټول شوي ول خونې ته را ننوت. لومړی ولسمشر چې د ټولې ورځې په اوږدو کې یې څه ول خوړلي یو ساندوویچ واخیست او نورو هم په خوړلو پیل وکړ .

هوا تیاره شوې وه. د ماشینګنو غږونه نه اوربدل کېدل. راډیو افغانستان په خپرونو پیل کړی وو. د محمد اسلم وطنجار او عبدالقادر په نومونو دوه تنو افسرانو په دري او پښتو ژبو خبرتیا خپره کړه او په هغه کې یې د والاحضرت سردار محمد داؤود او د هغه د حکومت د پرځېدلو خبرې وکړې. د مالیې وزیر په ملنډو وویل : " ته دغه وطنجار ته و ګوره !" ( د بي بي سي راډیو هم په افغانستان کې د کمونیستي کودتا خبر ورکړ او ویې ویل :" د ولسمشر برخلیک لا تر اوسه څرګند نه دئ." )

ولسمشر د ګلخانې د مانۍ په لاندیني دالان کې ناست وو. ښاغلی محمد نعیم ، د کابینې غړي او د کورنۍ یو شمیر غړي تر هغه را تاو ول. وحید عبدالله ولسمشر ته ولاړوړاندیزوکړ :" تاسو باید کندهار ته ولاړشی" نوموړي ارواښاد د لارې په اوږدو کې د مهتاب قلعې ، مقر او کلات د ځواکونو یادَونه وکړه او ویې ویل: " دژوند تر وروستۍ شیبې به دغه ځای پریـنـږدم" عمرداؤود غږ وکړ :" بابا! زه هم همداسې فکر کوم." وحید عبدالله وویل: " د خدای په پار! د افغانستان برخلیک به څنګه شي؟ "

زه د ارواښاد نعیم تر څنګ ولاړ وم. هغه د خپل همیشني عادت له مخې چې د هغه یوه ځانګړتیا وه په نرمه ژبه وویل : نن موباید د پیښې له هماغه لومړۍ شیبې څخه په دې اړه فکر کړی وای." وروسته ، پرته له دې چې د کندهار پر لور د ټګ کومه پریکړه شوې وي ، صاحبجان ته لارښوونه وشوه چې د کندهار په لور د ټګ لپاره دې یو موټر چمتو کړي. ګومان کوم دغه لارښوونه وحید عبدالله ورکړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لږ شېبه وروسته صاحبجان راغی او خبر یې ورکړ چې موټر چمتو دئ. ددغه خبر په اوریدلو وحید عبدالله زینو ته نیږدې ولاړ او په لوړ غږ یې وویل :" راشئ!" د کورنۍ ټول غړي په ځغاستو ځغاستو له زینو راکښته شول. د ولسمشر ماندینه میرمن زینب داؤود چې تر ټولو مخکې ولاړه وه او کله چې کندهار ته د تگ په اړه خبره شوه ، ولسمشر ته یې وویل : " زه نه ځم. ته ولاړ شه چې مهمه ده." د میرمن زینب موخه دا وه چې د ولسمشر یوازې تگ به هغه ته آسانتیا رامنځته کړي. ددغو خبرو له څو ځلي تکراریدلو وروسته ، ارواښاد ولسمشر زړه نا زړه له خپله ځایه پاڅېد ؛ د بالاپوښ اغوستلو او خولۍ پرسرکولو په شېبه کې ډېرسترې او لالهاند ښکاریده .

ولسمشر له دروازې ووت او د هغه ترشا ټول ولاړ کسان هم وخوځېدل. له دې چې موټر د دروازې څنگ ته ولاړ یو شمیر له دروازې ور سره ووتل او نور په دالان کې ودریدل. زه د هغو کسانو په ډله کې وم چې د ولسمشر ترڅنگ ول .

د موټر دروازه لا نه وه خلاصه شوې چې د ارگ (د گلخانې ماڼۍ ته له مخامخ ودانۍ) د جومات له لورې د ونو له منځه لومړی د توپک یو ډز او له هغه وروسته بل ډز وشو او مردکي د گلخانې د ماڼۍ په کاڼو ومښتـل. ما واوریدل چې ارواښاد داؤود خان وویل : " اولا!" او په بیړه د ارگ د گلخانې د دروازې پر لور وخوځید. موږ هم ورپسې وخوځېدلو. د توپک پرله پسې ډزې خپرې شوې پاتې کسانو هم په تښتېدلو واښو وانېو په موږ پسې را وځغستل او د دالان ښي او کیڼ لوري ته یې د ځان د ساتنې او خوندیتوب لپاره ځای لټاوه .

د ماشینگنو ډزې له هرې خوا خپرې شوې او دالان ته د راننوتلو لاره ، زینې او د زینو دیوالونه تر ټینگ اور لاندې ونیول شوې. په همدغې شېبې کې د دالان ځراغ ټوټې ټوټې شو او ټوټې یې هرې خواته خپرې شوې. ساتونکې مې ولید چې پرځمکه پریوت ، ودانۍ تیاره شوه او سور قیامت بل شو. له هغه وروسته د ماشینگنو ډزې بندې شوې، کراري شوه ، د آرامۍ یوه لنډه شېبه را ورسیدله. ټولو د یوه تاندې سا کښلو لپاره داسې یوې شېبې ته اړتیا درلودله .

له کړکیو څخه د پیکه روښنایۍ تر رڼا لاندې د ټپي شویوکسانو په لټه کې شوم. نظام الدین غازي زما ترڅنگ ولاړ وو ، هرې خواته یې په تر هورو سترگو کتل او هڅه یې کوله چې ټپیانو ته مرسته ورسوي. له هغه مې وپوښتل : " ښاغلی ولسمشر څنگه دئ ، چیرې دئ ؟" هغه وویل :" شکر ښه دئ او په شاتینۍ کوټه کې دئ ".

په دې شېبه کې د میرمن زینب داؤود غږ مې واورید چې ویل یې : " راشی ، مرسته وکړئ!" نظام الدین غازي په بیړه له ځایه پورته شو او پیغله زرلښته داؤود یې چې په پښې ټپې شوې وه په غیږ کې ونیوله. د کورنیو چارو وزیر مې ولید چې خپله کوشنۍ ماشینگنه یې د خونې د بخارې له پاسه په کوپه (تاقچه) کې کښیښودله او له لاسه یې وینې بهېدلې .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول په لالهانده سرګردانۍ کې ډوب ول او زه نه پوهیدم چې څه وکړم ، د چا خبر واخلم ، چیرې ولاړ سم او له چا سره مرسته مرسته وکړم. زه نه پوهیدم چې څنګه او ولې نه یم ټپي شوی او روغ رمټ پاتې شوی یم. توره تیاره وه ، کله به ودریدلم او کله به کښیناستم ، ګرد چاپیره مې څه نه لیدل. نه پوهیدم چې څومره وخت همداسې تیر شو. د نهیلیو څپو مې پرمخ منګولې لګولې او ګومان مې کاوه چې هرڅه له لاسه تللي دي .

په دغه شېبه کې زما سترګې په ارواښاد محمد نعیم ولګېدلې چې زما له مخه تیر شو او کرکۍ ته نیږدې په ډیرې خوارۍ او سختۍ پر څوکۍ کښیناست. په ډیرې کرارۍ د هغه څنګ ته ور نیږدې شوم او ومې پوښتل : " څه وکړو؟ آیا سپین بیرغونه پورته کړو؟" هغه په بشپړې نومیدۍ او ډیر ټیټ ټپي غږ وویل : " هر څه مو چې زړه غواړي ، ویې کړئ." څو شېبې وروسته پوه شوم چې هغه هم ټپی شوی وو .

د لالهاندو او ځپلو ګومانونو زبېښونکو منګولو زبېښلم. د ګارد بولندۍ صاحبجان مې چې لویه ورځ یې پوځي جامې په ځان کې وې ، په ملکي جامو کې ولاړ ولید. په بیړه د هغه څنګ ته ور نیږدې شوم او و مې پوښتل :" څه خبره ده؟" د هغه پرمخ چې ترخې موسکا په بیرحمۍ منګولې ښخې کړې وې وویل :" اوس چې د ګارد له منځه خیانت را پیل شوی دئ ، زما له لاسه هېڅ نه کیږي." ( هغه چا چې ډزې کړې وې د عبدالمجید په نامه د ګارد یو تن افسر وو او په دې خبره زه د څرخي پله په زندان کې پوه شوم) صاحبجان وویل : " ما دغه خبره ښاغلي ولسمشر ته وړاندې کړه." صاحبجان هغې خونې ته د سرپه ښورولو پوه کړم چې ولسمشر هلته وو. له هغه وروسته یې ماته د خدای په امانۍ لاس راکړ او ولاړ .

صاحبجان یو ډیر ښه رښتونی او سپېڅلی سړی وو. هغه له خپل ځواک ، د ولسمشرۍ له ګارد ، سره یو ځای د سهار له لومړیو بیا د هاغې تورې شپې تر وروستیو شېبو پورې د هیواد او ولس د دښمنانو پر وړاندې په میړانۍ او سرښندنې مقاومت وکړ. صاحبجان یوه شوبله په خپل لاس په توغندیو له منځه وړې وه ؛ د عزیز په نامه د جنرال عارف خان وراره غوښتل په همدغې شوبلې د ارګ دروازه والوزوي. د ګارد دټپیانو شمیره هم لوړه وه .

کله چې د ګارد بولندوې د دالان له دروازې ووت ، زه پورته په زینو وختلم او غوښتل مې د ولسمشر د کار له دفتر څخه له خپلې کورنۍ سره اړیکه ونیسم چې د خپلو کوشنیانو خبر واخلم. د ښاري ټلفونونو ځالګۍ شنډه شوې وه. ما د ولسمشر د کار د دفتر ترشا د ټلفون یوه بله کوشنۍ ځالګۍ ځای پرځای کړې وه چې د ښاري ټلفونونو له ځالګۍ څخه یې جلا کار کاوه او ولسمشر کولای شوای له خپلو نیږدې همکارانو سره د دفتر او کور له لارې اړیکه ټینګه کړي. له دې کبله نومورې تلفوني ځالګۍ کار کاوه .

کله چې دفتر ته ننوتلم ، میرمن زهره نعیم راته وویل : " د ودانۍ تر شا یو ځای اور اخیستای دئ." د ولسمشر د دفتر ترشا کوټې ته ولاړم. له هغه ځایه مې ولیدل چې د ارګ د کالیو او جامو یو زیرمتون د وسلو د اور په درَب کې اور اخیستای وو او سوځېده. خپل کورته مې ټلفون وکړ. لس کلنې لور مې ټلفون پورته کړ. له هغې مې وپوښتل :"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګه یاست" هغې ځواب راکړ:" ښه یو تر ده به بد نور څه حال وئ؟" په یاد مې نه راځي چې له چا سره مې نورې خبرې کړې وي .

له دفتره راووتلم او له زینو کښته شوم. په دالان کې ، د غونډو په خونه او د هغه ترڅنګ خونې کې چې دروازې يې خلاصې وې ، څوک ولاړ او څوک ناست په سترګو کېدل. توره تیاره وه ، د چا مخ مې نه شوای لیدای. یوازې دومره پوه شوم چې ارواښاد محمد نعیم په خپل ځای کې ناست دئ. له ځان سره مې وویل: آیا ولسمشر وګورم؟ هغه به چیرته وي؟ که ورشم و نه ځوریږي؟ څه ورته ووایم؟

په همدغو سوچونو او اندیښنوکې ډوب د غونډو د خونې ترڅنګ کوټې ته ننوتلم. د کړکۍ له لارې د راغځېدلې پیکه رڼا په روښنایيې کې مې کولای شوای مخونه و پيژنم. د کابینې څوتنه غړي هلته ناست ول .

څو شېبې ټول چوپه خوله ناست وو. وروسته د کانو او صنایعو له وزیر تواب آصفي سره له ودانۍ دباندې ووتلم. نه پوهیږم موږ پسې څو تنه نور را وخوځېدل. څو شېبې د ودانۍ ګردچاپیره وګرځېدلو. د شپې لس بجې وې. له ساتونکو پرته د هېڅ چا څرک نه لګیده .

په یاد مې دي چې د تورې تیارې په چوپه چوپتیا کې سپوږمۍ ځلیدله ، نرمه هوا چلیدله او ګونکې مرګونې چوپيتا په هر چا خوله لګوله. احساس مې کاوه چې دغه چوپتیا د یوې سترې او بدمرغې پیښې زیږنده ده. نهیلۍ ټول چاپیریال په خپلو منګولو کې داسې په ټینګه زبیښه ته به وایې چې دغه شپه پای نه لري. چاپیریال د لالهاندو سرګردانیو او فکري تمرکز په نشتوالي کې ډوب وو. د همدغې تورې شپې په زړه کې څوک د ودانۍ په لاندیني پوړ، څوک په پورتني او څوک هم له ودانۍ د باندې ناست ، پروت او یا د ګام وهلو په حال کې وو او د راپيښېدونکې پيښې لپاره د ټولو سترګو لارې څارلې .

د سهار د روښنايۍ څرک راښکاره شو. د کلابندۍ کړۍ ماته شوې وه. کمونیستان ارګ ته دننه راننوتل ، په لومړي ګام کې يې د کابینې وزیران ونیول. د مالیې او کورنیو چارو وزیران چې وسله وال ول له ولسمشر سره پاتې شول. په همدې شېبه کې د ګلخانې او جومات ترمنځ سیمې کې پوځي قطعه را ورسیدله او په یوې قومانده د ښادۍ له ډزو وروسته ماڼۍ ته ننوتل.

څو شېبې وروسته ، د ویروونکو مرمیو ګړزهار کټ مټ لکه دا چې د څو کلاشنیکوفونو شاژورونو په یوه ځل تش شي واوریدل شول او بیا مرګوني چوپتیا چې د هیواد د بدمرغۍ پیلامه وه خپره شوه. افغانستان له هماغو شېبو وروسته تر نن پورې د خپل تأریخ په ناپایو تیارو ورځو کې ډوب دئ .

په دې توګه د هیواد د تأریخ پرتندې د پلرنې ټاټوبې د مینې په لاره کې ستره سرښندنه او قرباني د دیارلس سوه او اووه پينځوسم کال د غوايي د مباشتې په اتمه [۱۹۷۸زکال ، د اپریل ۲۸] ولیکل شوه. دغه سرښندنه د افغانستان د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تأریخ دوه تنو سترو نومیالیود خپلو گرانو کورنیو د غړیو په گډون د سر په وینو په لاس کې واخیستله. په دغې وینې بهونې کې د ارواښاد محمد داؤود په گډون د هغه د کورنۍ اتلس تنه غړي په شهادت ورسیدل. اروا دې ښاده او سپیڅلی جنت دې ورپه برخه وي !

په دغه اور کې سید عبدالله هم وژل شوی وو. د کورنیو چارو وزیر عبدالقدیر چې د پرون شپې په اور کې ټپي شوی وو ، د روغتون څلورسوه بستریزه روغتون ته ولیږل شو او هلته یې ځان حق ته وسپاره. عمر داؤود او خالد داؤود د پرون شپې په ډزو کې له ټپي کېدلو وروسته وژل شوي ول .

د لمر رڼا هر لور خپره وه خو ما گومان کاوه چې زما ټول چاپیریال په توره تیاره کې ډوب او ژوند خپله مانا له لاسه ورکړې ده. ماته یې اوس پروا نه کوله چې څه به را پیښیږي .

د ارگ د ټلفون په مرکز کې موږ تر ځارنې لاندې ونیول شوو او په چوپه خوله مو یو بل کتل. ټول په نومیده او دړې وړې توگه د ړندې ترهگرۍ په لوموکې زبېښل کېدلو. وخت په وژونکې سوکه توب تیریده .

د سرحداتو وزیر عبدالقیوم مې و لید چې د یوه سرتیري په بدرگه کوټې ته راوستل شو او ویې ویل چې د گارد له بولندوی صاحبجان سره په حرمسرای کې دننه وو. له هغه وروسته یو پنډ او غښلی سړی خونې ته ننوت ، ټول یې له سترگو لاندې تیر کړل او له کوټې ووت. لږ شیبه وروسته هماغه سړی (څو موده وروسته څرگنده شوه چې د نومړي سړي نوم اسدالله سروري وو او دی هماغه سړی وو چې د تره کي د ضبط احوالات د اداري مشر چې [د افغانستان د گټو د ساتلو اداره] نومیده و ټاکل شو او په زرگونو زرگونو بې گناه کسان یې د وژلو لومو ته ولیږل) او یو بل افسر چې سرې سترگې یې گاټې وتلي وې ، کوټې ته راننوتل .

نومړی افسر چې په کلاشنیکوف یې برچه هم سپره وه د کوټې په یوه گوټ کې و دَرید ، کلاشنیکوف یې زموږ پر خوا را تاو کړ او ویې ویل :" لاسونه مو پورته کړئ!" افسر چې ډیر توغمناک او قهرولي ښکاریده د کرهنې له وزیر عزیزالله واصفي څخه و پوښتل :" باختري صاحب چې د هډې په فارم کې تاسو ته میلمستیا ( په هغه وخت کې چې واصفي د ننگرهار والي وو) درکړې وه ، ولې رانغلې ؟ واصفي وویل: " وروره ! د چا یې پرې څه؟ زړه مې ونه غوښتل ، وَرَنَغلم".

د همدغو خبرو په ترڅ کې اسدالله سروري زموږ د هریوه پلټنه پیل کړه. سروري ډاکټرعبدالمجید خان ته وویل " د دربار وزیر صاحب !" ما د سروري خبره ور سمه کړه او مې ویل : " ددولت وزیر". سروري وویل :" پروا نه لري . له یو بل څخه کوم توپیر نه لري". سروري ددې په ویلو غوښتل څرگنده کړي چې د جمهوریت او شاهي رژیمونه له یو بل څخه توپیر نه لري. . تواب آصفي ته یې د " سردار صاحب" په ویلو ، وویل: " په یاد مو دي چې ستاسو د چورلکې پیلوټ وم؟ (ښایي کوم وخت یې آصفي د هیواد لویدیځو سیمو ته بیولی وو). کله چې ما ته را نیږدې شو و یې ویل: " تاسو ولې داؤود خان ته ونه ویل چې تسلیم شي؟ هغه به تل ویل چې ستاسو خبره مني " ( د سروري دغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبره زما غوږته آشنا ښکاره شوه. کله چې عبدالقیوم د کانو او صنایعو وزیر وو ما ته یې ویلي ول چې [رهبر] ستاسو خبرې ا َوري. د سترګو په رپ کې دا خبره مې پخه په زړه را پریوتله چې قیوم له دوی سره اړیکه درلودله. کله چې د څرخي پله په زندان کې بندي وم خبر شوم چې عبدالقیوم له خلقیانو او ښځې یې میرمن معصومې وردک له نور محمد تره کي سره نیغې اړیکې درلودلې) .

چوپه خوله پاتې شوم او څه مې ونه ویل. عبدالله عمر زما ترڅنګ ولاړ وو ، سروري ورته نیږدې شو او د بنز موټر کیلي یې ورڅخه واخیستله او ویې ویل : " اوس زموږ وار دئ چې د موټرانو سواری وکړو". په همدې ترڅ کې مې ولیدل چې د کورنۍ روغ او تپي غړي د دروازې له مخې تیریږي او د محمد عمر نور ماندینه میرمن سلطانه نور د نورو ترمخ روانه ده. د نظام الدین کوشنیان زهرا او داؤود مې ولیدل چې دواړه ټپیان شوي ول .

کله چې د میرمن سلطانې نور سترګې په ما ولګېدلې ، و دریدله او د لاس په اشاره یې را ته وویل : " ټوله ګناه د دوی ده. هغوی چنواري کړئ!" د افغانستان د پخواني پاچا محمد ظاهرشاه خور او د ولیعهد سردار احمد شاه خواښې ګومان کاوه چې زه د چنګاښ د شپږویشتمې [۱۹۷۳زکال د جولای ۱۷] د پاڅون د لاملینونو له ډلې څخه یم .

زموږ له پلټلو وروسته اسدالله سروري له خپلو ساتونکو سره له خونې ووت. موږ تر ډیرې مودې پورې سترګې په لار کښینول شوو. سروري بیا له دوه تنو ساتونکو سره بیرته راغی او د دروازې څنګ ته دوه تنو ناستو کسانو ته یې د لاس په نغوته وویل : " تاسو او تاسو" او دواړه یې له ځان سره بوتلل .

سروري د هرو لسو یا پینځلسو دقیقو په ترڅ کې راته او یو یا دوه تنه به یې له ځان سره بوتلل. زما او د ډاکټر عبدالرحیم نوین وار را ورسید. موږ په موټر کې کښینول شولو او ددفاع وزارت ودانۍ ته یې بوتلو او نیغ په نیغه یې د ودانۍ ځمکلاندې برخې ته یوه ځای ته چې د دفتر په شان ښکاریده بوتلو. نور کسان هم هلته ول .

ماسپښین مهال چې وو سروري کوټې ته راغی او له ماسره یې خبرې پیل کړې. ما له سروري څخه و پوښتل : " د ولایتونو حالت څنګه دئ؟ " هغه وویل : " کابل مرکز دئ . مرکز چې تسلیم وي ، په ولایتونو کې ستونزه نه وي." بیا مې له هغه وپوښتل :" شهیدان کله خاورو ته سپارل کیږي؟" هغه وویل : " لومړی داؤود خان او نعیم خان غیابي محاکمه کیږي." هغه نظام الدین غازي نه پیژانده. کله مې چې هغه ور وپیژانده ویې ویل : " حیف د هغه ځوانی "!

سروري وویل : " نعیم خان زموږ یو تن ملګری ټپي کړی دئ." او زیاته یې کړه : " د ګارد له بولندوی صاحبجان څخه مې وپوښتل چې ولې مو مقاومت وکړ؟ هغه وویل : خبر نه وم (په بله مانا چې) کمونیستان په پیښه کې ښکېل دي ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه په دېرې توندې او جدي ژبې وویل: " که نن نه وای تسلیم شوئ ، په پام کې نیول شوې وه چې یو پینځه سوه کیلویي بمب پر ارگ را وغورځول شي. پوهیږئ چې پینځه سوه کیلویي بمب څه کوي؟ ارگ به یې له خاورو او دوړو سره په هوا کړئ وای ".

له هغې ورځې وروسته مو بیا سروري ونه لید. څو وخته وروسته له یوه تن سرتیري څخه چې د شهیدانو د ساتونکو له ډلې څخه وو خبر شوم چې د شهیدانو مړي یې د مرنجان په غونډۍ کې خاورو ته سپارلي دي. اروا دې ښاده وي .

د غوايي د اتمې د ماسپښین په یوه بجه [۱۹۸۷ د اپریل ۲۸] د ډوډۍ خوړلو لپاره یوې لویې خونې ته بوتلل شوو. په خونه کې ډېر لوړ پوړي چارواکي ، د پوځ او پولیس افسران لیدل کیدل. یوه په زړه پورې سړي چې زما پام یې ځانته را واړاوه جنرال محمد عظیم وو چې له تقاعد څخه له لاس په سرکېدلو وروسته د کندهار د قول اردو د بولندوی په توگه ټاکل شوی وو. ( د غوايي له میاشتې څو مېاشتې مخکې ما کندهار ته سفر کړی وو. د لښکرکوټ د ودانۍ د کتلو په ترڅ کې جنرال عظیم راته وویل :" زما سردې له [رهبره] ځار وي" او خپل لاس یې په ټېنگه پر ټټر واهه خو اوس یې د کندهار د والي ایوب عزیز له ټینگار څخه په سترگو پټولو یوه بشپړه قول اردو د ولس او هېواد دښمنانو ته سپارلې وه.)

دورځې په اوږدو کې ابراهیم مجید سراج ، غوث الدین فایق چې په پکتیا کې ول ، وحید عبدالله چې تیره شپه له تیمورشاه آصفي او د باز محمد خان له زوی مجید یاور سره له ارگه وتلي ول هم زموږ په ډله کې را زیات شول. وحید عبدالله ماته وویل :" پرون شپه د فرید رشید کورته ولاړم او غوښتل مې پاکستان ته ولاړ شم خو راته ډېره خطرناکه وه ، ونه شوه ".

دا ورځ هم په همدې ډول تیره شوه. د ماښام ډوډۍ د دفاع د وزارت د ډوډۍ خوړلو په خونه کې جوړه شوې وه. په خونه نور کسان هم چې د غوايي په اتمې نیول شوي ول لیدل کیدل. له هغې ډلې څخه محمد رحیم د پخواني پاچا ناظم چې د خوب په بالاپوښ کې لیدل کیده ، زما پام یې ځانته را واړاوه. ولي جان یوسف هم د خوب په جامو کې لیدل کېده .

د بیدیدلو لپاره یوې لویې خونې ته بوتلل شوو. ټولو بندیانو ته پوځي کمپلې ورکړل شوې. ټول پر ځمکه پریوتل چې بیده شي. سباسهار بیا د ډوډۍ خونې ته د سبا ناري لپاره ولاړو. له سباناري وروسته بیرته ترځمکلاندې خونو ته راغلو. پریمینځل او تشناب ته تگ خورا زیات ستونزمن وو ځکه د دفاع د وزارت د ودانۍ د اوبو ټانکۍ د شوبلې د مرمۍ له امله چې د ودانۍ کینې خواته لگیدلې وه زیانمنه شوې وه. د تشنابونو د پاکۍ حالت ډېر بد وو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



لومړۍ اونۍ په همدې ډول تیره شوه. د ورځې په اوږدو کې به تل خلقیان او پرچمیان زموږ خونې ته راتلل او کمونیستي ببولالې به یې ویلې. کله به چې د سباناري او د غرمې د ډوډۍ لپاره د ډوډۍ خونې ته تللو د ارګ خواته له پاسنیو کړکیو مو لیدل چې خلک ډله ډله ارګ ته ننوځي ځکه چې کمونیستانو د ارګ او دلکشا دروازې د خلکو پرمخ پرانیستلې وې .

د راډیو له لارې اوریدل کېدل چې د ارګ دننه خبریالان خلکوته وایي چې : " دا ظلم او خپل سرۍ مانۍ وه". هغوی د خلکو د تیرایستلو لپاره څو داني ځنځیر او زولنې ننداري ته ایښودلې وې او زیاتول یې:" اوس دلته هېڅ بندي نشته" او ویل به یې:" تیره اونۍ په دغې مانۍ (دلکشا) کې د شپې باندارونه او نڅاوې وې ".

دغو خبریالانو چې تر پرون پورې یې د جمهوریت لپاره خپل ستوني څیرل نن له هماغه ستوني د هیواد او ولس د دښمنانو لپاره چیغې وهي .

جمعه محمد محمدي چې د کابینې غړی وو ، په خپله ژبه یې په بدو او سپکو ویلو پیل وکړ.( هغه له خلقیانو سره اړیکه درلودله). جنرال شاهپور احمد زی چې د ولسمشر د ډیر ډاډ وړ سړی وو او د حربي پوهنتون د بولندوی په توګه ټاکل شوی وو پښې یې د کمونیستانو له بړستنې را ووتلې. لنډه دا چې هر څه چې لیدل او اوریدل کېدل له ډیرې ژورې خواشینۍ سره په ککړتیا نغښتي ول .

د غوایي د مباشتې په شپاړلسمه د پیلنۍ "شنبې" په ورځ [۱۹۷۸زکال د مې ٦] ډاکټر عبدالمجید ، ابراهیم سراج او محمد خان جلالر له زندانه خلاص شول. ډاکټر عبدالمجید څو وخته وروسته بیا بندي شو او تر یوې مودې پورې له موږ سره په څرخي پله کې وو. د لوړو او مسلکي زده کړو وزیر صدیق محبي په دویمه یا دریمه ورځ له بنده خلاص او کور ته ولیږل شو .

د غوایي د مباشتې په نولسمه نیټه د منځنۍ "سه شنبې" په ورځ [۱۹۷۸ د مې ۹] د عسکري کلوپ آمر عبدالعلي چې نور محمد تره کي د کابل د امنیې د بولندوی په توګه ټاکلی وو زموږ کوټې ته راغی او له ځمکې او آسمانه یې په ګز او پل او اوتو بوتو را پیل کړه او ویل یې چې ده ته دنده سپارل شوې وه چې ارګ ته د داؤود خان د نیولو لپاره ورشي ، خو په وروستنۍ شېبه کې تره کي د هغه د تګ مخه ونیوله او ویې ویل :" بل څوک اوستوم ، تاته به تاوان ورسیږي" هغه وویل :" نن د مازدیګر په څلورو بجو انقلابي شورا په صدارت کې غونډه لري او ستاسو د برخلیک په اړه پریکړه کیږي." ( نوموړی په لوګر کې د مجاهدینو له پلوه ووژل شو)

د شپې نهه بجې شا او خوا کله چې د ماښام د ډوډۍ له خوړولو وروسته بیرته راستانه شوي وو د خونې دروازه خلاصه شوه او د ډاکټر محمد حسن شرق یو ملګری خلیل د مرکزي کمیټې غړی او د مهتاب کلا د توپچي غـنـډ بولندوی را ښکاره شو. ( د تاج بیګ د غونډۍ مانۍ د غوایي د مباشتې په اوومه [۱۹۷۸ د اپریل ۲۷] د توپچي ځواک تر اور لاندې راغلې وه). خلیل د عدلیې وزیر وفي الله سمیعي ته چې په کوټه کې ګرځېده ، وویل : " ښاغلی وزیر!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو راځی او خپل بکس هم در سره واخلی." وحید عبدالله وویل: " خلیل جانه ، دا دئ د مخابراتو وزیر هم دلته دئ" د هغه موخه دا وه چې که د خلیل پام ماته نه وي شوی ، نو له ما سره دې روغبړ وکړي. وحید عبدالله له خوشحالۍ خندل او ګومان یې کاوه چې اوس ټول بندیان خلاصیږي .

د وفي الله سمیعي له تللو لنډه موده تیره شوې وه چې خلیل بیا دروازه خلاصه کړه او دا ځل یې وحیدعبدالله ته لاس و ښورواوه او ویې ویل:" ښاغلی مرستیال! تاسو راځی او خپل بکس هم در سره را واخلی." وحید عبدالله په ډیره خوشحالۍ او خندا له ځایه پورته شو او له در وازې ووت. سبا ماښام د یوې راډیویي مرکې په ترڅ کې د نورمحمد تره کي له خولې مو واوریدل چې : " وحید عبدالله په ارګ کې د مقاومت په لړ کې وژل شوی دئ ".

په دې توګه د بندیانو لومړۍ ډله و حید عبدالله ، وفي الله سمعيي ، جنرال عبدالله روکی ، جنرال عبدالقدیر خلیق ، محمد رحیم او یو شمیر نور د وژونو لومو ته ولیږل شول .

محمد موسی شفیق ، د دفاع وزیرغلام حیدر رسولي ، ستر درستیر جنرال عبدالعزیز ، د قوای کار بولندوی جنرال عبدالوهاب د کودتا په لومړۍ ورځ اعدام شوي ول. د ولسمشرۍ د ګارد بولندوی صاحبجان د غوایي د میاشتې په اتمه [ ۱۹۷۸ز کال د اپریل ۲۷] د ارګ د کلابندۍ له ماتیدلو وروسته اعدام شوی وو ".


## اخځ :

)د "قـیام و جـمـهوریت بیسـت و شش سـرطان سـیزده پنجاه و دو هــجـري شمـسـي" [۱۹۷۳ د جولای ۱۷] د کتاب له ۲۴ تر ۳۲ پاڼې پورې. لیکوال او ټولګه د : دیپلوم انجنیر کریم عطایي ، دویم چاپ ، سـنت ګلن، سـویتزرلند، 2004(

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## اتلسمه برخه

فضـل الـرحـمـن تاجـيار

"د خلقي او پرچمي باغيانو پر وړاندې د افغانستان د جمهوري ارگ دفاع" ، د محمد داؤود د جمهوري ارگ د اپراسيون د آمرفضل الرحمن تاجيار د خبرو سرليک دئ. دغه د لومړي لاس يادښت لېک په کليفورنيا کې د " مجاهد ولس" د خپرونې له بنسټ اېښودونکي او چلوونکي محمد حسن ولسمل سره د يوې مرکې په ترڅ کې په [ ؟] گڼه /ورځ/ مياشت/ ۱۹۹۴ز کال کې خپور شوی دئ .

موږ د ښاغلي تاجيار خبرې دلته د هغه له اجازې پرته لږ څه را لنډې کړې او غټ غټ ټکي مو ورڅخه اخيستي دي. ددغه يادښت بشپړه بڼه کولای شی www.dawatfreemedia.org :ولولـئ او موږ هم له همدغه ځايه په پوروَنې را اخيستی دئ .

"د ارگ ساتنه"

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د غوايي په اوومه [۱۹۷۸ز د اپريل ۲۷] د شوروي اتحاد په نيغ ملاتړ په افغانستان کې د غوايي کودتا کيدله زه جګتورن فضل الرحمن تاجيار د شهيد سردار محمد داؤود خان د جمهوري ګارد رئـيس ارکان او د اپراسيون آمر وم. پر ارګ د کمونيستو کودتاچيانو د بريد له پيله ما په خپله د ارګ په وسله واله مدافعه او د مدافعې په سمبالولو کې برخه اخيستې او د جمهوري رياست د غمرلې پرځېدنې ترپای پورې ددغې ناورين ځپلې تأريخي پيښې شاهد وم .

د ګارد افسران : ضيا مجيد د جمهوري ګارد بولندوی ، جګتورن عبدالحق علومي د کشف آمر، جګړن سيد جان او تورن محمد عزيز حساس پيژندل شوي کمونيستان ول. يو شمير نور افسران چې يا د خلق او پرچم په چوپړ کې ول اويا يې له مخورو کسانو سره نيږدې پيژندګلوي درلودله، د ګارد د ساتونکو په ډله کې ول .

په خپله ولسمشر او د دفاع وزير د دغو کسانو موخو ته په پاملرنې يو څه مودې مخکې د ګارد په قطعه کې د هغوی پر شتون په شک کې لويدلي ول. له دې امله ضيا مجيد يې له ګارد څخه ليرې کړ او د هغه پر ځای يې صاحبجان چې له هيڅ اړخ سره يې تړاو نه درلود د ګارد مشرپه توګه و ټاکه .

د ګارد نوي بولندوی صاحبجان چې ظاهراً غاړه ايښوونکی او پاڅپيژانده �دنده پيژندونکی� ښکاريده د (خلق د ډلې له يو لوړپوړي غړي) شيرجان مزدور يار سره يې نيږدې اړيکې درلودلې. ښايي دغه به شخصي اړيکې وې. هرګوره ، د ولسمشرۍ له ماڼۍ څخه په نااغيزمن مقاومت کې ددغسې کسانو شتون بې اغيزې نه وو .

له دغې ډلې څخه يو شمير کسانو لکه عبدالحق علومي او سيد جان زما تر مخه دوه مخيزې ونډې لوبولې. يوه ورځ د ګارد بولندوی له ګارد څخه د عبدالحق علومي ، سيد جان او عزيز حساس د شړلو په اړه زما د ليد لورى غوښتنه وکړه. ما وويل : " دا په تاسو او د ښاغلي ولسمشر په پريکړې پورې اړه لري." وروسته څرګنده شوه چې ولسمشر د هغوی د بدلون پريکړه ځنډولې وه. پاتې دې نه وي چې د ګارد د افسرانو په منځ کې يو شمير ښې لاسي اوړپکي افسران هم ول .

د ديارلس سوه او اووه پينځوسم کال د غوايي د مياشتې د کودتا تر ورځې د جمهوري ګارد د قطعې په جوړښت کې دوه پلي کنډکونه ، د دافع هوا ژغورونکی د ماشينګنو ټولی او د مخابرې ټولی په لاندې ډول ول :

د سوق او اداري ډله : د قطعې بولندوی : جګړن صاحبجان /د قطعې د بولندوی مرستيال او د اوپراسيون آمر: جګتورن فضل الرحمن تاجيار/ د اوپراسيون مرستيالان : جګړن سيد جان ، تورن عزت الله ، تورن ظاهر او تورن حميدالله د سپورت آمر/ د کشف آمر: جګتورن عبدالحق علومي / د کشف مرستيال : ..../ د مخابرې آمر: جګتورن آقا محمد / د مخابرې ټولی : د ټولي بولندوی : تورن عبدالفتاح / د انضباط بلوک : د بلوک بولندوی: جګتورن فضل احمد/ د اور وژنې بلوک : د بلوک بولندوی: تورن خواجه عبدالمجيد/ داور وژنې د بلوک ضابط : بريدمن ببرک .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اکمال ډله: د لوژستیک آمر : جگړن عبدالغفور/ د تخنیک آمر: جگړن ذاکر/ د روغتیا آمر جگتورن ډاکټر لالا جان/ د پیژند مدیر: جگړن عبدالرحیم شادان / د موزیک ټولی : جگتورن عبدالسمیع ابوي/ د نقلیې ټولی: تورن عبدالحفیظ

لومړی پلی کنډک : د کنډک بولندوی : ډگرمن محمد سرور/ لومړی پلی ټولی: د ټولي بولندوی: تورن عزیزحساس / دویم پلی ټولی: د ټولي بولندوی: تورن غلام رباني/ دریم پلی ټولی: د ټولي بولندوی: تورن محمد اکبر/ د درندو ماشینگڼو بلوک: د بلوک بولندوی: تورن ضیأ الدین

دویم پلی کنډک : د کنډک بولندوی: جگړن محمد عزیز/ لومړی پلی ټولی: د ټولي بولندوی: تورن محمد صدیق / دویم پلی ټولی: د ټولي بولندوی: جگتورن محمد ظاهر/ دریم پلی ټولی: د ټولي بولندوی: جگتورن محمد نادر/ د درندو ماشینگڼو بلوک: د بلوک بولندوی زلمی

مرستندویه جزوتام: د دافع هوا ماشینگڼي : د ټولي بولندوی : جگتورن دایان / د افسرانو ، بریدگیو او د جمهوري گارد د قطعې د سرتیرو ټوله شمیره: یو زرو او شپږ سوه تنه

د سترگو لیدلو پیښې

د غوایي د کودتا له پیښې څو ورځې مخکې میر اکبرخیبر د یو شمیر ناپیژندل شویو کسانو له پلوه وژل شوی وو. کمونیستانو د سمبال شویو لیکو په ترڅ کې چې شمیر یې زرگونو کسانو ته رسیده د جنازې لمانځنه تر سره کړه. دغه لیکې د " مړه دې وي پانگوالي" د شعار په ورکولو د امریکا د سفارت له مخې د جمهوري ارگ پرلور په خوځښت راغلې. کله چې د ارگ مخې ته را ورسیدلې، د جمهوري ارگ د اوپراسیون آمر سیدجان او د کشف آمر عبدالحق علومي دواړه له اجازې پرته د گارد ختیځې دروازې ته ولاړل او د پیښې د لړۍ ننداره یې کوله. د ارگ له مخې ددغو لیکو تیریدنه حکومت ته د یوه څرگند گواښ او اخطار په توگه وو .

د خیبر د مړي له ښخولو وروسته ، ما د گارد له بولندوی صاحبجان سره نوموړی خبره یاده کړه. هغه د ترلاسه شویو راپورونوپر بنسټ وویل: " ددغو لیکو گڼ شمیر کسان د چاردهي د ولسوال ( د داؤود خان د ناظر د باز محمد خان د مشر زوی) جاسوسان او یو شمیر یې د کورنیو چارو د وزارت ، د دفاع د وزارت او ملي مصؤونیت مخبران ول. څارگرو څانگو ددغې ډلې گڼ شمیر کسان د حکومت ور لیږل شوي کسان بلل او په دې توگه یې چارواکي غولول چې روان اکر وکر ته په کلکه او جدي توگه ونه گوري .

د وزیرانو د غونډې د پریکړې پربنسټ د نورمحمد تره کي ، ببرک کارمل او دهغوی د ډلې ټپلې د نیولو د امر له ورکړې وروسته ، د گارد بولندوی امر وکړ چې شپه په قطعه کې پاتې شم. د دفاع د وزیر ډگر جنرال غلام حیدر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسولي د امر پر بنسټ د غوايي اوومه [۱۹۷۸ز د اپريل ۲۷] د تره کي او کارمل او د هغوی د پلويانو د نيولو په ښادۍ کې د خوشالۍ د ورځې په توګه اعلان شوې وه .

د هماغې ورځې د سهار د اتو بجو په شا او خوا کې مې د اور وژنې د موټرانو غږ واوريد. د پخوا په شان مې د کابل د ولايت د اور وژنې له نوکريوال څخه مالومات تر لاسه کړل. هغه وويل : " د بالا حصار په غـُنـډ کې اور رامنځته شوی دئ" . بولندوی صاحبجان ته مې ټيلفون وکړ، هغه په دفتر کې نه وو. څو شېبې وروسته هغه په خپله ټيلفون وکړ او ويې ويل: " د ريشخورو په اوومه فرقه کې د فرقې پربولندوی جنرال نظيم خان باندې بريد شوی خو نوموړی تښتيدلی دئ. د فرقې رئـيس ارکان ډګروال قاسم خان ټپي دئ او هغه يې روغتون ته ليږدولی دئ ".

په همدې ترڅ کې دګارد له منځه د ډز غږ واوريدل شو. وويل شول چې : د تورن عزيز حساس د ټولي يوه سرتيري په تير وتنې ډز کړی دئ " دغه په لوی لاس ډز ، ښايي په ارګ دننه کمونيستانو د قطعې د سربدالۍ او ويرولو لپاره کړی وي .

د نهو بجو په شا او خوا کې د داؤود خان مرستندوی " ياور" بريدمن مجيد (د بازمحمد خان زوی) د ګلخانې له مانۍ ټيلفون وکړ او ويې ويل: " د ملي دفاع وزير صاحب ټيلفون کړی وو او ويې ويل چې صاحبجان ته ووایاست چې له څرخي پله څخه درې ځنځيره شوبلې را خوځېدلې او د کابل د ښار پر لور را رواني دي." مجيد خان په پای کې وويل : " قوماندان صاحب مې ونه موند ، له دې امله دغه خبرتيا مې تاسو ته در ورسوله ".

د ګارد د بولندوی په لټه کې شوم چې د دفاع د وزير امر ورته ور ورسوم. د قطعې د پلټلو لپاره د اپراسيون له دفتره لاندې راغلم. کله چې د کانو او صنايعو وزارت ته مخامخ د ګارد دروازې ته ورسيدلم ، د ګارد بولندوی مې وليد .

د څرخي له پله څخه را خوځېدلې شوبلې د محمودخان له پله څخه په را تيريدا نيغ په نيغه د ارګ پر لور راتللې او په ډيره بيړه د دفاع د وزارت د ودانۍ مخ ته را نيږدې کېدلې. له دغو شوبلو څخه يوې يې د دفاع د وزارت پر ودانۍ ډز وکړ. شوبلې د ملي دفاع د وزارت له مخې په تيريدا د ګارد ختيځې دروازې او بيا د چنګاښ د شېرپويشتمې د څلور لارې پر خوا په خوځښت راغلې .

د قواې مرکز د ځواک رئـيس ارکان تورن جنرال عبدالعلي ګارد ته ټلفون وکړ او ويې ويل : " دګارد د مرستې لپاره د بالاحصار له غـُنـډه مرسته در رسيږي." د ګارد بولندوی چې له ختيځې دروازې څخه يې پيښې په سترګو ليدلې د ملي دفاع د وزارت د استخبارتو رئـيس ته ټلفون وکړ او د دفاع د وزارت پر ودانۍ د شوبلو د اور په اړه يې ورڅخه د مالوماتو غوښتنه وکړه. نوموړي په ځواب کې وويل: " ما ګومان کړی وو چې شوبلې تاسو را بللې دي ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته څرګنده شوه چې دغه شوبلې په اسلم وطنجار پورې تړلې وې. ویل کیږي چې د دفاع د وزارت پر ودانۍ لومړی ډز په خپله وطنجار کړی وو. له هغه وروسته د محمود خان د پله له لورې درې څنځیره شوبلې د ارګ مخې ته را ورسیدلې او بیا د پښتونستان واټ پر لور ولاړې .

د ګارد بولندوی ما ته امر وکړ چې شوبلې و دَرَوم. دا ځکه چې د شوبلو سرتیرو ته ویل شوي ول چې تاسو ته د کابل ښار په منځ کې د لاریون د مخنیوي لپاره دنده درکړل شوی او هغوی له کودتا څخه خبر نه ول. له دې امله شوبلې زما د لاس په ښورولو ودَریدلې او زما امر یې ومانه په دې مانا چې سرتیري له ټانکه دباندې را ووتل. هغوی مې د پلټلو لپاره ګارد ته دننه ولیږل خو د شوبلو چلوونکي چې بریدګي ول او له کودتا خبر ول له خپلو شوبلو سره و تښتیدل. هغوی د پلان د وزارت مخ ته مورچل و نیو او د شوبلې پرسر په ایښودل شوې ماشینګنې یې زما پر خوا ډزې پیل کړې.

زه یوازې وم، د بانک ودانۍ ته نښتی یو زیارت وو او د زیارت ترمخ د ونو په منځ کې پټ شوم. د ماشینګنو د ډزو د اور په ترڅ کې زیارت ته ننوتم له هغه وروسته له دیواله پورته وختلم او ګارد ته ننوتم .

د ګارد بولندوی امر وکړ چې د پلټلو یوه ډله دې وټاکل شي او له سرتیرو څخه دې پلټنې پیل شي. له دې چې د اضطرار حالت وو ما د سرتیرو د حبس امر وکړ. د ګارد له بولندوی سره یو ځای د ختیځې دروازې پر لور ولاړم. د ارګ پر لورد چنګاښ د شپږویشمتې له څلورلارې څخه د محاربوي ماشینونو د راتګ غږ اوریدل کیده. وروسته څرګنده شوه چې نومورې محاربوي ماشینونه د څلورم زغره وال ځواک محاربوي ماشینونه دي .

دګارد بولندوی ماته امر راکړ چې نومورې محاربوي ماشینونه و دَرَوم. کله چې د ګارد د لومړي کنډک له بولندوی ډګرمن محمد سرور سره یوځای د محاربوي ماشینونو د لیکې پر لور و خوځیدم، و مې لیدل چې د محاربوي ماشین نښه ویشتونکی د وسلې میل زموږ پر لور را وګرځاوه او موږ یې تر نښې لاندې و نیولو. ما او محمد سرورځای پر ځای پروت وکړ ، د محاربوي ماشین توغندی د بالاحصار پریوه زغره وال ګاډې چې د مرستې لپاره راغلی وو ومښت چې د ډګروال سردار غلام صدیق زوی د نظام قراول د بریدمن غلام عثمان تندی یې ټپي کړ .

د ګارد بولندوی پیښه په خپلو سترګو ولیدله او امر یې وکړ چې شوبلې تر اور لاندې ونیسم. د هغه د امر پر بنسټ " اور" مې پیل کړ. د جمهوري ګارد زړه ورو ، میړنیو او مسلمانو سر تیرو محاربوي ماشینونه تر اور لاندې ونیول او شوبلو اور واخیست. ددغو محاربوي ماشینونو په منځ کې د جنرال عارف وراره عمر هم وو. هغه له نورو لسو تنو سره د اور په منګولو کې وسوځېد. له هغه وروسته د محاربوي ماشینونو تر شا دَریدلو شوبلو د ګارد پر لور خوځښت پیل کړ .

ماجزو تامونو ته امر کړی وو چې تر بل امر پورې د ارګ پر لورهره راتلونکې شوبله یا بل ډول جنګي ګاډی دې دړې وړې کړي. په نومړو نښتوکې د ګارد قطعې د کودتاچیانو اته شوبلې د کانو او صنایعو د وزارت د ودانۍ تر مخ ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د" افغانستان بانک" د ودانۍ د ګوټ تر څنګ زيارت " د ارګ ختيځې دروازې او د چنګاښ د شپږويشتمې په څلور لاره کې له منځه تللې وې. د نوموړوشوبلو درې وړې ټوټې تر څو ورځو پورې هلته ليدل کېدلې .

د وطنجارد شوبلو کنډک د چنګاښ د شپږويشتمې له څلور لارې څخه بيرته د محمود خان د پله پر لور په شا شو. له پينځو وروسته راته څرګنده شوه چې هغوی د هوايي ځواک رئيس ارکان قادر ته خبر ورکړی وو چې د جمهوري ګارد ځواکونو شوبلې له منځه وړې او موږ نه شو کولای مقاومت وکړو له دې امله په شا کيږو. خو قادر د هغوی د په شا کيدنې مخه و نيوله او ژمنه يې و سپارله چې ډير ژر به الوتکې د هغوی مرستې ته ور وليږل شي .

د کودتا د ورځ په پيل کې د هوايي او مدافعه هوايي لوی بولندوی ډګرجنرال موسی خان د هغه له ياور سره يوځای د هوايي ځواک د کمونيستانو له پلوه وژل شوي ول .

د دفاع د وزير موټر چلوونکی د ګارد ختيځې دروازې ته راغی او ماته يې وويل : " د ملي دفاع وزير د خپلې تومانچې جاغور د نښې په توګه د ګارد بولندوی ته را ليږلی او ويلي يې دي چې هېڅ انديښنه مه کوئ ، ما د هوايي ځواکونو بولندوی ته امر کړئ دئ چې الوتکې را والوزي او ټاټې شوبلې له منځه يو سي "!

شاژور مې را واخيست چې دغه اړينه نښه د ګارد بولندوی ته ورسوم. د مازديګر د څلورو بجو په شا او خوا کې د ولسمشر د کور له دايمي ساتندويه ټولي څخه يو سرتيری چې مشري يې تورن غلام رباني کوله راغی او د مرستې غوښتنه يې وکړه. له هغه مې وپوښتل : " ستاسو افسران چيرې دي؟" هغه وويل : " ټول تښتيدلي دي." د لومړي کنډک له لومړي ټولي څخه د تورن رباني پرځای بريدمن معاذالله مې د داؤود خان کورته وليږه ، خو هغه هم و تښتيده. غلام رباني او د هغه افسران د ګارد د بولندوی او د لسمشر د ډاډ وړ کسان ول خو له ځانه يې د ورسپارل شويو دندو په پرمخ بيولو کې يې جديت نه څرګنداوه.( د کودتا په ورځ ، غلام رباني خپل ټولی په يوه ليکه په مورچل چې ځای پر ځای کړی وو. له همدې امله د کمونيستانو هوايي بمباريو د هغه د ټولي ګڼ شمير کسان ور وژلي ول)

وروسته له دې چې د دفاع د وزير شاژور د نښې په توګه زما لاس ته راغی ، د الوتکو را رسيدلو ته سترګې په لار وم. ماسپيښن مهال د الوتکو د ګرزهار غږونه مې تر غوږو شول. الوتکو د مرستې پر ځای د جمهوري ګارد پر جزوتامونو ډزې او د بمونو وَرَول را پيل کړل. يوې الوتکې د دلکشا پر ماڼۍ ډزې وکړې. د ګارد د دافع هوا بلوک چې دويم بريدمن شاه محمود يې بولندويي کوله د الوتکو پر لور ځوابيه ډزې پيل کړې. د ځوابيه ډزو له امله يوه الوتکه د ريشخورو په سيمه کې را وغورځېدله. پاتې الوتکو د ګلخانې پر ماڼۍ بمونه را وغورځول .

چوپه چوپتيا هرې خوا ته خپره شوه. په مدافعه کې د ګارد سرتيرو لوړه روحيه درلودله او راتلونکې بولنې ته سترګه په لاره ول. يو ځل بيا د ګارد د بولندوی په لټه کې شوم. په دې شيبه کې هغه په خپله د ګارد ختيځې دروازې ته ټلفون وکړ او ماته يې امر راکړ چې دهغه دفتر ته ورشم او ويې ويل: " ښاغلي ولسمشر امر کړئ دئ چې په هرډول چې کيږي بايد د راډيو ودانۍ او ستيشن بيرته ونيسو. له دې امله تاسو ( د هغه موخه زه : د اوپراسيون آمر وه) له

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرېولي څخه يو يو توغندی ويشتونکی ، چې ټول اته تنه کيږي له ځان سره واخلی او داسې په پټه ولاړ شي چې څوک در باندې پوه نه شي ".

د ګارد بولندوی پوهيده چې په هر ټولي کې يو يو تن توغندی ويشتونکی شته او د کسانو په ټاکنه او د راډيو ستيشن ته د هغوي پر ليږنه ګوندي افسران په آسانۍ خبريدل. په هغه شيبه کې چې نومورړي خپل امر ورکاوه ، د ګارد د مخابرې آمر جګتورن آقا محمد هم وو.( آقا محمد د صاحبجان له ډيرو نيږدې خپلوانو او د هغه د ډاډ وړ سړی وو او له يو بل سره يې کورنی تګ راتګ درلود)

د کابل راډيو ودانۍ (د اسلم وطنجار تر مشرۍ لاندې) د څلورم زغره وال ځواک کنډک نيولې وه. شيرجان مزدوريار هم هلته وو. هغه هم له صاحبجان سره کورنی تګ راتګ درلود .

د غوايي د اوومې له کودتا څو مېاشتې مخکې ، يوه ورځ د ګارد د بولندوی دفتر ته ولاړم. د بولندوی ياور راته وويل:" جګړن شيرجان مزدوريار د ګارد له بولندوی سره يو ځای ناست دئ، خو تاسو کولای شی ولاړ شی." دفترته ننوتلم. له سلام او روغبړ وروسته مزدريار راته وويل:" آمرصاحب! زه کله ناکله د شپې له پلوه د صاحبجان خان ليدلو ته راځم. ستاسو سرتيري له ما " د شپې نوم" غواړي او دننه راتللو ته اجازه نه راکوي. ما په ځواب کې وويل." ښاغليه ! تاسو په خپله يو د تجربې خاوند افسر ياست اوپه پوځي دود او قانون ښه پوهيږئ. دا به څنګه شوني وي چې څوک دې ارګ ته ننوځي او په دنده ولاړ کسان دې ورڅخه پوښتنه ونه کړي؟" مزدورياد وويل :" ټول خلک ما پيژني چې زه د صاحبجان ملګری يم." ما ځواب ورکړ : " پوهيږم چې تاسو د ښاغلي بولندوی ملګری او ټولګيوال ياست. که ښاغلی بولندوی يو رسمي امر ورکړي چې ستاسو مخه دې څوک ونه نيسي ، زه به هغه ټولو اړوندو جزوتامونو ته ووايم اوتاسو به له دغې ربړې څخه خلاص شی." څرګنده ده چې د ګارد بولندوی هېڅکله داسې امر نه شو ورکولای.

د راډيو د ودانۍ د نيولو په اړه ما د ګارد بولندوی ته داسې وويل: " ښاغلی بولندوی! زه يو سرتيری يم. هرڅه چې تاسو امر وکړئ ، په سترګو! ترسره کوم يې. کله چې د راډيو د ودانۍ د نيولو لپاره ولاړ شم نو زما پرځای د ګارد د سوق او اداري لپاره بل څوک وټاکـئ." هغه د څو شېبو لپاره په سوچونو کې ډوب شو او بيا يې وويل:" نه! تاسو مه ځـئ. تاسو د ګارد سوق او اداره په لاس کې واخلـئ. زه به په دې اړه لږ څه نور ژور سوچ وکړم ".

کله چې له دفتره دباندې راوتلم ، هغه غږ وکړ او ويې ويل:" عبدالحق علومي بندي کړئ. ټول فساد د هغه تر پښو لاندې دئ." ( څرګنده ده چې د اضطرار په هغسې شېبو کې د هغه بندي کول نا شوني ول)

په دغه شېبه کې هغه شوبلې چې نن سهار د ګارد د يوال تر مخ دَرَول شوې وې او سرتيري يې قطعې ته دننه د پلټنو لپاره ليږل شوي ول د شوبلو د هغو چلوونکو په مرسته چې له خپلو شوبلو سره تښتېدلي ول د پلان د وزارت له ودانۍ سره له جوخت ټکي څخه يې د ګارد پر لور په ډزو پيل وکړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ګارد د مخابرې آمر آقا محمد د مخابرې له لومړي بریدمن سره د جمهوري ګارد مخابرې په شنډولو کې ، د بې سیم د بطریو په لیرې کولو ، نیغه او اغیزمنه ونډه درلودله. وروسته څرګند شوه چې هغوی دواړه د سرسپارلو خلقیانو له ډلې څخه ول .

زه بیا قطعې ته راغلم او لیدل مې چې اکر وکر لا کړکچین اود خونړیتوب پر خوا درومي. ما باید خپل سرتیري د لاس او ګریوان جګړې لپاره چمتو کړي وای. امر مې ورکړچې ټول سرتیري او افسران دې بمبونه په لاسونو کې واخلي. له هغې ډلې څخه جګتورن محمد نادر (د فقیر خوشدل زوی) ځای پر ځای زما امر پلی کړ ؛ هغه خپلې ټولې دندې په ډیرې رښتونلۍ ، ګروهنې او سپیڅلتیا تر سره کړې .

د جزوتامونو د (ځانګړي شوي) وسلتون وسلې خلاصې شوې وې او وسلتون باید بیرته د ډیپو له غـُنـډ څخه ډک شوای وای. خو د ګارد د وسله پالۍ آمر جګړن ذاکرد کار د نیمګړي کولو لپاره بې پروایي کوله او پلمې یې پلټلې ، هغه د غـُنـډ د ډیپو پرانیستل د ګارد د بولندوی په امر پورې تړلی ګاڼه. هغه نه غوښتل چې جزوتامونه ته وسله ورکړل شي. ما په خپله پازوالۍ یا مسؤولیت لیکلی امر ورکړ چې پرجزو تامونو دې د غـنډ له وسلتون څخه وسلې وویشل شي .

له هغه وروسته د ګارد له بولندوی څخه د نورو لارښوونو د اخیستلو لپاره د ګلخانې ماڼې ته ولاړم. و مې لیدل چې ښاغلی ولسمشرصاحب داؤود خان په خونه کې ګرځي . پوځي سلام مې وکړ. ویې ویل :" څوک یې؟ ځان را وپیژنه." ما خپل نوم ، پوځي رتبه او دنده په پوځي غږ ورته وویله. ولسمشر راڅخه وپوښتل: " د یوه سرتیري په توګه د وضعیت په اړه څه ګومان کوئ؟" د اکر وکر د انځور په راکښلو مې داسې ځواب ورکړ:

"ښاغلی ولسمشر صاحب! د زغره وال ځواک د قطعو اوجزوتامونو بریدونه د جمهوري ګارد د جزوتامونو له پلوه په شا تمبول شوي دي ؛ د ختیځې دروازې ، د دلکشا د ماڼۍ دروازې ، د کابل سینما او د چنګاښ د شپږویشتمې څلور لارې مخته ټولې یرغلګرې شوبلې دړې وړې شوي دي. موږ پر اکروکر بر لاسي یو. یوازې د پلان د وزارت د ودانۍ له څنګه د هغوی درې شوبلې یو یو ډز کوي. ښایي هغوی ډیره وسله او مردکي ونه لري او ژر به چوپ شي. خو نه شو کولای د هوایي ځواک د بریدونو مخه ونیسو ځکه د هوا ضد وسلې نه لرو. که د کابل د ګارنیزیون د لیواګانو له ډلې څخه یو څوک د راډیو د وانۍ نیولو ته وګومارل شي ، که لوی څښتن غوښتي وي نو بریا به زموږ په برخه شي ".

ښاغلي ولسمشر وویل: " زویه! اندیښنه مه کوئ. ما په کندهار کې عظیم جان ته امر کړئ دئ چې د مرستې لپاره را ودانګي." ( د ولسمشر موخه ډګرجنرال عظیم خان د کندهار د قول اردو بولندوی وو. هغه باید الوتکو ته امر کړی وای چې د یرغلګرو شوبلو د ډړې وړې کولولپاره دې راشي. وروسته څرګنده شوه چې عظیم خان د خپل پرچمي یاور اکرم له پلوه تسلیمیدلو ته اړ شوی وو.)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ځل بيا مې پوځي سلام وړکړ او د ګلخانې له مانۍ څخه را ووتلم. کابل راډيو د داؤود خان د وژل کېدلو او د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د بريا خبرتياوې خپرولې. د حرمسرا له پاسه ناڅاپه د الوتکو يو ډله تيره شوه. حرمسرا يې تر اور لاندې ونيوله. نه پوهيږم چې د ګارد بولندوی له کوم ځايه ټلفون وکړ او ويې ويل چې د حرمسرا د تشولو لپاره بايد لاس په کار شو .

الوتکو د ګلخانې مانۍ تر اور لاندې نيولې وه. په دې شېبه کې د کنډک د بولندوی ډګرمن محمد سرور د ټپي کېدلو خبر راغی. د ګارد د بولندوی موټر مې په بيړه چمتو کړ او دنده مې وسپارله چې نوموړی دې د پوځ څلور سوه بستريز روغتون ته ورسوي. روغتون ته له ليږلو مخکې سرور خان د ژوند په وروستۍ شېبې کې راته وويل :" د خپل ځان احتياط وکړه، دا کمونيستان ما او تا نه پرېږدي." او له خبرو پاتې شو. وروسته څرګنده شوه چې د لارې په اوږدو کې يې ځان حق ته سپارلی وو. هغه يو ډير زړور ، ميړنی او هيوادپال افسر وو. اروا دې ښاده وي!

له دې چې جزوتامونه په خپلو مورچلونو کې ول ، د قوای کار د ټولې په مرسته چې د ارګ د ودانيو د بيا رغاولو لپاره راغلی وو ، د ګارد يو يا دوه بلوکه مې په کار و ګومارل چې د قروانې او د سرتيرو د ډوډۍ خوړلو د لويو لوښو په کارَولو د حرمسرای اور مړ کړي او د هغه يو شمير توکي مو دباندې را وايستل .

د حرمسرا له تشولو وروسته ، بيا مې د شپې تر نيمايو پورې د ګارد بولندوی ونه ليد. د نيمې شپې شا او خوا وه چې ما ته يې د ارګ په ختيځې دروازې کې زنګ وواهه او ويې ويل چې يوه لارۍ د ګلخانې مانۍ ته ور وليږم ځکه چې پام کې ده ښاغلی ولسمشر د ګلخانې له مانۍ څخه د باندې ووځي .

په همدغې شېبې کې د محمد داؤود له زامنو څخه يو تن غوښتل د مانۍ له دروازې څخه را ووځي خو کمونيستانو په ارګ کې دننه وويشت. د دوازې دوه تنه ساتونکي يې هم وويشتل .

څو موده وړاندې عزيز حساس چې وروسته د ببرک د ګارد د بولندوی په توګه وټاکل شو او د ډګر جنرالۍ رتبې ته رسول شوی وو راته داسې وويل: " کله چې د داؤود خان زوی عمرجان غوښتل د ګلخانې له مانۍ څخه دباندې را ووځي ، د اور وژنې د بلوک ضابط ، بريدمن ببرک عمرجان وواژه. د ګلخانې د مانۍ دوه تنه ساتونکي چې زما له ټولې (عزيزحساس) څخه ول ټپيان شول ".

بريدمن ببرک د جمهوريت له پرځېدنې وروسته د نورمحمد تره کي د ياور په توګه ټاکل شوی وو. نوموړی د تره کي د ډلې له خلقيانو څخه وو چې د امين او تره کي ترمنځ په شخړه او اخ و ډب کې د امين د پلويانو له پلوه و نيول شو او بيا يې وواژه .

ما د ۲۰۰۸ز کال د سپتامبر په مياشت کې د داؤود خان د جمهوري ګارد د پخوانيو افسرانو د ټولې له يوه تن بولندوی او له دوه تنو نورو څخه چې په نورو دفترونو کې يې کار کاوه د همدغې خبرې په اړه پوښتنې وکړې. هغوی وويل:

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



" د اور وژنې د بلوک بولندوی تورن عبدالمجید یوه ټولي ته ولاړ او غوښتنه یې وکړه چې یو ډلګی سرتیري دي د هغه د مرستې لپاره په خدمتي ډول ورکړل شي. د نوموړي ټولي بولندوی یو ډلګی سرتیري تورن عبدالمجید ور ولیږل چې مشري دې هم په خپله وکړي .

کله چې د هوایي ځواک بمبارۍ پیلیږي د ببرک په نامه د خواجه عبدالمجید یو ضابط د شپې له توري تیارې څخه په ګټه اخیستنې په غلا د جومات ځنګ ته نیږدې د بوټو په منځ کې ځان پټوي. نوموړی خدمتي ډلګي ته چې له یل ټولي څخه د مرساتې لپاره ور لګیږل شوی وو د " اور" امر ورکوي او د هغه له امله د لومړي کنډک بولندوی ډګرمن سرور تپې کیږي ( د نوموړي ډلګي ، ډلګی مشرغلام رسول نومیده او د فراه له ولایت څخه وو. نوموړي د ټولي بولندوی ته ویلي ول : " پرون شپه وروسته له دې چې له خپل ډلګي سره د تورن عبدالمجید تر مشرۍ لاندې ولاړم ، زه یې د ګلخانې ماڼۍ ته بوتلم. توره تیاره وه او ما ته یې د " اور" امر راکړ. ما هم امر پلی کړ او پوه نه شوم چې څوک وژل شوي او څوک ټپیان شوي دي ".

له پورتنیو خبرو داسې ښکاري چې د اور وژنې د بلوک بولندوی تورن عبدالمجید او د هغه ضابط ببرک د داؤود خان د زوی عمراو ډګرمن سرور خان په شهادت او د ګلخانې د ماڼۍ د دوه تنو ساتونکوپه ټپي کېدنه کې نیغ لاس درلود .

د ۲۰۰۸ز کال د سپتامبر په ۲۱ نېټه مې د ګلخانې د ماڼۍ د ډزو په اړه د داؤود خان د جمهوري ګارد د سپورت له پخواني آمر څخه پوښتنه وکړه. هغه وویل :" د اور وژنې د بلوک بولندوی تورن خواجه عبدالمجید او ضابط یې ببرک چې د هغه سړی وو ، د ګلخانې پر ماڼۍ ډزې کړې وې." د سپورت آمر دغه پیښه د خواجه عبدالمجید له خولې راته داسې وویله: " خواجه ویل چې پر غلام سرور خان مې د شا له لوري داسې ډزې وکړې چې دوه قاته شو." (عبدالمجید دا هم ویلي ول : " ډیره هڅه مې وکړه چې د اوپراسیون آمر [تاجیار] هم له منځه یوسم خو هغه هرې خواته په ځغاسته کې وو او پر یوه ځای نه دریده.)

کله چې زه [تاجیار] د سیاسي بندیانو له عمومي بخښنې وروسته ...... د ببرک کارمل د رژیم په امر له بند څخه خلاص شوم د یوه خپلوان د مړي د ښخولو لپاره قول آبچکان ته تللی وم او هلته مې خواجه عبدالمجید ولید. له سلام وروسته ، د جګړنې د رتبې مبارکي مې ورته وویله. تورن حمیدالله چې په جمهوري ګارد کې یې دنده درلودله هم راغلی وو. نوموړي د خبرو په ترڅ کې راته څرګنده کړه چې : " آمرصاحب! خواجه مجید تاسو ته نوی ژوند در کړی دئ." و مې پوښتل :" څنګه؟" په ځواب کې یې وویل :" خواجه مجید وایي چې د تشریفاتو د ټولي بولندوی عزیز حساس غوښتل تاسو د شا له لوري په ماشینګڼه وولي او له منځه مو یوسي، خو مجید د هغه مخه نیولې وه." ما مننه وکړه او ومې ویل:" البته زما اجل نه وو راغلی ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ۲۰۰۸ز کال د سپتامبر په مباشت کې مې دغه خبره له عزیز حساس څخه وپوښتله. هغه وویل: " اصله خبره خو دا ده چې خواجه مجید ستاسو د وژلو په لټه کې وو." دا چې څوک رښتیا وایي ، یوازې لوی څښتن پوهیږي. خو خواجه مجید چې یو غیرګوندي ، مرتجع او موقع پیژندونکی او ورځچاری (مرتجع) سړی وو یوازې یې د پیښو دروندوالي ته کتل چې پیښه د چا په ګټه پای ته رسیږي نو له هغه وروسته یې ځان په هماغې ډلې پورې نښلاوه. له بلې خوا له دې چې د خواجه مجید ضابط ببرک یو سرسپارلی خلقی وو د کودتا په شپه یې خواجه مجید ته ویلي ول چې له هغه سره دې هم اندی (همفکر) اوسي. له نوموړو شننو ، کره کتنو او شواهدو څخه په څرګنده بربنډیږي چې د سردار داؤود خان د زوی عمر جان او د لومړي کنډک د بولندوی سرورخان په شهادت ، د ګلخانې د ماڼۍ د دوه تنو ساتونکو په ټپي کیدلو او زما د له منځه وړلو په هڅه کې د خواجه مجید او ببرک نیغ په نیغه لاس لرل په زباد رسیږي.

له دغې پیښې وروسته د ګارډ قطعه د شپې تر نیماییو پورې مرستې او لاربښوونې ته سترګې په لار ناسته وه. د لوړو چار واکو له پلوه هېڅ ډول ګام اوچت نه شو. د شپې د یوې بجې شا او خوا [۱۹۷۸ز کال د اپریل ۲۸] وه چې د ګلخانې ماڼۍ ته د لاربښوونې د اخیستلو لپاره ولاړم. د لارې په اوږدو کې عبدالحق علومي او سید جان هم له ما سره یو ځای شول. هغوی پر ما زور اچاوه او په ټینګار یې ویل : " د ګارډ بولندوی ورک شوی دئ او د بولندې واک ستاسو (د اوپراسیون آمر) په لاس کې ده. باید یوه لاره و پلټې ، مانا دا چې قطعه ور تسلیم کړئ ".

د ګلخانې ماڼۍ ته ننوتلم ، د ګارډ بولندوی نه ښکاریده. د جګتورن نادر په وینا هغه خپل ځان د کوټې د باغچې تر ځمکلاندې ځای کې پټ کړی وو. داؤود خان بیا هم د وضعیت مالومات وغوښتل. په ځواب کې مې وویل: " په وضعیت کې د پاملرنې وړ بدلون نه دئ راغلی او موږ ته مرسته هم نه ده را رسیدلې ".

په همدغه وخت کې سید جان او عبدالحق علومي داؤود خان ته په دوه مخۍ او منافقت داسې اوتې بَوتې وویشتلې : " موږ د ځان د وینې تر وروستي څاڅکي پورې له تاسو دفاع کوو." دغه هوډ او ژمنه درواغ ول. رښتیا دا وه چې دواړه یې پرچمیان ول او د داؤود خان له شهادته وروسته تر جنرالۍ او لوړو څوکیو ورسیدل .

داؤود خان ته د راپور له سپارلو وروسته له سیدجان او عبدالحق علومي سره یو ځای د ګلخانې له ماڼۍ را ووتلم. صاحبجان ټلفون وکړ او ویې ویل چې یو شمیر وسله د ګلخانې ماڼۍ ته ور ولیږم. د انضباط بلوک ته مې په بیړه امر وکړ. وسله و سپارل شوه. په ماڼۍ کې دننه د کورنیو چارو وزیر قدیرنورستاني ، د مالیې وزیر سید عبدالالله ، د کانو او صنایعو وزیر تواب آصفي ، د عامې روغتیا وزیر عبدالله عمر، د کرهنې وزیر عزیزالله واصفي ، د بهرنیو چارو د وزارت مرستیال و حید عبدالله ، د عدلیې وزیر وفي الله سمیعي او د کابینې نور غړي ول .

د نیږدې سهار درې نیمې بجې وې. د پل خشتي له جوماته د آذان غږ راغی. د جګتورن نادرخان له لارې خبر شوم چې د ګارډ بولندوی د ګلخانې ماڼۍ ته راغلی دئ. غوښتل مې د لاربښوونو د اخیستلو لپاره هلته ورشم. ماڼۍ ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننوتلم او داؤود خان مې ولید. د مالیې او کورنیو چارو وزیران دواړه راته نیږدې شول او مالومات یې وغوښتل. ما وویل :" وضعیت د پخوا په شان دئ." هغوی ، سید عبدالله او د کابینې نور غړي له داؤود خان سره په یوه خونه کې ول. داؤود خان را نیږدې شو او داسې یې را ته وویل:" زویه ! ځوان یې ، ولاړ سه ځان ور تسلیم کړه. ما خپله پریکړه کړې ده." صاحبجان هم راته وویل :" ښاغلي ولسمشر صاحب خپله پریکړه کړې ده. تاسو ولاړ سئ ، قطعه را ټوله کړئ او امر ورکړئ چې خپلې وسلې دې وسلتونونو ته وسپاري ".

د یوه مسلمان او افغان په توګه چې د ناموس ، اسلام د هیواد د ځمکنۍ بشپړتیا او د ملي نوامیسو د ساتلو لپاره مې په خدای او قران سوګند او لوړه کړې وه د داسې یوه امر منل او هغه ته غاړه ایښوونه را ته خورا ګرانه وه. صاحبجان د دویم ځل لپاره راته وویل :" دا د ښاغلي ولسمشر صاحب امر دئ. ولاړ سئ او امر پلی کړئ." ما په درنښت سلام وکړ او را ووتم .

د غوایي د مباشتې په اتمې [۱۹۷۸ز اپریل ۲۸] شا او خوا د سهار شپږ بجې وې چې د کابل په آسمان کې د کفر او کمونیزم د تیارې لمر په را ختلو شو او د ولسمشر او د ګارد د بولندوی د امر پر بنسټ مې د ګارد د قطعې ته د ټول سئ امر ورکړ. وروسته له دې چې د ګارد ټوله قطعه را ټوله شوه ، په داسې حال کې چې د هیواد مینه ، دین ، افغاني غیرت ، د افغانستان د مسلمانانو د ناموس او د هیوادپالنې احساس را ته اجازه نه راکوله او ستونې مې غم لړلي ناورین کښیکاږه ، د ولسمشر صاحب امر مې اعلان کړ. د ګارد د قطعې سرتیرو نه منله او نه یې غوښتل خپله وسله پر ځمکه کښیږدي .

پورته مې وویل چې د کودتا د پیل په شپبو کې له بالاحصار څخه یو مرستندوی ټولی راغلی وو او ما د نوموړي ټولي افسران او سرتیري بې وسلې کړي ول او د مخابرې په ټولي کې مې بندیان کړي ول ، له همدغه ټولي څخه د لعل محمد او تورن رسول په نومونو دوه تنو پرچمیانو د ګارد کنترول په لاس کې ونیو او موږ ته یې داسې امر وکړ:" لاسونه مو پر سرونو کښیږدئ او یو یو په یوه لیکه د ګارد له دروازې څخه ووځئ ".

کله چې د پښتونستان واټ ته را ورسیدلو، زه چې د کتار لومړی سړی وم (له خپل پخواني ټولګیوال) جګړن نورالله سره مخامخ شوم. هغه وویل : " اوس که زر مرمۍ دې په دا خېټه کې در تشې کړم ، بیا هم لږ ده. همدا ته وې چې " عمرجان" دې شهید کړ، او شوبلو ته دې اور واچاوه." په ځواب کې مې وویل : " هرڅه چې کوئ ویې وکړه. په جګړه کې حلوا نه ویشل کیږي." ( نور الله خلقی وو ، وروسته د حربي پوهنتون مرستیال او د هوایي ځواکونو د بولندوی په توګه وټاکل شو. هغه د ..... کمونیستي رژیم له ړنګیدلو ورسته له افغانستانه و تښتید او اوس په ډنمارک کې د .... له پیسو په چړچو بوخت دئ.)

وروسته له دې چې افسران او سرتیري له ګارد څخه راووتل د پښتونستان واټ د تندوبي " فواره" ګرد چاپیره د " خیبر کافي" ته مخامخ د محلدینو او کمونیستانو .... تر څار لاندې ونیول شولو. له هغه ځایه یې د آریانا سینما ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بوتلو. عزیزحساس ، عبدالحق علومي او نور پرچمیان په هماغه ورځ خوشې شول. د مازدیګر څلور بجې وې د ملي بس په سرویسونو کې یې څلورم زغره وال ځواک ته بوتلو .

درې ورځې وروسته زما سترګې په هاغه جیپ موټر را او وښتې چې صاحبجان په کې سپریده. اوس زما پخوانی ټولیګوال توفیق احمد عزیزي پکې سپریده. څرګنده شوه چې نوموړی د ګارد د بولندوی په توګه ټاکل شوی دئ. کله چې سترګې یې په ما ولګېدلې ویې ویل :" اې هیواد پلوریه! اې د امریکا سي آی اې! وه خائـینه! ولې دې د جمهوري ګارد مخې ته شوبلو ته اور واچاوه؟ ولې دې زموږ کسان ووژل؟ " ناڅاپه یې په ما برید وکړ او کله څپېړه یې زما په مخ راکړه او امر یې وکړ چې په هېڅ ډول نه شم کولای نه کوټې دباندې ووځم او لس تنه ساتونکي یې زما د ساتلو لپاره و ټاکل .

د کمونیستي رژیم له منځته راتګ وروسته توفیق احمد عزیزي په ډیلي او مسکو کې د پوځي اتشې او د پوځ د مفتش په توګه و ګومارل شو او د ډګر جنرالۍ تر رتبې ورسید. کله چې په هند کې یې دنده تر سره کوله ، د پوهنتون زده کوونکو او خلکو پر سفارت برید وکړ او نوموړی یې په ترڅ ښه و ډَبـَاوه. نوموړی په ۱۹۸۹ز کال کې له یوګوسلاویا څخه امریکا ته ولاړ. ( دوه مباشتې مخکې [ اکتوبر ۲۰۰۸] د نبیل مسکینیار په ټلویزیون کې د ښاغلي حسن امیري په پروګرام کې یوې میرمن ټلفون وکړ او ویې ویل: " توفیق احمد عزیزي ، د ګارد پخوانی بولندوی ، صاحبجان یې د راډیو له ودانۍ بوت او په خپل لاس یې وواژه.")

څرنګه چې وویل شول ، ما د غوایي د مباشتې په اتمې نېټه [۲۸ اپریل ۱۹۷۸زکال] د نیږدې سهارپه درې نیمو بجو شهید سردار محمد داؤود خان د ګلخانې په ماڼۍ کې د ګام وهلو په حال کې لیدلی دئ. هغه ماته د مقاومت د دَرَولو امر راکړ او دغه امر یې د ګارد د بولندوی له خوا را ته دوه ځله تکرار شو چې هرو مرو دې پلی شي. ما نوموړی امر د سهار په شپږو بجو یعنې دوه نیم ساعته وروسته پلی کړ .

داسې انګیرل کیږي چې د مقاومت له پای ته رسیدلو او د ګارد له سیمې زموږ له وتلو وروسته د سهار له شپږو بجو وروسته [ ۲۸ اپریل ۱۹۸۷] په بالاحصار کې میشتې د ۴۴۴ کوماندو قطعې بریدمن امام الدین او یو شمیر وسله وال کسان کلاشنیکوفونه په لاس ماڼۍ ته ننوتلي او په ډیرې سپین سترګۍ یې داؤود خان او جمهوري رژیم لوړ پوړو چارواکو ته ویلي :" د ګوند د مرکزي کمیټې د امر پر بنسټ تاسو محکوم یاست او ځانونه تسلیم کړئ "!.

سردار داؤود د امام الدین او تش په نامه مرکزي کمیټې امر ته د غاړې په نه ایښودلو او نه پاملرنې په تومانچه ډز کوي او د امام الدین بدرګه کسان یو ځای په یوه وار پر سردار محمد داؤود او د کابینې پرنورو غړو ډزې کوي او د سردار محمد داؤود خان ، د هغه د ورور سردار محمد نعیم خان ، د کورنۍ او د کابینې د غړو په ګډون نهه دیرش تنه په ډیرې شډلتیا او وحشت په شهادت رسوي.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## نولسمه برخه

د فرهاد لبيب د خبرو د لړۍ دوام

د ۲۰۰۹ زکال د جنورۍ په څلورمه نېټه د " چند سطر شکسته در باره تجاوز روس در افغانستان" د کتاب ليکوال فرهاد لبيب ، چې د [ هند په نوي ډيلي کې په ۱۹۸۱ زکال د ليتو د خپرندويې ټولنې له پلوه خپور شوی] ، د www.kabulpress.orgويب پاڼې ته يې د " عمق فاجعه" تر سر ليک لاندې يو يادښت ليک را ليږلی وو. د هماغې ورځې په سبا د نومړي يادښت ليک پراخه بڼه د يوې ښکلې سريزې په ترڅ کې په ځو نورو رسنيو کې خپور شو .

نومړي په پيل کې په هر ځای کې د " و آن گلوله باران بامداد بهار/ د پسرلني سباوون دګوليو باران" د "ليکوال" له ونډې څخه پرته له دې چې د " صبورالله سياه سنګ" نوم ياد کړي يادونه کړې او ګڼې په دغې لنډې څېړنې کې لبيب ته ليکوال له يوه " تايپ کوونکي" پرته بل ښه ځای نه دی موندلی.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دئ د فرهاد لبيب د خبرو لړۍ د هغه له اجازې پرته له شپږم پارګراف څخه وروسته را اخلو. لوستونکي کولای شي لوموړی ټوله لیکنه دلته و لولي:

http://kabulpress.org/my/spip.php?article2799

www.farda.org/articles/08_updates/081200/article_f_labib.htm

"د ناتار ژور تَـل "

سره له دې چې د افغانستان د لومړني ولسمشر ، د هغه د کورنۍ او يارانو د شهادت د پيښې په اړه پراخ لاسوندونه او مدارک په لاس کې شته او په داسې حال کې چې د ولسمشرپه وژنه او وژونکو ته د وژنې د شريک او لارښود په توګه لا تر اوسه د امام الدين پر اوږې او مټ د ولسمشر د ډزو د ټپونو نښې ليدل کيږي بيا هم د درو لسيزو په تيريدا د وژونکو پيژندنه نه ده شوې .

په همدې لړ کې ، امام الدين اوس د غوايي د کودتا خونړی جنايت "مشروع دفاع" (!) بولي. آيا په دغسې له ملنډو ډک اړ و دوړ کې کيدای شي د هغې ورځې راتګ ته سترګې په لاره کښينو چې زموږ د هيواد د خپلواکۍ د ګټلو د زرګونو زرګونو وژونکو په سرو وينو پـښې د نياو يا محاکمې تر ميز پورې را ورسول شي او د کړو وړو سزا يې په لاس کې ورکړل شي؟

د زرګونو زرګونو شهيدانو ژوند او شتمنې د " افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند" د غړو له پلوه دړې وړې او له خاورو سره يو شوه ؛ لړ تر لړه په ديارلس سوه او اته پينځوسم لمريزکال [١٩٧٩ز] کې د غوايي د کودتا د رژيم له پلوه د دولس زرو شهيدانو نومونه په براالا او څرګند ډول د کورنيو چارو د وازت په ديوالونو وځړول شول دا ځکه چې نور د هغوی پاتې کسان او خپلوان د جلادو واکمنو د سر خوړۍ لامل ونه ګرځي. خو هغه څه چې د وخت تيريدا په زباد رسولي دا دي چې د کړو وړو سزا حق او تأريخ هم بيرحمه ،سخت زړی او سپيڅلی ورمنډګر"قاضي" دئ .

اووه ويشت کاله مخکې [١٩٨٢ز] کله چې ما د غوايي د کودتا په اړه خپل يادښتليکونه ليکل د امام الدين د خبرو په تړاو زه دې پايلې ته رسيدلی وم چې نوموړی د دوه وو خبرو په اړه رښتيا نه وايي:

١ ( دا چې ويلي يې ول د يوه " څنګيز /جناحي اور" په تر سره کولو يې داؤود خان او ور سره کسان ووژل ، او

٢ ( په دغو خونړيو عملياتو کې د اصلي وژونکو د نومونو او پيژند نه بربنډول

ما د امام الدين د خبرو په اړه خپله جاج اخيستنه وليکله او د هيواد يو شمير تاريخپوهانو هغه په کلکه په پام کې و نيوله او په خپلو ليکنو کې يې ځای ورکړ. له دې چې له ډيرو کلونو وروسته پورتنۍ خبره يو ځل بيا د صبورالله سياه سنګ له پلوه تر شننې او کره کتنې لاندې راغلی دا دئ زه هم د افغانستان د پخواني وسله ځواک د يوه غړي په توګه اړکيړم خپل دلايل را وړاندې کړم .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوازې امام الدين؟ كه د منطق او ژور ځير له كړكۍ ورته وكـتـل شي نو د دغسې عملياتو د پلي كولو لپاره ، په ځانګړې توګه د يوه هيواد د ولسمشر د نيولو يا وژلو لپاره عادي اوكار نا آزموېلي خلک نه ليږل كيږي. دا به لنډ پوهنه او ساده باده توب وي كه ومنو چې د كودتا د مشرتابه ډله هرڅومره چې ناپوهه وي د داؤود خان د نيولو لپاره دې نا خبره او كارنا ازموېلي كسان د ولسمشرۍ ماڼۍ ته وليږي. ځكه كودتاچيان ښه پوهېدل چې په حقيقت كې دغه ځانګړې او مهم عمليات د دوی برخليک جوړوي. په دې توګه هر پوه او عاقل انسان دې ومني چې د هغه وخت د ولسمشر د نيولو لپاره هرو مرو كارپوه ، د ډاډ وړ او د پوځي علمياتو له رمزونو او رازونو ښه خبر كسان ليږل شوي دي .

څو بنسټيزې پوښتنې: په دغسې يوه فوق العاده حساس او خونړي خوځښت كې ولې امام الدين يوازې وو؟ كه دا و انګيرو چې له هغه سره بدرګه كسان يوازې د افغانستان د وسله وال ځواک څلور تنه افسران يا سرتيري ول نو څرګنده ده چې امام الدين په يوازې سر د ولسمشر وژونكی نه بلكه دوی ټول د ولسمشر وژونكي دي. په دې توګه پوښتنه دا ده چې د ولسمشر له شهادته وروسته ولې يوازې امام الدين لوړو پوړيو ته رسول كيږي او پاتې بدرګه كسان بې نومه او بې نښانه ورک پاتې كيږي؟ كه له هغه سره بدرګه كسان د افغانستان د وسله وال ځواک غړي ول او په داسې يوې سرسپارنې يې د كودتا د رژيم لپاره سرښندنه كړې نو ولې دغو كسانو ته د امام الدين په شان رسمي درېځونه او امتيازات ونه كړل شول؟ كه له هغه سره بدرګه كسان په رښتيا د افغانستان د وسله وال ځواک غړي ول ، آيا د دومره كلونو په اوږدو كې دوی نه شواى كولاى لږ تر لږه د خپلو دوستانو او همليكو ملګرو په منځ كې كوښنې سر ټكونه او شكايت وكړي؟ ولې يوازې امام الدين ټيي او د همدغه داستان يوازينی " اتـل" وبلل شو؟

د [ښاغلي مير محمد صديق فرهنګ] د كتاب [ افغانستان در پنج قرن اخير] په ٨٦٧ پاڼه كې ولسمشر ته د خبرو اترو لپاره د قادر او وطنجار د ليږلو په اړه داسې ليكل شوي دي : " دغه وړانديز د افغانستان د خلق ډيموكراتيک ګوند په مركزي كميټې كې وړاندې شو" ؛ او له هغه وروسته د هماغه كتاب په ٦٨٦ پاڼه كې د قادر له خولې ويل كيږي : " زه او وطنجار د ماڼۍ پر لور و خوځېدلو . خو ملګرو زموږ مخه و نيوله او دوه تنو نورو ته دنده وركړل شوه چې داؤود خان ته ورشي." ، اوس نورې اړينې پوښتنې را منځته كيږي :

دغه " ملګري" څوک ول چې د ګوند د مركزي كميټې له صلاحيت ښه د هغوی صلاحيت لوړ وو؟ ولې قادر په رندۍ او چالاكۍ د دغو پټو او مرموزو " ملګرو" له مخ ښه ټيكرى له ليري كوي چې ان د هغوی د يوې ايكۍ وړيا خبره د خلق د ډيموكراتيک ګوند د مشرتابه له حكم ښه لوړه ده ؟ ولې دغه پټ راز لا تر اوسه همداسې پټ ساتـل كيږي؟

ددغسې اړينو عملياتو لپاره د چمتووالي اړتيا: له نيكه مرغه چې په هم په هيواد كې دننه او په بهر كې ميشت د افغانستان د وسله وال ځواک ګڼ شمير غړي چې د غوايي د كودتا په شپو وروځو كې د افغانستان د ملي وسله وال

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواک غړي ول لا تر اوسه ژوندي دي. هغه کسان چې پوځي زده کړه لري په ځانګړې توګه د لوړو زده کړو خاوند افسران ښه پوهیږي چې د افغانستان د وسله وال ځواک غړي هېڅکله د همدغسې عملیاتو (د ولسمشر پر ماڼۍ د برید ، د هغه د وژنې یا نیولو) لپاره نه کومه ځانګړې روزنه لیدلې او نه د وسله وال ځواک په ښوونیزو او روزنیزو بنسټونو کې د دغسې عملیاتو روزنه تر سره شوې ده. مانا دا چې په یو چا یا څو کسانو په مخامخ ډول په یوه څلور د یوالي چاپیریال کې د بریښنا په تونداوالی برید تر سره کول ....

خو له دې سره سره په روښانه ډول وینو چې په دغو عملیاتو کې پینځه تنه د یَوُ لسو یا (اووه لسو) سرپه لاس کې اخیستي کسانو پر وړاندې په یوې کوشنۍ سرپوښلې څلور دیوالۍ کې دریږي ؛ په انګړ کې دننه کوربانه د یرغلګر په پرتله له خپل چاپیریال سره ښه بلد او آشنا دي خو پرته له دې چې د یرغلګرو له ډلې څخه یو تن ووژل شي ، هغوی ټول د همدغې پینځه کسیزې ډلې له پلوه له پښو غورځول کیږي او یوازې د امام الدین په نامه د کومانو د قطعې افسر لږ ټپي کیږي او بس .

د عملیاتو وَرته والی : هغه عملیات چې د دیارلس سوه او اووه پینځوسم کال د غوایي د مېاشتې د اتمې په سهار [۱۹۷۸ز د اپریل ۲۸] د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې پلي کیږي او په پای کې ولسمشر او د هغه د کورنۍ ګڼ شمیر غړي شهیدان کیږي (دا چې د ارګ په مدافعه کې څومره ساتونکي په هاغه ورځ وژل شوي ، څرګند نه دي) ، د افغانستان په تأریخ کې د دغو ډول عملیاتو د پلي کولو بېه او څرنګوالی ساری نه لري ، په ځانګړې توګه د ښځمنو او ماشومانو پرمخ د اور د خولې پرانیستل چې ټول یې د ولسمشر له استوګنځي څخه د باندې ول. یوازینۍ منطقي انګیرنه دا ده چې د افغانستان د وسله وال ځواک په جامو کې د دغه له شرمه ډکې کړنې او جنایت په تر سره کولو کې د روسي کوماندو لاسونه ښکیل و بولو .

باید ورغبرګه کړم چې دغه عملیات له څو اړخونو له هغو عملیاتو سره وَرته والی لري چې د دیارلس سوه اته پینځوسم کال د مرغومي په شپږمه نېټه [۱۹۷۹ ز د دسامبر ۲۷] د تاج بیګ په غونډۍ کې د حفیظ الله امین او هغه ته د نیږدو کسانو پر وړاندې تر سره شول .

ولې امام الدین په عملیاتو کې د خپلو ښکېلو بدرګه کسانو د نومونو له بربنډولو څخه اوږه سپکوي؟ د غوایي له کودتا یوه اونۍ وروسته امام الدین نوموړي پیښه په دغو ټکیو ما [فرهاد لبیب] ته وویله : " کله چې ما ته د داؤود خان د نیولو امر راکړ شو هیڅ چا زړه نه کاوه چې له ما سره ارګ ته دننه ولاړ شي. ما یو چلوونکی پیژانده ، له هغه او نورو څلورو تنو سره یوځای چې ما نه پیژاندل په زغره وال ګاډي کې ارګ ته دننه ولاړو ".

له دې به تیر شو چې نن امام الدین له خپلو ټولو خبرو ټپ منکره دئ او زیاتوي چې د خپلو بدرګه کسانو نومونه نه پیژني! خو د پاملرنې وړ ټکی دا دي چې : د فتح محمد په نامه یو تن ښه په یاد لري چې هغه یې روغتون ور ساوه. ان د هغو کسانو خبرې او نومونه لا تر اوسه په یاد لري چې هغوی یې د راډیو افغانستان په ودانۍ کې لیدلي ول او

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هم په داسې يوه مرګوني ټپي حالت کې "چې له لاسه يې وينې څڅېدلې" ، خو د " غوايي د نه په شا کېدونکي" انقلاب د توپکوالو نومونه چې له هغه سره يوځای په دغوعملياتو کې بدرګه شول په ياد نه لري!

د هغې پيـښې د ګوليو د باران په وَريا کې امام الدين چې په خپله وينا يې هډوکی يې " شپاړلس ټوټې" شوی وو او د " شوک" او وينې څڅېدنې له امله هره شېبه بې هوښه کېده د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې د ميشتو کسانو نومونه ، روغتون د تللو لاره ، د راډيو افغانستان ودانۍ او نور ټول په ياد لري خو يوازې د " څلورو تنو" برخليک جوړوونکو کسانو نومونه چې له ده سره بدرګه ول په ياد نه لري!

هېښنده خو دا ده چې امام الدين د " مرګ او ژوند" د پولې په هاغسې يوې حساسې شيبې کې کولای شي د راډيو افغانستان په ودانۍ کې د بريالیو عملياتو راپور " په ډېر ځير او ټکی په ټکی" د کودتا د مشرتابه ډلې ته وړاندې کړي .

منځپوښتونکي ټکی دا دئ چې که امام الدين پر ارګ د عملياتو د پلي کولو امر د شهنواز تني له لارې د کودتا له مشرتابه څخه ترلاسه کړی وو نو ولې يې د پوځي سلسله مراتب په پام کې نيولو نومړی "راپور" يې شهنواز تني ته چې په هماغه سيمه کې حاضر وو ور نه کړ او د هغه پرځای په ټپي ځان د پوځي سلسله مراتبو په نه پام کې نيولو نيغ په نيغه ځان د راډيو په ودانې کې ديره د کودتا د مشرتابه ډلې ته رسوي ؟

پايله : له دغو پوښتنو ، شننو او کره کتنو څخه زما ټوله جاج اخيستـنه او انګيرنه دا ده چې د ولسمشر محمد داؤود اصلي وژونکي نه د افغانستان د وسله وال ځواک غړي او نه هم د پوځ د ښوونيزو او روزنيزو بنسټونو غړي دي بلکه نومړي " څلور تنه" د پخواني شوروي د (کي جي بي) د ملکي او د (جي آريو) د پوځي ځارګرو څانګو تکړه او ښه روزل شوي غړي ول چې د يوه سنجول شوي پلان له مخې له امام الدين سره يو ځای شوي او د عملياتو له تر سره کولو وروسته بيرته خپلو پـټـنځايونو ته تللي دي.

په پخې انګيرنې ويلای شو چې په دغو عملياتو کې امام الدين د روسي کماندويانو د لارښوونې او ژباړې دندې په غاړه درلودله او بس. دلته که د شهيد محمد داؤود خان د ژوند وروستۍ خبرې په پام کې ونيسو چې : " زه روسانو او کمونيستانو ته نه تسليميږم" نو موږ به تر ډېرې کچې ددغو پټو رازونو تـَل ته لاره ومومو .

هر ګوره ، د پورتنيو يادَونو له سپړنې او شننې څخه زما موخه دا نه ده چې له يو شمير څرګندو او ځانګړو کسانو سره دښمنۍ ته مـټـې را بډ وهم او نه هم د هيواد د تأريخي حقايقو د تحريف هيله لرم. زما هيله دا ده چې حق دې خپل ربښتونی او ټاکلی ځای ومومي او زموږ راتلونکي زوزاتونه د ناپوهۍ او بې لارۍ د ژورو کرليچونو په لوخړو کې بند پاتې نه شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غوايي کودتا ، د افغانستان د لومړني ولسمشر او په پټو سترګو د هغه د کورنۍ وژنه ، او هم د کودتا له پايلو څخه رامنځته شوې ورانۍ يوه ساده پيښه نه وه چې پر هغې دې سترګې پټې شي ، بلکه ددغې پيښې پايلې له موږ غواړي چې هر اړخيزه ، ژوره ، محتاطه او عادلانه څېړنه تر سره کړو. بشپړ ډاډ لرم چې زموږ د هيواد په ناتار او ناورين ځپلی چاپيريال کې به که نن وي يا سبا د عدالت د رامنځته کيدلو او د عادلانه لټون او غوښتون لپاره لاره پرانيستل شي".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## شلمه برخه

عـبدالـرحـيم شـــادان

د ۲۰۰۷ ز کال د نوامبر د مباشتې په يولسمه نېټه يو چا چې نه غواړي نوم يې دلته واخيستل شي وويل: "د ديارلس سوه او اوه پينځوسم کال د غوايي د مياشتې په اوومه او اتمه نېټه عبدالرحيم شادان د محمد داؤود د ولسمشرۍ په مانۍ ارگ کې وو. غوره گڼم چې د نوموړي يادښتـلېکونه هم دلته راوړل شي ".

له عبدالرحيم شادان څخه مننه چې پرته له زيادښت او کمښته دغه درې يادښتليکونه يې را واستول:

"د عبدالحميد مبارز د خبرو پر وړاندې " ليک"/ د يوه بې ځايه تور غندنه/ ۱۹۹۹زکال د جنوري پينځلسمه" ، " (يوه ليکوال ته) ليک/۲۰۰۱ زکال د جولای ۲۷" او " (هماغه ليکوال ته) دويم ليک/ ۲۰۰۱ز کال د نوامبر ۱۲ "

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د دويم ليک ډيرې برخې د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژل کيدلو له څرنګوالي سره نيغ تړاو نه لري ، ښايي د ليک يو شميرروښانوونکې برخې د ځينو لوستونکو لپاره په زړه پورې وي .

"د يوه بې ځايه تور غندنه "

تأريخ بايد له توکميزو ، ژبنيزو ، سيمه ييزو ، سياسي او ګروهنيزو تـنګ الواکيو "تعصب" پرته د واقعيتونو پربنسټ وليکل شي نه د کوڅې او بازار د ګنګوسو او ډنډورو پر بنسټ .

ما په وروستيو وختونو کې [د ۱۹۹۸ز کال په دسامبرکې] د عبدالحميد مبارز کتاب " تحليل واقعات سياسي افغانستان" ولوست. په خواشينۍ چې په کتاب کې دننه په ډيرو برخو کې له خيتې راوتلو کيسو ، ذهنيګريو، خيالي انځورګريو، سپکو بازاري روايتونو، درغليو او تور لګونو سره مخامخ کيږو .

د دغه کتاب په تومنه کې له ډيرتضاد او اړوپيچ " تناقض" سره مخامخ کيږو چې ښاغلي ليکوال د ځان د غټاوي لپاره راوړي دي. ددغه کتاب شننه به شنونکو او کره کتونکو ته پريږدم ، دلته غواړم د يوه بې ځايه تور په اړه خبرې وکړم چې پر ما[ عبدالرحيم شادان] لګول شوی دئ:

ښاغلی مبارز د خپل کتاب په ۳۷٦ پاڼه کې د ديارلس سوه اووه پينځوسم کال د غوايي د مياشتې د اوومې د ماښام په اړه د خپلو کيسو جوړولو په لړ کې وايي چې :

"د غوايي د اوومې ورځې په ماښام د [ګارد بولندوی] صاحبجان سردار محمد داؤود خان ته وړانديز کوي چې دی به د ارګ سويلي لارچې (کرکۍ) بلل کيدله پرانيزي او يو ولايت ته دې ولاړ شي. محمد داؤود چې خپله او د محمد نعيم کورنۍ يې په ارګ کې راټوله کړې وه ، دغه وړانديز مني او کله چې غواړي په موټر کې سپور شي له يوه ګوټ څخه ډزې کيږي او دا ډزې له ارګ څخه دننه دي. وروسته څرګنده شوه چې دغه سبوتاژ د شادان له پلوه ( چې وروسته پرچمی جنرال شو) تر سره شوی وو، ځکه د ګارد په لوړ پوړو افسرانو کې نوموړی يوازينی ژوندی افسر دئ چې نورو پاتې افسرانو په سرښندنې ځانونه له لاسه ورکړي ول ".

دغه کيسه د سړي په ذهن کې " په کورکې ناست له ټول بغداده خبر ړانده " کيسه را ژوندۍ کوي. عبدالحميد مبارز په ډيرې سپين سترګۍ درواغ وايي ځکه:

۱ ( موږ په کلکه له ارګ څخه ساتنه کوله. په هماغو لومړيو شېبو کې ، کله چې د زغره والي ليوا شوبلو د ددفاع د وزارت پر ودانۍ او د ارګ پر ختيځې دروازې بريد وکړ ، په لومړي ګام کې د لومړی کنډک د بولندوی شهيد ډګرمن په بولنې مو د زغره وال ځواک څلور محاربوي ماشينونه د ارګ دروازې ته مخامخ ، د کانو او صنايعو د وزارت ودانۍ ته مخامخ ، ختيځې دروازې ته مخامخ او د سلامخانې دروازې ته مخامخ په سپکو توغنديو ويجاړ

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړل. همدارنگه د ارگ د دفاع په لړ کې د زغره وال ځواک په لسگونو شوبلې له کاره و لویدلې او په نوموړو شوبلو کې ځلور شپیته تنه مو ژوندي یرغمل و نیول او په ارگ کې مو بندیان کړل .

۲ (هر پوه سړی کولای شي و انگیري چې د گارد ټول وسله وال ځواک له ارگ ، له ولسمشر او د هغه له کورنۍ څخه ساتنه کوي او له ارگه دباندې په لسگونو شوبلې او زغره وال گاډي دړې وړې کوي ؛ که په دغسې یوې شېبې کې په ارگ کې دننه یو یا څو تنه پر ولسمشر ډزې وکړي نو د گارد ځواکونه به پر ډزې کوونکي داسې د گولیو باران جوړ کړي چې د هغه یوه ټوټه به هم ونه موندل شي.

۳ (کتاب د لنډ پوهنې او له ساده او رښو حقایقو څخه د بې خبرۍ پربنسټ لیکل شوی دئ. ټول پوهیږي چې د پوځي کودتا بولنه پرچمیانو نه وه ورکړې.(ښاغلي لیکوال مبارز ته ښایي چې په دې تراو لږ پلټنه وکړي). له همدې امله په گارد کې میشتو پرچمیانو گومان کاوه چې ښايي یو شمیر اور پکودغې دروهې ته لمن وهلي وي نو ځکه یې په پریکنده ډول جگړه او له ارگ څخه یې ساتنه کوله .

۴ ( زه عبدالرحیم شادان په هغه وخت کې د ولسمشرۍ د گارد د پیژند د مدیریت آمر وم. محمد داؤود زه پیژندلم. عربي هیوادونو ، یوگوسلاویا ، هند ، پاکستان او ایران ته یې زه د خپلو سفرونو په ترځ کې د خپل امنیت د سرگروپ په توگه ټاکلی وم. ماته زما وجدان اجازه نه را کوله چې ددغسې یوه ډاډ په بدل کې هاغسې یو ناځوانه کړو وړو ته لاس واچوم چې مبارز له خپلې گیډې را ایستلي دي .

هغه څه چې ما په رښو سترگو لیدلي دي لنډیز یې په لاندې ډول دئ:

د گارد بولندوی ارواښاد صاحبجان د [۱۹۷۸ز کال د اپریل په ۲۸] د شپې د دوه وو بجو په شا او خوا کې امر وکړ یوه لارۍ چې گرد چاپیره یې په سپکو توغندیو سمبال شوې وي چمتو شي. په لارۍ کې د یوه بنز موټر لپاره ځای پرځای کول هم په پام کې و نیول شول ؛ د ارگ شمالي دروازه د دلکشا ماڼۍ او لومړۍ ماڼۍ ته لاره ورکوي چې له هغه ځایه د فرانسې سفارت ته د تللو خوندي لاره ځي ؛ که سردار محمد داؤود خان منلې وای نو کولای یې شوای چې له همدې لارې د فرانسې سفارت اویا هرې خواته چې زړه یې غوښتل ولاړ شي .

د گارد بولندوی سردار محمد داؤود خان ته ورغی او د لارۍ له چمتووالي څخه یې ورته خبر ورکړ. ددغه خبر د ورکولو په ترځ کې دغه کسان د ولسمشر مخ ته حاضر ول :

ډگرمن سیدجان د گارد د اوپراسیون مرستیال ( وروسته د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د وسله والو ځواکونو په اعلی قوماندانۍ کې تورنجنرال) ، عبدالحق علومي د جمهوري ریاست د گارد د کشف آمر (وروسته د تورنجنرال په رتبې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزې کمیټې د عدل او دفاع د کمیټې مشر) او جگتورن آقا محمد

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سردار محمد داؤود د صاحبجان را پور واورید خو د هغه وړاندیز یې ونه مانه او په زغرده یې وویل:

"زه په ارگ کې پاتې کیږم "

مبارز وایي " د ارگ له یوه گوټ څخه ډزې کیږي ، او دغه ډزې له ارگ څخه دننه دي. وروسته څرگنده شوه چې دغه سبوتاژ د شادان له ...." زه له مبارز څخه پوښتنه کوم چې " زه خو د توغندیو او مرمیو د سره اور په باران کې له هغو کسانو سره یو ځای چې نومونه مې پورته یاد کړل د ولسمشر تر مخ ولاړ وم ، ته د ارگ په کوم گوټ کې پټ شوی وې او د ارگ له کوم گوټ څخه تا لیدلي ، اوریدلي یا پوه شوی یې چې ډزې د چا دي؟"

درغلن لیکوال بیا لیکي چې : " د گارد له لوړپوړو افسرانو څخه یوازې شادان ژوندی وو او پاتې کسانو په سرښندنې ځانونه له لاس ورکړي ول ".

مبارز یا په لوی لاس درواغ وایي او یا یې یوازې د سپینې ناپوهۍ په ټال کې سپینې پانې تورې کړې دي ؛ ځکه د گارد د افسرانو له ډلې څخه ځوان بریدمن چوپان (د هماغې ورځې د شپږو بجو په شا او خوا کې) او ډگرمن محمد سرور په شهادت ورسیدل ، دیرش تنه سرتیري ټپیان شول او نور ټول ژوندي پاتې دي. له هغې ډلې څخه تورنجنرال عبدالحق علومي په ۱۹۹۳ کال کې په کابل کې شهید شو او تورن سید جان ژوندی دي .

نوموړی لیکوال د هماغې شپې د پیښو په تړاو د سپړلو په دوام وایي :" ډگروال صاحبجان د غوایي د اتمې [۱۹۷۸ز د اپریل ۲۸] تر نیمې شپې پورې مقاومت ته دوام ورکوي چې وروسته د هوایي بمباریو په لړ کې په شهادت رسیږي "

بیا هم د مبارز بې خبري او د حقایقو تحریف! شهید صاحبجان په بمباریو کې و نه وژل شو، بلکه د ارگ له تسلیمۍ وروسته کود تاچیان نوموړی یرغمل نیسي او بیا یې د راډیو افغانستان۵۲ شمیرې سټدیو ته بیایي. (د راډیو څو تنو کارکوونکو او ویاندانو کیسه وکړه چې د [۱۹۷۸ز د اپریل په ۲۸] نېټه یې د ورځې په لومړیو ساعاتو کې صاحبجان د راډیو په سټډیو کې لیدلی وو. البته څرگنده ده چې کودتا چیانو له هغه وروسته نوموړی په شهادت و رساوو)

د پیښې د لړۍ دوام په دې ډول دئ : د غوایي په اتمې [۱۹۷۸ز د اپریل په ۲۸] د سهار د څلورو بجو په شا او خواکې سردار محمد داؤود خان صاحبجان ، سید جان او عبدالحق علومي را وغښتل ؛ ارگ ته د نورو قطعاتو د مرستې د نه رسیدنې او د مقاومت د بې ځای والي په پام کې نیولو یې داسې لارښوونه ورکړه:

"نه غواړم ځوانان له منځه ولاړ سي. ددې لپاره چې د ډیروځوانانو د وژل کیدلو مخه نیول شوي وي ، گارد تسلیم کړئ. زه نه تسلمیږم. ما د دفاع د وزارت ، صدارت او د ولسمشرۍ په پـ�ُستونو کې هیواد او ولس ته سپیڅلي خدمتونه کړي دئ. هېڅکله مې افغانستان او د افغانستان ولس ته خیانت نه دئ کړئ. که ما کومه پازوالي یا جرم درلود نو ما دې د افغانستان د ولس په نیاو کې محکمه کړي ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا وې د افغانستان د لومړني ولسمشر سردار محمد داؤود خبرې چې د ولسمشر د ګارد افسرانو ته يې وکړې. د همدغې لاربښوونې پربنسټ د ارګ د ختيځې دروازې پرسر سپين بيرغ و ځړول شو او ګارد تسليم شو.

په څو ورستيو کلونو کې يوشمير افغان ليکوالانو يو شميررسالې ، يادښتليکونه ، د سترګو ليدلي حالونه او تأريخي کتابونه خپاره کړي دي چې د افغانستان د شلمې پيړې د دويمې نيمايۍ د تأريخي واقعيتونو په روښانونو کې خورا مرسته کوي. په دې ډله کې يو شمير " تش په نامه ليکوالانو" هم چې د تأريخ د ليکلو واک نه لري او ان د هغوی د ليکنې د ليکلاردود څرنګوالی ترپوښتنې لاندې دئ پانې تورې کړې دي او د پازوالۍ د پيټي له پورته کولو او د رښتيامونډنې له هڅو پرته يا غټ غټ درواغ وايي او يا تحريف شوي حقايق رامنځته کوي .

ددغو درغلنو له ډلې څخه يو يا دوه تنه چې د خلق او پرچم د واکمنۍ په کلونو کې يې " د غيرګونديي" ترنامه لاندې لوړ دولتي دريځونه درلودل نن ددغو تورونو او ليکنو له لارې پرته له دې چې د هغو کلنو په پيښنو کې يې "ګډون کړی وی" غواړي تا او ما ته ووايي چې " خپلواک ، اتـل او مجاهد" وو.دغسې کسان هغو چوغکو ته پاتې کيږې چې ککره تر وزرونو لاندې ننباسي او د تيارو په تاّل کې په سوچوهلو زانګي او څوک نه ويني. له همدغې ډلې څخه يو يې عبدالحميد مبارز دئ .

د " تحليل واقعات سياسي افغانستان" د کتاب په څلورم پوښ کې د هغه ليکل شوی ژوند ليک څرګندوي چې نوموړي د خپل ژوندانه لوړ اداري دريځونه د خپلو لوڅو پوڅو او هلو ځلو له لارې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګونداو د پخواني شوروي اتحاد د سلاکارانود ډاډ له ترلاسه کولو وروسته د پرچميانو په وخت کې د " ښوونې او روزنې د وزارت د مرسيتال" پر څوکۍ کښينول شوی وو.

په دغسې رسمي دريځ کې د يوه سړي د ټاکلو واک يوازې د سياسي بيرو يا د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د لوړ مقام په لاس کې وو. هيڅ يوه سړی نه شي کولای ومني چې يو " ګونديي ضد" (په کتاب کې د مبارز بله څيره!) دې په ناڅاپه او د ګوند د ډاډ له تر لاسه کولو وروسته پر دغسې يوه اداري دريځ ټکوهل شي .

مبارز په ناورهنه توګه غواړي د لوستونکي په سترګو کې خاورې و شيندي. هغه د خپلو دندو د سپړنې په لړ کې وايي : " په ۱۹۸۰ز کال کې د سواد د زدکړې مرستيال او له هغه وروسته فرانسې ته کډوال شو" ، خو نه غواړي ووايي چې تر څو کلونو پورې په نوموړي اداري کې دريځ پاتې شو. تر هغې شېبې پورې چې ډاډه وو چې شوروي ځواکونه په افغانستان کې پاتې کيږي ، کلونه کلونه د " وزير د مرستيال" په توګه پاتې شوی وو ، خو کله چې ورته څرګنده شوه چې شوروي ځواکونه له افغانستانه وځي ، نود تيښتې او کډوال کيدلو په لټه کې کيږي او له خلقيانو او پرچميانو سره د مخالفت د ډغرو وهلو لپاره ملاتړې!

د هيواد د سياسي او پوځي حقايقو تل ته رسيدل ، پر هغو پوهيدل او له هغوڅخه کره کتنه کول ژورې څيړنې ، پلټنې ، شپه او ورځ خولې تويولو او بشپړ ناپييلتوب ته اړتيا لري. نه ليکل ډيرښه دي تر درواغ ويلو او تور ترلو. يو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بل پسې کتاب خپرول ، درواغ ، تور ترل او د ولس سترګو ته افسانې د حقیقت په توګه ځرګندول ستره ګناه ده او عبدالحمید مبارز پر دغه بې لارې شوې له ګرنګونو ډک کږلیچ ، یوازینې یا لومړنی تللی سړی نه دئ .

پیړۍ پیړۍ مخکې مولانا جلاالدین بلخي له دغسې قلم په لاس لیکوالانو څخه داسې سر تـکـونه کړې ده:

"چـون قـلم در دسـت غـداری بود/ لاجـرم مـنصـور بر داری بود."� جـرمـنی، 15 جـنـوری 1999

لومړنی لیک

ګرانه دوسته......،

د سلام له ډالۍ کولو وروسته هیله من یم چې له خپلې کورنۍ سره روغ او رمې اوسی. ستاسو د دیارلس سوه اتیایم لمریزکال د غوایي د میاشتې د لسمې [۲۰۰۱ز د اپریل د ۳۰ ] نېټې لیک مې تر لاسه کړ. دا دئ ستاسو پوښتنو ته په لاندې ډول ځواب وایم :

۱ ( له دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریز [۱۹۷۸ز] کال مخکې ، ما د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د پرچم له ډلې سره اړیکه درلودله ، لامل یې دا وو چې د ولسمشرۍ د ارګ یو شمیر افسرانو د پرچم له ډلې سره اړیکه درلودله او ما د دندو د تر سره کولو په ترځ کې له هغوی سره نیږدې اړیکې درلودلې .

د غوایي له کودتا وروسته د دواړو خلق او پرچم د ډلو له پلوه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړیتوب ته وبلل شوم. ماته د خلق یا پرچم په ډله کې ښکیلوالي ارزښت نه درلود ځکه د دیارلس سوه شپږپینځوسم لمریز کال د چنګاښ د دولسمې [۱۹۷۷ز د جولای ۳] نېټې له کنفرانس وروسته ګوند د یوه یوموټي د [ا. خ.ډ.ګ] په نامه یادیده. له دې امله پرکال دیارلس سوه او اووه پینځوسم [۱۹۷۸ز] د ګارد په لومړني سازمان کې د ازمایښتي غړي او پرکال دیارلس سوه اته پینځوسم [۱۹۷۹ز] د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په اصلي غړیتوب ومنل شوم .

۲ (د غوایي له کودتا مخکې د جمهوري په اردو کې د دواړو خواوو افسران ول. ولسشر ، ارواښاد صاحبجان او په څه ناڅه ډول د دفاع د وزارت مشرتابه د پرچم د ډلې کدرونه پیژندل.د ګارد د کشف آمر عبدالحق علومي د خلق دډلې افسران اوما (عبدالرحیم شادان) چې په هغه وخت کې د ګارد د پیژند مدیر وم پرچمي افسران پیژندل .

۳ ( له دیارلس سوه څلور پینځوسم [۱۹۷۴ز ] وروسته د ولسمشرۍ او د دفاع د وزارت د مشرتابه د لومړنی څپې ټکان د پرچم د ډلې پرافسرانو ورغلې. په لومړي پړاو کې د ولسمشرۍ د ګارد بولندوی ښاغلی ضیا مجید په هند کې د پوځي اتشې په توګه وټاکل شو .

په دیارلس سوه او پینځه پینځوسم او دیارلس سوه شپږ پینځوسم [۱۹۷٦ او ۱۹۷۷] کې ، د پرچم د ډلې اتلس تنه افسران چې ګڼ شمیر یې د ګوند نامتو کدرونه ول او د خلق د ډلې لس تنه افسران له ګارد څخه د (دفاع د وزارت)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرکز او یا د ولایتونو قطعاتو ته تبدیل شول. البته ، له دې سره سره د دواړو ډلو افسران د غوايي د کودتا تر شپو ورځو پورې د ولسمشرۍ د ګارد په جزوتامونو کې جذب او ځای پرځای شوي ول .

۴ ( دغوايي له کودتا وروسته د (پرچم) د ډلې له دوه ویشت تنو څخه چې ګڼ شمیر یې د ګوند کدرونه ول په لوړو ګوندي او دولتي مقامونو وګومارل شول چې د یوشمیر نامتو کسانو نومونه یې په لاندې ډول دي :

-ښاغلی ضیا مجید د ولسمشرۍ د ګارد بولندوی/ په هند کې پوځي اتشه/ د ملي دفاع د وزارت د نړیوالو اړیکو مدیر

-ارواښاد ډګرمن ګل آقا خان د ولسمشرۍ د ګارد د اوپراسیون آمر/ د غوايي له کودتا وروسته تر برید جنرالۍ ورسید/ د هرات د اوومې فرقې بولندوی، د ملي دفاع د وزارت د سیاسي چارو رئـیس او د افغانستان د خلکو د ډیموکراتیکې جمهورۍ د انقلابي لوړې شورى مرستیال

-ډګرمن سید جان د ګارد د اوپراسیون د آمریت مرستیال/ د غوايي له کودتا وروسته

د تورنجنرالۍ تر رتبې ورسید/ د افغانستان د خلکو د ډیموکراتیک جمهوریت د وسله وال ځواک د سرقوماندانۍ د پوځ د څانګې پازوال

-ارواښاد عبدالحق علومي د ولسمشرۍ د ماڼۍ د کشف آمر/ د غوايي له کودتا وروسته د تورنجنرالۍ تر رتبې ورسید/ په کندهار کې د دولتي امنیت (خاد) رئـیس ، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې د عدل او دفاع مشر

-محمد عزیزحساس د ولسمشرۍ د ګارد د تشریفاتو د ټولي بولندوی/ د غوايي له کودتا وروسته د تورنجنرالۍ تر رتبې ورسید/ د ولسمشرۍ د ګارد بولندوی ، د حربي پوهنتون د قوماندانۍ مرستیال ، د دولتي امنیت (خاد) د لسمې اداري رئـیس

-جګتورن سید حسن رشاد د ګارد د دویم کنډک بولندوی/ د غوايي له کودتا وروسته د تورنجنرالۍ تر رتبې ورسید/ د ستردرستیز د امنیت آمر

-ډګرمن محمد نادر خان وردک د ولسمشرۍ د ګارد د تشریفاتو د کنډک بولندوی

-جګړن دستګیرخان د ولسمشرۍ د مخابرې د آمریت مرستیال

-یو شمیر ټیټ پوړي افسران اوبریدګي چې د غوايي له کودتا وروسته یې په سرښندنې ارزښتناکې دندې تر سره کړې د مډالونو او دولتي نښانونو په ورکړې و ستایل شول

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خلق د ډلې د غړو شمير لس تنه وو. هغوی هم د غوايي له کودتا وروسته د خلق په ګارد او د وسله وال ځواک په قطعاتو کې په سرښندنې سترې دندې ترسره کړې

۵ ( د غوايي د مباشتې په اوومه د پنځنۍ په ورځ [۱۹۷۸ز د اپريل ۲۷] د دفاع د وزارت په لاربښوونې د مرکز او ولايتونو په ټولو قطعاتو او ګارنيزيونونو کې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مشرتابه د نيول کيدلو او زندان ته د هغوی د لويدلو په خوشحالۍ د ښادي لمانځنې په لاره اچول شوې وې. د ګارد د جزوتامونو په ګډون ټول قطعات د سهار له نهو بجو وروسته د ښادۍ د لمانځنې په خوښيو بوخت ول. د ورځې د يولسو بجو په شااو خوا کې د دفاع وزارت ټولو قطعاتو په ځانګړې توګه د ولسمشرۍ ګارد ته دنده ورکړه چې د ولسمشرۍ له ماڼۍ څخه دفاع وکړي. څکه د پينځلسم او ځلورم زغره وال ځواک شوبلې او محاربوي ماشينونه له خپل وضع الجيشي حالته دباندې را وتلې او د ښار پر لور په خوځېدو وې .

ارواښاد صاحبجان د دفاع د وزارت د لارښوونې له ترلاسه کولو وروسته د اضطرار حالت اعلان او امر يې ورکړ چې د ولسمشرۍ د ګارد ټول جزوتامونه دې له ارګ ، جمهوري رياست او ګارد څخه په ساتنه کې چمتو شي .

د ګارد جزوتامونو ، له خپل پرسونل او په خپل جوړښت کې له ټاکلې وسلې سره چې لا مخکې په لومړۍ درجه احضاراتو کې راغلي ول په ډير لنډ وخت کې (درې نيمې دقيقې) د ټول سئ په ډګر کې راټول او له هغه ځايه يې خپلو دفاعي مورچلونو ته مخه کړه. هغوی له مورچل نيولو وروسته دفاع را پيل کړه .

په پيل کې [د ګارد � ژ] ټولو خلقي او پرچمي افسران له سمبالو وسله والو جزوتامونو سره ټاکلې سيمې او مورچلونه ( چې مخکې يې په څو څو ځله د لومړي درجه احضاراتو په ترڅ کې د مورچلونو د نيولو تمرين کړی وو) و نيولې او له ارګ ، ګارد او جمهوري رياست څخه په دفاع کې ښکېل شول .

په هماغو لومړيو شيبو کې چې د پينځلسم زغره وال ځواک ۷۱۵ شميرې شوبلې د دفاع د وزارت پروداني او د ارګ پرختيځې دروازې ډزې وکړې ؛ د ولسمشرۍ د ګارد د لومړي کنډک بولندوی ارواښاد محمد سرور خان (د ګارد د ختيځ اړخ د دفاع او ساتنې پازوال) خپلو ترلاس لاندې سرتيرو او جزوتامونو ته داسې امر ورکړ: " د پينځلسم او څلورم زغره وال ځواک شوبلې او محاربوي ماشينونه چې ګارد ، ارګ ، جمهوري رياست اويا د ملي دفاع وزارت ته نيږدې کيږي او ډزې وکړي د سترګو په رپ کې د توغنديو تر اور لاندې ونيسئ او درې وړې يې کړئ ".

د جزوتامونو بولندويانو او پرسونل (سرتيرو) په بيړه پر شوبلو او محاربوي ماشينونو په سپکو توغنديو هغه شوبلې چې د دفاع د وزارت پر ودانۍ او د ارګ پرختيځې دروازې يې ډزې کړې وې له کاره و غورځولې. هغوی د ګارد د قراول مخته ، د ختيځې دروازې مخته او د سلامخانې دروازې مخته ( د څلورم زغره وال ځواک او د شهيد عمر قطعه) راغلي محاربوي ماشينونه او په هغو کې ناست پرسونل درې وړې کړل او وسوځېدل .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د غوايي د اوومې د پيښنو په لړ کې شهيد ډګرمن محمد سرورخان او يو شمير په وسلو سمبال افسران د ګارد او ارګ مخته پرسړک ننوتل او د برغلګروشوبلو ٦۴ تنه پرسونل چې د ګارد دېرله پسې توغنديو او نورو وسلو دډزو له امله له خوځښته پاتې شوي ول او يا د ارګ اوګارد پر لور د خوځښت زړه يې نه درلود پلي او ټول يې بندي او تر جدي څار لاندې يې ونيول. نيول شوي کسان د هماغې ورځې د سهار ترشپږو بجو پورې تر هغو شېبو چې ګارد تسليميده ، هماغلته ول .

٦ ( له دې چې د پوځي کودتا لارښوونه او امر د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د پرچم د ډلې له پلوه نه ورکړل شوې ، د پرچم د ډلې افسران د ماښام تر اوو بجو پورې د اړيکې د نشتوالي له امله د پيښې له لامل څخه خبر نه ول ،ځکه چې د ګارد او جمهوري رياست د ټلفوني اړيکو ټولې اړيکې پريک شوې وې. هغوی د مخابرې د آمريت مرستيال دستګيرخان ته دنده ورکړه چې له ګارد څخه دباندې ووځي او د بشپړو مالوماتو له تر لاسه کولو وروسته دې بيرته ارګ ته راشي .

د ستګيرخان د هر ډول ګواښ په منلو د ارګ تر ديوال لاندې ويالې له لارې له ارګه دباندې ووت. نوموړی د مالوماتو له تر لاسه کولو وروسته د ماښام په اوو بجو بيرته راغی او د پرچم د ډلې افسرانو ته يې خبر ورکړ چې کودتا د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د خلق ډلې پيل کړې ده .

له هغه وروسته د پرچم د ډلې افسرانو د ګوند د پوځي څانګې د ملاتړ پياوړتيا ته ملا وتړله. همدارنګه د جزوتامونو بولندويانو چې ګڼ شميرېې د ګوند د دواړو ډلو غړي ول له دفاع څخه لاس پر سر شول او د ګوند په ګټه يې هڅې پيل کړې .

٧ ( ارواښاد صاحبجان د ګارد د بولندي (د قوماندې په قرارګاه) په ځای کې وو او کله نا کله به د ګلخانې ماڼۍ ته د ولسمشر د ليدلو لپاره په تګ راتګ کې وو. د کنډکونو ، ټوليو او بلوکونو بولندويانو له خپلو مورچلونو څخه دفاع کوله .

د ماښام له شپږو بجو وروسته د جمهوري رياست په هوايي چاپيريال کې د هوايي ځواک الوتکې راښکاره شوې او جزو تامونه په ځانګړې توګه د دلکشا د ساعت برج ته څيرمه د دافع هوا) سټريلا 2 (Mټولی او د ارګ د سويلي ديوال اړخونه يې تر اور لاندې ونيول. د ) دافع هوا د سټريلا 2 (Mد ټولي بولندوي بريدمن چوپان د الوتکو د ماشينګڼو د ډزو له امله شهيد شو.

د ماښام له اوو بجو وروسته بم غورځوونکو الوتکو د ګارد ټولې سيمې ، ارګ او د دلکشا پر بڼ د بمبونو وَريا پيل کړه. د هغې په پای کې په ارګ کې دننه يو شمير زيرمتونونو اور واخيست او د اور په لمبو کې ايرې شول .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د پینځلسم زغره وال ځواک شوبلو د آریانا له څلور لاندې ، پښتونستان واټ او د کابل هوټل له شا او خوا د ګارد او ارګ پر ودانیو پرله پسې ډزې کولې. د همدغو ډزو له امله د ګارد دروغتون د ودانۍ یوه څنډه " د افغانستان بانګ" ونړیدله .

د ماښام له اتو بجو وروسته د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د خلق ډلې په دې نامه چې یرغلګر ځواکونه د دلکشا بڼ ته ننوتلي او غواړي له هغې لارې ګارد او ارګ ته ننوځي د ګارد د لومړي کنډک سرغندویه او هڅاند بولندوی یوه ګوټ ته بیایي او هلته یې په شهادت رسوي ( نوموړي له خپلو جزوتانونو سره یوځای د ارګ له ختیځ اړخ ، ګارد او جمهوري ریاست څخه په سرښندنې اوسرسپارلې توګه دفاع کوله)

د شپې له لسو بجو وروسته د ګوند د لاړښوونې پر بنسټ اغیزمن تبلیغات ترلاس لاندې ونیول شول: " که جمهوري ګارد تسلیم نه شي ، لاړښوونه شوې چې پرګارد او جمهوري ریاست دې ۵۰۰ کیلویي بمونه و ورَول شي ترڅو ټول له خاورو سره یو شي ".

د غوایي په اتمې نیټې د سهار په څلورو بجو [۱۹۷۸ د اپریل په ۲۸] سردار محمد داؤود ، د ګارد بولندوی صاحبجان، د ګارد د اوپراسیون مرستیال سیدجان او د ګارد د کشف آمر عبدالحق علومي را غواړي او ارګ ته د نورو ځواکونو له پلوه د مرستې د نه رسیدلو او د مقاومت د بې ځای والي په پام کې نیولو داسې وویل:

"نه غواړم ځوانان له منځه ولاړ سي. د دې لپاره چې د ډیروځوانانو د وژل کیدلو مخه نیول شوي وي ، ګارد تسلیم کړئ. زه نه تسلیمېږم. ما د دفاع د وزارت ، صدارت او د ولسمشرۍ په پـ�ٌستونو کې هیواد او ولس ته سپیڅلي خدمتونه کړي دئ. هېڅکله مې افغانستان او د افغانستان ولس ته خیانت نه دئ کړئ. که ما کومه پازوالي یا جرم درلود نو ما دې د افغانستان د ولس په نیاو کې محکمه کړي ".

د ولسمشر له لاړښوونې او د ګارد د بولندوی د امر پربنسټ د سهار له څلورو بجو وروسته د ارګ د ساعت د برج (ختیځې دروازې) پرسر سپین بیرغ لوړ او د تسلیمیدلو تابیا تر لاس لاندې ونیول شوه.

۸ ( ماسردار محمد داؤود څو څو ځله د ګلخانې په ماڼۍ کې ، او کله چې هغه د ودانولو له پروژو څخه لیدنه کوله او هم عربي هیوادونو ، یوګوسلاویا ، سویس ، ترکیې او هند ته د سفر پر مهال لیدلی دئ. چال چلند یې له سپیڅلې دوستۍ ډک وو او سړي ته یې زړورتیا وربخښله .

په هغه شیبه کې چې صاحبجان ولسمشر ته د ګلخانې ماڼې ته مخامخ لارۍ برابره چې کړه چې که وغواړي د فرانسې سفارت (یا بل لوري) ته ولاړ شي د محمد داؤود روحیه ډیره لوړه وه. (هغه ونه منله چې له ارګ څخه ووځي). خو د هغه د هملارو ملګرو په ځانګړې توګه د کابینې د غړو روحیه چې په هماغه ورځ د وزیرانو په غونډه کې یې ګډون کړی وو ، ډیره الوتې او ضعیفه وه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره له دې چې ما له کابل څخه خپل یادښت لیکونه نه دي راوړي که تاسو د ارګ ، ګارد او جمهوري ریاست په اړوند نورې پوښتنې هم ولرئ مالومات به درکړم. والسلام. عبدالرحیم شادان ، جرمني ، د دیارلس سوه او اتیایم کال د چنګاښ شپږمه [۲۰۰۱ز کال د جون ۲۷]

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم لیک

ښاغلی..... ،

د سلام او درناوي له وړاندې کولو وروسته هيله من يم چې له خپلې کورنۍ او خپلوانو سره روغ او رمې اوسئ. ستاسو د ديارلس سوه او اتيايم کال د لړم د مياشتې د ديارلسمې [۲۰۰۱ د اکتوبر د ۲۹] نېټې ليک را ورسيد. دا دئ هغه ټکي چې زما په ياد دي سپړنه يې په لاندې ډول تاسو ته وړاندې کوم :

۱ ( د ولسمشر سردار محمد داؤود او د جمهوري ګارد د بولندوی د لارښوونې پربنسټ د افغانستان د پخواني پاچا محمد ظاهر شاه د حسابي او عايداتي شتمنيو د پلټلو لپاره يو څېړونکی پلاوی په لاندی ډول جوړ او وګومارل شو :

ښاغلی محمود لطيف د محمد ظاهر شاه شخصي مرستيال چې په هاغه وخت کې يې د لنډ مهال لپاره د جمهوري رياست اداري چارې پرمخ بيولې : د پلاوي مشر/ عبدالرحيم شادان د جمهوري ګارد د پيژند مدير : د پلاوی مرستيال او غړی/ ښاغلی آقا محمد د ګارد د مخابرې آمر: د پلاوي غړی/ ښاغلی ....(نوم يې زما په ياد نه دئ) د لوژستيک محاسب : د پلاوي غړی

پلاوي دنده درلودله چې د قلم مخصوص او شتمنيو ( کاريز مير او دره آجر) حسابي چارې له نيږدې و پلټي ، کنترول يې کړي او ويې څيړي .

۲ ( د پخواني پاچا د کورنۍ غړو د چنګاښ له کودتا مخکې [۱۹۷۳ د جولای ۱۷] په ډېر پرتم اودرناوي بهر ته سفرونه کول. له لوړ پوړو مامورينو او د هوايي ډګر د امينت له آمر پرتهVIP خونې يا د الوتکې څنګ ته چا نه شوای کوای هغوی ته ور نيږدې شي. له کودتا وروسته کله چې د پاچا ميرمنې او د کورنۍ نورو غړو غوښتل روم ته سفر وکړي ، د هغوی توکي او بکسونه د يوه ټيټ پوړي افسر له پلوه ضبط شول .

د هغه وخت د کورنيو چار د وزارت د ژاندارم او پوليسو د لوی بولندوی د لارښوونې پربنسټ د محمد ظاهرشاه د کورنۍ نقدي او جنسي توکي چې په يوه اوسپنيز صندوق کې ځای پرځای شوي ول د کابل د هوايي ډګر د امنيه قوماندانۍ د چارواکو له پلوه ونيول شول .

دغه بکس د جمهوري رياست د لارښووني پربنسټ له هوايي ډګر څخه " دافغانستان بانک" ته وليږل شو چې هلته ساتل کيده. نوموړي توکي د ښاغلي محمود لطيف ، عبدالرحيم شادان ، ارواښاد صاحبجان ، ښاغلي محمد موسی عظيمي له پلوه چې په هاغه وخت کې "د افغانستان بانک" مرستيال وو لاسليک ، مهر او په نښه شو .

۳ (د پلټنو د لاسوند په څلورمې مادې کې راغلي : " څرمن لاسي نصواري بکس چې په تَـل کې يې سره زر او جواهر دي په سرتړلي توګه له پوښ سره يوځای د يوولسو کيلوګرامو په وزن د مخکيني پلاوي له پلوه وزن ، په نښه او لاسليک شو ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴ ( کله چې پلاوي بکس خلاص کړ ومې لیدل چې په بکس کې دننه یو شمیر سره زر لکه په غمیو پسولل شوي د غاړې د سرو زرو گرانبیه هارونه ، گوتې او والیگان د بکس په کښتنۍ برخه کې ځای پرځای شوي ول .

د څرمن بکس په تَل کې یو شمیر ډالر (چې شمیره یې زما له یاده وتلې) هم چې د سرو زرو ترڅنگ په پاکټونو کې اینبودل شوي ول د کابل په هوایي ډگر کې د شاهي کورنۍ له لاسه واخیستل شول .

۵ ( د غه توکي او اسعار له یوه کال او څو میاشتو وروسته د نوموړېکورنۍ د غړو د نومونو له څرگندیدلو او د پلاوي له نښو او لاسلیک وروسته د هریوه په نامه او پټې په بیلا بیلو پاکټونو کې د(شاهي کورنۍ د استازي) محمد علي سلیمان له لارې چې په هغه وخت کې یې د بهرنیو چارو د وزارت د تشریفاتو په ریاست کې دنده تر سره کوله روم ته ولیږل شول. ( د اسعارو شمیره د هریوه په نامه : له ۵۰۰ او ٦۰۰ ډالرو تر ۸۲۰ او ۱۱۰۰ ډالرو پورې او تر ټولو غټه شمیره یې ۱۸۰۰ ډالره وه (

٦ ( د جمهوریت په لومړیو او دویمو کلونو کې [۱۹۷۳ او ۱۹۷۴] په صندوق کې دننه د سرو زرو په څرمن بکس کې له ځای پرځای شویو اسعارو پرته ، محمد ظاهر او کورنۍ ته یې نورې پیسې ونه لیږل شوې. د جمهوریت د دریم کال په پای او د څلورم کال په پیل [۱۹۷۵ او ۱۹۷٦] کې د محمدظاهر د اقتصادي ستونزو په پام کې نیولو د هغه د شتمنۍ او بانکي ونډې له گټې څخه په مپاشت کې دوه زره ډالر د شاهي کورنۍ د لگښت لپاره لیږل کېدل. همدا رنگه په دیارلس سوه او پینځه پینځوسم کال کې [۱۹۷٦ز] کې د پاچا د بانکي ونډې بیه د یوه چک له لارې هغه ته ولیږل شوه .

۷ ( د هغه ترڅنگ د پاچا د کار په دفتر کې یو ټوک په لاس لیکل شوی کتاب ، لرغونې خطي نسخې او ارزښتناک کتابونه د محمد ظاهر په کتابتون کې ول. دغه ټول د اطلاعاتو او فرهنگ د وزارت، ملي آرشیف ، د دفتر د ریاست او د جمهوري ریاست او گارد د یوه بشپړ او سمبال شوي پلاوي له لارې ملي آرشیف ته ولیږل شول .

۸ ( ددې پوښتنې په ځواب کې چې آیا د غوایي د مپاشتې [۲۷ اپریل ۱۹۷۸ز] کودتا ناکامه یا شنډه کیدای شوای ،باید وویل شي :

سره له دې چې د جمهوري گارد سرتیرو او بولندویانو د غوایي د مپاشتې د اتمې [۲۸ آپریل ۱۹۷۸] د سهار تر څلورو بجو پورې په ټینگه او سرښندنې له گارد ، جمهوري ریاست او خپلو مورچلونو څخه دفاع وکړه له دې چې په گارد کې دننه د گوند ډیرغړي ول له دې امله د وسله ځواک پروړاندې مقاومت بې ځایه او د کودتا شنډول نا شوني ول .

په حقیقت کې د همدغې خبرې په پوهیدا سردار محمد داؤود لارښوونه وکړه چې :" گارد تسلیم کړئ تر څو ځوانان ونه وژل شي "...

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وروستيو کلونو کې که د افغانستان په کورنيو چارو کې د سترو هيوادونو لکه امريکا او چين او د عربي هيوادونو، ايران او پاکستان لاسوهنې نه وې شواى او د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند کورنۍ ګوندېيمارۍ او شخړې هوارې شوې واى ، د افغانستان وسله وال ځواک دومره پياوړى شوى وو چې په ۱۹۹۲ زکال کې يې دولت پرته له کوشني مقاومته نه تسليماوه ".

ستاسو د بريا په هيله. والسلام. عبدالرحيم شادن ، جرمني ، د ديارلس سوه او اتيايم لمريز کال د لړم يوويشتمه نېټه [۱۲ نوامبر ۲۰۰۱ زکال]

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library






## یوویشتمه برخه

د " مرجان" د پردې ترشا نقشه جوړوونکی

د دیارلس سوه او اووه پینځسوم لمریز کال د غوایي د اوومې له کودتا مخکې هم د محمد داؤود خان د وژلو نقشې کښل شوې وې. د دغې نقشې په خاورو کې د چا د لاس نښې په سترګو کیږي؟ دغې پوښتنې ته د سم یا لږ تر لږه رښتیا ته د نیږدې ځواب موندلو لپاره باید د څو سمو او ناسمو ګزارشونو له کړلیچونو څخه واوړو.

۱ ( مرجان او توره په شاتګپالنه یا ارتجاع

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي باور كول پرې گران وي ، خو د ميرمحمد صديق فرهنگ د " افغانستان در پنج قرن اخير" كتاب په ۸۴۱ پاڼه كې [ لومړی چاپ ، د عرفان ، تهران/ايران له خپرونو ، د غوايي مياشت ، ديارلس سوه او څلور اويايم لمريز كال � ۱۹۹۵ ز كال ، اپريل] د علي احمد خرم د وژل كيدا په اړه لاندنۍ پاراگراف په سترگو كيږي :

"[پركال ؟] د نوامبر په مياشت كې د پلان وزير علي احمد خرم چې له يوه جاپاني پلاوي سره د خپل كار په دفتر كې په خبرو اترو بوخت وو د پوليسو د ساتونكو د افسر د سترگو تر ښار لاندې د يوه سړي په لاس چې په وچ زور د هغه دفتر ته ننوتلی وو را و ايستل شو او د سړک پرغاړه د تومانچې په مرمۍ ووژل شو. وژونكي چې د پلان له وزير څخه غوښتل نوموړی دې تر هيواد مشر [محمد داؤود] پورې ورسوي ، د سړک د غاړې په څنه گونه كې ورک شو. خو وروسته د مرجان په نامه يو سړی د بگراميو پرسړک له يوه ښكاري توپک سره و نيول شو او د نياوتون د حكم پربنسټ د وژونكي په توگه تورن و بلل شو. كمونيستانو پر هغه د اخواني تور ولگاوه خو د هغه وخت د عدليې وزير نوموړی پرچمی و باله. له دې چې خلكو پر حكومت ويسا او ډاډيينه نه درلودله نو د هېڅ لوري پر خبرو يې باور ونه كړ. څرگنده نه ده چې هيواد مشر له ربښتينو خبرو تر كومې كچې خبروو خو خاورو ته د علي احمد خرم د مړي د سپارلو پر وخت د هغه وژونكی يې د توري ارتجاع له چوپړيانو څخه و گاڼه." بس .

۲ ( مرجان چېې وو كې ښي اړخی؟

"د پلان وزيرعلي احمد خرم ووژل شو : پلټنو څرگنده كړه چې وژونكی [مرجان] په چپيانو پورې تړلی وو خو له ورايه له اخوانيانو سره يو ځای شوی وو. هيواد مشر [محمد داؤود] د مړي د ښخولو پر مهال گواښ وكړ او ويې ويل : دولت به هېڅكله او هېڅ څوک كه چپي وي كه ښي اړخی پرينږدي چې د افغانستان له برخليک سره لوبې وكړي. خاورو ته د علي احمد خرم د مړي د سپارلو پرمهال د شوروي سفير هم راغلی وو. ( د " قيام جمهوريت بيست و شش سرطان سيزده پنجاه و دو هجري شمسي" [ ۱۹۷۳زكال د جولای ۱۷] د كتاب ۱۹ پاڼه ، ليكوال او ټولگر : ديپلوم انجنير كريم عطايي ، دويم چاپ ، سنټ گلن ، سويتزرلند ، ۲۰۰۴ز كال)

۳ ( مرجان ، گلبدين حكمتيار او جيمي كارټر

"د ديارلس سوه شپږ پينځوسم لمريز كال د لړم د مياشتې په څلورويشتمه نېټه [۱۹۷۷ز كال د نوامبر ۱٦] په رڼا ورځ د پلان د وزير علي احمد خرم وژنه يوه بوږنوونكې پيښه وه. د مرجان په نامه د لغمان د ولايت استوگن يو ښوونكی چې كمونيستي ليد لوری يې له ورايه څرگند وو د وزارت په ودانۍ كې د پلان له وزير څخه د ليدنې كتنې غوښتنه وكړه. دغه غوښتنه په ډير ټينگار او له گواښونو ډكه وه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزیر له جاپاني پلاني پلاوي سره خپله غونډوه وځنډوله او مرجان سره د لیدنې په موخه د غونډې له خونې راووت. د مرجان له ګواښه ډکه غوښتنه پر همدغه ځای پای ته ونه رسیدله. مرجان له خرم څخه وغوښتل چې هغه دې هیواد مشر داؤود ته و رسوي. خرم چې د ګواښ او ویرې په منګولو کې راښکیل شوی وو د مرجان غوښتنه و منله او له هغه سره د ارګ پرلور وخوځید .

د [دواړو ترمنځ] د پوښتنو او ځوابونو لړۍ اوږده شوه.د وزیر مرستې ته کوم مأمور یا څارندوی را ونه دانګل. وزیر مخته او ترشا یې مرجان د وزارت له ودانۍ د ارګ پر لور په خوځېدا شول. علي احمد خرم د وزارت د ودانۍ مخته د مرجان د تومانچې د ډز له امله پر ځمکه را پریوت. وزیر ته د مرستې په رسولو کې ډیر ځنډ شوی وو. نوموړی په روغتون کې مړ شو .

مرجان و تښتید او په شاه شهید مینه کې په خپل کور کې پټ شو. له پلټـنيزو هڅو او مقاومت پرته نوموړي له خپلې تومانچې سره ځان پولیسو ته وسپاره. نوموړي داؤود ته څرګنده کړه چې وزیر د وزارت په ودانۍ کې خوندي نه دئ .

خاورو ته د خرم د جنازې د سپارلو په وخت کې د ملګرو او عربي هیوادونو د سفیرانو تر څنګ د شوروي سفیر میخائـیلوویچ پوازنوف هم راغلی وو. داؤود له ویرغاړۍ او نومیدۍ ډکه وینا واوروله. هغه چې نه شوای کولای خپل احساسات په خپل واک کې وساتي له دواړو د امریکا له متحده ایالاتو او شوري اتحاد څخه سر ټـکـونه وکړه او زیاته یې کړه چې د شوروي په مرستو کې هم شخصي ګټې نغښتې دي. ( د داؤود خان دغه وینا په رسنیو کې خپره نه شوه. د اطلاعاتو او کلتور وزیر عبدالرحیم نوین په بیړه د راډیو ودانۍ ته راغی او وینا یې له منځه یووړه.)

د پیښې د پلټنې لړۍ پیل شوه. د پیښې په تړاو ډیرې ریښې او څانګې و ځغلیدلې او بېځایه و پړسول شوه. یو شمیر مأمورین په پلټـنو کې وګومارل شول. مأمورینو ته د شپې تنخوا وټاکل شوه او د کورنیو چارو د وزارت ترځمکلاندې ودانۍ د پلټنو لپاره په پام کې و نیول شوه .

د نوي اساسي قانون پربنسټ د پلټنې واک څارنوالۍ ته ورکړ شوی وو خو څارندویانو و کولای شول د " مرستندویانو" تر نامه لاندې د پلټنې لړۍ ته لاره ومومي او په پای کې د پلټنې د پرمختګ لړۍ په خپله ولکه کې ونیسي. د پلټنې په ډله کې یوشمیر پیژندل شوي او ښکاره څارندویانو لکه باقي ، نبي ، اتمر، همکار ، قطره ، خیر محمد او نورو پرچمیانو برخه درلودله او څارنوالانو ته څرمه یا فرعي ونډه ورکړل شوه. ( د څارنوالو پر تندیو لا له پخوا د اخوانیت ټاپې لګول شوې وې ، ځکه چې د هغو په منځ کې یو شمیر د شرعیاتو له پوهنځي څخه راوتلي کسان هم ول.)

له هغه وروسته چې مرجان خپله خوله په څرګندونو او منلو پرانیستله او د علي احمد خرم وژنه او خپله اړیکه یې له اخوانیانو سره په تړاو ومنله نو د څارنوالانو ویره او وحشت لا زیات شو. له دې امله هغوی د څارندویانو برلاسۍ ته غاړه کښیښوده .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عدليې وزير وفي الله سميعي او د هغه مرستيال عبدالهادي هدايت کمزوی دريځ درلود ځکه، د هغوی پر نومونو د اسلامي غورځنګ د غړو او د " اخوانيانو" تور لګول شوی وو. له دې چې د عدليې وزير د چنګاښ په کودتا کې ونډه نه درلوده نو دې امله د دويمې کچې وزيرانو په کتار کې شمېرل کيده. نور څوک هم نه ول چې داؤود د پيښو له لړۍ او جرړوڅخه خبر کړي .

مرجان نه ووهل شو او نه وځپل شو او په خپله خوښه او زړه يې خوله په خبرو پرانيستله. وژونکی يوازې يو سړی وو او د پلټنې د ډلې غړي ډېر ول. د پوښتنو او ځوابونو لړۍ تر يوې مودې دوام وکړ. دوسيه بشپړه شوه او په پای کې په راډيو کې يې خبر ورکړل شو .

په دغه پيښه کې د امريکا متحده ايالات او د هغه هيواد ولسمشر نيغ په نيغه، ګلبدين حکمتيار او په ولسي جرګه کې د شينوارو استازی محمد اعظم شينواری د لاس لرلو په تور پړ وبلل شول .

وژونکي داسې ومنله : " ګلاب الدين حکمتيار د جيمي کارتر په لارښوونه د شينوارو له استازي محمد اعظم سره په ګډه د مير علي احمد خرم د وژنې نقشه جوړه کړه. ددغې نقشې په پلي کولو کې ما [مرجان] ته حکمتيار لارښوونه را کړه او ما د کارتر نقشه پلې کړه ".

)له دغې پيښې مخکې د جبل السراج د سمنټو د شرکت مشر، مهندس شيرآقا چې د محمد داؤود د ملي کلوپ د دور د ملګرو له ډلې څخه شميرل کيده په خپل کورکې پرته له دې چې د کور شيانو ته يې لاس ور وړل شي ، ووژل شو. داسې انګيرل کيږي چې دغه وژنه کوم پاخه او تکړه جنايتکار په پخسناکۍ (غصه) او سړې سينې تر سره کړې وي (

محمد داؤود د پلټنې د ډلې جاج او په دوسيه کې وړاندې شوي لاسوندونه و منل. دوسيه په عادي توګه نياوتون ته وليږل شوه. هغوی ونه شوای کولای چې خپلې خپرې کارتر ، حکمتيار او د شينوارو استازي ته و غځوي ، په پای کې يوازې د مرجان په زنداني کولو بسنه وشوه .

سره له دې چې مرجان کولای شوای و تښتي خو سرښندنه يې ومنله. خو که مرجان تښتيدلای وای چا کولای شوای د جيمي کارتر او ګلبدين حکمتيار پښه په دغه پيښه کې ښکيل و ګڼي؟

په همدغه وخت کې د شينوارو استازی محمد اعظم شينواری د محمد افضل خان شينواري زوی د ديورند له کرښې هاخه غاړه واووښت او وتښتيد. نوموړي د شينوارو په سيمه کې ژوند کاوه او په جهاد کې يې هم برخه واخيستله. سره له دې چې د نور محمد تره کي او حفيظ الله امين د رژيم پروخت د هغه د کورنۍ ښځمنې او کوشنيان د څرخي پله زندان ته لويدلي ول ، پرکال ديارلس سوه او اووه شپيتم [۱۹۸۸] د ډاکټرنجيب په بلنه کابل ته راغی او د ننګرهار د والي په توګه وټاکل شو .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



)ډاکټر حقشناس د خپلو نورو ليکنو په شان پرته له دې چې لاسوند وړاندې کړي د " دسايس و جنايت روس در افغانستان" د کتاب په ۴۷۴ پاڼه کې له عبدالسميع ژوند څخه نوم اخلي او هغه د مرجان د پيښې د نياوتون (محکمې) د مشر په توګه يادوي. ښايي د هغه موخه د عدليې د وزارت د پلټنو رئـيس سميع الدين ژوند وي ، ځکه د عبدالسميع ژوند په نامه نه کوم څارنوال وو او نه کوم ورمنډګر 'قاضي ("

د غوايي له اوومې [۱۹۷۸ز کال د اپريل ۲۷] وروسته مرجان له چا سره ونه ليدل. ويل کيږي چې ښايي مرجان روسيې ته ليږل شوی وي. (سره له دې چې مرجان د خلق د ډلې غړيتوب درلود خو بياهم د نورالاميني او اميني په رژيمونو کې په زندان کې پاتې شو او آزاد نه شو.خلقيانو ادعا کوله چې نوموړي له ګوندي لارښوونو څخه سرغړونه کړې ده. دا خبره ددې لامل شوه چې مرجان ليونی شي. د ببرک د رژيم پرمهال هم مرجان د څو مودې لپاره په زندان کې پاتې شو. هغه پرکال ديارلس سوه دري شپيتم [۱۹۸۴] تر درمنلې لاندې ونيول شو او پرکال ديارلس سوه او څلورشپيتم [ ۱۹۸۵] له بند څخه خلاص شو.د هغه مړی څه موده وروسته د کابل د [سړک ؟] ترغاړې موندل شو، داسې ښکاري چې نوموړی د زيات الکهولي څښاک له امله چې [پلاستيکي شراب] بلل کيدل مړ شوی وي. [ د [داؤود خان د کې جي بي په لومو کې/داؤود خان در چنګال کي جي بي] د کتاب له ۱۳۳ تر ۱۳٦ پاڼو پورې او هم ۲۹۸ پاڼه، د الف هارون ليکنه ، ژباړه ، سـَمـَونه اوياد‌َونه د حامد، د ميوند د خپرندويې ټولنې خپرونه ، پيښاور/پاکستان، دسامبر ۱۹۹۷[ .

۴ ( مرجان او ډاکټر حليم تنوير

د مرجان په اړه د پورتـنيو مالوماتو ۹۹په سلو کې برعکس د " تاريخ و روزنامـه نگاری افغـانســتان" [د ډاکټرحليم تنويرليکنه ، د صبور د اسلامي مرکز چاپ /پيښاور/پاکستان، جنوري ۲۰۰۰] د کتاب په ۲۱٦ او ۲۱۷پاڼو کې پرته له دې چې د " داؤود خان د کې جي بي په لومو کې / داؤود خان در چنګال کي جي بي " له کتاب او يا د ليکوال او ژباړونکي (الف هارون او حامد) څخه په کوم ګوټ کې ياونه شوي وي ، مالومات ورکړل شوي دي .

دا دئ هماغه سل په سلو کې مالومات چې له هماغه ځايه څخه اخيستل شوي دي :

"د شاهدانو له ډلې څخه يو تن ليکي : " کله چې د ديارلس سوه اووه پينځوسم لمريزکال د مرغومي په مياشت کې [دسامبر ۱۹۷۸] د څرخي پله په زندان کې بندي شوم معلم مرجان مې په دويم بلاک کې وليد. لاس او پښې غورځول او خوځښت يې غير نورماله او يو شيبه يې هم د يوه روغ رمټ انسان په څير خبرې نه کولې. مرجان د يارلس سوه اته پينځوسم لمريزکال د مرغومي په پينځلسمه نېټه [۱۹۷۹ز د جنوري پينځمه] د عمومي بخښنې په ترڅ کې له زندانه خوشې شو ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډاکټر تنویر د "تاریخ و روزنامه نگاری افغـانسـتان" کتاب په هماغه ۲۱۷ پاڼه کې زیاتوي : " رښتیا خبره دا ده چې کمونیستانو مرجان د نوم په بدلون روسیې ته بیولی ، د هغه ماغزه یې ورګډ وډ کړل او د رښتیا د بربنډېدلو د مخنیوی لپاره یې مرجان په یوه لیوني بدل کړ او بیا یې کابل ته را ولیږه چې د هماغې دروهې د رښتونې ختې او تومنې په اړه څه ونه شي ویلای .

څو ترخې پوښتنې : د ډاکټر حلیم تنویر په وینا د مرجان د لاس او پښو غورځول او خوځښت چې غیر نورمال " ول ، نو ولې په بند کې له دوه کاله او څو میاشتو وروسته د هیواد له کرښو دباندې د یوې پیاوړې دستګاه له پلوه دې په " عقـلي ګډوډۍ" ککړ شي او له هغه وروسته دې ورڅخه یو" لیونی" جوړ شي؟ ولې کمونیستانو مرجان روسیې ته بیوه او هلته یې په یوه " لیوني بدلاوه ؟ " آیا کمونیستانو نشوای کولای مرجان ته د څرخي پله په زندان کې یو ساده امپول ورکړي چې خوله یې د تل لپاره ور وتړي او یا یې په یوه لیوني بدل کړي؟ دغه ماجرا یې ولې د " مرجان" د ښایسته نوم له بدلولو څخه را پیل کړه؟ ولې مرجان یې له روسیې څخه بیرته کابل ته راولیږه؟ او همدغو ته ورته څو نورې پوښتنې چې د [ځکه] ځواب نه لري.....

کاشکې ډاکټر تنویر د خپلو خبرو په پیل کې د " رښتیا خبرې ..." ضریب نه وای راوستای او دا یې نه وای هیره کړې چې : داسې یوې دستګاه ته چې د خپلو او پردیو مشرانو وژنه د ودکا د شرابو څښلو په څیر ساده وي ، نو د مرجان په څیر د یوه سرې وژونکي له غاړې ځړول چې پرته له وهلو او ټکـولو یې ویلي ول " ما علي احمد خرم وژلی دئ " ښایي د یوې غوماشې له وژلو هم ساده وي .

که د ډاکټر حلیم تنویر د لیکنې هماغه پارګراف د مشرانو له دغې خبرې سره سمون خوړلای چې " حقیقت یا له ماشوم یا له لیوني وپوښتی" نو دا به ومنو چې ښایي روسیې د مرجان په لیوني کولو او په لوی لاس کابل ته د هغه په بیرته رالیږلو غوښتل د پلازمینې تلوسناک استوګن د " دروهې یا دسیسې په رښتنو" جرړو پوه کړي !

۵ ( مرجان او حفیظ الله امین

"د [افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند] د خلق د څانګې د ډیرو پټو پوځي سازمانونو پازوالي حفیظ الله امین او ډاکټر شاه ولي ، او د پرچم د څانګې د پټو سازمانونو پازوالي نور احمد نور او عبدالوکیل په غاړه درلودله. دغه داوړه سازمونونه د دوه اړخیزه ارګانیک ډاډ د نشتوالي له امله له یو بل سره ټینګ نه ول اوبدل شوي .

د همدغه یو ګوني ګوند د مشرتابه په ټولو پوړیو کې د خلق او پرچم د څانګو فرکسیونونو په برابره توګه ونډه اخیستې وه. د ا.د. خ.ډ.ګ نا اټکل کیدونکي یووالي ، د " ملي غورځنګ" ګوندي مشر سردار محمد داؤود ، واکمنې اشرافي کړی ، بیلابیل ښي لاسي سازمانونه او هم د سیمې په شاتګپالې ټولنې له هر وخت پخوا بوخ، غچ اخیستونکي ، پرغزناک ، ترهوري او په ژوره توګه هیښ پیښ کړل. خو د انترناسیونالیستي یو موټې وروری او د ا.د. خ.ډ.ګ کې دننه د سیاسي او سازماني یو موټیوالي له پېڅې د " ملي غورځنګ" د ګوند د مشرانو له لیونتوبه د ډکو دروهو جرړې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په دغه سازمان کې د نړيوال ښکېلاک د پټو او ښکاره ايجنټانو هڅې په خپل وخت بربنډې او د اصولي نرمښت او نوښت په رڼاکې شنډې او له خاورو سره يو شوې .

د ګوندي يو والي د لړۍ غوړيدا او پرمختـلنه ، د مخ په ودې روڼ اندې ټولنيزې مبارزې چټکتيا ، د ا.د. خ.ډ.ګ د ژوندانه او جګړيزې ورتيا غښتلي کيدل ، د هيواد انقلابي مبارزينو ته دا پياوړتيا ور په برخه کړه چې د واکمن ملي غورځنګ د امر او نهی او د سردار محمد داؤود د ځانغښوتونکي بنسټپالنې او د دولت د نورو لوړ پوړو استازو پر وړاندې د پينځه کلنې ترهګرې پاليسۍ له تراخه زغم وروسته لانجمنه او ډيموکراته جګړه راپيل او د ۱۹۷۶زکال د مې د مېاشتې په لومړۍ د نړۍ د کارګرانو د يوموټيوالي د ښادۍ د لمانځنې په ورځ يې د لومړي ځل لپاره په واټونو کې د لاريونونو د سبمالولو له لارې د رژيم د چوپې خولې د دروهې کړۍ ورماته کړه. خو د د ا.د. خ.ډ.ګ د سياسي بيرو له دغې زړَورې او په وخت برابرې پريکړې څخه د هغه مهال پوليس لا مخکې خبر شوي ول ؛ او دغه خبره د غوايي له پاڅون وروسته را بربنډه شوه .

د سردار محمد داؤود د واکمنۍ په وروستي کال کې د سياسي بيرو د غونډو لړۍ د نورمحمد تره کي د کور د کين اړخ په ګاونډيتوب کې د خپل سري رژيم د پوليسو له پلوه ثبتيدلې او د " ملي غورځنګ" د مشر منګولو ته ور رسيدلې. هر ګوره ، دولت د ګوند له دغې پريکړې څخه په خبريدلو د ا.د. خ.ډ.ګ د مشرتابه پرډلې يې د خپل بريد لړۍ ته چټکتيا ورکړه. مخکې له دې چې سردار داؤود د ا.د. خ.ډ.ګ پرمشرتابه بريد وکړي ايران او عربستان ته يې سفر وکړ او د روحانيت غدکه (چپن) يې پرځان کړه او د بې ځايو پلمو او بېخوندو تلوسو په لټه کې شو .

د سردار محمد داؤود په شان حفيظ الله امين او ببرک کارمل هم هر يوه په بيلابيلو کچو د ګوند د دواړو څانګو د يو والي په تړاو ويرې او انديښنې درلودلې. هغوی د دوه اړخيزو ختاوتنو اوبدګومانيو له امله دې ته غاړه کښينښودله چې د ګوند پوځي سازمانونو له يوبل سره يوځای او و اوبدل شي ، ځکه هغوی ويل چې افسران نه شي کولای پريو بل ډاډه وکړي.

دا چې آيا امين له سردار محمد داؤود سره تړاو او اړيکه درلودله يا نه ، په دې اړه د ډاډ وړ لاسوندونه نشته. خو حفيظ الله امين د سردار داؤود د دولت د بيروکراتيکې واکمنۍ پرمهال په آزاده توګه او د مبارزې د اصولو په نه پام کې نيولو، د پوځي سازمانونو او افسرانو چارې په ډاډه زړه پرته له کومې ستونزې پرمخ بيولې. له بله اړخه د سياسي بيرو کار پوهه غړي به تـل او په پرله پسې ډول د سردار داؤود د کورنيو چارو د وزير قدير نورستاني د څارګرو ځالګيو تر سيوري لاندې څارل کيدل .

د کودتا د رژيم د ملي مصوؤنيت د سازمان دوسيې ددغه انکار نه منونکي حقيقت پرسـتـنې ولاړې وې چې سردار داؤود د ا.د. خ.ډ.ګ د پوځي سازمانونو او افسرانو له کړو وړو څخه په بشپړ ډول خبر وو. هغه د " خلق" د ډلې افسران پيژندل او ددغو افسرانو د هر يوه د نامه ترڅنګ يې (۷) نښه په سره رنګ کاږلې وه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیاسي بیرو د غړو د دوسیو په پرتله د حفیظ الله امین دوسیه پریړه وه. د ګوند د مشرتابه او د پوځي سازمان (د سردار محمد داؤود د ملي مصؤونیت لاسوندونه) ما په خپله د غوایي د پاڅون [۱۹۷۸ز کال د اپریل ۲۷] د لومړۍ اونۍ په پای کې د یوه پلاوي په مشرۍ و پلټلې .

کله چې له واکمنو کړیو سره د حفیظ الله امین د ترېښت په اړه له نور محمد تره کي څخه پوښتنه کیدله هغه به په موسکۍ خوله ، نغوتو ، لغازو او غیر جدي توګه داسې ویل: هماغسې چې موږ د کارګري پاړکې د دوران جوړونکې ایډیالوژۍ د خپراوي لپاره د " پیام وجدان" له خپرونې څخه ګټه اخلو ، پرته له دې چې د واکمنو کړیو اندیښنې را وپارول شي زموږ ګوند ته هم ښایي چې د پوځ په کرښو کې د پیژندل شویو کسانو له لارې د اصوالي نوښت او نرمښت په اډانه کې د مخکښو زیارګالو ایډیالوژي دود او ترویج کړي او د ګوند سیاسي او ټولنیز بنسټ پیاوړی کړي .

که دغه ګومانونه او ذهني ترېښتونه یوې خواته کښیږدو ، په دې شک نشته چې حفیظ الله امین یو انارشېست ، پیښه پاروونکې ، وېلاړ وال (اراده ګرا) ، ځانخوښی ، بیرحمه ، د سړې سینې خاوند، پریکند، څوکۍ پال، لوړتیاپال، تیزهوښه ، هڅاند، زړور او د لوړهوډ لرونکی او د ریاضي ښه ښوونکې وو. هماغسې چې بارق شفیعي یې ستایي ، حفیظ الله امین لیواله وو چې د ګوند د مشرتابه په کړۍ کې " یوازینی بې سیاله" مشر و اوسي. د غوایي له پاڅونه مخکې او له هغه وروسته د هغه په کړو وړو کې پیاوړې ځانـتـنـی ، هرڅه پر خپله ستنه راتاوول (ځان چورلېځ) ، او د واکمنۍ خونړي تمرکز ته د ځرګندو لوڅو پوڅو او هلو ځلو هڅې لیدل کیدلې.

حفیظ الله امین د بهرنیو چارو د وزارت په تالار کې د " دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریزکال د پاڅون" د لومړۍ کلیزې د لمانځنې په ماښامنۍ میلمستیا کې په براالا او ځرګند ډول ویل چې هغه به په افغاني ټولنه کې د ستالین ونډه و لوبوي. د امین د سیاسي ژوند ستره نیمګړتیا او د هغه د ماتې لامل دا وو چې نوموړي د ګوندي او دولتي اصولو اوتګلارو په پرتله شخصي اړیکو ته ډیر لومړیتوب ورکاوه. همدارنګه هغه ګوندي اودولتي کړنلارو او سازماني موازینو ته پاملرنه نه کوله .

باید یوه شو چې طاهربدخشي ، کریم زرغون ، امان الله استوار، ظاهر افق او ابراهیم سامل ټول خلقي کادرونه ول چې د دیارلس سوه او اووه پینځوسم کال د غوایي د مباشتې د اوومې [۲۷ د اپریل ، ۱۹۷۸ز کال] له پاڅون څخه مخکې له امین سره په ګوند کې دننه د شخړو له کبله په یوه بڼه نه په بله بڼه دې اته اړ شول چې له ګوند څخه لاس واخلي. له ډاکټر زرغون پرته ، نورو په بیلا بیلو ډولونو او تکتیکونو په نورو سازمانونو کې په جلا جلا نومونو خپلې مبارزې ته دوام ورکړ .

د حفیظ امین د خپلسرو پارَونو له ډلې څخه یوه یې د دیارلس سوه او شپږ پینځوسم لمریز کال د لړم په پینځه ویشتمه [ د نوامبر١٦ ، کال ١٩٧٧ز] نېټه د سردار داؤود د حکومت د پلان د وزیر علي احمد خرم د ترور نقشه وه.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کندز په ولایت کې د گوند د کنترول د کمیسیون پلټنو څرگنده کړه چې دغه نقشه د حفیظ الله امین له پلوه جوړه شوې وه .

زه په هغه وخت کې د گوندي کنترول د کمیسیون مشر وم. د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو د فوق العاده پلاوي په جوړښت کې ، د گوندي کنترول د کمیسیون غړي سلیمان لایق، د کندز د ولایت د ورهڅګرو پازوال نظام الدین تهذیب او د کمیسیون نورو غړو گډون درلود.

پلټنو څلور ورځې دوام وکړ. د پلاوي پوښتنو ته د نظام الدین تهذیب په کور کې د گوند له سلو تنو څخه زیاتو کادرونو ځوابونه وویل. د څېړنو له پایلو څخه را څرگنده شوه چې حفیظ الله امین د خپلې دروهې د پلي کولو لپاره د گوند له غړو او ان د گوند له کادرونو څخه گټه اخیستې وه او هغوی یې کارَولي ول .

له دغو پارَوونکو کړو وړو څخه د امین موخه دا وه : د مرجان د گواښنو په ویره کې دې علي احمد خرم ارگ ته ننوځي او ترهګر مرجان دې تر سردار محمد داؤود پورې بوزي. له هغه وروسته دې د سردار داؤود پرضد ترهگره کړنه ترسره او سردار داؤود دې ووژني. بیا دې پوځ په تیارسي ودرَول شي. په دې توگه به حفیظ الله امین د وسله وال ځواک د پاځون له لارې په آسانۍ سیاسي واکمني په خپلو منگولو کې راخپله او هم به د وسله وال ځواک د پاځون په لړ کې خپل سیاسي سیالان او مخالفین دړې وړې او وځپې. (د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند پر مشرتابه د داؤود تر برید پورې د گوند د کنترول دوسیه ، د دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریزکال د غوایي د مپاشتې تر پینځمې [۱۹۷۸ز، د اپریل ۲۵] نېټې پورې د سلیمان لایق په کور کې خوندي وه. خو د سلیمان لایق د شفاهي گزارش پربنسټ دغه لاسوندونه د سردار محمد داؤود له برید سره سم له منځه ولاړل.)

د سیاسي دفتر د لیړل شوي پلاوي جاج اخیستنې او لید لوري د غوایي د پاځون په پیښو کې په زباد ورسیدلې؛ ځکه د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د جوړیدلو په سبا ورځ د امین لومړنی گام د خرم د ترور د زندانیانو را بلل ول او له هغو څخه د شینواري په نامه د یوه سړي آزادَول او پنځول ول چې نوي جوړ شوي دولت خپلې لومړنۍ مادي مرستې له شینواري څخه را پیل کړې. د نومړو بندیانو له ډلې څخه یوازې وژونکی مرجان له زندانه خوشې نه شو .

کله چې د ا.د. خ.ډ.گ، د گوند د څار یا کنترول د کمیسیون له لارې د حفیظ الله امین دغه پارَوونکې دروهه را بربنډه کړه نو په بیړه یې له مرکزي کمیټې څخه د حفیظ امین د ایستلو او په لومړي سر کې د گوند د پوځې څانگې د پټو سازماني چارو له پازوالۍ څخه د هغه د شړلو سکالو را پورته کړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سیاسي دفتر په یوه غونډه کې د پټ سازمان له پازوالۍ او له مرکزي کمیټې څخه د حفیظ الله امین د شړلو د مصوبې طرح کریم میثاق ولیکله. خو نور محمد تره کی او ببرک کارمل د مصوبې د لیږد او منلو مخه ونیوله .

تره کي د امین د شړلو خبره ځکه وځنډوله چې لومړی دې د یوې میاشتې په اوږدو کې د وسله وال ځواک لوړپوړي افسران او د پوځي څانګي مخکښ کسان د امین د اغیزو له کوډو څخه را وایستل شي .

د تره کي دغه دریځ په هېڅ ډول د سیاسي بیرو د ډیرو غړو لپاره د بسنې او منلو وړ نه وو. د دغه دریځ د پخې ختې او تومنې لامل لا تر اوسه څرګند نه دئ او پرهغه قضاوت کول هم ګران ښکاري." ( ظهور و زوال حزب ډیموکراتیک خلق افغانستان" ، د اکاډیمسین دستګیر پنجشیري لیکنه ، له ۵۲ تر ۵۶ پاڼو پورې ، پیښاور / پاکستان ، ۱۹۹۹ زکال ، جنوري)

د همدغو خبرو پر سر د ۲۰۰۸ز کال د اګست پر شپاړلسمې نېټې د لاندنیو پوښتنو او ځوابونو لړۍ ورزیاته شوه :

سیاه سنګ: مرجان د پوهې او زده کړې له اړخه څه ډول سړی وو؟

پنجشیری: مرجان لوړې زده کړې وې، په عالي دارالمعلمین کې یې لوستنې کړې وې او ساینس یې درس ورکاوه .

سیاه سنګ: ستاسو د څار یا د کنترول کمیسیون د مرجان د کارنامې د پلټلو لپاره چې تاسو یې مشري کوله او سلیمان لایق ، قدوس غوربندی او نظام الدین تهذیب یې غړي ول ولې کندز یې غوره کړ؟

پنجشیری: مرجان د کندز د ولایت د علي آباد په ولسوالۍ کې په یوه ښوونځي کې ښوونکی وو. هماغلته ډیري خلک د نوموړي له سیاسي کړو وړو څخه خبر ول.

سیاه سنګ: ستاسو په وینا د څارکمیسیون د خپلې څلور ورځنۍ پلټنې په ترځ کې له سلو څخه پورته ګوندي کادرونو سره خبرې اترې کړې چې مرجان د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړی وو او د محمد داؤود د وژلو فرمان یې له حفیظ الله څخه تر لاسه کړی وو. د دغه پټ راز له رابربنډیدلو وروسته ستاسو په ګوند کې کورنۍ غبرګون او د ګوند ټولیز دریځ په څه ډول وو؟

پنجشیری: د څار د کمیسیون د کار د پایلو له هر اړخیزو څیړنو وروسته په لومړي سر کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له مرکزي کمیټې څخه د حفیظ الله امین د شړلو او له پټ پوځي سازمان څخه د هغه د پازوالۍ د بیرته اخیستلو سکالو تر خبرو اترو لاندې ونیول شوه. د هغه په څنګ کې د ګوند مشرتابه لارښوونه وکړه چې ژر تر ژره دې یوه خبرتیا خپره او په هغې کې دې ټینګار وشي چې مرجان اخوانی دئ او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړی نه دئ.

سیاه سنګ: آیا د مرجان په تړاو نوموړې خبرتیا خپره شوه؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنجشیری: هو. موږ هغه خبرتیا په پراخه کچه خپره کړه .

محمد اقبال وزیری: بله نقشه

د ۲۰۰۸ زکال د جولای د مباشتې په دیارلسمه نېټه کاندید اکاډیمیسین محمد اعظم سیستاني د " پسرلني سباوون د گولیو باران" ته لاندینی یادښت لیک را ولیږه :

"د نور محمد تره کي په حکومت کې د دفاع د وزارت د سیاسي چارو پخوانی رئیس محمد اقبال وزیری چې اوس په هالند کې کډوال دئ په خپل کتاب کې " د ثور پاڅون ، د کي جي بي دسیسې او د شوروي یرغل" [ د دانش د خپرندویه ټولنې خپرونه ، پیښاور، ۲۰۰۷] تردغه سرلیک لاندې " د شوروي اتحاد له خوا د محمد داؤود پرضد د کودتا تجویز" داسې لیکلي دي :

۱ ( ۷۲ پاڼه - [دغه پاڼه سیستاني صاحب له پښتو ، دري ته ژباړلې وه[

"د داؤود خان د جمهوري ریاست ارگ ته ، خلقیانو له دوه وو لاره څخه ځانته لاره پرانیستلې وه : یو شمیر ننگرهاریو ملگرو د داؤود خان د ناظر بازمحمد د زوي نیک محمد له لارې او بلې ډلې د گارد له بولندوی صاحبجان سره د پیژندنې او ملگرتوب له لارې (د یادونې وړ ده چې د لومړۍ ډلې مخ د غوایي له کودتا څخه مخکې لوڅ شو او له گارد څخه په شړوني ، د وسله وال ځواک نورو لیواگانو ته ولیږل شول.)

د خلقیانو له پلوه د مخابرې افسر آقا محمد د گارد بولندوی گومارل شوی وو، سره له دې چې د گوند د مشرتابه له پلوه د گارد ملگرو ته لارښوونه نه وه ورکړل شوې خو آقا محمد تر سهاره د محمد داؤود تر څار او سترگو لاندې د مخابراتو دنده پر مخ بیوله او خپله دنده یې په ډیرې پوهې او ورهنې د خلقیانو په گټه تر سره کړه ، ان داؤود خان د کار تر پایه پرهغه بدگومانه نه شو .

په هغو شېبو کې چې داؤود خان یا د هغه نورو ملگرو آقا محمد ته لارښوونه کوله چې پلاني بولندوی یا پلانۍ قطعې ته دغه پیغام مخابره کړه نو اقا محمد به د مخابره کولو په وخت کې په ډیرې چالاکۍ او ټگمارۍ د مخابرې ځانگړې تنۍ دومره کښیکاږله چې غږ به رشکین (مغشوش) کیده او بل لوري به نشوای کولای د داؤود خان غږ په روښانه او څرگند ډول واوري. په پای کې بل لوري نه شوای کولای قومانده ترلاسه کړي .

د ماخستن د لمانځه مهال وو چې د داؤود خان ملگرو پریکړه وکړه چې له ارگ څخه ووځي. له دغه پټ راز څخه محمد آقا خبر شو او خپلو خلقي ملگرو ته یې ورساوه. په پای کې د داؤود خان زوی شهید شو او نور کسان د گلخانې ماڼۍ ته و تښتیدل. په دې توگه د تیښتې پلان ناکامه شو ".

۲ ( ۵۱ پاڼه - [دغه پاڼه سیستاني صاحب له پښتو ، دري ته ژباړلې وه[

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دیارلس سوه دریځلویښتم کال [۱۹٦۴] د اساسي قانون پربنسټ د نبستأ ډیموکراتیکو لاسته راوړنو ټغر محمد داؤود ور ټول کړ او یواړخیز یو ګوندي سیاسي جوړښت یې رامنځته کړ. محمد داؤود چې ددولت په چارو کې پر یو شمیر ناوړو کسانو ډېره لګولې وه د یوه ګرګر (مستبد) واکمن په انځور کې یو ځل بیا را وځلید. محمد داؤود له خپل ځنګ څخه د پخواني پاچا یو شمیر پلویان و شړل او روڼ اندي یې پرځان را ټول کړل. ان محمد نعیم خان [د محمد داؤود ورور] له دغې پو پنا کوونکې تګلارې څخه دومره زړه تورن وو چې د [محمد داؤود] له زوی عمر داؤود سره یوځای د هغه د وژلو په لټه کې شو .

دغې موخې ته د رسیدلو لپاره محمد نعیم خان ، عمرداؤود ته دنده سپاري چې په دې تراو دې له پاچاګل وفادار سره خبرې وکړي. داؤود خان کلونه مخکې پاچاګل وفادارله پکتیا څخه کابل ته راغوښتی وو او په حربي ښوونځي کې یې زده کړې کولې. پاچاګل وفادار د آدینې (جمعې) او پیلنۍ (شنبې) په ورځو د هیواد مشر په کور کې وو او د دغې کورنۍ د غړي په توګه روزل شوی وو. داؤود خان پر پاچاګل وفادار بشپړ ډاډ درلود .

عمر داؤود ، پاچا ګل خپل کور ته رابولي او له نوموړي سره د همدغې خبرې په ګډولو هغه ته وایي چې اکا یې [محمد نعیم] هم غواړي په دې تړاو ور سره خبرې وکړي. بله ورځ نعیم خان او پاچا ګل له یو بل سره ګوري. پاچاګل د محمد نعیم د وړاندیز په ځواب کې وایي : " که داؤود خان د یوه لوړ غره پر سر بیده وي او زما په لاس کې ګل وي ، زه به ګل هغه ته نیږدې ور نه وړم چې د ګل بوی یې له خوبه را ویښ نه کړي. تاسو خود هغه د وژلو په اړه له ما سره خبرې کوئ." دغه خبرې ماته پاچاګل په فرانکفورټ [جرمني / کال؟] کې ویلي دي " .

ښاغلی اعظم سیستاني په پای کې زیاتوي : " ما نوموړي خبره له ډاکټر اکرم عثمان سره یاده کړه. هغه وویل : عمرجان زما ټولګیوال وو او ترهغه ځایه چې زما په یاد راځي دومره پوهیږم چې عمرجان د چرګ د وژلو زړه نه درلود، څه دا چې یو سړی ووژني او په تیره بیا د خپل پلار وژنې ته دې زړه ښه کاندي. عمر ډیر بې تمې سړی وو او هڅه یې کوله چې ځان له سیاسته لیرې وساتي. خپل پلار ته یې ډیرژوردرناوی درلود. د هغه ترڅنګ سردار نعیم خان خپل ورور داؤود خان ته د زړه له کومې درناوی درلود او اړیکی یې لکه د پلار او زوی اړیکې وې. له دې امله کولای شم ووایم چې د لیکوال دغه ادعا بې ځتې او تومنې ده او جرړې نه لري".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوويشتمه برخه

بيا هـم مـرجـان...

د"Conflict in Afghanistan: A Historical Encyclopedia" ، کـتاب په ۱۴۹پاڼه کې چې د Frank Clements لېکنه ده د "خـرم، عـلـی احـمــد له 1931 تر 1977" سرليک لاندې داسې راغلي دي:

"علي احمد خرم په [کابل/افغانستان کې] خپل کار د پلان په وزارت کې له ۱۹۵٦زکال څخه را وروسته پيل کړ. نوموړی په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د اقتصاد له پوهنځي او په ۱۹٦۸ د [امريکا په پنسلوانيا کې] د پيتـزبور له پوهنتون څخه فارغ او تر ۱۹٦۸ز کال پورې د امريکا په متحده اياﻻتو کې د نورو زده کړو لپاره پاتې شوی دی. خرم په ۱۹۵۸ ز کال کې د پلان په وزارت کې د پلان جوړولو او د پلانونود همغږی د څانگې مشر وو او تر ۱۹۷۱ ز کال پورې د پلان جوړولو او سوداگری د څانگې د مشر په توگه پاتې شو. له ۱۹۷۱ تر ۱۹۷۷ز کال پورې يې د پلان د وزير په توگه کار کاوه .

د علي احمد خرم د وزارت په دور کې محمد داؤود پريکړه کړې وه چې د هيواد له اوړو څخه د شوروي د مالي مرستو د پيټې دروندوالی راټيټ او د پرمختگ په چارو کې د مالي مرستو لپاره ايران او عربي دولتونو ته مخ واړوي .

له همدې امله علي احمد خرم ته ويل شوي ول چې تر لاس لاندې او په پام کې نيول شوي پروژې دې ژر تر ژره پای ته ورسوي او د شوروي د نورو مرستو له منلو څخه دې ډډه وکړي .

خرم د ۱۹۷۷ز کال د نوامبر په شپاړلسمه نېټه د محمد مرجان په پلوه ووژل شو. مرجان ويل چې دغه وژنه يې د " اسلامي انقلاب" په نامه تر سره کړې ده ، د افغانستان د خلق ډيموکراتيک گوند د " خلق" له ډلې سره د هغه تړاو نورې پوښتنې را پورته کړې وې. نوموړی په ابدي حبس محکوم او وروسته د عمومي بخښنې په لړ کې له زندانه خلاص شو ".

(References: Louise Dupree & Albert Linette, eds 1974

Afghanistan in the 1970s, New York: Praeger), ABC CLIO, 2003

"مرجان د کې جي بي مری "

ما د ديارلس سوه او يو اويايم کال د ورې د مباشتې په ديارلسمه [۱۹۹۲ داپريل ۲٦] د " افغان ، ملي يو والي" د خپرونې په دريمه گڼه کې د " هاشم ميوند وال په وژنه کې پر محمد داؤود د بې بنسټو تورونود لگولو" تر سرليک لاندې يوه ليکنه خپره کړه او ټينگار مې کړی وو چې د علي احمد خرم ، ميراکبر خيبر ، سردار محمد داؤود او د هغه د کورنۍ او زموږ د نورو زرگونو هيوادوالو د وژنې پريکړه د کې جي بي خارگرې اداري کړې وه." (غوث الدين

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



فائـق د " رازي که نميخواستم افشأ گردد" د کتاب ۱۰۸ پاڼه ، پيښاور/پاکستان د افغاني مطبوعاتو مرکز، ۲۰۰۱زکال ، مارچ)

"زه اخواني نه يم"

د مرجان په لاس د علي احمد خرم د وژنې په اړه د " چند سطر شکسته در باره تجاوز روس در افغانستان" (نوی ډيلی/ هند ، د ليتو د خپروندېي ټولنې خپرونه) په کتاب کې په ۱۹۸۱زکال کې په ډير لنډيز راغلې او همدغه ليکنه په ۱۹۹۵ زکال کې د " پګاه" د مياشتنۍ خپرونې په پينځمه ګڼه کې په کاناډا کې د دويم ځل لپاره خپره داسې شوې ده :

د ديارلس سوه او اوه پينځوسم [۱۹۷۸ز] کال په وروستيو شپو ورځو کې د هوايي ځواک له يو شمير افسرانو سره يو ځای و نيول شوم چې د ځرخي د پله د زندان دويم بلاک ته و سپارل شوو. د وخت په تيريدلو د زندان له چاپيريال سره اشنا کيدلو ؛ وا مې وريدل چې مرجان هم د بلاک د همدغه دالان په خونو کې بندي دی. د علي احمد خرم د وژنې خبر او د هغه د وژونکي اعترافات مې د رسنيو له لارې اوريدلي ول او د مرجان ليدنه راته په زړه پورې وه.

له يوې مودې وروسته مې مرجان وليد او غوښتل مې له نيږدې ورسره وګورم. مرجان /..../ لوړه ډنګره ونه او له هډوکو ډک وچ مخ يې درلود. د تفريح په ترڅ کې د بلاک په انګړ کې درېده ، خپله غاړه به يې لږ کږه نيوله او تر ډير وخت پورې به يې سترګې لمر ته نيولې. مرجان ډيرې لږ خبرې کولې او د بې سر او پايو خبرو لور او ګودر يې مالوم نه وو او خبرې يې بې انډوله وې .

يوه ورځ مې له مرجان څخه د پلان د وزير د وژنې په اړه پوښتنه وکړه. هغه ځواب راکړ :" هر هغه څه چې تاسو د راډيو له لارې اوريدلي او په ورځپاڼو کې مو لوستلي ، له اخواني توب او له ګلبدين حکمتيار سره زما له نيغو اړيکو پرته ، نورې ټولې خبرې سمې وې"!

مورېه لومړيو کې انګيرل چې ګڼې مرجان د [افغانستان د خلق] ډيموکراتيک ګوند او واکمن حکومت له ويرې درواغ وايي خو د وخت تيريدلو او د خلقي حکومت د پرله پسې وژنو لړۍ چې موخه يې د اخوانيانو ، مساواتيانو او په روس پورې د نه تړل شويو چپيانو وژنه وه بل ډول انځور رامنځته کړ ، له ټولو د پام وړ خواشينوونکې خبره د دويم بلاک په انګړ کې د ديارلس سوه اته پنځوسم لمريزکال د غبرګولي د مياشتې په اتمه او يولسمه نېټه [ ۱۹۷۹ز کال د مې ۲۹ او د جون لومړۍ] د داؤود د واکمنۍ د دور د بنديانو ډله ييزه وژنه وه (په وژل شويو کسانو کې داسې بنديان هم ول چې د خپل بند قانوني موده يې تيره کړې وه لکه ښاغلی فصيح د باميانو د ولايت د يکاولنګ له ولسوالۍ څخه)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغو ټولو پیښنو په لړ کې چې زموږ ترمخ تیریدلې د مرجان د خطرناکې دوسیې په پام کې نیولو سره د هغه ژوندي پاتې کیدل موږ ټول په شک کې و غورځولو او یوه شوو چې ترکاسې لاندې بله نیم کاسه هم شته .

د څرخي پله په زندان کې د مرجان د دوسیې مستنطین او د دهمزنګ د محبس مدیر غني عمرزی صافي هم له موږ سره د زندان په حجره کې بندیان ول. مرجان چې هر وخت نوموړي کسان لیدل نو د خپل د لاس د ګوتو په کږولو به یې ویل : " هغوی زما د لاس ګوتې را ماتې کړې دي " .

یوه ورځ مې له غني څخه د مرجان د " اخوانیتوب یا نه اخوانیتوب" په اړه وپوښتل. هغه ماته ځواب را نه کړ. هر ګوره ، زموږ شک هغه مهال په یقین واوښت چې مرجان د دیارلس سوه اته پینځوسم لمریز کال د مرغومي د مباشتې د شپاړلسمې [ ۱۹۸۰ز کال د جنوري شپږمه ] نیټې له عمومي بخښنې یوه اونۍ مخکې له یو شمیر نورو بندي پرچمیانو سره یو ځای له بنده آزاد شو)"دو تصحیح و یک تبصره، فــرهـاد لبیب، ګڼه 91، د مـارچ لومړۍ 2009، www.kabulnath.de)

"مرجان نه خلقي وو ، نه پرچمي "

د ۲۰۰۹ زکال د فبرورۍ په شپاړلسمه نېټه جنرال خوشحال پیروز صافي په ورین تندي ومنله چې د مرجان د ژوندانه او د هغه د کارنامو په اړه یو شمیر پوښتنو ته ځواب را کړي .

سـیاه سنګ: ویل کیږي چې تاسو مرجان له ډیر نیږدې پیژانده؟

جنرال پیروز: له مرجان څخه زما پیژنده زما د دندې په تړاو وه. کله چې نوموړی د علي احمد خرم د وژنې په تور و نیول شو زه د کورنیو چارو د وزارت د منتظره قطعې د کشف آمر وم. د هغه له نیول کیدلو وروسته مې پینځلس شپې په یوې خونې کې ورسره تیرې کړې. د یوه ساتونکي په توګه ما د مرجان د ځاني امن او خوندي ساتلو دنده درلودله .

سـیاه سنګ: هغه څه ډول سړی وو؟

جنرال پیروز: که ستاسو موخه د هغه د څیرې بیلګې وي ، مرجان تور بخونې لمرسوځولې رنګ درلود ، لوړه ډنګره ونه ، غټې سترګې او ډکې وروځې یې درلودلې ، له رواني اړخه لږ نا آرامه او عصبي وو. د پلار نوم یې غلام سخي وو. یو ورور یې ډاکټر افضل نومیده چې په روسیه کې یې زده کړې کړې وې او په سید نور محمد شاه مینه [کارته نو] کې یې ژوند کاوه. سره له دې چې مرجان د یوې بې وزلې کورنۍ له ټغر څخه سر راپورته کړې وو خو ښوونځي یې په لوړو نمرو او لوړې درجې پای ته رسولی وو. په تنکۍ ځوانۍ کې یې ګلان پلورل. د لید لوري له اړخه ویلای شم چې ښې زده کړې یې کړې وې ؛ هغه لوړې زده کړې یې ترسره کړې وې او په منځنۍ کچه یې هر اړخیزه مالومات

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم درلودل. مرجان د ننګرهار ولايت په شګه کې زېږېدلی وو او په تېر زاخيل وو. مرجان درې ماندينې درلودلې، دوې ماندينې يې له شګې او يوه ماندينه يې له کندز څخه وه.

سياه سنګ: له دغو دوه وو ګزارشونو څخه کوم يو يې رښتيا يا لږ تر لږه له رښتيا سره ډېره لګوي. ګزارشونه وايي چې : " مرجان د بګراميو پر سړک له ښکاري توپک سره و نيول شو" او " مرجان د [پلان د وزيرعلي احمد خرم له وژنې وروسته] و تښتيد او ځان يې په شاه شهيد مينه کې خپل کورته ورساوه. نوموړی د تېښتې او مقاومت له هڅو پرته ځان له يوې تومانچې سره پوليسو ته سپاري ".

جنرال پيروز: د ديارلس سوه شپږ پينځوسم کال د لړم د مياشتې په څلورويشتمه نېټه د څلنۍ " چهارشنبې" په ورځ [۱۹۷۷ د نوامبر ١٦] مرجان و کولای شول چې د علي احمد خرم له وژنې وروسته د پيښې له سيمې څخه وتښتي. وروسته څرګنده شوه چې په ټکسي کې سيد نور محمد شاه مېنې ته د خپل ورور کورته تللی وو. له هغه وروسته مرجان له ډېرو ګړنګونو او کړليچونو په تيريدا ځان د يک لنګه کوتل ته رسولی وو او له هغه ځايه يې غوښتل له بګراميو څخه ولاړ شي او ځان د خلکو له سترګو په کوم ګوټ کې پټ کړي. د لارې په اوږدو کې د نساجي د رئـيس موټر ناڅاپه د مرجان مخې ته ورځي. مرجان موټر دَرَوي او له زور زياتي او ګواښونو څخه کار اخلي او غواړي چې ده ته هم په موټر کې ځای ورکړي. په دغې شېبې کې د مرجان هڅې برياليٍ نه وې ځکه په همدغه شېبه کې يو بل سړی تيريږي چې دوه سپيان له ځان سره لري او پيښه يې له ورايه ځارله نوموړي سري ليدل چې يو ناپيژندل شوی سړی شکمنې لوڅې پوڅې او هلې ځلې کوي. هماغه سړی د مرجان پرځان خپل سپيان خوشې کوي. مرجان بله لار نه لري او بيرته سيد نورمحمد شاه مېنې ته را ګرځي. په پای کې د هماغې ورځې د ماسپښين په څلورو بجو د سيد نورمحمد شاه مېنې د ۲۴ سړک [کارته نو] د نانوايي په تم ځای کې د پوليسو ګوتو ته لويږي ، سره له دې چې په لاس کې يې توپک او تومانچه وه ، نيول کيږي .

سـياه سنګ: آيا خرم په هماغه تومانچې وژل شوی وو؟

جنرال پيروز: نه! د عدلي طب پلټنو او څيړنو څرګنده کړه چې د پلان د وزير له مړي څخه د امريکايي Walther تومانچې ګولۍ موندل شوې وه. خو دا څرګنده نه شوه چې نوموړي والتر تومانچه په څه ډول ورکه شوه. آيا مرجان نوموړې تومانچه په کوم نا مالوم ځای کې ليرې غورځولې وه يا يې په پټه چاته ورکړې وه؟ زه نه پوهيږم. خو له وژونکي څخه يو ښکاري (چره يي) توپک او يوه اسپانوي "Llama" تومانچه لاس ته راغلې وه .

سـياه سنګ: آيا تاسو پوهيږئ چې د مرجان ګوتو ته نوموړی ښکاري توپک په څه ډول ورغلی وو؟

جنرال پيروز: د مرجان ورور ډاکټر افضل د پلټنې ډلې ته داسې وويل : د علي احمد خرم له وژل کيدلو دوې ورځې مخکې ما مرجان ته په کور کې ډېر نصيحت وکړ او ورته مې وويل چې تا زده کړې کړې دي او تا ته ښايي چې له ورانکارو او غير قانوني کړو وړو څخه ځان ليرې وساتی خو مرجان د تل په شان له ما سره شخړه کوله او زما د خبرو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پروا یې نه کوله. وروسته خبر شوم چې دغسې یو غټ جنایت یې تر سره کړی دی. مرجان د پیښې له سیمې څخه له تښتیدا وروسته ، زما د ماندینې په وینا زما کورته راغی او له هغې یې و غوښتل چې ښکاري توپک او تومانچه دې ورته په بیړه ورکړي. زما ماندینې مقاومت او مخالفت وکړ. خو مرجان په دې بریالی شو چې نوموړې وسله له اجازې پرته را پورته او له کوره ووځي .

سیاه سنګ: د مرجان تر څادر لاندې د پټو نقشو او کسانو په اړه څه مالومات لرئ؟

جنرال پیروز : مرجان د خپلو شخصي او خصوصي کیسو ترځنګ چې هره شپه به یې ماته کولې د پلټنې د ډلې د پوښتنو او ځوابونو لړۍ به یې هم ټکی په ټکی را ته ویله. یوه شپه مرجان راته داسې وویل : " دوه کاله مخکې (۱۹۷۵) کله چې زه کندز ته د ساینس د ښوونکي په توګه ولاړم هلته په امام صاحب کې له ګلبدین حکمتیار سره آشنا شوم. هغه ماته وویل ' غریب سړی یې او روزګار دې هم سم نه دی.مګر زه در سره مرسته کولای سم چې ژوند دې ښه سي. ګلبدین زیاته کړه چې : ' له ما سره اړیکه ټینګه وساته. تا له ځان سره پاکستان ته بیایم او له یوې مودې وروسته بیرته هیواد ته را ستنیږو" لنډه دا چې له هغه سره پاکستان ته ولاړم او هلته مې د پوځي زده کړو یوه دوره تیره کړه. هیواد ته د ستنیدا په وخت کې ماته حکمتیار د شګې په سیمه کې وویل :" دلته د څو شپبو لپاره د یو چا لیدلو ته ورځو." له هغه وروسته زه یې یوه سړي ته ور وپیژندلم اوورته یې و ویل : " دا سړی زما نوی ملګری دی." نوموړي سړي له روغبړ او د هر لور او ګودر له خبرو وروسته یې یوه سړي ته چې بزګر ښکاریده ګوته ونیوله او ویې ویل : " ایا کولای شی د هغه سړي ژوند په یوه ډز واخلې؟ " هک پک پاتې شوم او ګلبدین ته مې وکتل. ګلبدین غلی او بې تفاوته ولاړ وو. پوه شوم چې اوضاع خرابه ده. ما هم له ناچارۍ پریکړه وکړه او ناپیژانده بزګر مې په یوه ډز مړ کړ. حکمتیار په ډیره سړه سینه ماته مخ را تاو کړ او په موسکا یې وویل : " آپرین ! ښه نښه ویشتلای شي. له هغه وروسته د کندز په لور و خوځېدلو ".

سیاه سنګ: مرجان د علي احمد خرم په اړه څه ویل؟

جنرال پیروز: زه به یې تاسو د مرجان له خولې ووایم." ماته یوه ورځ ګلبدین حکمتیار داسې دنده را وسپارله : کابل ته ولاړ شه او علي احمد خرم د کار له دفتره دباندې را وباسه. له هغه سره یو ځای د وزیرانو په موټر کې پورته شه او ورته وواېه چې تا ارګ ته داؤود ته بوځي. له دې چې د وزیرانو موټران د ارګ په دروازه کې نه پلټل کیږي د خرم په مرستې په ډیرې آسانۍ کولای شی د داؤود خان د کار دفتر ته ولاړ شی او هلته یې ځای په ځای ووژنې. ددغې پیښې په ترځ کې به درې تنه نور ستا امنیت ونیسي ".

سیاه سنګ: ولې د نورو وزیرانو له ډلې څخه علي احمد خرم په نښه شوی وو؟

جنرال پیروز: د مرجان په وینا خبره په هیڅ ډول د پلان د وزیر پر سر نه وه. هر وزیر چې ګوتو ته ورغلی وو د هغه کار کیده د هغه موخه دا وه چې د وزیرانو په ځانګړي موټر کې ارګ ته دننه ولاړ شي او د سردار داؤود لیدلو ته

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسول شي. د مرجان موخه د ولسمشر وژل ول او له وزیر سره یې سر او کار نه درلود. مرجان د خپلې نقشې د پلې کولو لپاره د پلان وزیر ځکه غوره کړ چې د نورو وزارتونو برخلاف د پلان د وزارت ودانۍ په ډېر ښه ځای کې د سړک په غاړه کې پرته وه ؛ او نومړې ودانۍ نه کومه څلور دیوالي او نه ساتونکي درلودل. په دې مانا چې په ډېرې آسانۍ یې کولای شول ځان خپلې ټاکلې موخې ورسوي .

سیاه سنګ: او د علي احمد خرم د وژل کیدلو څرنګوالی؟

جنرال پیروز: مرجان وویل : کله چې زما زړه مې ډاډه شو چې هغوی زما امنیت د افغان لوی پلورنځي [فروشګاه بزرګ افغان] ودانۍ ته نیږدې نیولی دی او د کومې خرابۍ په رامنځته کیدلو د امنیت نیوونکو ټکسي زما د ژغورنې لپاره را دانګلای شي نو د پلان د وزارت له دروازې نیغ په نیغه د وزیر سکرتر ته ورغلم او هغه ته ومې ویل: د پلان ښاغلي وزیر صاحب ته یو ډېر ضروري او مهم پیغام لرم. سکرتر وویل : وزیر صاحب له یوه بهرني میلمه سره د لیدلو په غونډه کې بوخت دی. سترګې په لار کښینئ چې غونډه پای ته ورسیږي. ما وویل : نه ! نه شم کولای سترګې په لار پاتې شم. زه باید همدا اوس هغه ووینم. سکرتر وویل : اجازه نشته. وزیرصاحب ته ستاسو تګ هېڅ امکان نه لري. هغه د جاپان له یوه سوداګریز پلاوي سره ډېره مهمه او ضروري غونډه لري. ما وویل : زما کار تر ټولو مهم او ضروري دی او پرته له دې چې د سکرتر ټینګار او مخنیوی په پام کې ونیسم د وزیر خونې ته ننوتلم او هغه ته مې په بیړه وویل چې ما له ځان سره د داؤود خان د لیدلو لپاره ارګ ته دننه بوځي. مخکې له دې چې علي احمد خرم کوم غبرګون له ځانه څرګند کړي وړاندې ولاړم او د هغه د دفتر د ټیلفون مزی مې پریک کړ. وزیر بله چاره نه درلودله او له ما سره یوځای له خونې را ووت او په لاره روان شوو. وزیر موټر ته د پورته کیدلو په حال کې خنډونه رامنځته کول. له بلې خوا وخت مې له لاسه ورکاوه او له بل لوري خلک او څو تنه وسله والو کسانو مخته را دانګل. ما چې داسې ولیدل نو ما هم وزیر په ډزو وویشت او په ټکسي کې و تښتیدم .

سیاه سنګ: آیا دا رښتیا ده چې مرجان د پلټنو په لړ کې نه وهل شوي او نه ټکول شوی او هر څه یې په خپله خوښه وویل؟

جنرال پیروز: سل په سلو کې رښتیا ده. مرجان له وهلو ټکولو پرته هرڅه په خپله ومنل. دا هم باید ور غبرګه کړم چې د مرجان له نیول کیدلو وروسته تر څو اونیو پورې په ولچک او زولنو کې ساتل کیده. چارواکي اندیښمن ول چې مرجان ځان ونه وژني او یا کوم بل خطرناک کار ته لاس وانه چوي .

سیاه سنګ: آیا د ځان وژنې نښې نښانې په هغه کې لیدل کیدلې؟

جنرال پیروز: مرجان په څو څو ځله ماته ویلي ول چې : کاشکې یوه تیره اوسپنه ، میخ ، چاکو یا تیغګی مې لاس ته راغلی وا ی چې ځان مې ددغه ژوند له شر څخه خلاص کړای وای .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیاه سنګ: ویل کیږي چې مرجان رواني ستونزې درلودلې ، آیا رښتیا ده؟

جنرال پیروز: په پخوانیو یې نه پوهیږم. خو دومره پوهیږم چې د چا خبره د مرجان " اعصاب لړ خراب" ول. ما د مرجان په ساتلو کې پینځلس شپې ورځې نوکریوالي وکړه ، بیا کورته ولاړم ، دوه ورځې ورسته بیرته راغلم په هکپکوالي مې ولیدل چې د مرجان رنګ تک ژیړ او مخ ، لاس او پښې یې شنې اوښتې وې او سر یې په یوه دستمال کې پیچلی وو. ما وپوښتل چې څه وربانديې شوي ول ما ته وویل شول : کله چې ته نه وی ، د کابل ولایت د قرار ګاه بولندوی هاشم (غویی هاشم / هاشم ګاو/دا د مرجان تکیه کلام وو چې هر چا ته به یې " غویی/ ګاو" ویل) د مرجان خونې ورغلی وو او له هغه یې یو شمیر پوښتنې وکړې. یا مرجان سم ځوابونه نه ول ورکړي یا یې داسې شیان ورته ویلي ول چې هغه یې ډیر سخت په قهر کړی وو. په پای کې نوموړي بولندوی مرجان ته د ناموس سپکې سپورې او ښکنځل وکړل ؛ د مرجان دوې ماندینې هم د کورنیو چارو وزارت ته راوړل شوې وې او هغوی ته یې په نغوتې سپکې خبرې کړې وې. مرجان د ښکنځولو په اوریدلو د خونې له ګوټ څخه کوشنی میز را پورته کړ او د بولندوی هاشم په ککره یې وواهه او هغه یې په ځمکه را څملاوه. په همدې ترڅ کې مرجان بولندی ته لاس واچاوه چې د هغه تومانچه را واخلي. وسله والو ساتونکو په بیړه را ودانګل او مرجان یې ټینګ ونیو چې تومانچه یې لاس ته ور نه شي. د وسله والو ساتونکو یو تن د تومانچې میل د مرجان په ککره دومره ټینګ وواهه چې د مرجان د ککرې پوټکي او هډوکي ژور ټپ واخیست. ددې لپاره د مرجان د ټپي کیدلو پازوالي بیرته د مرجان په غاړه ور و غورځوي هغوی وویل چې مرجان د بولندوی هاشم له وهلو ورسته د تشناب په لور منډه کړه او خپله ککره یې د لاس مینځلو د اوبو په نلکه ټپي کړه. هر ګوره همدو پیښو ته ورته او د مرجان نورو کارونو ته په کتنې کولای شو ووایو چې مرجان په نسبتاً ژورې عصبي ناروغۍ اخته شوی وو. د ساري په ډول ، مرجان به په نا څاپه سترګې لمر ته نیولې او تر شونډو لاندې به په بې مانا ډول غومبیده .

سیاه سنګ: د مرجان د سیاسي اړیکو په اړه څه مالومات لرئ؟

جنرال پیروز: مرجان د خپلو اعترافاتو او کیسو پربنسټ د ګلبدین حکمتیار د اسلامي ګوند غړی وو .

سیاه سنګ: آیا مرجان د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند غړی نه وو؟

جنرال پیروز: دا چې وایي مرجان کینې اړخی وو او یا کینې اړخی لید لوری یې درلود له سره تر پایه غلطه ده. په هماغو لومړیو پینځلسو ورځو کې چې زه له مرجان سره وم ، هغه راته داسې وویل : نه پوهیږم زه لیونی شوی یم یا د پلټنې ډله لیونۍ ده. و مې پوښتل ، څنګه؟ مرجان وویل : نن یې ماته ویل چې که ته ومنې چې د خلق د ډلې غړی یې ، موږ دې خوشې کوو!

سیاه سنګ: د پلټنې د ډلې نومونه مو په یاد دي؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال پيروز: صديق واحـدي وردک ، مـير گل ، له مرجان څخه پلټنې کولې او يو بل تن هم وو چې هر څه کوم نوم يې زما په ياد نه راځي.

سـياه سنگ: الف هارون د " داؤود خان د کې جي بي په لومو کې" کتاب ليکلی ، نوموړی کتاب حامد ژباړلی او ځينې سَـمَونې يې هم پکې راوړي دي. په نوموړي کتاب کې د پلټنې د ډلې د غړو نومونه داسې ياد شوي دي : " باقي ، نبي ، اتمر ، همکار ، قطره ، خير محمد او نور پرچميان"...

جنرال پيروز: دا سمه ده چې نوموړي کسان ټول د افغانستان د خلق ډيموکراتيک گوند د پرچم د ډلې غړي ول. خو راځـئ لومړی په هماغه کال کې چې د مرجان د پلټنې خبره تر لاس لاندې وه د هغوی برخليک ته پام وا چوو او بيا د خبرې له سوالي يا نه سوالي څخه جاج واخلو:

باقــي د کورنيو چارو د وزارت د پيژند مديراو د کابل د قاضي له کلا [قلعه قاضي] څخه وو. نوموړي د کورنيو چارو له وزير سره د ستونزې له امله لومړی د هلمند ولايت د امنيې د بولندوی په توگه ټاکل شوی وو او بيا کورناستی شو او رسمي دنده يې نه درلودله. د اتمر نوم غلام علي وو او د کورنيو چارو د وزارت د څارگرې څانگې غړی وو. اتمر له کارپوهنيز اړخه نه شوای کولای د مرجان د پلټنې په پلاوی کې برخه واخلي. په همدې توگه نبي د ترافيکو د رياست کار کوونکی وو، قطره د قوای کار بولندوی او خير محمد د ښوونې او روزنې آمر وو. دغو کسانو له کومو سوريو او سرچينو کولای شواى د مرجان د پلټنې په لړۍ کې برخه واخلي؟

سـياه سنگ: ستاسو له خبرو داسې ښکاري چې د مرجان لپاره د پردې ترشا نقشه جوړوونکی گلبدين حکمتيار وو ، نه حفيظ الله امين. آيا همدا پايليزه جاج اخيستنه سمه ده؟

جنرال پيروز: حفيظ الله امين دومره ساده سړی نه وو چې د سردار محمد داؤود د له منځه وړلو لپاره داسې يوه ساده نقشه را و باسي او د وزيرانو په موټر کې د علي احمد خرم له لارې مرجان ارگ ته دننه ننه باسي او نقشه پلې کړي. البته ، همدغه حفيظ الله امين داسې کارونه تر سره کړي چې له هغو سره په پرتله د علي احمد خرم وژنه " هيڅ" بلل کيږي. خو کله چې رښتيا ويل کيږي بايد يوازې او يوازې هماغه " حقيقت " دې پرته له زيادښت او کمښت او پرته له شخصي دريځ نيولو او غرضونو وويل شي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library





کيڼ لورى : مولا ګل ، او ورسره ورور يې کابل ته نيږدې د خاورو د هغې کواړۍ پر سر توغ بړدي چې تر لاندې د افغانستان د لومړنی ولسمشر شهيد سردار محمد داؤود خان او د هغه د کورنۍ مړي پراته دي چې د ۱۹۷۸ز کال په کودتا کې د کمونيستو کودتاچيانو په لاس په ديرې بيرحمۍ ووژل شول د سردار محمد د ښخيدلو ځای تر ديرشو کالو پورې د پټ راز په توګه پاتې وو.

## درويشتمه برخه/ وروستۍ برخه

شب رفت و حديث ما به پايان نرسيد

شب را چه گنه؟ قصه ما بود دراز

ژباړه :

شپه ولاړه زموږ خبرې لا پاتې دي تر اوسه

د شپې ګناه په څه ده ؟ کيسه زموږ اوږده وه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغسې چې پروسږ کال ویل شوي ول ، دغه لنډه څیرنه لا تر اوسه او هیڅکله به ونه شي کولای چې د (افغانستان د لومړني ولسمشر) محمد داؤود د سیاسي کارنامو پراخ اړخونه ، د هغه د ګناه یا د بې ګناهۍ سَموالی یا نه سَموالی را وسپړي.

د " پسرلني سباوون د ګولیو د باران" په پای کې ښایي یو شمیر لوستونکي و غواړي یو څه د " پایلیزې اخیستنې" په نامه ولولي. له دې چې زه د نورو کسانو د ویناوو د ټایپ کوونکي په توګه ځان د " پایلیزې جاج لیکنې" د لیکلو جوګه نه بولم هیله من یم هغه مشران او کارپوهان چې کارپوهنیزه دنده یې تاریخ لیکنه ده پرته له دې چې په زړونو کې یې د هغو له پایلو څخه کوشنۍ اندیښنه یا خرخښنه را و پاریږي ، دغه تشه ډکه کړي .

پورته لیکل شوي دي : درویشتمه برخه/ وروستۍ" ، دا ځکه چې د محمد داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وژل کیدا په اړوند نورې نوې لیکنې لاس ته نه دي راغلي چې د " بینوا او کابل ناتهـ" په ښکلو ویبپاڼو کې کښیښودل شي. خو په یاد ولرئ چې د " پسرلني سباوون د ګولیو باران" ځلوروېشتمې او پینځوېشتمې څنګیزې برخې یا ملپاڼې هم لري .

دوې راتلونکې برخې به چې په پراخو مالوتي څانګو پسولل شوي د هغو کسانو د نومونو له لښتـنـلیک سره به جوګه وي چې ددغې لیکنې له پیله تر نن پورې یې خپلې هڅې نه دي سپمولي ؛ نوموړې برخې د "فـــــــردا " www.farda.org او www.Benawa.com ویبپاڼو ته ولیږل شي .

که د دوستانو ملاتړ، یاري ، زغم او د زړه له کومې تاوده پیامونه را سره نه وای نو د" پسرلني سباوون د ګولیو باران" به هم د پاڼو پر کرښو نه وای راغلای .

## سـیاه ســنګ

## د ۲۰۰۹ز کال د مارچ پینځلسمه

د دوه وو برخـلیکونو تر منځ کرښه

Carlotta Gall چې د افغانستان او پاکستان په تړاو ګزارشونه یې ډیري وختونه د New York Times په ورځپاڼه کې راغبرګیږي ، د الیانور ګال او سندیګال لور ده ( ښایي د ډیرلږ شمیر کسانو لپاره د سـندی ګال نوم چې د افغانستان د جهاد د کلونو په اوږدو کې له نامتو څیرو او " د افغانستان لپاره د سندیګال د بلنې د ټولنې " بنسټ ایښودونکی وو ، نا آشنا وي.)

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



میرمن گال د ۲۰۰۹ زکال د جنوري په ۳۱ نېټه نیو یارک ټایمز ته یوه لیکنه ولیږله. د لیکنې سرلیک دا وو : " د هغه راز له مخې ځادر لیرې شو چې پر یوه پـَیـر د پای ټکې ږدي". نوموړې لیکنه په لاندینۍ پته د ۲۰۰۹ز کال د فبرورۍ په لومړۍ نېټه خپره شوې ده .

www.nytimes.com/2009/02/01/world/asia/01afghan.html

کله چې د ۱۹۷۸ ز کال [د اپریل د ۲۹/۲۸] په مرګونې خونړۍ شپې ، د شپاړلسو مړیو د ښخولو فرمان ورسید ، د وسله وال ځواک یوه ځوان خو ویرجن افسر وغوښتل د دغه ځای جغرافیا په خپلو یادونو کې ژوندۍ وساتي. افسر، د خپلو همکارانو د خبرو اترو له منځه پوه شوی وو چې هغوی د افغانستان د لومړني ولسمشر " سردار محمد داؤود خان" او د هغه د کورنۍ مړي تر خاورو لاندې کړي دي. افسر ، د ښخولو له ځایه د سړک تر غاړې واټن په شمارلو ګامونو میچ کړ .

له هغه اله ګوله ځیلي دَور وروسته ، د کمونیستي کودتا په ترڅ د داؤود خان وژنې ، له ځان سره د دیرش کلن ناورین د جګړو لړۍ نغښتې درلودله. دغې خونړۍ جګړې چې د پای څرک یې لا تراوسه نه دی څرګند ، هره افغانه کورنۍ دړې وړې او تاواني کړه .

د پخواني وسله وال ځواک افسر پادشاه میر له دیرش کلنۍ جګړې وروسته د حامدکرزي د واکمنۍ تر رڼا لاندې له څه ناڅه آزادۍ او آرامۍ وروسته یو پټ راز را بربنډ کړ. اوسنۍ واکمنې د شاهدانو په مرسته د دې جوګه شوه چې د لومړني ولسمشر او د هغه د کورنۍ د مړیو هډوکي بیا و مومي چې ډېر ژر خاورو ته له بیا خارو سپارلو ورسته به د هغوی د فاتحې لمانځنه ترلاس لاندې ونیول شي .

محمد داؤود د " افغانستان د جمهوریت" بنسټ ایښودونکی او د " مډرن" دولت د پرمختګ ځلانده څیره وه. هغه خپل د اکا زوی ، د افغانستان وروستنی پاچا محمد ظاهر، د دیارلس سوه او دوپینځوسم لمریز کال د چنګاښ د شپږویشتمې [۱۹۷۳ ، جولای ۱۷] په کودتا کې را وپرځاوه او پینځه کاله وروسته د هغه وژنې ، هیواد د وینو او ورانیو د ژور تـل پر لور و خوځاوه .

د محمد داؤود دري ځلویښت کلن لمسی نادر نعیم وایي : " که له هر افغانه وپوښتـئ چې دغه ټوله [وراني] له کومه ځایه راپیل شوه نو هغه به هرو مرو درته ووایي : د داؤود خان له وژل کیدا وروسته چې د دوه وو برخلیکونو ترمنځ یوه کرښه ده. د دیارلس سوه او اوه پینځوسم لمریزکال د غوایي اوومه [۱۹۷۸ز د اپریل ۲۷] د افغانستان د خپلواکۍ وروستۍ ورځ وه ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه شپه د ولسمشرۍ په ماڼۍ کې د محمد داؤود د کورنۍ اتلس تنه غړي او د ماڼۍ یو شمیر کارمندان او افسران ووژل شول او له ښاره دباندې د شپې د تیارې په تورتم کې تر خاورو لاندې شول. څوک نه پوهیدل چې چیرې .

د ژول شویو کسانو په ډله کې د ولسمشر د کورنۍ اتلس تنه غړي ، د ولسمشر ماندینه ، ورور ، درې لوڼې ، درې زامن ، زوم ، ننږور او څلور تنه لمسیان ول.

د هغه څه پر بنسټ چې نادر نعیم یې وایي د محمد داؤود د کورنۍ ټول غړي د دیارلس سوه او اووه پینځوسم لمریز کال د غوایي د مباشتې په اتمې [۱۹۷۸ز د اپریل ۲۸] نېټې د سهار د څلورو او پینځو بجو په شا او خوا کې د سرو ګولیو په باران کې ووژل شول. له یوې ورځنۍ خونړۍ جګړې وروسته ، د امام الدین په نامه یو افسر له یوې ډلې سره د ولسمشرۍ ماڼې ته ولاړ چې ولسمشر ونیسي. محمد داؤود د کودتاچیانو له ډلې سره تـلل ونه منل او د خپلې تومانچې اور یې د هغوی پرمخ پرانیست. د تومانچې د اور په ځواب کې یاغي توپکوال پر محمد داؤود او د هغه پر کورنۍ د ګولیو په باران کې را توی شول .

کمونیستانو د ولسمشر له وژلو وروسته د شلو مباشتو په اوږدو کې د وینو ویالې و بهولې او کار هغه ځای ته ورسید چې د دیارلس سوه او اته پینځوسم کال لمریز د مرغومي په میاشت کې [ ۱۹۷۹ز دسامبر] د " شوروي اتحاد" سره لښکر پرافغانستان یرغل وکړو او د لس کلن نیواک په اوږدو کې په زرګونو افغانانو ووژل شول او یا تري تم شول.

ډیري بلهاریان " قربانیان" د وسله وال ځواک اډې ته نیږدې د څرخي پله د لمن د لمر خاته لورته په بې نښو ګورونو کې تر خاورو لاندې کیدل .

پروسږ کال ، د اوسنۍ واکمنۍ د پلټونکو یوې ډلې د دوه تنو شاهدانو په مرستې د نوموړي ځای پلټنې پیل کړې. له دغو دوه تنو شاهدانو څخه یو تن د نن ورځې کورناستی جنرال او د پرون ورځې د [څلورم زغره وال ځواک] د څارنې او ساتـنې/ حفظ و مراقبت] مدیر پادشاه میر وو. هغه ته امر شوی وو چې د [زیس] په موټر کې ټول راوړل شوي مړي په څرخي پله کې پوځې اډې ته نیږدې د شپې په تور تم کې تر خاورو لاندې کړي.( د پادشاه میر په وینا ، په نوموړي شپه کله چې مړي تر خاورو لاندې کیدل ، د کودتا له مشرانو څخه یو تن ډګرمن محمد اسلم وطنجار هم هلته وو (

پادشاه میر د یوې مرکې په ترځ کې روښانه چې په څه ډول یې مړي له خپلو همکارانو سره د شوبلې په یوه کیندل شوي مورچل " موضع" کې واچَول. کله چې مړي په کیندل شوي ځای کې واچول شول ، پادشاه میر د مړیو د جسدونو په منځ کې پښې کښیښودلې چې له اسلامي دود سره سم د مړیو مخونه قبلې ته واړوي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



نومورړي زياته کړه : " ما ونه شو کولای مړي و پیژنم ، خو دومره پوهیدم چې د داؤود خان له کورنۍ څخه ول."
همدا شان پادشاه میر د یوه موټر چلوونکي خبرې په یاد راوړي. هغه ویلي ول : " ما کلونه کلونه د دغې کورنۍ چوپړ کې کړی دی ".

له هغه وروسته چې " د مړیو پر جسدونو د خاورو اچولو " امر وشو ، ښاغلي پادشاه میر لومړی د لوی موټر ترپال را واخیست او د مړیو پر مخ یې خپور کړ او بیا یې د قبر له څنډې د سړک تر غاړي پورې (۹۰) ګامونه و شمیرل تر څو د ګور ځای ځایګی یې سم په یاد پاتې شي .

په دویمه شپه د پادشاه میر مرستیال ته فرمان ورکړ شو چې دیارلس نور تازه جسدونه په بل قبر کې هماغه شا او خوا ته تر خاورو لاندې کړي.

ښاغلی میر ډیر ژر له کابله ووت او په غرونو کې د کمونیستي ضد مقاومت له پاڅون سره یو ځای شو ؛ څو کاله وروسته یې د محمد داؤود د کورنۍ د پاتې غړو یوه تن ته د مړیو د برخلیک څرنګوالی څرګند کړ.

د هغو ورځو شپاړلس کلن بزګر، ملاګل یو بل شاهد دی. ملاګل د کودتا په لومړیو ورځو د هماغه داستان سرچینه د هغو سرتیرو له خولې چې دده پر ځمکه یې کیږدۍ وهلې وه ، ترلاسه کړې وه او خپلې مور ته یې ویلې وه.

درې میاشتې وروسته ، کله چې سرتیري ولاړل ، ملا ګل د مور په غوښتنې د قبرونو تر شا او خوا ډبرې راټولې کړې او د " شهید د توغ" په نامه یې یو ټوکر پر قبر په رَپا کړ.

دغه ماجرا د واکمن ګوند د " تلاشي ډلې" ته بس وه چې لاس په کار شي. هغوی د ملا ګل پر کور را توی شول. شپاړلس کلن ځوان غرونو ته و تښتید او له مجاهدینو سره یو ځای شو ؛ د ملاګل له تیښتې وروسته ، کورنۍ یې پاکستان ته ولاړه .

ښاغلي ګل هم دغه پټ راز ، له ځان سره ساتلی وو تر څو چې شپږ میاشتې مخکې [د ۲۰۰۸ز کال د جولای / اګست میاشت] د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د ګور د موندلو د پلټونکي کمیسیون کارمندان د (کابل) د خواجه غار کلي ته راغلل.

د محمد داؤود لمسی سردار محمود غازي د قبرونو د کیندنې پر مهال هم وو. نومورړي له ښاغلي پادشاه میر غوښتنه وکړه چې کابل ته راشي او مرستې ته ور ودانګي. جنرال له خپلې وروستۍ نښې سره را ورسید.

ښاغلي غازي وويل : " مورږ ټول د غونډۍ پر سر ولاړ وو. جنرال پادشاه میر د ځمکې یوه ګوټ ته ګوته ونیوله او زیاته یې کړه : " دلته ...!" دوې ورځې وروسته د کیندونکو ډلې هغوی وموندل ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د عامې روغتیا د وزارت مرستیال او د کمیسیون سمبالوونکي فیض الله کاکړ وویل : " د هډوکو بیا پیژندنې څو میاشتې و نیولې. د دیرش کالو په اوږدو کې د پریړ او زاړه ترپال کرباس د مړیو مخونه رَژَولي ول او یوازې د ترپال اوسپنیزې کړۍ پاتې وې. د مړیو جامې له منځه تللي وې. د ولسمشر د خور ، عایشې ، پیژندنه د هغې د ځانګړو اورتوپیدیکو بوټانو له مخې وشوه ، د ولسمشر د زوی عمرداؤود ، پیژندنه د اوږو د سر د دوه وو چټک تسمو د کړیو له مخې چې د خپل کمربند په دوه وو څنډو به یې تړلې ، وشوه".

په پای کې محمد داؤود هم د غاښونو د قالب او د قرآن مجید د سرو زرو د یوه کوشني ټوک له مخې وپیژندل شو چې تل به یې د خپلې کرتۍ په استرکې دننه د ټیر پرسر ټومبه.

ډاکټر کاکړ د محمد داؤود د یوه تن د یاورانو ، جنرال انور شاه خان له خولې وویل : " د قرآن مجید دغه ټوک د سعودي عربستان پاچا د افغانستان ولسمشر ته ور کړی وو".

د کمیسیون کارمندانو د دربار له جامه مینځونکي غلام درویش سره چې د محمد داؤود جامې به یې مینځلې هم خبرې اترې وکړې. هغه وویل : " هو. ولسمشر تل قرآن مجید د خپلې کرتۍ په جیب کې دننه ایښوده".

د ډاکټر کاکړ په وینا ، د هډوکو څیړنه څرګندوي چې پر ولسمشر د ګولیو باران شوی وو او زوی یې عمر په دوه وو ګولیو وژل شوی وو .

د محمد داؤود د خوښینې او د هغه د لور له خوا د لمسي د مړیو څرک چې د کودتا په ورځ ټپیان شوي ول او په روغتون کې یې سا ورکړې وه ، لا تراوسه نه دی لګیدلی. د دغې کورنۍ څو تنه پاتې غړي لومړی بندیان شول او بیا له هیواده د باندې ووتل. د هغوی یو شمیر د ۲۰۰۱ ز کال په پای کې د طالبانو له پرځېدنې وروسته افغانستان ته راستانه شول .

د محمد داؤود د فاتحې لمانځنه به نه یوازې د افغانستان د تاریخ یوه خونړۍ څنډه په نښه کړي ، بلکه د هغه د کورنۍ پاتې غړو په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې دیرش کاله مخکې یې پرهرونه لیدلې ول ، رواني آرامي ور په برخه کړي.

د محمد داؤود لمسیانو ، ښاغلو غازي او نعیم وویل ، هغوی هیله من دي چې خاورو ته د مړیو دویم ځل سپارل د ملي پخلاینې د لړۍ درشل وګرځي او داسې یوه کمیسیون ته لاره پرانیزي چې د تیرو دیرشو کالو د ورانیو حساب او کتاب چې د هر حکومت تر سیوري لاندې شوي وي ، را څرګند کړي .

ښاغلی غازي د محمد داؤود د زوم محمد نظام زوی دی. د غازي پلار په هغه وخت کې د بهرنیو چارو د وزارت کارمندوو چې د غازي له نیکه سره یوځای ووژل شو. غازي زیاته کړه : موږ دلته د وینې په بدل کې د وینې د غچ ،

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



يا د دښمنۍ په بدل کې د دښمنۍ لپاره نه يو راغلي. د رښتيا او رښتونولۍ له مخې بايد څادر ليرې شي او د افغانستان د ولس مخې ته دې کښېښودل شي ".

دغې کورنۍ ته د وژل شويو کسانو د هډوکو بيا موندنې د زړه تسل ورپه برخه کړی دی. ښاغلي غازي زياته کړه : " موږ مسلمانان يو. مړي بايد آرامځايونه او ژونديان بايد لمانځنځايونه ولري چې لمنځنې ترسره کړای شي. که دغه غوښتنې تر سره شي ، زموږ زړونه به خورا زيات تسل شي ".

مل کرښې

۱ (له څيړنيز اړخه ، د نيويارک ټايمز په ګزارش کې يو شمير بيلګې سمې نه دي. د ساري په ډول لاندينۍ کرښې :

-محمد داؤود او کورنۍ يې د ديارلس سوه او اووه پنځوسم لمريز کال د غوايي د مياشتې په اومې نېټې [۱۹۷۸ز د اپريل ۲۸] د سهار د شپږو او اوو بجو او په پياوړې انګيرنې د سهار د شپږ نيمو او اوو بجو ترمنځ ووژل شول ، نه د هغې ورځې د سهار د څلورو او پينځو بجو تر منځ.

-په ارګ کې دننه د وژل شويو افسرانو او کارمندانو شميره څرګنده نه ده ، خو دومره څرګنده ده چې د محمد داؤود له کورنۍ څخه يوازې عمر داؤود د نيمې شپې په تور تم کې او نور ټول د غوايي د اوومې له تور ماښام وروسته د ديارلس سوه او اووه پينځوسم لمريز کال د غوايي د مياشتې د اتمې [۱۹۷۸ز کال د اپريل ۲۷ او ۲۸] نېټې د شنه سهار د ګوليو تر باران لاندې ونيول شول .

۲ ( د دغه ګزارش په انځوريزه برخه کې مولا ګل او ورورېې د هغو کواړيو خاورو پر څنډه ليدل کيږي چې تر لاندې يې د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ مړي ايښودل شوي ول.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلور وېشتمه برخه

## مل کرښې

۱ ( د ۲۰۰۹ز کال د مارچ د مياشتې په ۳۰ نېټه چې ددغې لړۍ د ليکنې د پای مهاليز وخت وو ، د کاناډآ د مونتريال له ښاره د محمد آصف صافي په نامه يوه افغان دوست وويل چې تر راتلونکي مياشت پورې به د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژل کېدا د څرنګوالي په اړوند د " پسرلني سباوون د ګولېو د باران" د لړۍ لپاره نوي او تاند مالومات وړاندې کړي .

محمد آصف صافي د خبرو په لړ کې له " جګتورن نور احمد تره خيل" څخه يادونه وکړه او زياتوي چې خلکو د کټـور په نامه پيژانده . محمد آصف صافي د تره خيل په اړه داسې وايي:

"کټوري راته " د ۱۹۷۸ز کال د اله ګولې او نښتو خبرې کولې ؛ هغه د خبرو په ترڅ کې ما ته وويل : " زه هم د بولندوی شهنواز تـنـې په امر د ولسمشرۍ ماڼۍ ته تللی وم. وروسته له دې چې امام الدين ، سردار محمد داؤود ټپي کړ ما خپلو پينځلس تنو کوماندېانو ته د اور امر ورکړ. د هغه ټوله کورنۍ په ډزو کې له منځه ولاړه. کله چې ډاډه شوم چې نور هېڅ څوک ژوندي نه دي پاتې ، ولاړم او د داؤود خان سپينه تومانچه مې له ځان سره را واخيستله ".

د محمد آصف صافي په وينا وروسته له دې چې تره خيلی نوراحمد کټور د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ په وژنې اعتراف وکړاحمد شاه مسعود د ۱۹۸۳ ز کال د نوامبر په مياشت کې په خپل امر په پيشغور " پنجشير " کې له غاړې وځړاوه او او زيندۍ يې کړ.

د محمد آصف صافي او شهنواز تنې ترمنځ د ثبت شويو خبرو ليکنزه بڼه چې په هغې کې د جګتورن نور احمد تره خيلی د ليږلو او ارګ ته او د هغه د ونډې په اړه خبرې شوې دي زموږ پر دغو مل کرښو به يوه بله لړۍ ورزياته کړي .

۲ ( د انجنير خليل الله رؤوفي د ليکنې " افشای حقايق بيشتر ....." ځينې برخې : هېڅ شک نشته چې حفيظ الله امين او اسدالله سروري دواړه د KGB جاسوسان ول خو د داؤود خان د هاغه وخت د واکمنۍ په پړاو کې چې د چا په ګومان کې د کودتا د سمبالتيا او د رژيم د پرځېدا خبره لا نه ګرځېدله بيا هم داؤود خان په کلکې سرټمبه ګۍ او پريکنده ډول د هيواد د واکمنۍ واګې په يوازې او خپلواکه توګه په لاس کې درلودلې. هغه خپل هر مخالف په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وچ زور ټکاوه او هر شکمن سړی ان که د هغه د ډاډ وړ سړی به هم وو ، هغه به یې له سیاسي او پوځي ډګر څخه لېرې کاوه .

د بېلګې په توګه په دغه وخت کې یې خپل ځوان کودتاچي ملګري لکه د مخابراتو وزیرعبدالحمید محتاط ، د سرحداتو وزیر پاچا ګل وفادار ، د کورنیو چار وزیر فیض محمد ، د هوایي او هوایي مدافعی رئـیس ارکان ډګروال اکبرمقصودي چې ددوی په مرستې یې واکمني تر لاسه کړې وه له ځانه لیرې ، پر هغوی په قهر شو او له دندې یې ګوښې کړل او یو شمیر نور کسان یې تر څار لاندې و نیول .

کېنې لاسي لارښود پرته له دې چې د خپل کاري شپول ترګرد چاپیره چاپیریال یوه پوهه او هوښیاره ډله را ټوله کړي پر نورو ټولو کینې لاسو سیاسي بهیرونو او ډلو یې د غندنې پریړه کرښه را وکاږله. د داؤود خان دغه سیاست هغه مهال پلی کیږي چې له روسانو سره یې په بربنډه اړیکې پریک کړې وې او د هغوی تر ځمکې لاندې کورنۍ ځالګۍ د سر سپارلو کسانو له پلوه لکه د دفاع وزیر حیدر رسولي ، د لوی درستیز عزیزخان چې خلکو د " تور عزیز / عزیز سیاه " په نامه پیژانده ، او د د دفاع د وزارت د استخباراتو د رئـیس جان نثار خان تر کلک څار او نیونې لاندې راغې وې .

د روسانو له څارګرو ځالګیو سره د اسدالله سروري له اړیکو سره سره او پرته له دې چې نوموړي له روسانو څومره ژورې او څه ډول اړیکې درلودلې بیا هم د داؤودي ددغسې درانده سیاست تر سیوري لاندې هغوی هېڅ کاره وو او د داؤود د قهار رژیم پر وړاندې یې دومره زړه او جرئـت نه درلود چې په براﻻ ډول سر راپورته کړي ځکه د KGB له مرستې سره سره په هغوی کې دومره زړه او جرئـت نه وو چې کوم ګواښ زیږوونکي چلند ته دې لاس واچوي.

که امین د خلق د ډلې په استازیتوب د پوځ په یوې کوښنې کړی کې د افسرانو د جلب او جذب دنده درلودله دا ددې مانا نه ښندي چې نوموړی دې په هیواد کې د یوه مطرح ځواک په توګه د ښاغلي لبیب په وینا د داؤود د لارې خنډ وګرځي او په دې دې بریالی شي چې د هغه مخه ور ډب کړي او نه سروري کومه پخه ونډه درلودلای شوای چې د یوه ورک نومي تورن په توګه یې په هوایي ځواک کې کار کاوه. خو د غوایي له کودتا وروسته دواړه د بې خرته واک او ځواک پر ګدۍ ځای پر ځای کیږي او دواړه د دوه سرو ښامارانو په جامه کې د ټولنې پر زړه ور ننوځي او په خپل هیواد کې د وژنې او د ستر خونړي ناتار په بنسټ ایښودونکو بدلیږي.

د هغې تر څنګ داؤود خان د هیواد په ملکي او پوځي چارو کې د شوروي سلاکارانو د آزادې لاسوهنې د لړۍ لمن کرار کرار ور لنډه کړه او د هغوی پر ځای یې کورني سلاکاران ځای پر ځای کړل او هغوی یې اړ کړل چې په خپلو کار پوهنیزو برخو کې له ژمنې او هوډ وروسته خپله پازوالي په غاړه واخلي ، ددفاع وزرات ته امر شوی وو چې د وسله وال ځواک په ټولو څانګو کې دې د سلاکارانو د اړتیا څرنګوالی و څیړي او د هغوی شمیره دې اړینې کچې ته را ټیټه کړي. د بېلګې په توګه د توغندیو په لیوا ( لیواې راکټ) کې چې د وسله وال ځواک تر ټولو عصري ځواک

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمیرل کېده څوارلس سلاکاران ول چې په ځانګړو کارپوهنیزو برخو کې ښکیل ول ، خو له کورنیو انجنیرانو څخه د ژمنې له اخیستلو وروسته د نورمورو سلاکارانو شمیره دریو تنو ته راټیټه شوه او پاتې کسان بیرته خپل هیواد ته ستانه شول. دغسې چاپې د وسله وال ځواک په ټولو لیواګانو او کنډکونو کې ترلاس لاندې ونیول شول او پلې شول .

ښاغلی لبیب په خپل کتاب کې وايي چې د غوايي له کودتا مخکې د دفاع په وزارت کې په ځانګړې توګه د هوايي ځواکونو په اډانه کې د مهمو کادرونو مقرریدل او بدلیدل د روسانو له پلوه ترسره کېدل ، حال دا چې شوروي مستشاران نور هغه خپلسري واکمنان نه ول چې په هر کار کې دې په خلاص لاس ، لاسوهنه وکړي ، دا خو لا پرېږده چې روسان دې دومره واک ولري چې ډګروال قادر خان دې د هوايي ځواک د درستیزوال په توګه و ګوماري یا دې د بګرام له ګارنیزیون څخه رحیم نورستاني لیرې کړي ، دا دومره آسانه نه وه اوهغسې نه وه لکه څنګه چې ښاغلي لبیب یې وايي. په پوځي چارو کې یوازینی پریکړه کوونکی او واکمن سړی په خپله ولسمشر وو او د یوه قهاره پاچا په څیر به یې امرونه لیږل. خو د هغه تیروتنه په دې کې وه چې ددغسې برخه لیک جوړونکي سیاست په لاره کې یې د کرملین غبرګون په هېڅ شمیرلی وو .

د KGB د لاسپوڅو یوه بله روزل شوې مرۍ ډګروال قادر خان وو چې د غوايي د کودتا په بریالیتوب کې یې پریکنده ونډه درلوده. ښاغلي لبیب باور لري چې د وسله وال ځواک په داسې یوه مهم دریځ کې د هغه مقررېدل له کودتا څخه یوه میاشت مخکې د KGB د ځالګیو په منځګړیتوب ترسره شوي ول. خو تر هغه ځایه چې روښانه ده د هوايي ځواک د درستیزوال په توګه د قادر خان ګومارنه د غوايي له کودتا یوه مېاشت مخکې نه بلکه ډېره موده وړاندې د داؤود خان د ډیرو د ډاډ وړ او د کورنیو کړیو او ځالګیو له پلوه تر سره شوې وه .

د چنګاښ د کودتا د ګډونوال په توګه قادر خان د څو استوي کرکتر په لرلو دا وړتیا او ورهنه درلودله تر څو د داؤود خان ډاډ په هرې شونې بیې تر لاسه کړي چې د همدغې موخې د ترسره کېدا لپاره د دفاع د وزیر غلام حیدر رسولي د زوم او د آریانا د رئـیس انجینیر نجیب الله له لارې یې و کولای شول د " ملي غورځنګ " د ګوند غړیتوب تر لاسه کړي. او په همدې ترڅ کې یې د هوايي ځواک په کړیو کې د " ملي غورځنګ " د ګوند د چارو سمبالتیا هم پر مخ بیوله .

قادرخان په چابکۍ او هوښیارۍ و کولای شول چې داؤود خان ته ځان له همدې لارې نیږدې کړي او د یوه افسر [ ظاهرأ د یوه پالیال او سر سپارلي افسر په جامه کې ] د داؤود خان ترمخ د پالیالۍ لوره وکړي او د هوايي مدافعې د درستیزوال دریځ په خپلو منګولو کې راخپل کړي .

د داؤود خان په دولت کې نورستانیانو د پام وړ ځواک را خپل کړی وو او قادرخان د هغوی پر ضد د دفاع وزیر رسولي ته له اړو پیچه ډک " ضد ونقیض" راپورنه ور کول ، د هغه موخه داوه چې د بګرام د ګارنیزیون هڅاند او منضبط بولندوی ډګروال رحیم نورستاني له خپلې لارې د یوه خنډ په توګه لیرې کړي ؛ ځکه د هغه په شتون کې په

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بگرام کې هېڅ پیلوټ نه شوای کولای په خپل سر الوتنه وکړي. قادرخان په خپلې موخې کې بریالی کېږي. له کودتا څو میاشتې مخکې یې د داؤود خان په لاس رحیم خان له دندې گوښه کړ او دغه دنده یې نرم چلند ډگروال غلام سخي ته ور کړه. دا هغه تیر وتنه وه چې په حقیقت کې داؤود خان په خپل لاس د خپل مرگ حکم لاسلیک کړ ځکه دا د بگرام او شینډنډ هوایي ځواکونه ول چې د یوه هیواد او دولت برخلیک یې د خلق د گوند د کودتا پر تندي و لیکه .

خپلې موخې ته د رسېدا په لاره کې قادر خان له ځانه پورته کسانو ته هېڅکله سر ټیټ نه کړ او تر لاس لاندې کسانو باندې یې هېڅ ډول خپلسري ونه سپموله. د کودتا د بریا په شنه سهار یې د هوایي او مدافعه هوایی ځواک بولندوی ډگر جنرال موسی خان چې د هیواد د وسله وال ځواک یو سپیڅلی او کارپوه افسر وو د هغه له یوه مرستیال تورنجنرال ستارخان سره یو ځای د کار په دفتر کې په کلاشنیکوف ووژل . له هغه وروسته په بیړه د بگرام د هوایي ډگر پر خوا والوت ، هلته یې د گارنیزیون بولندوی ډگروال سخي و نیو او بندي یې کړ ، د بولنې " قوماندې " د دریځ ولکه یې په خپل لاس کې واخیسته او خپل ژمن ملگري پیلوټان یې د کودتا لپاره چمتو کړل چې والوزي. یو ساعت وروسته یې د خواجه رواش د هوایي ډگر په اډه کې د بلې وژنې امر ورکړ. هغه خپل نیږدې او هم مسلکه ملگري لکه د ځارگرې ځانگې مدیر ډگروال قاسم خان ، د ښوونی او روزنې آمر ډگروال عنایت ، د هوایي ځواک سر انجنیر مرتضی قل د حرکاتو مدیر ډگروال سلطان پیلوټ او یو شمیر نور هیواد پال او په کار پوه افسران یې پرته له دلیل او گناه په خپل امر په ترلو لاسونو د هوایي ډگر پولیگونونو ته ولیږل او تر خاورو لاندې یې کړل. ددغو تأریخي او ځلاندو غوړه مالیو او چوپړونو له شامته نوموړی د دفاع د وزیر په توگه وټاکل شو او یو ځل بیا یې نوي رژیم ته د پالیالۍ لوړه وکړه. د غوایي د کودتا په همدغو شپو ورځو کې د هیواد په وسله والو ځواکونو کې نورستانیانو ډېر ځواک درلود او ددفاع وزیر حیدر رسولي له هغوی سره د یو شمیر سیاسي ټکرونو له امله ښه چلند نه درلود .

د ځلورم زغره وال ځواک بولندوی سرور نورستاني چې د داؤود د چنگاښ د کودتا یو په ځان غره افسروو ، دفاع وزیر ته یې هېڅ پام نه درلود او نه یې هغه ته ارزښت ورکاوه ، له داؤود پرته یې په خپل سر بل سر نه پیژانده . د بگرام په گارنیزیون کې ډگروال رحیم نورستانی ، د گارنیزیون یو تر ټولو ځواکمن بولندوی وو. ډگروال دین محمد نورستاني د هوایي ځواک د بولندوي په توگه کار کاوه ، قدیر نورستانی د کورنیو چار وزیر وو ، دوی ټولو د داؤود خان د ولسمشرۍ د ځمکنیو او هوایي ځواکونو کلیدي جرړې جوړولې .

داؤود له یوې خوا ددغو ستونزو په تړاو په اندیښنه کې ډوب وو او له بله اړخه د ځلورم زغره وال ځواک پرضد د حیدر رسولي پاروونکو راپورونو د داؤود شک لاپسې را وپاراوه ، داؤود له قدیر نورستاني پرته ، نور ټول د ځواک او واک له لوړې څوکې راکښته کړل ،ان د سرور نورستاني د جنرالۍ رتبه یې منظور نه کړه. له همدې امله وو چې د ځلورم زغره وال ځواک د بولندوی خوا له داؤود خانه شنه شوه او د خپلې ماندینې د ناروغۍ په پلمه شوروي ته ولاړ .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داؤود خان د نورو کسانو په پرتله حیدر رسولي ته ډیر غوږ نیوه او پر هغه یې ډاډ کاوه ، د هغه خبره به یې منله ، د سرور نورستاني او د نورو پوځي کړکیچنو سکالو په اړوند یې د حیدر رسولي راپورنه حقیقت ته نیږدې بلل ، خو رښتیا دا ده چې دغه نورستاني کادرونه په ټولې سپیڅلتیا خپل مشر او لارښود داؤود خان ته خورا زیات پالیاله ول ، د هغوی شتون د داؤود د واکمنۍ ستنو ته ټینګښت ور بخښلی وو ، یو شمیر پوځي او سیاسي نانديرۍ د دولت په کورنیو او له دولته دباندې کړپو کې په کلکه د غوریدا په درشل کې وې او په دغسې یوه چاپیریال کې داؤود خان له خپل ناوړه او لټ دفاع وزیر سره یو ځای ددغو نانديريو خطرناکو پايلو ته پام نه کاوه او په پای کې هر څه په بل مخ واوښتل چې د جمهوري رژیم د هغه له لارښود سره ځای د پوپنا کېدنې په ډنډ کې ډوب شو /..../ .

د هغې تر څنګ د هیواد د پیاوړي او ځواکمن ولسمشر داؤود خان او د هغه د کورنۍ د وینو بیه بې ارزښته او ټپټه وبلل شوه ، داؤود خان د یوه مؤمن او ګروهن افغان په توګه د افغانستان له پرمختګ او خپلواکۍ سره ډیره مینه درلودله او د هغه لپاره یې هلې ځلې کولې خو لږ تر لږه ان د هغه غوښتنې ته چا غوږ ونه ونیو ، د کودتا دوه تنه پاخه ګډونوال او سمبالوونکي قادر خان او اسلم وطنجار د هغه حضور ته ارګ ته ور نه غلل او د ( امام الدين په وينا ) یوازې د کوماندو د لومړي ټولي بولندوی شهنواز تني ته امر ورکړل شو چې د پوځي شورى پيغام داؤود خان ته ورسوي .

تورن شهنواز تنی چې د نامتو کېدا ازانګی يې وروسته يې خپرې شوې د دغسې يوې مهمې دندې د سرته رسولو پازوالي چې هيواد د بدلون په درشل کې وو د خپل ټولی بريدمن امام الدين ته سپاري ، دغه ځوان بريدمن له خپلو دريو تنو سرتيرو سره په ارګ ورننوځي او هغه داؤود خان ته چې خروښ او قهر يې د تور ايندوکش " هندوکش" له لوړ والي لا لوړ تللى وو وايي چې وسله دې پرځمکه واچوه او ځان تسليم کړه .

دا هغه تأريخي سپکاوی وو چې د افغانستان ولسمشر سل ځله مرګ تر هغه غوره باله او په پای کې يې خپل ځان او خپله کورنۍ د نام و ننګ او پت قرباني و ګرځاوه .

د امام الدين په ځوابونو کې د دغې ويروونکې تأريخي پيښې انځور په دومره بې ارزښته ليرليد کې غبرګون مونډلی چې ګنې کودتا ، کودتا وي او په هغې کې وچ او لانده يوځاي سوځي ، د کودتا فرهنګ له رحم او روغې جوړې سره تل په ټکر کې وي او خپل مخالفين بايد په هماغه شېبه کې دړې وړې کړي. له دې امله د هغه په انګيرنې ، د افغانستان د ولسمشر محمد داؤود له منځه وړل هم ددغه فورمولې له اډانې نه شي وتلای ".

ددغې لیکنې د بشپړ متن د لوستلو لپاره کولای شئ و ګورئ:

www.farda.org/articles/08_updates/081100/article_kh_rauffi.htm

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ ( انجنیر نجیب الله داوري د " فاکتهای غیرقابل انکار دست روسها در امر سقوط رژیم محمد داوود و پیروزی کودتای ثور" تر سر لیک لاندې د ۲۰۰۸ زکال د اگست د مېاشتې د لیکنې په پای کې داسې لیکلي : ( د لیکوال له اجازې پرته دغه برخه لږ را لنډه شوې ده (

د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند ان د مرکزي کمیټې او سیاسي بیرو د غړو په منځ کې داسې کسان هم ول چې د شوروي پالنې په پرتله ، ولسپال ول. له هغې ډلې څخه کولای شو د میرمحمد اکبر خیبر او خلیل زمر نومونه را واخلو. خلیل زمر د غوايي له کودتا څو میاشتې مخکې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند له مرکزي کمیټې سره پریکون وکړ او د داؤود خان له حکومت او دولت څخه یې خپل ملاتړ اعلان کړ. د غوايي له کودتا وروسته نوموړی د لسو کالو لپاره د همدغه جرم په کړس کې لس کاله د څرخي پله په زندان کې د محکمې له حکمه پرته تیر کړل.

خیبر ددې پلوی وو چې د پرچم ډله دې د ملي غورځنگ له گوند سره یو ځای شي تر څو له داؤود خان سره د بنسټیزو پروژو په سرته رسولو کې جوگه شي. خو د خیبر دغه لیر لید د مسکو له نړۍ واکۍ او هیلو سره سمون نه خوړ ، ځکه چې روسان په خپلو گټو پسې گرځېدل سره له دې چې د داؤود خان رغښتیزو پروژو له اقتصادي اړخونو په یوه بنه له سوسیالیزم سره ډېره لګوله خو روسان هېڅکله د افغان ولس د سوکالۍ او د داؤود خان د ملي رغانیزو پروژو پروا نه کوله. په پای کې میر اکبر خیبر د سترگو په رپ کې د پرچم د ډلې له پوځي پازوالۍ څخه گوښه کړای شو او پر ځای یې نور احمد نور د پرچم د ډلې د پوځي څانگې پازوال و گومارل شو .

تر اوسه د خیبر د وژنې په اړوند بیلابیل لید لوري او انگیرنې وړاندې شوي دي او په دې وروستیو کې دا گنگوسې هم خپرې شوې چې گنې گلب الدین حمکتیار د خیبر وژنه د خپلو پلویانو له کارونو څخه گڼلې ده .

هغه څه چې څرگند دي دا دي چې د افغانستان په وسله وال ځواک کې له خلقي او پرچمي افسرانو پرته یو شمیرو نورو خپلواکو افسرانو د شوروي له GRU یا د ( شوروي له پوځي څارگرې اداري )Glavnoje Razvedyvatel'noje Upravlenije (GRU)سره نیغ په نیغه اړیکې درلودلې او هره شېبه تیارسۍ ول چې د شوروي د گټو پر بنسټ کار وکړي . په دې کې شک نشته چې د پرچم د پوځي څانگې د پازوال په توگه د خیبر اوGRU تر منځ اړیکې له یوې خوا او د GRU او حفیظ الله امین ترمنځ په اړیکو کې له بل خوا چې په وسله وال ځواک کې د خلق د ډلې پازوال وو ، یو شمیر رمزونه او رازونه پټ ول. ښايي خیبر له GRU سره د ټولو اړیکو لرونکو افسرانو لیست درلود او د ټولو پرچمي او یو شمیر خلقي افسرانو په نومونو پوهیده چې د اور د بولنې واک یې په لاس کې درلود.

هر گوره ، مسکو پریکنده پریکړه کړې وه چې د داؤود خان واکمني را وپرځوي ، ان نور محمد تره کي په خپلې یوې مرکې کې ویلي ول چې غوښتل یې انقلاب د هماغه کال د زمري [جولای/اگست] په مېاشت کې پلی کړي تر څو د " زمري " د انقلاب په نامه و نومول شي!

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ملي غورځنګ له ګوند سره د پرچم د ډلې د يو ځای کېدنې په تړاو د خيبر پريکړه او له داؤود خان څخه له ځونې ځار پرته د خيبر ملاتړ له يوې خوا او له بلې خوا د ديارلس سوه او اوه پينځوسم کال د زمري په مياشت [ جولای/اګست ١٩٧٨ز] کې د داؤود خان پروړاندې له کيدونې کودتاڅخه د خيبر خبرتيا ، شورويان په شک کې و غورځول او وېې انګيرل چې ښايي خيبر د هغو پرچمي او خلقي افسرانو نومونه به داؤود خان ته ورسوي چې د اور ورکړې واک په لاس کې لري .

دلته ده چې د خيبر د ترور تابيا نيول کيږي. د ديارلس سوه او اوه پينځوسم لمريز کال د وري د مياشتې په اته ويشتمه د دوه نۍ " دوشنبې " په ورځ [ ١٩٧٨ز کال د اپريل ١٧ ] د کابل په مکرورويانو کې دولتي مطبعې ته نيږدې د يوه پوځي جيپ موټر له منځه په خيبر ډزې کيږي. په هماغو شيبو کې د شوروي د سفارت يو تن کاروکوونکي اوبلوف د سرک په هاغه بله غاړه کې ليدل کيږي .

دا چې د خيبر له وژل کېدا وروسته د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په خپلې څوارلس کلنۍ واکمنۍ کې له خيبر څخه هېڅ يادونه ونه کړه ، ان پليو په لاره تلونکو کسانو د هغه پر انځور ختې او لوخړې و مبلې او د هغه د قبر لوحه له ځايه بې ځايه کړه ، د هغه د قبر په بيا جوړونه کې د ګوندي ملګرو چوپيتا او بې پروايي تړول ددې مانا ښندي چې د خيبر د وژنې جرړې چيرې پرتې دي. څرګنده ده چې د خيبر په جنازه کې د غـَروو اوښکو تويول " د تمساح د اوښکو تويول " يوازې يوه درغلنه وه .

يو شمير کسان وايي چې د کودتا د پلي کيدا د پلان تابيا حفيظ الله امين جوړه کړې وه چې د ديارلس سوه اوه پينځوسم لمريز کال [ ٢٦ اپريل ١٩٧٨ز] د غوايي د مياشتې د شپږمې / اومې په باراني شپه يې د سيد محمد ګلابزوی له لارې اړوندو افسرانو ته و رسوله ، ترڅو " سبا ته خپلو کنډکونو ته له رسيدا سره سم " دې کودتا پلې کړی ، ان تر دې کچې چې ګڼ شمير پرچمي افسران په لومړيو کې له کودتا خبر نه ول او دننه په ارګ کې يې له داؤود خانه په سرښندنې دفاع کوله .

دغه خبره دومره ساده نه ده. د ډګروال عبدالقادر تر مشرۍ لاندې د انقلابي افسرانو سازمان هم د هيواد په پوځي قطعاتو کې يو شمير لارښوونې لهGRU څخه تر لاسه کړې وې تر څو د محمد داؤود په پلوي هر ډول خوځښت شنډ کړي.

د غوايي په کودتا کې د روسانو د لاس لرلو فاکټونه کولای شو داسې را وشميرو :

لومړی ) په دې کې هېڅ شک نشته چې د GRU او حفيظ الله امين ترمنځ د کودتا د پلي کيدا په اړوند ژمنې او پټپټانی شتون درلود. دا چې حفيظ الله امين له کودتا وروسته په لوړ غږ ډير غږومبيده څرګندوي چې د GRU پياوړی لاس يې تر شا درلود .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هغه وخت کې د ګرځند ټیلفون ټکنالوژي په نړۍ کې د هر چا په لاس کې نه وه. د افغانستان په پلازمېنه او ولایتونو کې یوازې د ټلیفون ځو کلاسیک مزي ول او امین دا امکان په لاس کې نه درلود چې له ځو ځنډونو په تیریدا دې ځان سانترال ته ورسوي او له نومړو ټلیفونونو څخه دې له خلقي افسرانو سره خبرې وکړي او د انقلاب د پیلیدا امر دې ورکړي. په هغو شیبو کې چې محمد داؤود د دولت او وسله وال ځواک ، واک په خپل لاس کې درلود امین او د هغه کسانو نه شوای کولای د وسله وال ځواک د مخابراتو له لارې خپلو ګوندي ملګرو ته د هیواد د ولایاتو په قطعاتو کې د وسله وال پاڅون خبر ورکړي. له بلې خوا خلقیانو دومره امکانات نه درلودل چې په ځو لنډېو ساعتونو کې دې ځانونه ولایتونو ته ورسوي او تر لاسه شوي امرونه دې خپلو اړوندو ملګرو ته ورسوي .

خو په دې کې شک نشته چې د افغانستان په بیلا بیلو قطعاتو کې له GRU سره په اړیکه کې افسرانو کوشني لاسي ټیلفونونه درلودل ، دغه ټکنالوژي یوازې شوروي او امریکا پوځیانو درلودله چې د هغې له لارې یې امرونه یې ترلاسه کول. څکه د دیارلس سوه او اوه پینځوسم کال د غوایي په اوومې [ ۱۹۷۸ز د اپریل ۲۷] کله چې ددفاع د وزارت پر ودانې ماسپښین نیږدې د کودتا لومړی ډز کیږي د ننګرهار د پولسمې فرقې بولندوی جنرال محمد یونس ددفاع په وزارت کې وو ، نومورړی په چټکۍ‌ځان ننګرهار ته رسوي هلته په بیړه فرقه تیارسـۍ کوي او زغره والو ، پلیو او د مخابرې قطعاتو ته د کابل پر لور د خوځېدا امر ورکوي.د قطعاتو چمتو کېدا یو یا دوه ساعته وخت نیو ، مخکې له دې چې قطعات د خوځښت لپاره چمتو شي له خپلو لوړ پوړو افسرانو سره یې غونډه ونیوله او غوښتل یې کابل ته د ورتګ او د کودتا د شنډېلو د پلان په اړه خبرې وکړې .

په دغه شېبه کې د مخابرې یو تن افسر د غونډې خونې ته ور ننوځي او وایي چې له کابله یې یو محرم پیام تر لاسه کړی او غواړي هغه یوازې جنرال محمد یونس خان ته ووایي. جنرال یونس خان له نومړي افسر څخه پوښتنه کوي : " څه خبره ده؟ " افسر وایي " راغلی پیام ډیر محرم دی او نه شم کولای هغه د ټولو تر مخ ووایم. که یو ځل کولای شـۍ د باندې را ووځـۍ ".

کله چې جنرال محمد یونس خان دباندې وځي ، نومړی افسر خپله تومانچه را اخلي او جنرال یونس خان ځای پر ځای وژني. له دغې پټې او مرموزې وژنې وروسته نور کسان دا جرئـت نه مومي چې د جنرال یونس خان پلان پر مخ بوزي. په پای کې د غوایي د کودتا په شنډولو کې د ننګرهار د پولسمې فرقې تابیا شنډېږي .

همدې ته ورته په کندهار کې هم پیښېږي. د کندهار د قول اردو بولندوی جنرال محمد عظیم وزیري په کابل کې د کودتا د قطعاتو د ډرې وړې کولو په موخه د کندهار د قول اردو کنډکونه د قول اردو له فرقې دباندې را باسي او ټول د کابل � کندهار د لارې په اوږدو کې د دامان د ولسوالۍ د ودانۍ تر مخ د خوځښت په موخه درَوي. له هغه وروسته له خپلو افسرانو سره د پلان د جوړولو لپاره غونډه نیسي تر څو د لارې په اوږدو کې د نورو موټرانو تګ راتګ بند کړي او نیغ په نیغه ځانونه له سرخوړاوي پرته کابل ته ورسوي. هغوی د غزني ۱۴ فرقې ته خبر ورکړی وو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د لویې لارې په اوږدو کې دې د موټرو تګ راتګ بند کړي ، دوی په همدغو خبرو بوخت ول چې ناڅاپه د څو مترو له واټن څخه پر جنرال عظیم وزیري او د هغه پر ملګرو د ماشینګنې ډزې کیږي او ټول ځای پر ځای وژل کیږي .

دویم ) د ایران پا چا مخکې له مخکې داؤود خان ته په افغانستان کې د شوروي د پلویانو له خوا د کودتا د ګواښ خبرداری ورکړی وو له همدې امله ول چې ایران ، د افغانستان د جمهوري ریاست په ارګ کې د ایران د شاهنشاهۍ د ګارد د قطعاتو ځای د پر ځای کیدلو او د افغانستان مهمو اور لرونکو قطعاتو ته ، د ایران د لوړ پوړو افسرانو د لیږد وړاندیز کړی وو. داؤود خان د ایران د پاچا وړاندیز ونه مانه او ویل کیږي چې یو وخت یې خپلو ملګرو ته ویلي ول چې غواړي شوروي پوځي سلاکاران هم خپلو هیوادونو ته ولیږي .

د غوایي د اوومې په ماسپښین نعیم خان د داؤود له مخالفت سره سره د فرانسې سفارت ته چې د ولسمشرۍ ماڼۍ ته څیرمه پروت وو ورغی او د هغه ځای له مخابرو څخه په ګټه اخیستنې یې د ایران له پاچا څخه د بیړنیو مرستو غوښتنه وکړه. د ایران پاچا له نعیم خان څخه بخښنه و غوښتله او ویلي ول چې اوس وار له واره تیر دی .

د مخابرې له دغې اړیکې سره سم د فرانسې پر سفارت کلک هوایي بریدونه تر سره کیږي. د نوي ښار ( شهر نو) او وزیر اکبرخان اوسیدونکي ددغې پیښې شاهدان دي. که څه هم د سفارت پر ودانۍ بمب ونه مښت خو دا په خپله په زباد رسوي چې روسانو د پرمختللو وسایلو ټول اړخونه مخکې له مخکې په ډیر ځیر څارل .

دریم ) د کودتاچیانو او د ولسمشرۍ د ارګ د ساتونکي ځواک تر منځ جګړه د شپې له تیارې سره سم شپبه په شپبه پیاوړکېدله او هغه مهال یې زور واخیست چې هوایي بریدونه پای ته ورسیدل. ان د شپې د لسو او یولسو بجو په شا او خوا کې د ارګ ځواکونه د ارګ له انګړه دباندې را ووتل او د راډیو افغانستان په لور یې کودتا چیان پسې واخیستل. دغه پرمختګ د کودتا پلویان سخت وویرول. هغوی د کودتا مشران د راډیو افغانستان له ودانۍ د باندې و ایستل او هغوی یې د کابل د هوایي ډګر د چنار سیمې ته و لېږدول. په همدغه شپبه کې نا څاپه د کابل د تشیال په زړه کې څو جنګي الوتکې را ځرګندې شوې او د شپې په تیاره کې یې د ولسمشرۍ ارګ د بمبارد تر اور لاندې ونیو. د دغو بمباریو کلکوالي د داؤود خان د پلویو ځواکونو د ټاکنیستانو پر روحیې چې کودتاچیان یې پسې اخیستي ول نا وړه اغیزه وکړه او هغوی اړ شول چې بیرته په شا شي .

که دا په پام کې ونیسو چې د هوا له تیاره کیدلو وروسته او د بګرام په هوایي ډګر کې د وسایلو د نشتوالي له امله چې هېڅ الوتکې نه شوای کولای له بګرامه و الوزي ، او وروسته له دې چې دولتي ځواکونو و کولای شول کودتا چیان د راډیو افغانستان پر لور په شا کړي ، دغه الوتکې په ناڅاپه له کومه ځایه راغلی او څنګه د ارګ بمبارد یې له سره را پیل کړ؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځواب څرګند دی : په پیښه کې حاضر روسان پوه شول چې د کودتا د ملا ستن مخ په ماتیدو ده. هغوی د کودتا د ماتې د مخنیوۍ لپاره له مرستندویو الوتکو څخه مرسته و غوښتله چې له ترمز یا تاشکنده را والوزي او د جمهوري ریاست ارګ تر اور لاندې ونیسي .

څلورم ) د محمد داؤود د دولت په پرځونه کې یو له اصلي مریو څخه ډګروال قادر د دیارلس سوه او دو پینځوسم لمریز کال د چنګاښ د شپږویشتمې [ ۱۹۷۳ د جولای ۱۷ ] له کودتا وروسته د هوایي او مدافعه هوایي ځواک د درستیزوال په توګه ټاکل کیږي. نوموړی د څو کالو لپاره د هوایي او مدافعه هوایي ځواک رئـیس ارکان په توګه کار کاوه او له هغه ځایه تبدیلیږي او د مسلخ د رئـیس په توګه په کار ګومارل کیږي. که څه هم د مسلخ ریاست له پوځي اړخه یو پسیف پوست وو خو هماغه امتیازات یې درلودل چې د اوریز ځواک لرونکي بل افسر درلودل .

ویل کیږي چې ډګروال قادر د غوایي له کودتا څو میاشتې مخکې د وخت دفاع وزیر غلام حیدر رسولي ته د سرو زَرو یوه غټه شمیره د بډې په توګه ورکړې وه او له هغه وروسته یو ځل بیا د هوایي او مدافعه هوایي ځواک د درستیزوال په توګه راستون شو .

که تر کاسې لاندې بله نیم کاسه نه وي ، نو ډګروال قادر څه اړتیا درلودله چې د سرو زرو یوه غټه شمیره د بډې په توګه ورکړي او د هوایي ځواک د درستیزوال په توګه دې بیرته راستون شي. ددې تر څنګ ، که GRU ډګروال قادر ته سره زر نه وای ورکړي هغه به دغه سره زر له کومه کړي وای ، هغه خو ځان د افغانستان د بې وزلو او ربړګالو پرګنو په ډله کې شمیره نو دغه پانګه یې له کوم ځایه تر لاسه کړې وه؟

په دې اړوند د متن د لوستلو لپاره دلته ولاړ سـئ :

www.goftaman.com/daten/fa/articles/part11/article1763.htm

۴ " (آیا شوروي د غوایي د اوومې د کودتا په ټابیا او پلان جوړونې کې لاس درلود ؟ / آیا شـوروی در تهـیه و پلانګذاری کـودتای هفـت ثور دسـت داشـت ؟ " د ش. ن . حقشناس په څیر یو شمیر لیکوالان باور لري چې " روسي الوتکې له تاشکنده والوتلې او د شپې تر دریو بجو پورې یې د ولسمشرۍ ارګ په پرله پسې او کلک ډول د بمبارد تر اور لاندې ونیو ".

دغه ادعا چورلټ غلطه ده ، ځکه د محمد داؤود جمهوري ګارډ د شپې تر یوې بجې پورې له پښو و غورځېد او ددویم ځل بمبارد ته اړتیا نه لېدل کېدله. حقشناس په دې اړوند چې نوموړې الوتکې دې له تاشکنده الوتلې وې هېڅ ډول لاسوند نه وړاندې کوي ، هغه یوازې د انګیرنې پر اوږو سپور او په اورپکۍ او لنډ الواکې ژبه خبرې کوي .

فرهاد لبېب هغه افسر وو چې د خلقیانو د واکمنۍ پر مهال له کابله وتلی وو، نوموړی د میر محمد صدیق فرهنګ د کتاب ( افغانستان در پنچ قرن اخیر) د دویم ټوک د ۸۱ پاڼې له مخې لیکي : " د کودتا امر په کابل کې د شوروي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سفارت کې جوړ او د سرور منګل په نامه د یوه افسر له پلوه حفیظ الله امین ته و لیږدول شو. حفیظ الله امین نوموړی فرمان لاس په لاس ګلابزوی ته ورکوي او ګلابزوی تر لاسه شوی پیغام اړوندو افسرانو ته رسوي ".

سرور منګل افسر نه وو ، هغه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د پرچم د ډلې له ملکي کادرونو څخه وو او له حفیظ الله امین سره یې هېڅ تړاو او اړیکه نه درلودله. له بل لوري لبیب هېڅ داسې لاسوند نه وړاندې کوي چې د شوروي په سفارت کې دې د کودتا د دستور د ورکړې څرنګوالی په زباد ورسوي .

د " تجاوز" د کتاب لیکوالان په (پینځلسمه پاڼه ) کې لیکي : " موږ په پای کې دې پایلې ته ورسیدو چې د [۱۹۷۸ز کال] د اپریل د ۲۷/۲۸ بدلون د شوروي دولت لپاره غیر منتظره وو او هغوی په دې اړوند هېڅ ډول پلان نه وو جوړ کړی. په کابل کې د شوروي سفیر پوزانوف وایي : " زه له کارمل ، تره کي او امین سره د غوایي له بدلون وروسته آشنا شوم" له انقلابه مخکې ، داؤود د افغانستان په وسله وال ځواک کې څه د باندې ۳۰۰ تنه روسي سلاکاران ګومارلي ول. ښایي د شوروي دولت همدغو سلاکارانو ته دنده سپارلي وي تر څو د رژیم پر وړاندې مبارزه وکړي .

په دې اړوند موږ له ل.ن. ګوریلو سره یوه مرکه لرو. د هغه په وینا ، د ګوند له غړو او افسرانو سره یې هېڅ ډول اړیکه نه درلودله او نه یې شوای کولای دغسې اړیکه ولري. برعکس ، له داؤود خان سره زموږ اړیکې ډیرې ښې وې. هغه به ویل : " ان که د روسي سلاکارانو د سر یو ویښته کم شي ، زه به مجرم له منځه یوسم." په ۱۹۷۲ زکال کې کله چې روسي سلاکاران افغانستان ته راغلل هغوی به له ساتونکي او وسلې پرته په ښار کې ګرځېدل او خلکو به ورسره په ورین تندي روغبړ کاوه. زموږ د سلاکار په وینا ، داؤود خان په روسي سلاکارانو او د هغوی په پوځي مرستو ډیره ډېره لګوله " .

سلیګ هریسن او ډیګو کورډویز دغي پوښتنې ته په ځواب کې چې آیا شورویانو په کودتا کې ونډه درلودله که نه ، آیا د کودتا پلان د هغوی له خوا جوړ شوی وو که نه ، د خپل کتاب " حقایق پشت پرده تهاجم شوروي به افغانستان " په ۴۷ ، ۵۲ او ۵۳ پاڼو کې داسې لېکلي دي : " د غوایي د کودتا د جزئـیاتو پلټنه څرګندوي چې د کودتا تابیا په خپل وروستني پړاو کې په خپله د افغانانو له پلوه و نیول شوه ، که د شوروي ځارګرې ځانګې په دې اړوند مرستې ته را دانګلي وي ښایي د عملیاتو له پیل وروسته یې دا کار کړی وي. په دې مانا چې شورویان په یوه تر سره شوي عمل کې راګیر پاتې شول.

د شته لاسوندونو پربنسټ په ټولیز ډول داسې بریښي چې شوروي دې یوې ناڅاپي پیښې ته لنډ ګنډ ځواب ویلای وي. الکساندر موروزوف چې د KGB د مرستیال په توګه کار کاوه او د مأموریت پیر یې د غوایي له کودتا څو میاشتې مخکې پای ته رسیدلې وو وایي چې مسکو پوهیده چې کودتا د پیښېدلو په درشل کې ده او موږ ته د مسکو چارواکو په کلکه لارښوونه کې وه چې ځان ورڅخه لیرې و ساتو. خو KGB په دې نه وه بریالۍ شوې چې د کودتا څرنګوالی په ځیر ومومي. کله چې د شوروي د پوځي ځارګري یوه څري " جاسوس " د امین له پلان څخه خپل ځارګر

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمان ته خبر ورکړ هغه ويلي ول چې کودتا به د اپريل د مباشتې په ۲۵ شپه د شپې نهه يا لس بجې پيل شي .
KGBوروسته ومونده‌له چې امين په خپل پيغام کې دا هم ور غبرګه کړې وه چې دغه خبره دې له روسانو څخه په کلکه پټه وساتل شي . آيا امين ويره درلوده چې موږ به پښه را وړاندې کړو؟ له دسيسه جوړونکو ( کودتاچيانو ) څخه يو تن چې د امين په پرتله د شوروي اتحاد دولت او د شوروي اتحاد کمونيست ګوند ته ډير پاليالـه وو ، موږ ته ددغه راز له مخې پوړنې ليرې کړ. کيداى شواى چې چا په دې تړاو داؤود ته خبر ورکړاى واى ، خو نه په کابل کې د شوروي په سفارت کې ، او نه په ماسکو کې داسې څوک ليدل کېدل چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند ته دې خيانت وکړي .

موزوروف ماته وويل : له نيمې شپې لږ وروسته ورته د KGB د مرکزي دفتر او د بهرنيو چارو د وزارت پيغانونه را ورسيدل. په هغو کې موږ ته لارښوونه شوې وه چې د دغې ماجرا په پارونه کې د امين مخه ونيسو. په کودتا کې د شوروي ونډه ، لنډه ګنډه او ناڅاپي وه او دغه خبره هغه مهال را څرګنده شوه چې د نوي رژيم له رامنځته کيدلو وروسته د رژيم د غړو په منځ کې د واکمنۍ پر سره شخړې او نانډرۍ را پيل شوې ".

له دې امله د غوايي د اوومې وسله وال پاڅون کولاى شو يو افغان پاڅون او کودتا و شميرو. د شوروي اتحاد د دفاع د وزارت ، د کورنيو چارو د وزارت ، دولتي امنيت او د بهرنيو چارو د وزارت له آرشيفونو څخه داسې لاسوندونه لا تر اوسه نه دي ترلاسه شوي او نه دي خپاره شوي چې د کودتا په هڅونه ، تابيا او پلان جوړونه کې دې د شورويانو لاس لرل په زباد ورسوي. له دې امله دغه پاڅون په خپله د افغانانو کار وو ، چې په غير منتظره او ډراماټيک ډول رامنځته شو ، په دغه پاڅون کې د وسله وال ځواک د افسرانو د ځوانۍ د ځوښ او خروښ ظريفو احساساتو پريکنده ونډه درلودله. دغه پاڅون يو ماجرا زيږوونکى پاڅون وو چې له اړينو پوځي سنجونو او د سياسي پايلو له ارزونې پرته د يوه خام پاڅون په توګه رامنځته شو. دغه پاڅون د داؤود د رژيم لوړ پوړ چارواکو د يوه کوشني بغاوت او شورش په توګه بللاى وو. ( ستر جنرال محمد نبي عظيمي : " اردو و سياست در سه دهه اخير در افغانستان " ۱۴۳ ، ۱۴۴ او ۱۴۵ پاڼې )

۵ ( د عبدالصمد ازهر له ليکنې " حقيقت پوشيده مانده يک واقعيت " ځينې برخې : د ديارلس سوه دري څلويښتم لمريزکال د وږي د مباشتې په شپږويشتمه نېټه [ ۱۹۶۴ ، د سپتامبر ۱۷ ] د کابل په دارالامان کې د يوه پټ سازمان بنسټ کښيښودل شو ، ددغه سازمان نوم " د وسله وال ځواک ډيموکراتيک انقلابي سازمان / سازمان دموکراتيک انقلابي اردو " ( ساډا) وو چې د يوې پرمختګپالې ډلې له پلوه يې بنسټ کښيښودل شو ، دغې ډلې ډيرې مودې را هيسې هڅه کوله چې د هيواد او ولس ربړو او کړېدنو ته د پاى او ژغورنې لاره ومومي. په کړۍ کې دغه کسان ول : له هوايي ځواک څخه يو افسر محمد عالم وصال ، د ځمکني ځواک دري تنه افسران : ذبيح الله زيارمل ، عبداللطيف انصاف او عزيزالرحمن ، د پوليسو دوه تنه افسران : مهرالحق قطره او عبدالصمد ازهر.د همدغې تأريخي غونډې په لړ کې موږ پر ټولنيزو موخو ، تشکيلاتي اصولو موافقه وکړه چې د ټولو په رايه عبدالصمد ازهر د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سازمان د رئـيس او ذبيح الله زيارمل د هغه د مرستيال په توګه و ټاکل شول او د لارښوونې له ګواښه ډکه دنده دوی ته و سپارل شوه .

له نوموړو کسانو څخه هېڅ يوه يې په شوروي اتحاد کې زده کړې نه وې کړې خو د GRU او KGB له اغيزو څخه خورا برخمن ول. عبداللطيف انصاف او عزيزالرحمن درې کاله وروسته کله چې له پوځي ډګره را ووتل او ملکي ژوند يې غوره کړ ، د نوموړي سازمان د اسرارو د ساتلو په هوډ يې ، له سازمان سره پريکون وکړ. محمد عالم وصال چې د هوايي او مدافعه هوايي ځواک په ليکو کې يې بې شميره ارزښتمن کارونه تر سره کړي ول په خواشينۍ چې د ديارلس سوه او اوه پينځوسم لمريز کال [ ۱۹۷۸ز] د جګړنۍ په رتبې او مهرالحق قطره چې ټول ژوند د هيواد د سوکالۍ په لاره کې کړيدلی وو د زړه د ناروغۍ له امله د سمونوال په رتبې په ديارلس سوه او دوه اويايم لمريز [ ۱۹۹۳ز ] کې له نړۍ سترګې پټې کړې. ډګروال عبدالقادر نه ددغه سازمان د مشرتابه او نه د هغه په کښتـنيو کړيو کې غړيتوب درلود او نه يې له هغه سره کومه اړيکه درلودله .

له يوې مودې وروسته د " ډيموکراټيک " کلمه ددغه سازمان له نامه څخه ځکه ليرې شوه چې سازمان يو پټ او پوځي سازمان وو او هم له نورو سازمانونو څخه د توپيره په موخه يوازې د " اردو د انقلابي سازمان " د نامه په غوره کېدا بسنه وشوه.

د دغه سازمان ټوليزې موخې د يوې خپلواکې ، پرمختللې ، بسيا ، ښيرازې ، ډيموکراټـيکې او د ټولنيز عدالت پر ستنې د ولاړې ټولنې د جوړولو په هيله په انقلابي تګلارو او افکارو د وسله وال ځواک د افسرانو د پوهاي او سبمالتيا پر چورليځ را څرخېدلې. له دې چې دغه سازمان يوه پټه کړۍ وه د سازمان په ليکو کې ښکيلو کسانو نه يو بل پيژندل او نه ټولنه د هغوی پر شتون او تګلارې خبره وه. هر ډول ځارګر شک کولای شوای زموږ د کړۍ د غړو ژوند واخلي او يا به کړۍ له بشپړې پو پنا کېدنې سره مخامخ کړي. د کړۍ غړو ته دا شونې وه چې د يوه تن پو پنا کېدنه ښايي د شخصي يا ټوليز وياړ له تر لاسه کولو پرته په تأريخ او ټولنه کې پو پنا شي. هغوی نه شوای کولای په لاريونونو کې ګډون وکړي ، هغوی نه شوای کولای په ټاکنو يا رسنيو کې ګډون وکړي. له همدې امله ول چې زموږ نامتو شعار دا وو : " مخ پر وړاندې د پټې او اتلوالې مبارزې پر لورا! " دغه شعار ددغې کړۍ د هرغړي لپاره د انقلابي زيار يوه نښرغانده بيلګه وه .

د وسلوال ځواک انقلابي سازمان ، وروسته د افغانستان د خلق ډيموکراټيک ګوند د يوه څنګيز سازمان بڼه غوره کړه. له دې چې دغه سازمان په ډيرې جدي بڼې يوه پټه کړۍ وه ، له دې امله د ګوند له مشرتابه سره د کړۍ د غړو اړيکه نا معقوله او له ګواښه ډکه بريښېدله ، نو ځکه عبدالصمد ازهر چې د کړۍ مشر وو د پخوانيو پيژندنو او پياوړو ډاډونو او مخورتوب له امله له ملګرو ( ببرک کارمل او مير اکبر خيبر ) سره اړيکه در لودله. په ا وروستيو کلونو کې کله چې د ملګري کارمل پازوالۍ او کارونه ډير شول يوازې يې له هغه سره په مهمو غونډو کې ګډون

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاوه او په نورو چارو کې ملګري خیبر د ملګري کارمل او سازمان ترمنځ اړیکې سمبالولې. له نوموړو دوه وو تنو سره د ملګري خیبر اړیکې د سازمان د مشرتابه له پلوه تر سره کېدلې .

که د " افغانستان د کمونیستانو د مورچل / جبهه کمونیستهای افغانستان " په نامه کوم سازمان رامنځته شوی وي نو د هغه د بنسټ نېټه بیرته د ۱۹٦۴ز کال د سپتامبر مېاشتې ته نه ور ګرځي ښایي ددغه سازمان بنسټ څو کاله وروسته ایښودل شوی وي .

د داؤود خان د ۱۹۷۳ زکال په کودتا کې د ګډون په تړاو په ټینګار باید ووایم سره له دې چې یو کال مخکې د " وسله وال ځواک انقلابي سازمان " د کودتا لپاره د جلب او حذب او سمبالتیا له چارو خبرو وو او د سازمان ډیري غړي په کودتا کې د مرستې لپاره ور بلل شوي ول ، خو نه مو کودتا ته اوږه ورکړه او نه مو خپلو غړو ته اجازه ورکړه چې په هغې کې ګډون وکړي. د دوه وو لاملونو له امله :

لومړی ) داؤود خان یو هیوادپال ، پرمختګ غوښتونکی او بدلون پاله واکمن وو. له دې امله نه باید د هغه دلارې خنډ ګرځېدلي وای او هغه ته مو باید لاره ورکړې وای .

دویم ) ددې په منلو چې داؤود خان د سلطنتي کورنۍ یو غړی وو او د هغه ګټې د پاچاهۍ په ګټو کې نغښتې وې دې ته په کتلو دا پوښتنه رامنځته کېدله : آیا [ س !! ] له څارګرو وسایلو پرته کولای شوای د کودتا د سمبالتیا له چارو څخه خبر شي ؟ آیا کیدای شوای چې ددولت څارګرې څانګې � ریاست ضبط احوالات - د کورنیو چارو د وزارت څارګرې څانګې ، د دفاع د وزارت څاګرې څانګې ، د سردار ولي ځانګړې څارګرې برخې او دوی ورته له دغو کړو وړو څخه بې خبره وي؟ دغو انګیرنو ددغه یون او خوځښت د ټولېزو تګلارو پروړاندې شکونه او دوه زړې توبونه رامنځته کول .

کله چې ددغه سازمان غړو ته په کودتا کې د ګډون لپاره بلنه ورکول کېدله د داؤود هیوادپالنې ته په درنښت او د هغه له دغې کړنې سره په ټکر کې زموږ غړو په بیلابیلو پلمو ځانونه لیرې ساتل. یوازې د فیض محمد په نامه ددغه سازمان یو تن غړي د خپل ورځني انقلابي ملګري تر اغیزې لاندې له هغوی سره غاړه غړې شوی وو او په فعاله ډول یې ګډون کړی وو. له نوموړي څخه وروسته پوښتنې وشوې او حساب کتاب واخیستل شو ، هغه له منلو وروسته بخښنه وغوښتله .

د داؤود خان له کودتا وروسته ، ددغه سازمان غړو دنده درلودله چې له هغه سره همکاري وکړي. په کودتا کې ګڼ شمیر ګډنوالو افسرانو د خپل انقلابي خصلت له امله په لنډ مهال کې زموږ د سازمان کرښو ته لاره وموندله. ښایي همدغه دوه فکتورونه ( له کودتا وروسته له داؤود خان سره همکاري او سازمان ته د کودتاچي افسرانو جلب او جذب) ددې لامل شوی وي چې ګڼې [س !!] په دې انګیرنه کې لویدلې وي چې موږ په کودتا کې فعاله ونډه درلودله ".

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغي لېکنې د بشپړ متن د لوستلو لپاره کولای شـئ دغه پته وګورئ :

www.payamewatan.com/article-4/a.azhar051108.htm

()()

ريجـاينا (کانادا)

د اپريل دريمه 2009

د تلفــونونو شميرې: 1 (306) 5438950 و 1 (306) 5020882

نخښه: Siasang, 679 Rink Ave., Regina, SK., S4X2P3, CANADA

Главное Разведывательное Управление

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پینځه وېشتمه برخه

## مل کرښې

٦ ( د دیارلس سوه او اوه پینځوسم لمریز کال د غوايي د مباشتې په شپاړلسمه [ ۱۹۷۸ د مې ٦] نېټه د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورى په ناستځي کې د نور محمد تره کي د مطبوعاتي کنفرانس برخه. اخځ : " د افغانستان کلنۍ " ۴۴ ګڼه ، پاڼې : ۷۳ � ۷۴

پوښتنه : کولاى شئ وواياست چې د جګړې په لړ کې څومره کسانو ته ځاني تاوان اوښتى دى ؟

ځواب : ما هېله در لودله چې یو څوک دې دغه پوښتنه را پورته کړي .

پوښتنه : او هم كه وواياست چې له انقلاب وروسته څو تنه نیول شوي او څو تنه پانسي شوي دي ؟

ځواب : زه باید په زغرده تاسو ته خبر درکړم چې موږ ته او ناتاګرو ته د اوښتي ځانى تاوان شمیره له ۷۲ او ۷۳ څخه پورته نه ده. زموږ پینځه تنه همکاران همدا اوس په روغتون کې تر درملنې لاندې دي او زه پرون ماښام د هغوى لیدنې ته ورغلى وم ، د دښمن او ناتارګرو د ځاني تاوان شمیره لږ وه. هغوى د ځان دفاع کوله او مو تیرى کاوه. له داؤود خان ، د هغه له خپلوانو او د هغه له یو شمیرو وزیرانو پرته ، ګومان نه کوم د هغوى د ځاني تاوان شمیره دومره لوړه وي. دا یو تش پروپاګند دي چې ګڼې په زرهاوو تنه وژل شوي دي .

پوښتنه : آیا د داؤود ټوله کابینه وژل شویده ؟

ځواب : د هغوى یو شمیر ستي شول ځکه نه تسلیمېدل.

پوښتنه : د باختر د خبري آژانس استازى : په پخواني رژیم کې د خوراکي او د ورځني ژوند د نورو اړینو توکو بیه په بې ساري ډول لوړه تللې وه ، آیا انقلابي رژیم په دې اړه کوم وړاندیز په پام کې لري ؟

ځواب : تاسو کولاى شئ د ښار په هټیو کې وګورئ ، له انقلابه مخکې د اوړو بیه ۸۳ افغانۍ وه ، اوس ٦٥ او ٦٠ ته را ټیټه شوې ده ، پرته له دې چې دولت د هټیو په بیو کې لاسوهنه وکړي ، هټیوالو په خپله ، بیې را ټیټې کړې دي. تاسو کولاى شئ له نیږدې یې وګورئ چې ولس نوي حکومت ته ښه راغلاست وایي ، دا ځکه چې موږ د لوړو پاړکو له اشرافي کورنیو څخه نه یو. موږ په هیواد کې له ښه نومیالیتوبه برخمن یو. زموږ همکاران او د مرکزي کمیټې ملګري د ولس په سترګو کې د یوې بیلګې په توګه ځاى لري. تاسو زما کورته ولاړ شئ او له نیږدې یې وګورئ چې په څه ډول کور کې ژوند کوم. موږ ناوَړې او غیر قانوني ګټې نه دي پورته کړې. موږ د ولس له منځه راپاڅیدلي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو. د بیلګې په ډول زه په داسې یوې کورنۍ کې زیږیدلی یم چې نیمه بزګره او نیمه شپـَـنـَه کورنۍ وه. ولس باید خوښ اوسي ځکه اوس حکومت د هغو کسانو په لاس کې نه دی چې په لوړو پاړکو کې یې ژوند کاوه. موږ اوس د ولس په چوپړ کې یو ، موږ د ولس بچیان یو او هیڅکله به هغوی و نه زبیښو. موږ له زبیښناک ګرو څخه کرکه لرو .

پوښتنه : ښاغلی رئـیس ! اوس چیرې ژوند کوئ ، په خپل کور کې ؟

ځواب : موږ په هغه کور کې دیره یو چې یو وخت داؤود خان پکې ژوند کاوه. له دې چې دغه کور اوس د ولس په ولکه کې دی نو زه هم دلته د صدارت په ماڼۍ کې ژوند کوم. ماڼۍ به بیا د لوړو پاړکو اشرافیانو ته ور نه کړو .

پوښتنه : ښاغلی تره کي! له کودتا وروسته څو تنه ونیول شول او د ولسمشرۍ د ماڼۍ ګارډ ته څه ور پیښ شول ؟

ځواب : د ولسمشرۍ د ماڼۍ د ګارد کارکوونکی شته خو د ګارد پوځي جوړښت ړنګ شوي دي.

پوښتنه : له کودتا وروسته څو تنه نیول شوي دي؟

ځواب: د هغوی کره شمیره راته ځرګنده نه ده ځکه تر اوسه یې د هغوی نوملیک راته نه دی راوړی. خو شمیره یې له ۲۰ � ۲۵ تنو پورته نه ده .

پوښتنه : څو تنه اعدام شول ؟

ځواب : ډیري پخواني وزیران خوشې شول ، جنرالانو ته مو وویل چې خپلو کورونو کې دې کښېني او کورناستي دې شي. زموږ پر وړاندې دې ناوړه ډنډورې نه خپروي او موږ به هم د هغوی په ژوند کې لاسوهنه ونه کړو .

پوښتنه : آیا وحید عبدالله ژوندی دی؟

ځواب : نه ، وحید عبدالله او هغه ته ورته ناتارګر له منځه ولاړل .

پوښتنه : آیا ولس به د ډیرو توکو د پیرودلو وړتیا ولري ، آیا هغه به پیاوړې شي ، آیا په پام کې لرئ چې باړه " مزد" به لوړه شي ؟

ځواب : د باړو لوړول د زیارګالو پرګنو د ژوندانه کچه نه شي لوړولای. موږ باید بیې را ټیټې کړو. خو تر اوسه مو پریکړه نه ده کړې. دا په راتلونکې پورې اړه لري. که موږ د باړو لوړاوی اړین وباله ، باړه به هم لوړه کړو .

پوښتنه :مخکې له دې چې دغه مرکه پای ته ورسیږي ، له دې چې موږ ستاسو په اړه لږ مالومات لرو زموږ دوه � درې شخصي پوښتنو ته ځواب راکړئ. څو کلن یاست ؟ خپلې زده کړې مو چیرې پای ته رسولې دي؟ تاسو ٦١ کلن یاست؟

ځواب : هو زه ٦١ کلن یم.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه : زده کړې مو چيرې تر سره کړې دي ؟

ځواب : د ښوونځي دوه ټولګي مې په خپل پلرني کلي " مقر" کې تر سره کړل. په ځوانۍ کې د يوه شرکت عادي کارګر ووم. د دغه شرکت له پلوه د [ هند] بمبـئـي ته د کاتب په توګه واستول شوم ، هلته د شپې له پلوه ښوونځي ته ولاړم او تر لسم ټولګي مې زده کړې وکړې او په ١٩٦٣ زکال کې بيرته هيواد ته راستون شوم .

پوښتنه : د شرکت نوم څه وو؟

ځواب : د پښتون د ميوې شرکت

٧ ( د ټايپست يادښت : ليدل کيږي چې يو شمير پوښتنو ته په بې پروايـيـۍ ځوابونه ويل شوي دي. که د نورمحمد تره کي له ژبې څخه د شميرو په ښوونه کې د هغه نه سپينوالی ، روښوالی او له " سياسي " چلوټو ډکه انځورګري يوې خواته کښيږدو ، يا په لوی لاس يا ( په ناخبره توګه ) د هغه څلور کاله ځوان ښودل ، ښايي د پوښتنې وړ وي. سره له دې چې د يوه سړي د ژوندانه په شپږمې لسيزې کې د څلورو کالو کښته ، پورته ښودل کومه ځانګړتيا نه لري خو تره کي د دغې مرکې په ترڅ کې ٦٥ کلن وو ځکه نوموړی د ١٩١٣ زکال د جولای په يولسمه نېټه زيږيدلی وو .

٨ ( د کودتا ځاني تاوانونه : رسمني رسنيو د کودتا ځاني تاوانونه د ١٠٠ او ١٥٠ تنو تر منځ ښودل. رښتيا دا ده چې د تاوانونو شميره څو ځله زياته وه ، په ځانګړې توګه د ولسمشرۍ د ماڼۍ په ګارډ کې په سلګونو تنه وژل شوي ول. د بګرام او خواجه رواش په هوايي ډګرونو کې د ځاني تاوانونوشميره پريړه او زيره وه. په بګرام کې خلک په لوی لاس وژل کيدل ، دغه وژنې پرته له دې چا جرم کړی وي ، يوازې د شخصي سياليو او دښمنيو پر بنسټ کېدلې. په اوومې فرقې ، د قوای مرکز په قرارګاه ، د قوای مرکز په خپلواکو قطعاتو ، په دارالامان کې ډيري کسان د الوتکو په بمبارډ او د توپچي ځواک د اور له کبله له منځه ولاړل. په شير پور کې د قوای مرکز د انظباطو په کنډک او يولسمې فرقې کې هم يو شمير کسان ووژل شول. په ټوليز ډول له دواړو خواوو څخه د زرو او يو نيم زرو په شا او خوا کې انسانان ووژل شول. ګڼ شمير ملکي وګړي ووژل شول او څه يې ټپيان شول. دولت ونه غوښتل په دې اړوند کره او رڼه شميره څرګنده کړي. د نوي رژيم د رامنځته کېدا لپاره يو نيم زر تنو د کابل واټونه په سرو وينو رنګ کړل. دغه وينه بهونه ، د نورو او نورو وينو بهونو خونړۍ پيلامه وه. خبره دې ځای ته ورسيدله چې د دغه هيواد ځمکه ، آسمان او ټول چاپيريال په سره رنګ ، رنګ شول. " اردو وسياست در سه دهه اخير افغانستان / ستر جنرال محمد نبي عظيمي . پپ: ١٤٢ � ١٤٣ "

٩ " ( د سردار داؤود خان د مړي له هډوکو سره لوبې " ، د رزاق مأمون ليکنه ، پنځنۍ ، د ٢٠٠٨ز کال د ډسامبر ١٨ : " په دې وروستيو کې ګنګوسې خپرې شوې چې ګڼې ولسمشر کرزی په پام کې لري د سردار داؤود او ميرمن زينب داؤود د مړيو هډونه کندهار ته له ليږدونې وروسته ، په کندهار کې خاوروته وسپاري. د ولسمشرۍ د ټاکنې

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مهاليز واتڼ په را نيږدې کيدلو او په ټاکنو کې د راکړې ورکړې د تبې په توديدا او د ټاکنيزو ډنډورو د شور او ږوږ ننداړو ته په کتنې دغه انګيرنې ورځ په ورځ مخ په توديدا دي چې ولسمشرکرزی د نخښې د منځ په ويشتلو غواړي د مچنغزي په يوه کاڼي دوه مرغۍ وولي ؛ دا د يوې واکمنۍ ډلې لپاره يوه طبيعي خبره ده. ډېره لږه شوني ښکاري چې دولت دې له دې لارې وکولای شي ځان د سياسي ډاډ او افلاس له تشيال څخه و ژغوري. له بله اړخه د ولس له سترګو په پټه ، د دغې هڅې پلي کيدا نه شي کولای د ويښ ولس ، ويښ ذهن ته بسياينه او ويساينه ور په برخه کړي .

ولسمشر ولې د خپلې شپږ کلنې واکمنې په اوږدو کې د سردار داؤود او د هغه د کورنۍ د هډونو د مونډلو په لټه کې نه شو چې نن يې ورته دومره اړينوالی مونډلای دی؟ سره له دې چې دغې پوښتنې ته يو ډول انګيرونې ځواب شته او هغه دا چې تر مهاله چې دولت د نړيوالې ټولنې او د نورو بنسټونو لکه د بشري حقونو د ټولنو د پټو سترګو له ملاتړه برخمن وو ، په بله وينا تر هغه مهاله چې د دولت ډونګرۍ " کفګير" د ديګي تل نه وو ترنګـَولی داؤود خان ته اړتيا نه ليدل کېدله. د اوسنۍ واکمنۍ کړۍ په باور دغه پروژه په دې ارزي چې پلې شي. که هر څه وي ، د دغه ګام او چتول داسې يوه جوارګري ده چې پلي کوونکو ته هېڅ ډول تاوان نه رسوي ؛ په دې اړه بايد د ځيروالي په لرلو ډېره پاملرنه وکړو ځکه دغه ګام په افغانستان کې له سياست او د تاريخ له طبيعي يون سره په ټکر کې ده او د سردار داؤود کورنۍ ته ښايي چې د دغې چارې واکوالي او د واګو ټـيکه دې د داسې کسانو په لاس کې نه ورکوي چې له دغسې يوې شېبې څخه په ګټه اخيستنې د خپلو لنډ مهالو هيلو او ګټو د لاسته راوړلو د لوڅو پوڅو په لاره کې ناوړه ګټه اخلي .

د افغانستان د لومړني ولسمشر او د هغه د مانديني هډونه دې ولې په هرو مرو توګه په کندهار کې خاورونه و سپارل شي؟ حال دا چې د هيواد نور واکمن مشران لکه ابدالي تيمورشاه ، سردار محمد نادر، سردار عبدالرحمن خان په کابل کې خاورونه سپارل شوي دي او په پخوا کې هېڅ چا له دې پوښتنې سره ټکر نه دې کړی چې ولې د هيواد دغه سياسي مشران په کابل ( د افغانستان په زړه او د تأريخي او فرهنګي ادلونونو بدلونونو د څرخني په منځټکی) کې خاورو ته سپارل شوي دي. کابل د خپل ټولنيز جوړښت ، فرهنګی ، ژب توکميز او د ملي ګټو د اوبدنګ له اړخه د يوه کوښني افغانستان بڼه لري او دا د ټولو افغانانو ګډ ښار دی. د دغو ټولنيزو توکم رنګو کرښو له کاږلو څخه موخه څه ده؟

سره له دې چې د سردار داؤود او د هغه د خپلوانو د هډونو د ليږد په اړه وروستنۍ پريکړه نه ده خپره شوې خو داسې انګيرل کيږي چې دغه ګام يوازې او په بشپړ ډول يو ګړی او د سياسي ګټه اخيستـنو ډډې له ځان سره نغښتې لري.د افغانستان په ولسي جرګه کې د ولس استازو ته ښايي چې مخکې له مخکې دې د دغه ګام د اوچتولو مخنيوي ته خپل غوږونه بوخ ونيسي .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولس استازي دي ، د توکمیزو ناندریو ټیکه والې ډلې ټپلې او یو ګرې کسان نه پریږدي چې د نن ورځې د سیاست د بازار په بیې دې د افغانستان د ملي ګټو او ولس ته د چوپړ پر لارې د تللو کسانو په نامه ( چې ځانونه یې د ولس د ګټو په لاره کې ، نه د ډلو ټپلو او یو ګړو کسانولپاره ، له لاسه ورکړي دي ) د خپلو شخصي او ټاکنیزو موخو لپاره لوبه وکړي .

سردار محمد داؤود خان هېڅکله داسې وصیت یا سپارښتنه له ځانه نه ده پرې ایښې چې کوم کسان دې د هغه د ښخیدلو د ځای په ټاکنه کې پریکړه وکړي. له شهید سردار داؤود څخه هېڅ ډول شاهد یا نغوته نه شته چې هغه دې په یوه ځانګړي ولایت پورې تړلی و شمیرل شي. د هغې تر څنګ د سردار داؤود خان د ابدي آرامځې د ټاکلو په اړه پریکړه د ارواښاد د کورنۍ د خوښې او د ولسي جرګې د سلا مشورو د چاپیریال کار دی .

کابل د افغانستان د پلازمېنې په توګه ، د سیاست او فرهنګ لرغونی منځټکي او له ملي تأريخي نوم څخه برخمن دی ؛ کابل په هر پـَیـر کې د وروی او د ورونـو توکمونو د تړښت او د ګډ سوله ییز ژوند د زانګو په بڼه خپل نوم او دریځ ساتلی دی " .

د نومړي لیکنې د بشپړې لوستنې لپاره لاندې پته و ګورئ :

www.kabulpress.org/my/spip.php?article2702

۱۰ ( ۲۰۰۹ زکال منځنې " سه شنبه " د مارچ اولسمه ، د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د شپاړلسو تنو د غړیو د مړیو هډونه د ( کابل ) د دارالامان په غونډۍ کې خاورو ته و سپارل شول.

په دې اړوند د نورو لیکنو د لوستلو لپاره لاندنۍ پتې وګورئ:

www.bbc.co.uk/pashto/news/story/2009/03/090318_daudkhan_ceremony.shtml

www.bbc.co.uk/persian/afghanistan/2009/03/090317_ram_daudkhan_funeral.shtml

۱۱ ( مخکې له هغې چې د دیارلس سوه او پینځه پینځوسم د کب د مباشتې په پینځمې نېټې [ ۱۹۷٦ز کال د فبرورۍ د مباشتې ۲٦ ] د افغانستان د جمهوریت اساسي قانون توشیح شي محمد داؤود په دیارلس سوه او پینځه پینځوسم ل [ ۱۹۷٦ز] کال کې د ملي غورځنګ ( ملي انقلاب ) د ګوند بنسټ کښیښود. د دغه ګوند د بنسټ د تګلارې له لومړۍ مادې څخه داسې ښکاري چې د ملي غورځنګ د ګوند بنسټ د دیارلس سوه او دوپینځوسم ل[ ۱۹۷۳ ز ] له کودتا مخکې ایښودل شوی وو. ویل شوي چې د دغې ادعا د زباد لپاره لاسوند نه شته .

د بشپړ متن د لوستلو لپاره لاندنۍ پته و ګورئ :

www.payam-aftab.com/category/print.php?nid=2831

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۲ " ( افغانستان در قرن بیستم / افغانستان په شلمه پیړۍ کې " لیکوال ډاکټر ظاهر طنین ، پپ : ۲۱۵ او ۲۱٦ : محمد داؤود چې په ښکاره ډول یې د خیبر له وژنې وروسته ټکان خوړلی وو ، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د زور او پیاوړتیا د ښوونې نندارې سخت په خښم کړ. د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د ۲۵ نېټې په ماښام را ډیو افغانستان د گوند د یو شمیر مشرانو لکه نور محمد تره کي او ببرک کارمل د نیولو خبر خپور کړ. په دې لړ کې د خلق د پوځي څانگې مشر حفیظ الله امین په لومړي سرکې په خپل کور کې تر څار لاندې ونیول شو. امین د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د مباشتې د ۲۵ نېټې له نیمایي شپې نیولې بیا د ۲٦ نېټې تر یولسو بجو پورې ډیر وخت په لاس کې درلود ترڅو د پوځي گام د اوچتولو تابیا ، نقشه او لارښوونه خپل زوی عبدالرحمن ته ورکړي ؛ عبدالرحمن نوموړې لارښونه سیدمحمد گلابزوی ته و رسوله ، گلابزوی د کودتا له اړوندو پازوالو افسرانو سره په اړیکه کې وو .

گلابزوی وایي : � د غوایي د مباشتې شپږمه د څلنۍ � چهارشنبې � ورځ � ۱۹۷۸ر اپریل ۲٦� د سهار شپږ بجې وې چې د حفیظ الله امین زوی عبدالرحمن زما کور ته راغی او ویې ویل : " شیر آقا � خپل پلار ته یې شیر آقا ویل� کلا بند شوی او تره کي صاحب او نور مشران یې زندان ته اچولي دي. سید محمد تهووایه چې " ملگرو ته ووایي چې سبا دې انقلاب پیل کړي" ما د وسله وال ځواک گوندي پازوالي په غاړه درلودله ، هماغه ول چې په وسله وال ځواک او ان په نورو قطعو کې چې ما یې پازوالي نه درلودله ولاړم او دغه لارښوونه مې د شپې تر یوي بجې پورې ټولو قطعاتو ته ورسوله ، هم د هوایي او مدافعه هوایي او هم د ځمکنیو ځواکونو قطعاتو ته ولاړم. ډیر باران وَریده. د گوند لارښوونه داسې وه چې : هرڅوک چې سبا خپلو قطعو ته ځي ، انقلاب دې را پیل کړي�.

۱۳ " ( افغانستان در قرن بیستم / افغانستان په شلمه پیړۍ کې " لیکوال ډاکټر ظاهر طنین ، پپ : ۲۲۰ ، ۲۲۱ او ۲۲۲ :� پوځیانو کودتا د بریالیتوب تر بریده ورسوله. خو هغه کسان چې وروسته واکمنان شول چیرې ول ؟ د ۱۹۷۸ز کال د اپریل په ۲٦ نېټه چې د تره کي او کارمل له نیول کیدا یوه ورځ تیره شوې وه ، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک د گوند د نورومشرانو او فعالینو واښې وانې چې ځانونه یې پټ کړي ول تښتېدلې وې. دغه ډله د کابل په نوي ښار کې راټوله شوې وه تر څو له رامنځته شوي نوي حالت سره د خپل چلند دریځ او څرنگوالی روښانه کړي .

عبدالکریم مېثاق هم په دغه ډله کې وو. هغه وایي : � د " کابل " په نوي ښار کې را ټول شوي وو. په دغه ډله کې زه ، سلیمان لایق ، بارق شفیعي ، قدوس غوربندی او نور احمد نور وو. موږ د حبیب الله کارگر په کور کې چې د گوند غړی او بکس جوړوونکی وو په هاغه وخت کې راغونډ شوي وو. سترگو مو لارې څارلې چې څه ډول مالومات تر لاسه کیږي. په پای کې مو پریکړه وکړه چې ي له گوند سره اړیکه و نیسو او د گوند له منځه کورني مالومات تر لاسه کړو. له گوند سره مو اړیکه ونیوله. سرور منگل او داؤود رزمیار مو وموندل. دوی موږ ته خبر راووړ چې څه تیریږي او په ښار کې دننه ترینگلې حالت روان دی. وضع کړکیچنه ده نیول او بندي کېدل پیل شوي دي ؛ موږ چې خپلو کورونو ته خپل کسان ولیږل ، ویل یې چې کورونه کلابند شوي دي. کورونه یې پلټلي ، کتابونه یې له ځان سره وړي ، لنډه دا چې د گوند دغړو د نیولو پلان شوی وو. په دې لړ کې موږ د ځان په اندیښنه کې شوو چې څه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړو؟دلته دوې خبرې رامنځته شوې. يو شميرکسانو وويل چې ځانونه پوليس ته سپارو. خپلو کورونو ته ځو او ځرګنده ده چې هلته پوليسان دي او موږ نيسي. يو شمير نورو وويل نه ، موږ دا کار نه کوو. په دې ډله کې ما او نور احمد نور وويل چې موږ ځانونه نه سپارو. ځکه چې خبره روښانه ده ، کله چې کورونو ته ولاړ شو ، ټول بنديان کيږو او ګوند يو پنا کيږي. بارق شفيعي ، سليمان لايق او قدوس غوربندي وويل چې نه ، موږ ځو ، د هغوی د استدلال پر ځرخني دا مانا را تاويدله چې که هر څومره ځانونه پټ کړو دا له قانونه د سرغړاوي مانا ښندي خو که په پټه کې و نيول شو ، زموږ جرمي دڼه درنديږي/...../ .

په پای کې زه او نور د [ کابل ] په ششدرک کې د رزميار کورته راغلو او له رزمياره مو و پوښتل چې څه خبره ده او څوک بنديان شوي دي ؟ هغه وويل چې يوازې سلطانعلي کشتمند او نجيب الله نه دي بنديان شوي او په کوته سنګي [ وروسته د ميرويس ميدان په نامه و نومول شو � ژ] کې د ګوند د يوه غړي په کور کې دي. موږ هغه ته وويل چې دواړه دې دلته راولي. هغوی يې راوستل او په دې سلا مو خبرې کولې چې څه وکړو. د همدغو سلا او خبرو په پاي کې مو د ګوند دغړو په تړاو پريکړه وکړه : له دې چې مرکزي کميټه نشته او ګوندي غونډه نه شي جوړيدلای � د ګوند هر غړی چې چيرې چې دی ، هڅه دې وکړي چې ځان پوليس ته ونه سپاري. دا د غوايي اوومه نيټه وه ، نا څاپه مو د يوې چاودنې د درَز غږ تر غوږو شو. موږ رزميار ته وويل ورځه وروره وګوره چې د باندې څه خبره ده. هغه ولاړ ، څو شيبې وروسته راغی او ويې ويل : والله د دفاع د وزارت د ودانۍ تر مخ يوې شوبلې د دفاع د وزارت پر ودانې اور وکړ. موږ په دې خبرو اترو کې وو چې چا به دا کار کړی وي ، خبرې مو کولې چې د بل درَز غږ پورته شو. بيا مو د شوبلو د راتګ غږونه تر غوږو شول. شوبلې د ځرخي پله له خوا د ښار پر لور راخوځېدلې وې. رزميار ته مو وويل چې دباندې ولاړ شي او نور خبرونه دې راوړي. هغه دباندې ولاړ ، بيرته راغی او ويې ويل چې له ځرخي پله څخه د ښار پر لور شوبلې را خوځېدلې دي او در راډيو پر لور ځي. رزميار چې دا وويل ، ما وويل چې والله دا زموږ خپل ګوند دی. لنډه دا چې د ماښام اوه بجې شوې ، راډيو ته مو غوږ نيولی وو ، راډيو د ملي اتڼ نغمې خپرولې. له نغمې وروسته د حفيظ الله امين غږپورته شو او ويې ويل چې د سلطنتي کورنۍ ټغر ور ټول شو او واکمنۍ د انقلابي شورى لاس ته ورغلې ده او اوس به قادر او اسلم وطنجار خبرې وکړي ".

۱۴ " ( له ليکوال څخه د څو پوښتنو / چند پرسش از نويسنده" د ليکنې يو شمير برخې : ليکوال انجنير شير محمد ساپی / ۲۰۰۹ز کال د جنورۍ پينځلسمه : " د غوايي د اوومې [ ۱۹۷۸ ز کال د اپريل ۲۷ ] په ماښام د کابل د سيند تر غاړه د محمود خان د پله په سل مترۍ کې له خپلو دوه وو تنو همليکو هم اندو ملګرو سره وم ، سترګو مو د اوضاع ځرنګوالی څاره. الوتکې د کابل د سيند له پاسه د ارګ له بمبارۍ وروسته تاويدلې. هيڅکله مو بمب غورځوونکې الوتکې چې ويروونکی غږ يې درلود تر دغې شيبې پورې له دو مره نيږدې نه وې ليدلې. د ماښام تر تيارې پورې د ارګ بمبارد روان وو او وروسته و دريد چې بيا تکرار نه شو. پوځي افسرانو چې پوځي خولۍ يې پر سرونو درلودلې د الوتکو له ويرې د هټيو خوا ته تيښته کوله . له هوايي بريدونو وروسته ارګ او ګارد هماغسې د

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کودتاچیانو په کلابندۍ کې پاتې شو ،تر دغه دمه پینځمې ستنې نه شوای کولاې په ارگ کې دننه مقاومت مات کړي .

د " خونړي ماښام " د اتو او نهو بجو تر منځ د کابل � جلال آباد پر سړک د شوبلو یو کتار د ختیځ له لورې راغی. موږ ځوانان د شوبلو له ویرې د سړک له څنډو و تښتېدلو، شوبلې د ارگ پر لور خوځېدلې وې .

د کابل راډیو د خپرونو له پاې وروسته د شپې له پلوه پر ټول کابل یوې غملړلې بوږنوړې چوپتیا منگولې ښخې کړې. د شپې دولس بجې وې چې د زغره وال ځواک د یوې شوبلې اور د خونې کړکۍ و لړزولې. دغه ډز په خونه کې بیده کسان له خوبه را پاڅول. هرچا د کړکۍ د ماتیدونکوښیښو له ویرې څخه ځان گوښې کاوه .

د گارد د ډېرې وړې کولو او دارگ د نیولو په موخه د کودتاچیانو وروستنۍ برید د ماشینگڼو او د شوبلو د اور له درَزا سره جوخت تر څو ساعتو دوام وکړ او د زغروالو شوبلو د اور درَزهار تر سهاره اوربېدل کېده. د دغو قهرجنو عملیاتو درونداوالي دا هیلې را ژوندۍ کولې چې ښايي د ارگ ملاتړ ته مرستندویه ځواکونه را ورسیږي او له کودتاچیانو سره به ډغرې ووهي .

که د گارد دننه خیانت نه وای شواې ، څرگنده ده چې مقاومت به دوام کړای وای ، د ورځې د روښنایۍ راتگ د بمبارد پر اړتیا ټینگار کاوه. د کودتاچیانو د هرومرو بري شونیوالی له ورایه بریښېده. له دغو وروستنیو عملیاتو څخه سترگې پټول ددغه ناتار د ژور تـَل بله ډېره نندارې ته وړاندې کوي.

زه د ارگ د دوه کیلومترۍ په واټن کې د ششدرک په ختیځې خوا کې لا تراوسه د همغې مرگونې ویرې تر سیورې لاندې استوگنه لرم. د هماغه پـَیر ځوانان لا تر اوسه ژوندي دي او د دغو پیښو شاهدان دي ".

د دغې لیکنې د بشپړې لوستنې لپاره لاندنۍ پته و گورئ:

www.farda.org/articles/08_updates/090100/article_shir_mohammad_sapi.htm

۱۵ ( له جنرال خطاب جانباز سره مرکه / ۲۰۰۹ زکال د فبرورۍ ۲۰ ، د ماښام ۷ اوه بجې :

سیاه سنگ : ښاغلی خطاب جانباز! په یوه راغلې لیک کې چې د ۲۰۰۹ ز کال د جنورۍ د شلمې نېټه یې پر تندي لیکل شوې ، داسې لیکل شوي : " په ۱۹۸۸ز کال کې ما د دفاع د وزارت د بهرنیو اړیکو له رئیس جنرال خطاب جنانباز سره د پخوانۍ پیژندنې پر بنسټ له مزارشریفه د کابل پر لور د ملگرو ملتونو په الوتکه کې یو گډ سفر درلود. هغه ماته د افغانستان د لومړنۍ ولسمشر د شهیدولو د څرنگوالی په اړوند داسې وویل ..." کیدای شي ستاسو له خولې د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژل کېدا څرنگوالی ستاسو له خولې واورم؟

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال خطاب جـانباز: اجازه راکړئ یو ټکی روښانه کړم چې ما په ۱۹۸۸ز کال کې له مزار شریفه د کابل پر لور هېڅ ډول سفر نه دی کړی. کله چې سفر نه وي شوی ، پاتې خبرې تولې خپله په خپله شنډېږي .

سـیاه سـنگ: آیا تاسو له ښاغلي MZM چې نوم او کورنۍ نوم یې "..... ....." دی، پیژندگلوي لري؟

جنرال جـانباز: زما د نویو او پخوانیو دوستانو په منځ کې په دغه نوم او کورني نامه څوک نه شته.

سـیاه سـنگ: د هغه له پیژندلو یا نه پیژندلو پرته ، آیا تاسو په یاد لرئ چې د دیارلس سوه او اوه پینځوسم لمریز کال د غوایي د مباشتې د اتمې نېټې [ ۱۹۷۸ ز د ا پریل ۲۸ ] په سهار د شپېړو او اوو بجو په شا او خوا کې چیرې واست او څه مو کول؟

جنرال جـانباز: ډیر ښه مې په یاد دي. د ورځې په هغو شېبو کې زه له قادر � هماغه نامتوقادر� ، د څلورم زغره وال ځواک له افسر تورن امین او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند له یو شمیر نورو غړو سره یو ځای د راډیو افغانستان د ودانۍ مخې ته وم .

سـیاه سـنگ: آیا ستاسو د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند غړی یاست؟

جنرال جـانباز: په ډیر ویاړ ویلای شم چې زه نه خلقی یم او نه پرچمی ، خو د افغانستان دخلق ډیموکراتیک گوند یو غړی وم او یم. که تأریخ بیرته همغو کلونو ته و گرځي او د خپلې ځوانۍ ځوښ او شور بیرته تر لاسه کړم، بیا به هم په همغې پخوانۍ گروهنې په همغې لارې ولاړ شم .

سـیاه سـنگ: مخکې له دې چې د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژل کیدلو د خرنگوالي سپړلو ته را و گرځو ښه به دا وي چې د دیارلس سوه او اوه پینځوسم لمریز کال د غوایي د اومې پیښې په اړه مورته خپل لید لوری ووایاست .

جنرال جـانباز: د غوایی د اوومې پېښه که کودتا وبولو ، پاڅون یا بل شی رښتیا دا ده چې " زموږ پرتمین انقلاب " له سترو ناورینونو ، بدترینه نا تار ځپنو او نه سکېنده کیدونکی " جبران نه منونکو " تیر وتنو سره ملگری وو. که یې کودتا و بولم یا انقلاب ، خو په دغه لړ کې ( زما په اند د کلماتو یادَول دومره اړین نه دي ) دومره سپیڅلي او بیگناه وگړي ووژل شول ، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند شریفترینه بچیان له منځه ولاړل او دومره له شرمه ډک جنایات تر سره شول چې هېڅ با وجدانه انسان به له هغو او د هغو له عاملینو څخه سترگې پټې نه شي کړای .

سـیاه سـنگ: آیا دا رښتیا ده چې د ۱۹۷۸ زکال د اپریل په ۲۸ نېټه ببرک کارمل تا سو ته وویل : " له خپلو ټانکونو او زغره والو شوبلو سره د جمهوري ریاست پر لور و درومـئ " .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنرال جـانباز: دغه ادعا له سره تر پایه سمه نه ده. په هاغه ورځ هر ډول پوځي او غیر پوځي بولنه " قومانده " او لارښوونه د حفیظ الله امین له خوا ورکول کېدله. ببرک کارمل په هغه برخه کې هېڅ ډول ونډه نه درلودله. دا چې ویل شوي ماته کارمل لارښوونه کوله زما ځواب منفي دی. ببرک کارمل د راډیو په ودانۍ کې دننه وو او زه دباندې وم. نه هغه ماته داسې لارښوونه کړې او نه مې له هغه څخه دغسې لارښوونه اوریدلې ده .

سـیاه سـنگ: آیا ستاسو له خولې دغه ویل شوې خبره سمه ده : " په ډېره بیړه لاندې راغلم ، د زغره وال گاډي او د سرتیرو د غوره کولو سمبالتیا مې و نیوله چې ټول ټال لس دقیقې شوې. امام الدین ته سترگې په لار وم چې د راډیو ټلویزیون د وَ تـَنـگ د دروازې له لارې په خپلې شوبلې کې را ووځي او راشي. له پینځو دقیقو وروسته راته وویل شول چې امام الدین ته په هماغو لومړیو شېبو کې دنده ورکړل شوې وه او خوځېدلی دی. هک پک پاتې شوم چې هغه څنگه په دومره بیړه ځان سمبال کړی او خوځېدلی دی. له دې امله زه هم د ولسمشر د استوگنځي پر لور و خوځېدلم. کله چې د استوگنځي انگړ ته ننوتم او له زغره وال گاډي څخه نوی پلی شوم چې د ډزو غږونه مې تر غوږو شول ، پر له پسې ډزې وې. په همدغه شېبه کې مې امام الدین ولید چې له خپلو سرتیرو سره راووت او د خپل د یوه لاس مټ یې ټینگ نیولی وو ، ما ورباندې غږ وکړ : " څه دې وکړل؟ ولې ماته سترگې په لار پاتې نه شوې؟ " هغه راته وویل : " ما خپله راکړل شوې دنده تر سره کړه. اوس د ډېرو خبرو وخت نه لرم ، ټپي یم ".

جنرال جـانباز: ما په لومړي سر کې وویل چې د دغو خبرو یوه په سلو کې زما نه ده. زه د هوایي ځواک انجنیر او هوا پېژندونکی وم او هېڅکله مې له شوبلو او زغره والو سره سر او کار نه درلود. په ډاډ او زغرده ویلای شم او تکراروم چې د دغو خبرو یوه په سلو کې زما نه دي .

سـیاه سـنگ: په هاغه ورځ مو امام الدین چیرې ولید؟

جنرال جـانباز: ما نه یوازې په هاغه ورځ بلکه د کلونو په اوږدو کې امام الدین نه دی لیدلی. د هغه نوم مې د گوندي غړو له خولې اوریدلای وو ، د هغه د ټپي کیدلو په اړه هم د دوستانو له لارې خبر شوم. هغه پیښه چې ده دې گڼې لاس کلک نیولی وو او له ما سره یې خبرې کړې وي ، رښتیا نه ده . تاسو کولای شـئ د خبرې رښتونواله په خپله له امام الدینه پوښتنه وکړئ. ما امام الدین له ټپي کېدا یو یا یو نیم کال وروسته ، ولید .

سـیاه سـنگ: تاسو د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند ، گوندي تگلارې او هېلو ته د یوه پالیاله غړي په توگه ، محمد داؤود ته له کومې سترگې گورئ ؟

جنرال جـانباز: دا چې د سردار محمد داؤود شخصیت ته د یوه سپیڅلي ، پاک ، هیوادپال او وجدان لرونکي شخصیت په انځور کې کتل کیږي ، په دې هېڅ ډول څوني څار او شک نه شته. د داؤود خان موأفقین او مخالفین په دې کې په یوه غږ دي. که څوک په خولې و نه شي ویلای خو په زړه کې هرو مرو دا مني چې داؤود خان یو ډېر زړور او توریالی انسان وو. هغه د زړه له کومې غوښتل افغانستان ته چوپړ وکړي. د خپلې کورنۍ یا د یحیی د لمسیو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



او زوزات په منځ کې د داؤود په خير بل انسان نه ليدل کيږي. د يوې ځرګندې سياسي څيرې په توګه د هغه په کار کې تير وتنې ، نيمګړتياوې ، ګرګري " استبداد" او خښم هم ليدل کيده .

ډاډ لرم چې تأريخ به د نورو سياسي شخصيتونو د سپړنې په څير له داؤود خان سره له ګرج ، کښنې ،او رخې سخې پرته يو ناپيلې ، بې پَرې علمي او منطقي چلند وکړي. په دې مانا چې د هغه د چال چلند مثبت او منفي اړخونه ټول به په لاسونده ډول او د زباد او شواهدو پر بنسټ و څيړل شي. تأريخ د بودۍ د ټال د خيالونو په زانګو او تشو تور وهنو نه ليکل کيږي ؛ که داسې وشي ، هغه تأريخ نه وي يوازې د زړه د غوټو د براس ايستل وي .

()()

## ) شپږ وېشتمه برخه(

## مل کرښې

١٦ ( د ٢٠٠٩ز کال د اپريل د مپاشتې په شپاړلسمه نېټه د " پسرلني سباوون د ګوليو باران" د څيرنې پرله پسې برخو ته صالح محمد ابرار لاندنۍ کرښې را واستولې :

"جنرال امام الدين د افغانستان په وسلوال ځواک کې نامتو سړی دی. هغه ټيټه ونه لري ، هڅاند افسر دی ، امام الدين خلقی دی او د غوايي [١٩٧٨ اپريل] په کودتا کې يې ونډه درلوده .

[ د افغانستان پخواني ولسمشر ] ډاکټر نجيب الله ما ته وويل : د ١٩٧٨ز کال د پيښو په لړ کې وروسته له هغې چې د محمد داؤود د کار دفتر او استوګنځی او په کابل نور مهم ټکي و نيول شول [ د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند] د مشرتابه او سياسي بيرو غړو د نورو سکالو تر څنګ د محمد داؤود د برخليک د څرنګوالي په اړه خبرې اترې کولې. هغوی پوهيدل ترڅو چې داؤود خان ژوندی وي ، دا ګواښ او ويره شته چې د هغه ساتندويه او ملاتړ کوونکي ځواکونه به بيا په پښو ودريږي ، خو چا نه غوښتل چې د هغه د وژلو په اړه څه ووايي. خبرې اترې تر څو ساعتو و غځېدلې .

د غونډې د خونې دروازه ناڅاپه پرانيستل شوه. امام الدين وسله په لاس او په ټپي مټ وړاندې راغی او غوښتل يې څه ووايي. چا د هغه خبرو ته غوږ ونه نيو. د غونډې له منځه چا غږ پورته کړ او ورته ويې ويل : " ځو شېبې وروسته راشه! " خو امام الدين د باندې ونه ووت.

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې د غونډې د برخوالو ترمنځ خبرې بیا تودې شوې ، امام الدین په یوه ډول ځان میز ته نیږدې کړ او ویې ویل : " ما هغه [ داؤود] وواژه". امام الدین په خپلې دې خبرې غونډه په چوپتیا کې ډوبه کړه. د غونډې ګډونوالو ژوره سا و ایستله .

نه غواړم د امام الدین پر خبرو شننه وکړم او ټینګار وکړم چې د هغه خبرې تر کومې کچې رښتیا یا درواغ دي. پوښتنه دا ده چې آیا هغه په رښتیا ولسمشر وژلی وو؟ هغو کسانو چې [ د هغې ورځې ] پیښه یې له نیږدې لیدلې او شاهدان دي داسې وایي : داؤود خان لومړنی ډز پر امام الدین وکړ او امام الدین په ځواب کې د داؤود خان پر لور د اور خوله پرانیستله." "افغانستان: زما وروستی جګړه" د Makhmut Akhmetovich Gareev لیکنه : ژباړه : محمد طاهر کانړی/ جرمني ۲۰۰۱ پ : ۳۷۷ او ۳۷۸ "

ډاکټر محمود احمدویچ ګارییف روسي تأریخپوه او د روسیې د پوځي پوهنو د اکاډیمۍ مشر دی. نوموړی د " پوځ تر ټولو پوه پوځي ستراتیژیست " بلل کیږي ، هغه له ۱۹۸۸ تر ۱۹۹۱ز کال پورې په افغانستان کې د ډاکټر نجیب الله سلاکار وو. جنرال ګارییف په ۱۹۲۳ زکال کې سترګې پر نړۍ و غړولې او ګڼ شمیر کتابونه یې پاړسي ، پښتو ، انګریزي او څو نورو ژبو ته ژباړل شوي دي .

۱۷ ( انجنیر شیر احد ساپي د ۲۰۰۹ز کال د اپریل په اتلسمه نېټه د " عقاب آریانا/ د آریانا د ګوربت " د مجلې د چلوونکي محمد سرور رڼا لیکنه چې د (جرمني ) په مونشن کې خپریږي د دغې لیکنې پرله پسې لړۍ ته را ولیږله. د رڼا لیکنه د " کتاب ګمشده یا دزدیده شده دکتور عبدالرحیم نوین؟/ د عبدالرحیم نوین کتاب ورک شوې یا غلا شوې؟ " تر سر لیک لاندې ده چې د ۲۰۰۹ز کال د اپریل په څلورمه نېټه خپره شوې ده. د دغو یادښتونو په یوه برخه کې داسې راغلي دي :

"د ډاکټر عبدالرحیم نوین د مړي د درنښت لپاره د جنازې په بدرګه کې د ګډون په موخه چې د ګلبدین حکمتیار په مرسته پاکستان ته لیږدول کیده د (جرمني ) فرانکفورټ ته تللی وم. هلته مې د ډاکټر نوین زوی ته په ټینګار سلا ورکړه چې د خپل پلار " یادښتونو او د هغه د سترګو د لیدلي حال لیکنو" ته کلکه پاملرنه وکړي. هغه ژمنه وکړه چې نوموړی به ډېر ژر چاپ دغه یادښتونه خپاره کړي ، خو کله چې له پاکستانه بیرته را ستون شو وېې ویل : " زما د پلار کتاب ورک شوی دی "

د [ پوهاند نوین � ژ ] دغه " یادښتونه او د سترګو لیدلی حال " څه د باندې د درې سوو پاڼو پرمخ لیکل شوی وو. ما ( رڼا ) دغه لیکنې له سهاره تر ماښامه ، تر هغې شپې پورې چې ډاکټر نوین به بیرته کورته را ستنیده ، لوستلې./...../ یوه ورځ مې له خپل ګران ، درانده ، او منلي استاد ښاغلي سید قاسم رشتیا سره خبرې وکړې. هغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل : " ډاکټر نوین خپل کتاب ماته هم رالیږلی وو. ښه لیکنه یې کړې ده. د هغه د سترګو لیدلی حال د پیښو له رښتونوالي او د پیښو د لړۍ له رښتونو اړخونو سره د ډاډ وړ دي ".

د نوموړي کتاب ځېنې برخې په لاندې ډول دي:

"په هغو شپېو کې چې د کمونیستانو د جیټ جنګي الوتکو غړزهار او د شوبلو د اورونو ګړزهار د کابل په تشیال په ځانګړې توګه د هغوی د پام وړ په سیمو کې ازانګې خپرولې مورږ د لارښود [ محمد داؤود ] حضور او د هغه د ورور سردار محمد نعیم خان مخې ته ناست وو او د روانو پیښو په اړوند مو خبرې اترې کولې.

د کورنیو چارو وزیر قدیر ټینګار کاوه چې د کمونیستانو مشران دې د یوې دښتـنـۍ پانسۍ په ترڅ کې په بیړه پانسي شي ځکه چې د اړو دوړ کچه تر ګواښجنې کچې پورې لوړه شوې ده. که هغوی و ژغورل شي نو د نه منلو ناورینونه به رامنځته شي چې په هغه مهال کې به ژغورنه یې ناشوني وي .

ارواښاد سردار په ډېره ترخه ژبه وویل : " د دغسې یوې بیړنۍ او ناپاژوالې پریکړې په کولو به مورږ نه یوازې د افغانستان د ولسونو او پرګنو په سترګو کې بلکه د ټولې نړۍ پروړاندې د جنایتکار په توګه و پیژندل شو، له بله اړخه به د څو تنو هیواد پلورو او پردیو ته د چوپړیانو له نومونو څخه سترې سیاسي څیرې جوړې شي".

د کورنیو چارو وزیر له خونې دباندې ووت. زه هم څو دقیقې وروسته د اړتیا له مخې له خونې د باندې ووتم. ګورم چې قدیر د دالان په یوه ګوټ کې له چا سره د ټیلفون له لارې خبرې کوي. د قدیر له لوړه غږه داسې بریښېدل چې ډېر په خښم دی. هغه ویل : " په دغو شپېو کې له سردار څخه د امر اخیستل ګران او ان ناشوني دي. زه د کورنیو چارو د وزیر په توګه امر کوم چې ټول پانسي کړي. تاسو کولاۍ شـئ زما غږ د آمر په توګه ثبت کړئ. له درتګ سره سم به هم په لیکلې توګه لاسوند دروسپارم. " له څو شېبو وروسته ، نه پوهیږم چې د ټیلفون له بل لوري څخه یې څه واوریدل خو په ډېر تراخه او لوړ غږ یې چیغه کړه : " زه امر کوم." او ټیلفون یې په ډېر خښم بیرته کښیښود. بیا یې وویل : " ټول هیواد پلوري ، جنایتکار او خاین شوي دي ".

قدیر ما ته و کتل او ویې ویل : " دوی په داسې شپېو کې د لارښود " رهبر" امر غواړي! د ولسمشر سترګې په هېله مندۍ د اوضاع ښه والي څاري ، هغه د دفاع د وزیر پر تشو خبرو ډاډ کوي چې مرستندویه ځواکونه به دده مرستې ته را ودانګي ، خو پام نه کوي چې د باندې څه روان دي ، څه پیښیږي او کوم لاسونه کار کوي".

ما [ نوین] له قدیر سره ټوکې درلودلې ، هغه ته مې وویل ! وه د پلار مړي زوا! څوک وژنې! د لارښود ځواب به څه وایې ؟ " هغه له ځنډه پرته راته ووایل : " زه هغه ټول جنایتکاران وژنم. غواړم هېواد او ولس له هغه ناورین څخه وژغورم چې را روان دی. سردار دې له هغه وروسته ما پانسي کړي " .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا مو له سردار نعیم سره د دغو بدمرغیو او د هغو د لاملونو په اړه خبرې کولې. هغه وویل : " زموږ د دوستانو او همکارانو د لاس په لستونو کې مارانو ځالگۍ جوړې کړې وې او د هغوی له ډاړ څخه یې ناوړه گټه واخیستله. خو په دغو خبرو هغه مهال پوه شولو چې وار له واره تیر وو." په همدغه شپېه کې د کورنیو چارو وزیر په بیړه راغی او له سردار محمد نعیم خان څخه یې و پوښتل : " د فرانسې د سفیر د وړاندیز په اړه مو څه پریکړه کړې ده ؟ "

زه له خبرې خبر نه وم او هغوی ته مې هک پک کتل. وروسته پوه شوم چې که دوی د فرانسې سفارت ته پناه یوسي ، نو ټول به خوندي وي. سردار نعیم وویل : " ورور مې [ محمد داؤود ] دغه وړاندیز ونه مانه او ویې ویل چې د یوه سر تیري په توگه ماته شرم دی چې د مرگ له منگولو د ځان د ژغورلو لپاره په خپل کور کې یوه بهرني سفارت ته پناه یوسم. زه په زر هاوو ځله مرگ غوره بولم. خو دا یې ومنله د هغه د کورنۍ په گډون دې نور ټول ولاړ شي . او لاربښوونه یې وکړه چې ټول دې هلته ولاړ شي. د ولسمشر ماندینې هم سفارت ته د پناه غوښتل ونه منل او ویې ویل چې د خپل خاوند په ژوند او مرگ کې شریکه یم. په پای کې ټولو پریکړه وکړه چې په ارگ کې پاتې شي ".

د توپکو ، تومانچو ، شوبلو او د الوتکو د بمبارد گړزهار ، د سوځېدلو کوکو او بغارو غړونه شپېه په شپېه زیاتیدل او اوریدل کیدل. سردار نعیم غوښتل هغې خونې ته ولاړ شي چې ټول پکې را ټول شوي ول. کله چې له ځایه پاڅید ، یوه مرمۍ یې پر لاس و موښتله. خپل لاس یې ټینگ ونیو او له خونې دباندې ووت .

زما په گډون ، د مخابراتو وزیر یو شمیر نور وزیران او یوشمیر جنرالان د ودانۍ لاندنۍ یا کښتـَـنۍ خونې ته ولاړو. موږ هڅه کوله چې ځانونه د نورو له سترگو او مرمیو څخه بچ کړو. مرگڅپاند چوپتیا هر چیرې داړې لگولې. یوازې د هغه چا د گامونو غږ راته چې ورو ورو یې پورته کول ، هغه کسان چې له یو بل سره بونېدل د هغو غږ هم راته .وروسته پوه شوو چې هغوی د همدغې ناورین ځپلې چوپتیا په ترڅ کې غوښتل د مړیو جنازې د باندې وباسي .

پورته راغلم او د سردار نعیم ماندینه مې و لیدله. ما گومان کاوه چې ټول ژوندي دي. چا وویل : " له دغې میرمنې او د هغې له لمسۍ پرته چې لاندنۍ خونې ته تللې وې ، نور ټول شهیدان شوي دي".

او موږ چې څرگند دښمنان وو ، له میرمن زهره نعیم سره یو ځای د څرخي پله زندان ته و سپارل شوو".

کمونیستانو غوښتل د ډاکټر نوین له خولې چې د وزیرانو د غونډې منشي هم وو ، د خلق او پرچم د مشرانو په اړه د سردار محمد داؤود خان وروستنۍ پریکړه واوري. د ښاغلي نوین په وینا ، په هاغه ورځ نوموړی د وزیرانو په غونډه کې نه وو ، خو کمونیستانو گومان کاوه چې نوموړی غواړي خبره پټه کړي او حقیقت نه وایي نو ځکه یې تر کلک دباو او ټینگو وهلو ټکولو لاندې ونیو .

"په همغې شپېې کې چې د [ افغانستان د گټو د ساتونکې اداری] [ اگسا ] مشر اسدالله سروري زما د کیڼ لاس د پینځمې گوتې نوک ایسته ، او ما سوگند خوړ چې په هاغه ورځ د وزیرانو په غونډه کې نه وم ، و مې لیدل چې یو

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرتیری ناڅاپه په خوني را ننوت او د درنه مار " جلاد " سروري په غوږ کې يې څه وويل. هغوی له خونې دباندې ووتل. سروري له څلورو يا پينځو دقيقو وروسته بيرته راغی او ويې ویل : " ته په دې اړه تر سبا پورې ژور سوچ وکړه. د حقيقت له ويلو وروسته له تاسره نور څه نه لرو، پر ته له هغې به ستا لاسونه او پښې نوکان و نه لري. " خو له هماغې ورځې وروسته په دې اړه د پلټنو لړۍ چورلټ و شلېدله ".

۱۸ " ( حفيظ الله خالد : د ليکوال د سترګو ليدلی حال : ۲۰۰۸ز کال د اپريل ۲٦ : د مهتر لام بابا په ښار کې د اروابښاد داؤود خان د وروستنې وينا يوه برخه چې د ديارلس سوه او شپږ پينځوسم لمريز کال د کب په مياشتې کې [ ۱۹۷۸ز فبروري ] يې کړې وه:

لغمان ته د داؤود خان له سفره درې ورځې مخکې د لغمان والي محمد حسن ګرديزي د مهترلام د جامع جومات ترخنګ په يوې څلور څنډيزې ځمکې کې د يوې ودانۍ د جوړولو کار په بيړه پيل کړ او د کار د څارنې ټولې چارې يې په خپله غاړه واخيستلې .

پر نوموړې ځمکې د ودانولو پر چارو د والي ځانګړې پاملرنې د ښاريانو تلوسه را پارولې وه. معما هغه مهال حل شوه کله چې داؤود خان له لغمان څخه د ليدنې پر مهال ، خپله وروستۍ وينا واورَوله .

د هماغې ورځې پر سهار د داؤود خان د راتګ خبر په ټول ښار او ورڅيرمه سيمو کې خپور شو. خلک ټول په هغه ځای کې راټوليدل چې د سردار محمد داؤود د وينا لپاره ځانګړی شوی وو. ورهنګرو او هټيوالو هم خپلې هټۍ ګانې و تړلې او د لغمان له څلورو ګوټونو څخه مهترلام ته راغلل .

داسې ښکاريده چې د ولايت چارواکو او پازوالو د چارو د ښه سمبالښت لپاره اړين چمتووالی نه درلود او ناڅاپه ګير شوي ول. دومره ډېر لودسپيکرونه نه ول چې خلک د داؤود خان غږ سم واوري ، له خلکو وغوښتل شول چې لږ نيږدې راشي او خبرې له نيږدې واوري. د دې خبرې په اوريدلو هر چا هڅه کوله چې ځان ستيژ ته نيږدې کړي. دې ته په پاملرنې چې ګډونوال د ښار ورهنګر او د کليوالي ژوند کليوال ول ، هغوی په دغسې غونډو کې د ګډون د نظم او مقرراتو له دود سره آشنايي نه درلودله.

سره له دې چې د امنيتي چارو چارواکو د نظم لپاره هلې ځلې کولې خو بيا هم شور ماشور خپور وو او ويره وه چې داؤود خان به خپله وينا وا نه اورَوي .

لومړی محمد حسن خان مايکروفون را واخيست او ځان يې خلکو ته ور وپيژانده ، وروسته يې له ګډونوالو وغوښتل چې هر څوک دې په خپل ځای کې کرار کښيني. له څو دقيقو وروسته چوپه چوپتيا خپره شوه او داؤود خان خپله وينا پيل کړه .

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



داؤود خان لغمان ته د سفر او د سیمې له وګړو سره د کتنې په اړه خپله خوښي څرګنده کړه او له هغو پرمختګونو څخه یې یادونه وکړه چې د جمهوریت د بنسټ ایښودلو په پینځو کلونو کې رامنځته شوي ول. داؤود خان د نوي جمهوریت پر وړاندې روانو مخالفتونو ته هم نغوته وکړه .

داؤود خان د وینا له اورولو وروسته د سراج د کلا ( قلعه سراج ) له بڼ او مهترلام څخه لیدنه وکړه او ماسپښین د ننګرهار د ولایت پر لور وخوځېد .

په سبا ورځ یې داؤود خان له خپلې مانیدنې سره په لنډ کروزر موټر کې چې ده په خپله چلاوه بیرته لغمان ته راغی ، د هغه پلار د مهترلام بابا د زیارت ترڅنګ ښخ دی ، د خپل پلار قبر ته ولاړ او له هغه وروسته یې د ولایت له نورو سیمو څخه لیدنه وکړه " .

د دغې لیکنې د بشپړې لوستنې لپاره لاندنۍ پته و ګورئ :

www.tolafghan.com/home/detail/9784

۱۹ ( د ۲۰۰۵ ز کال د اپریل په ۲۴ او د ۲۰۰٦ ز کال د اپریل په ۲٦ نېټو باقي سمندر په رسنیو کې دوه یادښتونه خپاره کړل. سره له دې چې نوموړي د محمد داؤود او د هغه د کورنۍ د وژل کېدا د څرنګوالي سپړنه نه ده کړې ، خو د دغو وژنو شا لید ته یو شمیر نغوتې ور نیغې دي.

سمندر په خپلو یادښتونو کې له لاندنیو سرچینو څخه ګټه اخیستې : " از موج تا توفان / له څپې تر توپانه " د جمعه نوع پرور لیکنه ، " رازها افشا میگردند " د ډاکټر شاه زمان وریځ ستانیزي لیکنه ، " سهل انگاري داؤود خان " ډاکټر شاه زمان وریځ ستانیزی ، " خاطرات یک افسر نظامي/ شبهای کابل " جنرال غني عمرزی، " نګاهی په تأریخ حزب ډیموکراتیک خلق افغانستان " عبدالقدوس غوربندی ، " سقوط افغانستان " عبدالصمد غوث ، ژباړه : پوهندوی محمد یونس طغیان ساکایي او " افغانستان پس از بازگشت سپاهیان شوروي " ژباړه : عزیز آریانفر

د دواړو لیکنو لپاره چې ښایي یو ځل بیا کتنې ، سمونې او خښم لړونې ته هم اړتیا ولري ، کولای شئ لاندنۍ پتې و ګورئ :

www.goftaman.com/daten/fa/articles/part2/article284.htm

www.goftaman.com/daten/fa/articles/part1/article44.htm

۲۰ ( یو شمیر لوستونکي " د پسرلني سباوون د ګولېو د باران " له لیکـنې سرټکونه کوي او ویلي یې دي چې په هر ځای کې مو " محمد داؤود " لیکلي او ښایي دا د افغانستان لومړني ولسمشر ته د سپکاوي یوه نښه وي. لوستونکي

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایی چې اوس ان د هغه تراخه ژبې مخالفین هم په خپلو لېکنو کې هماغه منل شوي دودیز نومونه لکه سردار محمد داؤود ، شهید سردار داوود یا لږ تر لږه داؤود خان لیکي.

باید ور غبرګه کړم چې د افغانستان د لومړني ولسمشر نوم ، له هرډول مختاړي او وروستاړي پرته " محمد داؤود " دی. ټاپسټ ( سیاه سنګ ) په خپلو لیکنو او خبرو کې د " محمد داؤود " نوم په همدې ډول غوره بولي. خو د دغې پرله پسې لړۍ په هره برخه کې کله چې د نوروکسانو له لیکنو څخه اخځ اخیستل شوی هغه یې په ټول امانت په هماغې لیکل شوې بڼې لیکلی دی .

په قاموسونو کې ویل شوي چې د سردار نومیزه تړګړ " واژه " پـَهلوي ده چې بنسټ مشر ، د پوځ مشر ، یا د لښکر د یوې برخې یوځي مشر ته ویل کیږي. زه ګومان نه کوم چې د یو شمیر قاموسونو دغه ادعا سمه وي. ځکه ویل کیږي چې په پهلوي لیکنو کې د " سردار" نوم - مختاړي هېڅکله نه دی کارَول شوی .

البته دا هم روښانه نه ده چې " سردار " یو ګړی نومیزه تړګړ دی یا د " سر + دار/ لرونکي " ګډوله ده په بله وینا " سرلرونکی " لکه : زمنیدار، سرمایه دار

یو شمیر تأریخي / فرهنګي لاسوندونه ښیي چې " سردار " ټولنیزه ریښه لري او د لارښود له مانا سره نیږدې والی لري او هم د دې مانا ښندي چې د دغه نوم لرونکی ، په یوه سمبال شوي لښکر یا ډله کې لوړ مخور توب ، دریځ او نوم لري .

دغه نومیزه تړګړ په هندي او مراټهي ژبو کې هم د پاړسي ژبې په څیر کارَول کیږي چې تر ډیرې کچې پوځي رنګ لري. په دې توګه ، " سردار " کیدای شي له " سر لښکر" یا " سپهسالار" سره نیږدې تړاو ولري .

) په هندوستان کې د " سردار" کیدلو له ځانګړتیا وو څخه یوه بیلګه د " جاګیر" د لرلو بېلګه وه. په بله وینا هر سردار " جا ګیر دار" هم دی. جاګیر هغې ټوټې ځمکې ته ویل کیږي چې د یوه هیواد پاچا یا واکمن ، سردار ته ورکړې وي. د ځمکې دغه ټوټه کیدای شوای د سردار لپاره د ګټو او پانګې سرچینه وای ، خو په دې توپیر چې د هغه له مرګه وروسته د شخصي ځمکو په څیر ځمکه د هغه پاتې وراثینو ته نه ورکول کیده ، داسې ځمکه باید بیرته دولت ته ورکړل شوې وای( .

د ۱۸٦۰ او ۱۹۴۰ ز کلونو په منځ یا د اتیاکالو په اوږدو کې بریتانیا د سرتیرو د راټولولو په موخه د اتراپردیش ، هیماچل پردیش ، هریانه او مهاراشترا پر سیکهـ میشتو سیمو ډیر زور او دباو راووړ ترڅو دغه سیمې تر خپلې ولکې لاندې راولي .

کله چې بریتانوي لښکر پر هند خپله بشپړه ولکه او سوبه خپره کړه د " سردار" نومیزه تړګړ د " س" له زَور څخه د " س " زیر ته راټیټ شو. ښایي دغه بدلون د غرپیژندنې له امله وي ځکه د دغه نوم نیمایي د انګریزي د "سر =

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



"Sirله نومتاړي سره چې د ( ښاغلي ) مانا ښندي نيږدې والی ولري او هم د "سر "Sir = نومتاړی د " مشر اشراف " له مانا سره نيږدې والی لري .

په پخوا وختونو کې يوازې د سيکهانو مشران او لويان او مخَوري کورنۍ " سردار" بلل کيدل. ورپسې د " جي " وروستاړی هم ور وتړل شو چې د ډير درنښت څرگندويه ده ، نن ټول سيکهـ نارينه " سردار جي " بلل کيږي. د وخت په تيريدلو دغه نوميزه ترگړ ، گروهنيزې او ټولنـاوری کرښې ماتې کړې او نن سيکهانو ته د " سردار" پر ځای د ښاغلي يا د انگريزي Mister نومتاړي ورکړل شوی دی.

په پاکستان او د افغانستان � پاکستان په همکرښو سيمو کې د " سردار " نوميزه ترگړ ، د هغه د هندي لښکري ځلاندوالي برعکس ، د ژوندانه په ډيريو برخو کې غير پوځي ، توکميزه او ټبرنيزه کارَونه لري. په دغې جغرافيا کې سردار د " ستر ، لارښود ، مخکښ ، پياوړي ، اغيزمن او مخور" په ماناوو د پټهانانو ( پښتنو ) ، بلوڅانو ، سندهيانو او براهويانو توکميزو مشرانو ته ويل کيږي .

په افغانستان کې د ناڅرگندو لاملونو له امله بارکزيو او محمدزيو ته هم د " سردار" نومتاړی کارول کيږي. دغه هم په خپل وار د پوښتنې وړ ده چې د محمد داؤود ، محمد هاشم ، محمد نعيم او ..... نومونو د " سردار" مختاړي درلودل خو موږ ډير لږ اوريدلي چې چا دې سردار محمد ظاهر شاه ويلي وي.

د " سردار " نوميزه گرتړ نورې بيلابيلې کارَونې هم لري ؛ د بېلگې په توگه په ايران کې د " سترتوب او لوړاوي " مانا ښندي خو په کردستان کې د " عادي" مانا ښندي. د کشمير سدهناتي وگړي د دارنې /سدوزي احمدشاه " بابا رحمـة الله عليه � ژ" زوزات د " سردار په نامه يادوي او د هيماليا د غرونو په لمنو کې " سردار" هغو کسانو ته وايي چې په غرونو کې سيلانيانو ته لارښونه کوي. په يو شمير هيوادونو کې د بي بي فاطمې لمسيانو ته سيد او سردار وايي .

د لا زياتو مالوماتو لپاره لاندنۍ پته و گورئ:

http://en.wikipedia.org/wiki/Sardar

۲۱ " ( د [ ديارلس سوه او دو پينځوسم لمريز کال د چنگاښ په شپږويشتمه ( ۱۹۷۳ ز د جولای ۱۷)] د سهار په اوو بجو د راډيو افغانستان د خپرونو لوی چلنوال له ما وغوښتل چې د قران کريم له تلاوته وروسته څه ډول خپرونه خپره کړم. ما ورته وويل چې : " د اختر او جشن د ښاديو د ورځو په څير د ملي اتڼ نغمې او د ښادۍ سندرې خپرې کړئ." راډيو خپرونې پيل کړې. ضيأ مجيد په بيړه زما څنگ ته راغی او ويې ويل : " د سټډيوگانو امن ونيسـئ چې لارښود " رهبر " را روان دی او دلته را درومي." دا مې لومړي ځل وو چې د لارښود " رهبر" کلمه مې اوريدله ، دغه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلمه مې دومره په زړه ښه ونه لګېدله. دا ماته د یوه پور شوی بې ډیله نوم په توګه ښکارېده چې د دغه بوډا او سرخریلي سړي په نامه پسې چا تړلی وي. هرګوره ، هغه څه چې ضیأ وویل هماغسې مې وکړل .

شل باندې اووه بجې وې چې د پرون ورځې سردار او د نن ورځې لارښود " رهبر " چې په ځان کې یې پسرلنی خړ عسکري رنګه پتلون اوکمیس وو له حسن شرق ، ضیأ مجید ، حیدر رسولي او د کودتا له یو شمیر نورو مشرانو سره راډیو ته را ورسیدل ، هغه ته د راډیو په درشل کې زموږ پوځي قطعې سلام وړاندې کړ ، د سلام له منلو وروسته سټډیو ته ولاړ. د راډیو ویاند مهدي ظفر غوښتل ووایي چې دا دی اوس سردار محمد داؤود خپله وینا اَورَوي ، خو هغه وویل : " ورونو! زما په ګډون نور هیڅ چا ته د سردار نوم مه ورکوئ. په افغانستان کې د سرداری ټغر د تل لپاره ټول شوی دی." مهمدي ظفر له یوه لنډ انانوسه وروسته د خبرو د پیل لړۍ محمد داؤود ته و سپارله." ( اردو وسیاست در سه دهه اخیر افغانستان ) لیکنه ستر جنرال محمد نبي عظیمي پ : ۹۰ "

[][]

ریجـاینا (کانادا)

نزدهـم اپریل 2009

د ټیلفونونو شمیرې: 1 (306) 5438950 و 1 (306) 5020882

: Siasang, 679 Rink Ave., Regina, SK., S4X2P3, CANADAډاګ نښه

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## )اوه وېشتمه برخه(

## منن لیک

که د یارانو پیرزوینې او همکارۍ راسره نه وای نو" د پسرلني سباوون د ګولېو د باران" څېړنيزه لیکنه به هم نه وای رامنځته شوې. په دې اړوند غواړم یو په یو له دغو کسانو څخه د زړه له کومې منته وکړم :

۱ (هغو کسانو چې د دغې پرله پسې لړۍ د لا ښه والي والي لپاره د کار له هماغو لومړيو شېبو څخه د ارزښتمنو مالوماتو له لارې مرسته کړېده : نیلاب سلام ، ادریس زمـان ، فـریبا آتش ، شکـرالله شیـون ، احـمـد پوپل ، عـبدالفـتاح غـفـوري ، عـبدالـرزاق غـفـوري ، مـحـمـد نبی عـظیمـي ، ډاکټر داؤود جـنبش ، عـبدالغـفـار فـراهـي او خـان آقـا سعـید

۲ ( د هغو کسانو نومونه چې له لیکنو یا خبرو څخه یې ګټندویه ګټه اخیستل شوې ده : : ډاکټر ظاهـر طـنین ، ډاکټر عـاصم اکـرم، جـنرال نذیر کـبیر سـراج، جـنرال مـحـمـد نبي عظیمـي، الف هـارون، حـامـد، دیپلوم انجـنیر کـریم عطایي، جـنرال امـام الـدین، مـحـمـد آصف آهـنګ، ادریس زمـان، مـحـمـد صدیق فـرهـنګ ، اکادمـیسـین دسـتګـیر پنجشـیرى، سـلـیمـان لایق، عـبدالغـفـار فـراهـي، خـان آقـا سعـید ، فـرهـاد لبیب ، مـحـمـد اکـرام اندیشـمـند ، سـلطـان علي کـشـتـمـند ، باقـی سـمـندر، رزاق مـامـون ، شـیر سـاپی ، عـبدالحق مجـددي ، ډاکټر فضل الله مجـددي ، ډاکټر حسـن شـرق ، عـزیز آریانفـر، سـمـن ، ډاکټر داؤود جـنبش ، مـحـمـد اقبال وزیرى ، اکادمیســین مـحـمـداعظم سیـسـتاني ، حـفـیظ الله خـالـد ، عـبدالجـمـال باري ، جـنرال پادشـاه مـیر، حـمـید مـهـمـند، مـحـمـد آصف صافـي ، طـارق بزګـر، ډاکټر عـبدالجـلـیل زلمـی ، غـلام رسـول باوري ، انجـنیر نجـیب الله داوري ، ډاکټر حـلـیم تنویر، عزیزه رزبان ، مـلـیحه نایاب ، عـبدالجـبار ثابت ، فقـیر مـحـمـد ودان ، جـنرال خـوشحـال پیروز صافـی ، جـنرال خطـاب جـانباز، جګـتورن فضل الـرحـمـان تاجـیار، عـبالصمـد ازهـر، جـنرال قـادر، غـوث الـدین فـایق ، عـبدالـرحـیم شـادان ، عـبالحـمـید مبارز، صـالح مـحـمـد ابرار، Louise Dupree, Frank Clements, Albert Linette, Makhmut Akhmetovich Gareev, Carlotta Gall, and Lalit Kumar Jha

۳ (هغو دوستانو چې د انځورونو ، سي ډي ګانو ، د غږونو اود انځورونو د کسټونو ، mp3او د نورو ارزښتمنو یادګارونو د لیږلو له لارې زموږ کار ته یې ښایست وربخښلی دی : ادریس زمـان ، غـوث جـانباز، مـلـیحـه احـراري

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



، فـریبا آتش ، نیلاب سـلام ، عزیزه رزبان ، بتینا ییرشـکي ، ژولیا مـیتینکووا ، ګـورګـي پتروویچ ایژوف ، شـیر سـاپي ، مـحـمـد حـسـن ولسـمـل، ذبیح الله امـانیار او مـنیر کبیر

۴ ( هغو ی چې په بل ډول د مرستې لاس را غځولی دی : رحـمـت آریا ، غـوث جـانباز ، ژولـیا مـیتینکـووا ، یحـیا سعـدزوي ، ولـي باز، ډاکټرمـحـمـد اکـرم عثمـان، حفـیظ الله خـالـد ، کـمـال پرواک ، ډاکټر صـادق فـطـرت ناشـناس ، ډاکټر لطیف طبیبي ، ډاکټر حـمـید حـامـي ، زرین انځور، ډاکټر خـوشحـال روهـی ، نجـیب سـلطـاني ، وحـید صمـدزي ، ډاکټر شـاه محـمـود چـوپان ، کاوه شـفق آهـنګ ، داکټر مـحـمـد انور غریو، عـارف ګذرګاه ، ډاکټر عـبدالجـلـیل زلمـي ، مـحـمـد آصف بره کي ، عـبدالمجـید راغسـتاني ، عـبدالاحـد سـرتیپ ، قـاضي سـید مـوسـی عـثمان هسـتي ، مـحـمـد شـاه فـرهـود ، قـیس کبیر، زبیر وکیلـي ، اسـد نجفـي ، احسـان الله شګـیوال ، کـریم حقـانیار ، طـارق بزګـر، احـمـد شـاه عـبادي ، بشـیر مـؤمـن ، نصیر القـاس ، ډ اکټر واسـع خـاکسـتر ، انجـنیر اسـمـاعـیل ، مـحـمـد ظاهـر مـلک بابا ، حـمـید عـمـریار، سـلطان رضـوي ، عـبدالله نورزاد ، عـارف خـزان او کبیر امـیر

## ځانګړې مننه

۵ ( له ډېر منلي او ګران دوست " ع س" څخه ډېر مننډوی یم چې د خپلو ارزښتمنو څرګندونو له لارې یې د دغې لړۍ په هره برخه کې ماته لارښوونه کړې او په پای کې یې غوښتي چې نوم یې په دغه لیکنه کې را نه شي .

٦ (د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له پخوانیو لوړ پوړو چارواکو او غړو څخه چې د دغې لړۍ په لا ښه والي کې د مرستې جوګه شوي مننه کوم ، هغوی غوښتي چې نومونه یې دلته یاد نه شي .

۷ " ( د پسرلني سباوون د ګولیو باران " به هېڅکله د کابل ناتهـ او فـردا له و ویپاړو دباندې نه وای وتلای که لاندنیو پوهانو ، څېړونکو او منلو کسانو په نورو ویبپاڼو ، وبلاګونو او چاپي رسنیو کې یادونه نه وای کړې ؛ د دوی څه دباندې اویا پیغامونه ول چې زموږ له انګیرنې دباندې یې د نړۍ په هرګوټ کې ازانګې خپرې کړې .

زبیده تیمـور، فـرشـته حضرتي ، ګـوربز خـان عطـا خیل ، طوطـا خیل، مـهـدي نیک آئین ، درویش نیک اندیش ، درویش دریا دلـي، نصـیر مـهـرین ، مـحـمـد عـمـر راوي ، نصـرالله زرداد ، بریالي شـنوا ، حــمـید فـرهـاد ، احسـان خـوشـدل ، فـرهـاد صحـراګشـت ، فـردوس کاوه ، اوسـتا کابلـی ، سـلـیمـان راوش ، عـظیم بابک ، اکه سخي ، خـالق کاپیسـایي ، اطـرافـي ، دشـنه خـراسـاني ، عـمـر سـنـایي ، ګل مکـۍ ، مـتولـي رحـمکیان ، محب نعـیمـي ، ولـي بګـرامـیان ، پروانه شـاد مـهـر، صنوبر آریایي ، نعـیم البرز، فـرید آریانژاد ، فـریدون زاده ، فـرهـاد توانا ، علـی

Download from: ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



عباسي ، رامین راضي ، هوشنگ احمد ولي ، نسرین سمنگانی ، نسترن آستانه ، سه نقطه ، نورتن ، پویا ، رزمجو ، غزنوي ، نوري ، پري ، احمدي ، سروري ، رویا ، نادر ، وارسته ، پرستو ، مهبانو، زلفیه ، نذیر، هندیه ، خورشید ، بهاره ، خماري او څو تنه نور په پورنیو نومونو .

ناخوالي یا ناسیالي به وای که د دغې لړۍ په تړاو مو د ښکلو لیکنو له پورتنیو لیکوالانو څخه یادونه نه واي کړي .

۸ (مننه له : ایشور داس، عبدالفتاح غفوري، رحیم غفوري، عبیدالله حمیدي، محمد طارق بزرگر، علی امیني، سخیداد هاتف ، اقبال علیشاه دهقانپور، خالد هادي حیدري ، کامران میر هزار، مریم محبوب، زلمی باباکوهي، محمد رئوف مهدیزاده کابلي، او د جاودان، خاوران، شبکه اطلاع رسانی افغانستان، افغان جرمن، افغان_پرس، پندار، بېنوا، موج نو، سایه، هارمونی، نیزار، خمخانه د منلو وېبپاڼو له چلوونکو څخه او په هیواد کې دننه له رسنیو او رسنوالو څخه مننه چې و مې نه شوای کړای نومونه یې دلته راواخلم .

۹ (له ټولو لوستونکو څخه مننه چې د " پسرلني سباوون د ګولېو د باران " لیکنه یې په زغم او مېنه ولوستله .

په پای کې که هرچا د یوه ټکي په کچه دلته مرسته کړې وي ، بیا هم مننه ، که له هغو مننه ونکړو دا به ناسیالي وي .

[][]

ریجاینا (کانادا)

۲۰۰۹ز کال د اپریل ۲۸

ژباړه : رحمت آریا

Download from: ketabton.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**